د افغانستان پښلیک

لومړئ ټوک

۱۹۷۳- ۱۹۷۸ء

حاجی ولی محمد



د کتاب حقوق له لیکوال سره خوندي دي

کتاب :: د افغانستان پښښلیک
مصنف :: حاجي ولي محمد
کمپوز ::
سال :: 2025م
چاپ :: 500
قیمت :: 500

درنوکتونکو

هر انسان دخپل ماضي سره تړاو او ليواتيا لري، تيري پيښي تاريخ تشکيلوي، پر مختللي قامونه دتاريخ په رڼا کي مستقبل ټاکي، پښتليک د تاريخ لارښود دی.

په افغانستان کي دا کار علامه عبدالحی حبيبي (د افغانستان پښتليک،له ماقبل تاريخ څخه تر ۱۹۶۳ءکال پوري) اوعبدالروف بينوا(دافغانستان تاريخي پيښي) کړئ دئ. په راوروسته کي بيلو بيلو ليکوالانوپه تکراري او هم ځانګړې توګه پردې موضوع ليکنې کړي دي.

دا ډير کړاوجن او ستونزمن کار دئ،دوامداره لټون و پلټنه او هم کلک استقامت غواړي.

د ثورکودتاه دشپې څخه مودې کار ته موټي را نغښتي، په کلک هوډ او ملي ولوله مو تراوسه ادامه ورکړې ده.لومړی ټوک(**۱۹۷۳ء – ۱۹۷۸ء**)، دويم ټوک(**۱۹۷۸ء – ۱۹۷۹ء**)، دريم ټوک(**۲۸ دسمبر ۱۹۷۹ء – ۳مئي ۱۹۸۶ء**) او څلورم ټوک(**۴ مئي ۱۹۸۶ء – ۱۵فروري – ۱۹۸۹ء**)مي تصحيح کړي او چاپ ته اماده دي. پينځم ټوک(**۱۵ فروري ۱۹۸۹ء – ۳۱ جولائی ۱۹۹۶ء**) و شپږم ټوک (**۲۷ سپتمبر ۱۹۹۶ء – ۳۱ دسمبر ۱۹۹۹ء**) وړاندي لا خپاره سويدي. د ۲۰۰۰ء – ۲۰۲۴ء پر ټوکونو مي څېړنه ادامه لري

د افغانستان د پښتليک په ليکلو کي مي د لاندي سرچينو څخه کار اخستی دی

۱- د ۲۷اپریل۱۹۷۸ء څخه تر۲۰۰۳ءپورې په منظمه او راوروسته په نامنظمه توګه د بیلو نړیوالو راډیوګانو څخه د افغانستان په اړه مو هر رپوټ ثبت کړی دی چې د آډیوئي کسیټونو شمیر یې تر ۳۶۰۰ اوړي او هم اویا
ویډیویي کسیټونه.
۲- د پاکستان نامتو اردو ورځپاڼي جنګ، مشرق، نوای وقت، حریت، انګلیسي ډان.
۳- د افغانستان، هیواد، انیس، انقلابِ ثور ورځپاڼي په دې برخه کې د حفیظ الله امین په دري میاشتني پیر پسي پینځه ځله کابل ته تللی یم، د ګران دوست استاد حبیب الله رفیع په مرسته وهمکاري مو د افغانستان دعلوموا کاډمۍ په کتابتون کې د کابل ټائمز، هیواد او انیس ورځپاڼو په زرګونو پاڼې تر نظر ایستلي او اړونده مواد ورځخه رانقل کړي دي.
۴ – د افغانستان کالنۍ یا سالنامې بیل بیل ټوکونه
۵ - نړیوالي ورځپاڼي او مجلې لکه د انګلستان فنانشل ټائمز، دي ډیلي ټیلیګراف، د امریکا دي نیویارک ټائمز، واشنګټن پوسټ، واشنګټن ایګزامینر، کرسچین سائینس مونیټر او ... .
٦ - په کابل پوهنتون کې د نامتو افغانپوه ډاکټر لوئیس ډوپري میرمني نینسي ډوپري کتابتون جوړکړی چې د افغانستان په ټراو بیې ډیر شمیراثار پکې راغونډ کړي دي، دوی دواړه اوس مړه دي، زه ددې او ددې دکتابتون د ټولو کارمندانو څخه ډیر ممنون یم چې ماته یې د څیړنې په بهیر کې هر ډول آسانتیا راکړې ده.

۷ - د ډیر زړه ته راتیر دوست الحاج محمد عارف غروال یوه نړۍ منه چې د خلیفه نقشبندي په نامه را ټولې کړې پیښې او هم د بیلو یو شمیر ورځپاڼو څخه را اخستي مواد یې راسپارلي دي.

۸- داروپا څخه تر سینګاپوره مو سفرونه او هلته مود بیلو اشخاصو سره مرکې کړیدي،په پاکستان او افغانستان کې مرکې راته ډیرې ارزښتناکې دي لکه د عزیزالله واصفي(**د سرداردادوډپه جمهوري پیر کي د کرني وزیر**)،غوث الدین فائق(**د سرداردادوډپه جمهوري پیر کي د عامه ګټو وزیر**)،جنرال شهنوازتنۍ (**دډاکټرنجیب الله په پیر کي دفاع وزیر**)،شاه زمان وریځ ستانیزئ (**داطلاعاتوو کلتوروزارت دباندنیو خپرونو مسئول**)،شاه محمود(**دثورکودتاه پرمهال دارګ ددافع هوا د بلوک قوماندان**)، د پاکستان د باندنیو چارو وزارت منشي ریاض محمدخان، په کابل کې د پاکستان پخوانی سفیر او د افغانستان د پاره د پاکستان ځانګړی استازی محمدصادق خان او ډیر شمیرنور.

۹ - زما شخصي کتابتون چې څلور زره کتابونه پکې شتون لري.

۱۰- دانټرنیټ د لارې دبیلو ویبپاڼو او ویبلاګونو څخه اړونده مواد خوندي کول او پر کاغذ راایستل.د انګلیسي څخه د پښتو ژباړې په برخه کې مي د ګوګل څخه په پښتو،اردو او فارسي انګلیسي ژباړې کړې او مفهوم مو ورځخه را ایستلی دی، پدې برخه کې مي د یو شمیر ډکشنریانو لکه ویبستر ډکشنرۍ، ډیپلومیټک ډکشنرۍ،څخه ګټه اخستې او هم په ځینو مواردو کې ګران دوست د امریکا بړغ آشنا راډیو د پښتو څانګې نامتو ویاند او ژباړن سید سلیمان پاچا چې په واشنګټن کې اوسي راسره مرسته کړې.

د کتاب په اسلوب کي مو د ډیراختصار او جامعیت څخه کاراخستی او ترخپله توانه مو د هري لهجې د پښتنو خیال ساتلی دی .هر څه مو انساني وجدان ته په مسئولیت لیکلي دي، نه مو سیاست کړی اونه مو ځان په چا پوري تړلی دی. هرانساني تصنیف یا تالیف کره کتني یا تنقید ته اړتیا لري، ډیر به خوښ سم، که څوک په دې برخه کي راسره مرسته وکړي او پاملرنه مو تیروتنو ته ور واړوي، ډیر به یې مننه‌وی سم.

په کتاب کي مو یوشمیر نړیوالي پیښي هم پدې موخه لیکلي دي چې دباندني لامل په رڼاکي د افغانستان غمیزي ته کاته وسي، په تیره بیا دځیړونکو لپاره ډیري ګټوري دي.

ټول ژوند مو د کتاب، قلم او ادیبانو سره تیر سوی دی، په دې اوږده بهیر کي مو ډیري ربړي ګاللي دي.

یوځل اسلام اباد ته د هوا دلاري تللم، کله چې ځای ته ورسیدم،څه ګورم چې پینځه سوه جي.بي هارډ ډیسک مو وران سوی دی، هیڅ نه ښکاره کوي، پر ټول پاکستان مو وګرزاوه، جوړ نه سو. دکلونو کلونو زیار موپه سیند لاهو سو. راته وویل چې پر هوائي ډګر دي د سکینینګ پر مهال مواد له منځه تللي دي.

زړه مو صبر ونکړ، بل اووه سوه جي.بي ایکسټرا هارډیسک مو په کراچي کي رانیوو، شپه و ورځ مو پر یو کړه او د کلونو په بهیر کي مو دموادو او خپلو قلمي آثارو ډک کړ، د ۱۸ اپریل،۲۰۱۶ء په ماښام چې کله کور ته راغلم، ټوله خونه موپردې بل مخ اوښتې ده، هغه ګړی راباندي محشر سو، په غلیم پسي ووتم، الله پاک مو ډیر ژر لاس

پر بَر کړ، څلور کوچنيان(**داتو اولسو کلونوترمنځ**) مو دکور د مشرانو سره خپل کور ته راوستل، دوه د کوټې څخه د ماما کره راغلي او په کلي کي يې کور په کور فقرکاوه، دوه نورېې د ځان سره مله کړي وُو او په پټه دکور د دننه وره دلاري يې ځان زما کتابتون ته رسولی وُو او ديوې منظمي دسيسې له مخي يې زما دکلونوکلونو علمي پانګه له منځه يوړه ددوی په لارښوونه مو ايکستراهارډ ډيسک او د يادداشتونو دوُولس کتابچې د کلي پر ډيران(**امبار**) ټوټې ټوټې ومونديې،.دا هارډ ډسک موهم دامريکا څخه تر دوبی اوچائنا پوري وګرزاوه،خو جوړنه سو.

بيرته مو خپلو خورو ورو اثارو ته مخه کړه او د نوي سره مو څيړنه ته دوام ورکړ.

لوی څښتن دي په انساني ټولنه په تيره بيا زمورِ پر سيمه عدالت او څوکالي راولي.

ستاسي ورور
حاجی ولی محمد
۲۶ سپتمبر ۲۰۲۴ء
گلستان کاريز

د افغانستان پیښلیک

لومړۍ ټوک

۱۹۷۳- ۱۹۸۹ء

۱۰ جنوري ۱۹۷۳ء

پر دغسي مهال چي د پاکستان څخه د بيل سوي دوه کلن نوي هيواد بنګله ديش د باندنيو چارو وزير په کابل کي په خبرو بوخت دئ، افغانستان پريکړه کړېده چي دا هيواد به په رسميت وپيژني(**A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 49**

۱٦ فروري ۱۹۷۳ء

د امريکا د باندنيو چارو وزير ته په کابل کي د امريکا د سفير مکتوب

واشنګټن ډي.سي ۱۷۷۹

يو يو ياداشت په انقره، اسلام آباد،ماسکو،نوي ډيلي، تهران کي د امريکا سفارتخانو او هم په ملګرو ملتو او ژنيو کي د امريکا مشن ته

کابل ۰٦۱۲

موضوع: له لومړي وزير موسی شفيق سره خبري

لنډيز: نوي صدراعظم پر خپل سفير(**په واشنګټن کي د افغانستان سفير-ژباړن**) ټينګار وکړ چي هغه د وړاندي څخه لا د امريکا سره نژدې اړيکي پلي کړيدي

۱- کله چي نوي حکومت دنده پيل کړه ما د لومړي وزير سره د پراخو خبرو لپاره په لومړي ځل فرصت وموند ،پر نهم جنوري يې له

ما سره د لیدو غوښتنه وکړه. زمونږ د حکومت تر منځ د نژدې متوازي ګټو په اړه د هغه تحلیل یا تجزیه، د تیر افغان حکومت کمزورتیاوي او د دوی د کابو کولو لپاره د هغه د پلان په اړوند د هغه تحلیل. هغه پر دې خبره ټینګار وکړ چې له ما سره د بیلو ستونزو په اړه د پرله پسې نا رسمي خبرو تمه لري او د قوم د استازي د لوري زما د واضح مشورې هرکلی کوي.

۲- موسی شفیق وویل چې هغه د ولسمشر نیکسون، سکرتریت راجرز او یو شمیر نورو امریکایی چارواکو لخوا د مبارکۍ په پیغامونو ډیر خوښ دی. هغه امریکا ته د سفرونو په ترڅ کې وویل، هغه په زړه پوری احساس وکړ چې د نړۍ د هیوادونو ترمنځ د ګډو بنسټونو او نظریاتو پیاوړی بنسټ شتون لري.هغه هر هغه دلیل واورید چې ولې د افغانستان و امریکا ترمنځ اړیکې باید په دوامداره توګه پیاوړې سي.

۳- د خپل منصب په حواله صدراعظم موسی شفیق وویل کله چې اساسي قانون پلی سو، د افغانانو د یوه دغسي توغندي سره سمون لري چې د خپلې موخې څخه پر چپه لور روان وي. د حکومت لومړۍ ترجیح د رفتار سمول وه، تر هغه وروسته سمدستي د خرابۍ د نورو عواملو لاس ته راوړل وه

۴- موسی شفیق افغانستان ددغسي ټولنې په څیر راڅرګند کړ چې ورپکې هر یو د خپلو ګټو پیروي کوي، او ددغه حقیقت څخه غافل دي چې وګړي د مخ پر وده وګړو د برخې په توګه تر ټولو ډیر ګټمن دي. که یې د ګاونډیانو سره اړیکې ښې نه وې، هیواد به یې د کړاو

سره مخامخ وي. له نيکه مرغه هغه وويل چې د ګاونډيانو سره يې اړيکي ښې دي. هغه پدې حقيقت ډير ښه پوهيدی چې د ګاونډيانو سره هر خپګان به په افغانستان کي پيل کيږي. ګاونډيان به حقيقي خواشيني يا خپګان په هغه صورت کي پيدا کړي کله چې مور د ننه په کور کي د نفاق له امله لاري لاري سو.

۵- ډاکټر موسی شفيق د خپل کار د پاره پر خپله بشپړه پريکړه ټينګارکاوه او وېويل چې هغه ټوله اوونۍ د شپې تر يوولسو او دوولسو بجو پوري کار کوي او د کورني ژوند څخه يې لاس اخستی دی. هغه هوډ درلود چې د هيواد ستونزي به په منظمه او منطقي توګه اواروي او يا به خپل سر خوري.

٦- موسی شفيق د خپل حکومت د ترجيحاتو په اړه پر دې خبره ټينګار وکړ چې د ټولي حکومتي آډانې د نوي سره جوړيدلو ته زښته ډيره اړتيا ده.

چې پيل به يې زما د دفتره څخه وسي.

۷ – موسی شفيق اوسمهال د يوه شي غوښتنه لا هم نه ده کړې خو هغه د امريکا سره د ممکن ستر فلسفيانه پوهاوي يا تفهيم ته د رسيدلو د پاره ډير ناقراره وو. هغه پدې خيال وو چې يو پياوړی او ډير مستحکم افغانستان د نړۍ په هره برخه د هر پلوه د امريکا په ګټه دی. هغه زياته کړه چې د افغانستان و امريکا ګټې يو د بل سره بنسټيز ټکر يا تضاد نلري، لدې امله هغه هيله لري چې د سمون راوستلو د پاره به امريکا د افغانستان سره مرسته وکړي.

۸ – کچیري د افغانستان استحکام او وده ته چا تاوان ورساوه نو د ګاونډیانو سره به زمونږ ښې اړیکي هم سمدستي زیانمني سي.هغه پاکستان په تیره بیا شوروي اتحاد ته په اشاره وویل چي دغسي عناصر سته چي د مخالفت د پاره لږ لمسون ته اړتیا لري، لدې امله که څه هم د شوروي اتحاد نوی سفیر الیکساندر پوزانوف په ښکاره د دوستی څرګندونه کوي خو زه ډیر پام ورسره کوم.ځکه چي د کمیونسټ ګوند د مرکزي کمیټې غړی یوه هیواد ته د سفیر په توګه لیږل، په تیره بیا چي د سفارت دنده یې یواځي په کمیونستي هیوادونو کي سرته رسولې وي، د پام وړ خبره ده.

۹ – د موسی شفیق ددې سپینو خبرو په جواب کي مي ورته وویل باور لرم چي امریکا به رسمي یا نارسمي توګه د افغانستان سره څه وکړي، چي د موسی شفیق د اصلاحاتو او د اصلاحاتو د هڅو د پاره کومه لارښونه **(Advise)** ګټوره وي، نازک باندني سیاسي اندول ته په کتو چي په افغانستان کي شتون لري، مونږ به وغواړو چي خپله رضامندي یا خوښه ورته وڅاندي کړو. د موسی شفیق زما تجزیه خوښه سوه او هغه یې په نورو شریکه کړه او مونږ پدې برخه کي نورو خبرو ته سترګي په لاره یو.


۱۷ فروري ۱۹۷۳ء

کابل راډیو په یوه تبصره کي د پاکستان د صدراعظم ذوالفقار علي بټو په امر د بلوچستان او پښتونخوا د ایالتي حکومتونو ړنګول او د والیانو له کاره ګوښه کول د ولسواکۍ پر ضد کړنه وبلل او خبردارئ یې ورکړ چي دا به پرمخ په کړکیچ کي نور ډیروالئ راولي.

۱۸ فروري ۱۹۷۳ء

افغانستان د بنګله دیش حکومت نن په رسمیت وپیژاند (**کابل راډیو**).

۲۳ مارچ ۱۹۷۳ء



د راولپنډۍ په لیاقت باغ کې د عوامي نیشنل پارټۍ خان عبدالولی خان په مشري د پاکستان ټول ګوندیز اتحاد (متحده جمهوري محاذ)جلسه، د خان د وینا پر مهال د صدراعظم ذولفقار علی بټو په امر د پنجاب ایالت والي غلام مصطفی کر پر جلسه د یرغل امر ورکړ، بریدونو تر څلورو ساعوتونو پوري دوام وکړ چې ورپکې ۱۵۳ پښتانه ووژل سول.د وینا پر مهال پر دریځ یا سټیج ناست پیر پګاړا پر خان ناره کړه چې کښېنه، ویشت کیږي.خان په لوړ ږغ جواب ورکړ چې که زه کښېنستلم، دریږي به څوک؟. خو نیویارک ټائمزورځپانه د مړو شمیر اووه او د ژوبلو دا پینځه اویا

)**nytimes.com/1973/03/24/archives/7-dead-75-injured-in-political-clashes-in-a-pakistan-city.html**(

او د مړو دا ډان ورځپاڼي په درځنو راوړی دی(**Dawn.com**).

پر شپاړسم اکتوبر ۱۹۵۱ء په همدې کمپنۍ باغ کې چې وروسته په لیاقت باغ ونومول سو د سلو زرو برخوالو غونډې ته د وینا پر مهال د سیداکبر په نامه یوه افغان ددې هیواد صدراعظم لیاقت علی خان د توپنکچې په ډزو وواژه او بیا وروسته (**۲۷ دسمبر ۲۰۰۷**ء) د وخت صدراعظمه بینظیر بټو همدلته غونډې ته تر وینا وروسته د ناڅرګند تن لخوا په بریدونو ووژل سوه.

۳۰ مارچ ۱۹۷۳ء

سند ۱۲

امریکا. د باندنیو چارو وزارت، د استخباراتو او څېړنو بیورو، د څېړنې مطالعې، "افغانستان: حکومت او سیاسي سیستم دواړه د محاکمې سره مخ دي،" ۳۰ مارچ ۱۹۷۳ء، محرم، ۸ مخونه

Source: SN 70-73, POL 15 AFG.

د INR په دې راپور کې د ظاهر د سیاسي تجربې ګټور توضیحات او همدارنګه د هغې د "نیمګړتیاو" انتقادي ارزونه شامله ده: یو "بې طرفه پارلمان، بې واکه لومړی وزیر، او یو پاچا چې د خپل واک کارولو یا سپارلو ته زړه نازړه دی. په حقیقت کې، د INR شنونکو استدلال وکړ چې حکومت د افغانستان د قبایلي جرګې(کلي شورا) په لیکو کې د مطلقه پاچاهۍ ډیری ځانګړتیاوي په ډاګه کړې. دوی د دې اټکل لپاره ځینې دلیلونه ولیدل چې وروستی لومړی وزیر محمد شفیق کولای سي پارلمان اداره کړي او د سیاسي اصلاحاتو لپاره لاره چمتو کړي، د بیلګې په توګه، د ګوندونو جوړول. سره له دې، دوی چمتو وو چې دا احتمال ومني چې "د شفیق حکومت به د مخنیو ناکامه حکومتونو په پرتله ښه وي.

۲۰ اپریل ۱۹۷۳ء

افغان حکومت پاکستان ته خبردارئ ورکړ چې د پښتنو د خپلواکئ پیژندنې پر ضد هیڅ اقدامات**(Measures)** نه سي منلای (**کابل راډیو**)

۲۳ اپریل ۱۹۷۳ء

د افغانستان د شاهي هوائي ځواک دوې مګ یوو یشت ډوله**(Mig-21)** الوتکي د پاکستان په سیمه کي راولویدې.

۱۲ مئي ۱۹۷۳ء

په اسلام اباد کي د افغانستان سفیر په یوه بیانیه کي وویل چې نن یې د پینځلسو ورځو د پاره د اداري لاملینو له کبله د پاکستان سره د تګ و راتګ ټولي لاري وتړلې.

۱۷ مئي ۱۹۷۳ء

کابل راډیو خبر ورکړ چې د افغانستان د پارلمان نړیوالي جرګګې یا کمیټې نن په کابل کې د پښتونستان پر لانجه او سیمئیز سیاست خبري وکړې. پدې جرګګې کې صدراعظم ډاکټر محمد موسی شفیق او د باندنیو چارو وزیر هم برخه درلوده.

۲۲ مئی ۱۹۷۳ء

سَند۱۳

ګڼلاسي افغاني ګوندونه، ۲۲ مئی ۱۹۷۳ء، اتمه ګڼه پټ سند، د باندنیو چارو په وزارت کې د کابل سفارت، ائیرګرام اې ۳۳

Source: SN 70-73, POL 15 AFG.

د پاچا محمد ظاهر خان تر سقوط څو اوونۍ وړاندې، په کابل کې د امریکا د سفارت سیاسي افسر البرټ فیرچایلډ (**Albert Fairchild**)د افغان کِڼلاسو سیاسي ګوندونو خلق و پرچم او هم د کوچنیو سازمانونو لکه چین پلوی شعله جاوید و دا په اړه وړاندي کړ، هغه دا ګوندونه د اوسني سلطنتي حکومت لپاره د "حقیقي ګواښ" په توګه نه ګوري. که چیرې سیاسي ګوندونو ته د جوړیدو اجازه ورکړل سي، په هرصورت، دوی کولای سي د افغان تاسیساتو لپاره ډیر خطر رامنځته کړي. د راپورونو له مخي، دا احتمال یو له هغو دلیلونو څخه وو چې پاچا محمدظاهر خان سیاسي ګوندونو ته د اجازت ورکولو لپاره د اصلاحاتو په لور ورو ورو حرکت وکړ

For the Afghan left, see also Bradsher, *Afghan Communism*, 6-14. For the king and political parties, see Dupree, *Afghanistan*,Page- 754

هغه څه چې فيرچايلډ نه دی په پوه سوی هغه دا وو چې د سردار محمد داود ځيني نظامي ملاتړي د پرچم ګوند غړي شوروي اتحاد ته ډير نژدې دي.

Garthoff, *Detente*, 982-983; Bradsher, *Afghan Communism*,Page- 16

۲۴مئي ۱۹۷۳ء/۳جوزا۱۳۵۲هش

د ماپښين دوې بجې:- متقاعد ډګروال غلام حيدر(سرداردداود فائق ته د ارتباط په توګه ورپيژندلئ وو)جګتورن غوث الدين فائق (د سردار داود په جمهوري پير کي د فوائد عامې وزير) ته د يوه کور درک ورکړ چې نن د شپې پر اتو بجو دي کور ته ځان راورسوه، سردار محمدداود ستاسي او څو نورو سره غونډه لري، تاسي هم د خپلو باوري ملګرو سره ورسئ.

ماخستن اته بجې، کارته چهار، د ضابط عبدالحميدکور:- عبدالحميد چې وروسته يې په محتاط شهرت ومونديه کور کي غونډه، د سردارمحمدداود، جګتورن غوث الدين فائق،د څلورمي او پينځلسمي زرهداري قوې افسران تورن محمداکبر دزرمت، تورن محمديوسف د فراه، تورن محمدسرورد نورستان او بريدمن مولاداد د فراه.

تورن محمداکبر:- ″دوې ورځې وړاندي د قواى مرکز رئيس ارکان راڅخه وپوښتل چې دغسي ګنګوسې دي چې پينځلسمه زرهداره قوه د کودتاه نيت لري، آيا ته هم ورپکي برخه لرې؟

جواب مو ورکړ چې زه د یوه غریب پلار زوی یم، د الله تعالی شکرګزار یم چې صاحب منصب سوم، دولت معاش، غَلَه او یو تن یې د خدمت د پاره راکړئ دئ، زه به د الله پاک او د دولت دا احسان هیڅکله هیر نکړم، دولت او نظام ته به وفادار یم، غلیمان لرم، ناسم خبر یې درکړئ دئ. اوس د پینځلسمي او څلورمي زرهداري قوا قوماندانانو د ټینکونو د ګاراجونو په خوا کي پر پینځه پینځه متره پیرداران درولي دي، زمونږ قطعه او افسران تر سخت څار لاندي دي، زمونږ د قطعاتو څخه د هیڅ کار اخستلواحتمال نسته ".

دریو نورو افسرانو دده د خبرو تائید وکړ.

سرداراداود غوث الدین فائق ته :-" ته څه وایې " ؟

فائق :-"ماته دوې ورځي مهلت راکړه چې د مربوطو ملګرو سره مفاهمه وکړم او د پلان کار پخپله چمتو کړم".

سردار داود مخ عبدالحمید ته وروړاوه

عبدالحمید:-"فائق ماته د پښتونستان چوک د اوبو د فوارې سره د مخابراتو په شبکه کي وظیفه راسپارلې ده، که هغه تخنیکارانو چې د همکارئ ژمنه یې راسره کړیده، همکاري ته چمتو سول، سبا زه حاضریږم،هر امر چې راته وسو، سرته به یې ورسوم".

سردار داود:-"دا چې د زرهداري فرقې ملګرو د همکارئ څخه معذرت وغوښت، نور نو پر دې موضوع تیره کښیږدئ، مه یې یادوئ ".

د فائق لخوا سردار محمد داود ته سپارل سوئ پلان پدې توګه وو-

A- د پاچا محمدظاهرخان د نیولو د پاره د جګتورن غوث الدین فائق په مخکښي د اووه ویشتو وګړو دوې ټولئ. د شاه په نه شتون کي به

يوه ټولئ د حرم سراى امنيت ساتي او بله به د جگتورن غوث الدين په مخکښي شهزاده احمد شاه (**وکيلِ سُلطنت**) بندي کوي.

نور ملگري

۱- برید من عبداللطیف خان

۲- لومړئ بریدمن محمد اصغر

۳- لومړئ بریدمن عبدالظاهرخان

۴- لومړئ بریدمن محمد معصوم خان

B- د سردارعيدالولي د نيولو د پاره د جگړن اصحاب الدين خان په مشري ټولئ.

نورملگري

۱- محمداصف خان

۲- عبدالخالق خان چهره

۳- آغا گل خان

۴- محمدعیسا خان

C- د دفاع وزير جنرال خان محمد خان د نيولو د پاره د ډاکټر بهاوالدين په مخکښي ټولئ.

نور ملگري

۱- لالامرزاخان

۲- جان محمدخان

۳- محمدکریم خان

۴- محمدنورخان

D- د صدراعظم محمدموسی شفیق د نیولو د پاره د جګتورن غوث الدین په مخکښې ټولئ چې نومونه یې یاد سول

E- د رشخورفرقې د قوماندان کټوازي د نیولود پاره د جګړن محمد دین په مخکښې ټولئ

نورملګري

۱- جګړن غلام دستګیر

۲- تورن غیاث الدین

۳- تورن محمدسعید

۴- تورنسلطان محمد

F- د هوائي ځواکونو د قوماندان مرتضی قل خان د نیولو د پاره د هوائي ځواک د یو تورن تخنیکار

نور ملګري

۱- عزیزخان پنجشیرئ

۲- محمدهاشم خان

۳- عزیزجان بګرام

۴- اسدالله خان

G- د قرغې د اتمي فرقې د قوماندان محمد نواز خان د نیولو د پاره د جګړن محمد کبیرخان په مخکښې ټولئ

دوی دوه سره خپلوان وو، لدې امله جګتورن جګړن ته لارښوونه وکړه چې د سطرنج په لوبه یې مصروف وساته، پر ضد یې هیڅ اقدام مه کوه.

H- د پوليسو او ژاندارم د قوماندان عبدالغني خان د نيولو د پاره د پوليسو د جګړن عبدالودود خان په مخکښي ټولئ.
نور ملګري
۱- عبدالغفار
۲- عبدالستار
۳- محمدیونس
۴- لوی خان
I- د څلورمي او پينځلسمي فرقې د قوماندان علي خان د نيولو د پاره دزرهدارو د څلورمي قطعې د جګړن په مخکښي ټولئ. د فائق لخواجګړن ته امر سوئ وو چي کله د کودتاه د مشر سردار محمداود وينا د راډيو افغانستان پر څپو پيل سوه، د خپلي قطعې ټينکونه د نندارې په توګه ښار ته راوباسه او انجينئرمرتضٰی قل خان ته بيا د وينا په پای کي د نندارېزي الوتنو لارښوونه سويوه
فائق پر مخ ليکي کله چي مي د کودتاه پلان سردارمحمد داود ته کښيښوو، هغه وکوت راته وويل:- "ملګرو ته به سلا د کومي خوا ورکول کيږي؟"
فائق:-"د شهرآرا او يا کلوله پُشته د وسلتونونو دوو افسرانو راسره ژمنه کړيده. يو يې د ښاري انضباط د قطعې لومړئ بريدمن احمدضياء نومیږي چي په وزيراکبر خان مېنه کي اوسي".
سردارمحمد داود:-"پلان دي ډير عالي، په ښه اهتمام او دِقَت طرحه کړئ، آيا جذب کړي وګړي به همکاري درسره وکړي او کنه؟، دغسي ونکړي چي ځان پر موقعه درځخه وکاږي ".

انجینئر فائق:- ″ توکل پر الله ″، **(په ترنم یې دا بیت ورته ووایه)**

دربحرمحیط غوطه خواهم خورد ـــــــ یا غـــــرق شدن یا گیری آوردن

این کار مخاطر است خواهم کـــردن ـــــــ یا روی بران سرخ کنم یا گردن

(راز را که نمیخواستم افشاء گردد، د غوث الدین فائق د خاطراتو ټولګه، لومړئ او دویم ټوک،۱۵حوت۱۳۷۹هشدانش کتابخانه،۴۴- ۵۳مخونه).

۲۵ مئي ۱۹۷۳ء

د افغانستان او شوروي اتحاد ګډ کمیسیون پخپله غونډه کي افغانستان ته د دې هیواد د ولسمشر پوډګورني پر یون خبري وکړې. غونډې غوښتنه وکړه چي د جنوبي آسیا ستونځي دي د هندوستان او پاکستان تر منځ د سوي شمله ټرون په رڼا کي اواري سي. غونډې د هند او بنګله دیش تر منځ د ګډ پریکړه لیک (۱۷ اپریل ۱۹۷۳ء) ملاتړ اعلان کړ.

۲۶ جون ۱۹۷۳ء

سند ۱۴

په کابل کي د امریکا سفارت، کیبل (Cabel= 4728)

پاچا محمد ظاهر خان د طبي درملني د پاره لندن ته درومي، پَټ سَند (Confidential, 1 p)

Source: SN 70-73, POL 15-1 AFG.

د والي بال **(Vollyball)** له امله د پاچا سترګه ټپي سوېده، د درملني د پاره لندن ته ولاړ، هلته به يې د سترګو متخصص ته ښکاره کړي، په لندن کي تر څو اوونيو تيرولو وروسته به ددوو اوونيو رخصتي په اټلي کي تيره کړي

https://nsarchive2.gwu.edu/NSAEBB/NSAEBB59/

۲جولائي،۱۹۷۳ء/۱۱سرطان ۱۳۵۲ه ش

دسردار محمد داود لخوا نن شپه دوولس بجې د کودتاه د پاره ټاکل سويوې. جگتورن غوث الدين فائق چي ددې کودتاه طراح دئ ليکي د ورځي پر دوو بجو مو مربوطو ملګرو ته خبر ورساوه. کله چي مو پر ټاکلي مهال په کودتاه لاس پوري کاوه د سردار دلوري بل خبر راورسيد چي تر بلي نيټې پوري په کودتاه لاس مه پوري کوئ. د ځنډ دې خبر ټول ملګري بدګومانه او خواشيني کړل (**راز را که نمیخواستم افشاء گردد، د غوث الدین فائق د خاطراتو ټولګه، لومړئ او دویم ټوک،۱۵حوت۱۳۷۹هشدانش کتابخانه،۸۰، ۸۱ مخونه**).

جولائي ۸ ،۱۹۷۳ء/۱۷سرطان ۱۳۵۲ه ش



اعلیحضرت محمد ظاهرشاه همایوني د سترګو د تداوئ په موخه د اټالیا د ناپولي ښار ته ورسید.

په کابل کي د صنعتي ودي بانک (**بانک انکشاف صنعتي**) د بنسټ تیره کښیښوو سوه، شپیته سلنه ونډه ورپکي د افغانستان، څلویښت سلنه (۴۰٪)د امریکا د منهاتن وُ ستي او هم د فرانس و جاپان د بانکونو څخه تشکیل سوې ده.

۱۶جولائي ۱۹۷۳ء/۲۵سرطان۱۳۵۲ه ش

تر ماپښین وروسته د خپلواکۍ د ورځي په مناسبت په کابل کي د عراق په سفارتخانه کي میلمستیا جوړه سوې ده (د عراق دخپلواکۍ ورځ د رواني میاشتي د څوارلسمي نېټې سره سمون درلود، خو په هغه ورځ د فرانس د خپلواکۍ د ورځي له امله عراقي سفارت خپله میلمستیا دوې ورځي ځنډنۍ کړه).

♥ د نوي نظامي آتاشه په وياړ په کابل کي د امريکا د سفارت د لوري ماځيګرنۍ (عصريه) ميلمستيا، پر يوشمير باندنيو سفارتکارانو سربيره د افغانستان ډير شمير ملکي او نظامي منصبداران هم ورپکي ګډون لري.

۱۷جولائي۱۹۷۳ء - سرطان۲۶ ،۱۳۵۲ه ش

نيمه شپه

د بالاحصار د کماندو د قطعې منصبدار حبيب الله خان د جګتورن غوث الدين فائق سره همکار سو د شاه شهيد دلور دروازې،او دارګ څوارلس ټينکونه يې د هغه په واک کي ورکړل

♥ جګتورن فائق دوه ټينکونه د دفاع وزيرخان محمد او د قوای مرکز د رئيس ارکان د نيولو د پاره وزير اکبرخان مېنې ته د ځانه سره بوتلل. دوه ټينکونه يې د بالاحصار د شوربازار دروازې، دوه يې د شاه شهيدد لور دروازې او اته يې پر ټاکلي واټن د کماندو پر قطعه را خپاره کړل.

د سهار اووه نيمي بجې

د وزيرانو، جنرالانو او قطعو د قوماندانانو تر نيولو وروسته جګتورن غوث الدين فائق سردار محمدداود ته رپوت ورکړي کړ او هغه راډيو افغانستان ته ولاړ او خپله وينا يې د راډيو پر څپو خپره کړه.

د سهار نهه بجې

څلورم او پينځلسم زرهدار ځواک پر مځکه د ټينکونو او په هوا کي د الوتکو نندارە وکړه.

سردارمحمد داود د نظامي منصبدارانو په وسیله د خپل کاکا د زوی او اخبني محمدظاهر شاه د څلویښت کالني پاچهئ په ړنګولو پیل وکړ، د پلان سره سم په لومړي پړاو کي یې د مخابراتو مرکز ونیوو او د عسکري رادیو دستګاه یې خپل کور ته یوړه او له هغه ځایه یې پخپل ږغ د کودتاه اعلان وکړ، د سردار عبدالولي (د پاچا زوم او د ده و د سرداردداود د آکا مارشل شاه ولي خان زوی) د څو بریدونو په چپه بل چا مقاومت ونکړ.

♥ نوي حکومت لاندي اشخاص د شاه د پلوئ په تور ونیول

سردار عبدالولی (دوه کاله په ارګ کښي نظربند وو او بیا تر خوشي کېدلو وروسته روم ته ولاړ)

جنرال خان محمدخان ـــــ دفاع وزیر

جنرال ګلبهار خان ـــــ د هوائي ځواک او دافع هوا قوماندان

غلام محمد خان ـــــ د شاهي ګارد قوماندان

قمرالدین خان ناصري ـــــ د توپچي ځواک قوماندان

رحمت الله خان ساپئ ـــــ د قوماندو ځواک قوماندان

عبدالحکیم خان کټوازئ ـــــ دریشخور فرقې قوماندان

نوازخان ـــــ د قرغې د اتمي فرقې قوماندان

محمدحسین خان ـــــ د پُلِ چرخي د پینځلسمي زرهپوښ فرقې قوماندان

د باګرام، شینډنډ،مزارشریف او کندهار د هوائي ډګرونو د ځواک قوماندانان.

شاهي کورنۍ يې لومړئ د عبدالقدير نورستاني(**په نوي حکومت کښې د کورنيو چارو وزير**)، وروسته صدارت مانۍ او په پای کې ارګ ته انتقال کړه (**سردارمحمدداود، د ډاکټرعاصم اکرم کتاب،۱۹۵- ۱۹۷مخونه**)،



دا اوښتون په سپينه کودتا ونومول سوچې دډګروال عبدالقادرهراتي په ګډون يو شمير خلقيانوهم په بالواسطه توګه رول پکې ولوباوه.د افغانستان په چارو پوه ډرېفَس(**DREYFUSS**) پخپل کتاب کې ليکي چې سردار محمد داود د شوروي اتحاد په مرسته شاهي حکومت ړنګ کړ او ولسواکي يې تاسيس کړه. د امريکا څارګري شبکې (سي آی ای) په بدل کې د ګلبدين حکمتيار په ګډون د روسانو پر وړاندي د مقاومت غورځنګ په توګه د اسلامپالو افراطيانو تمويل پيل کړ. د امريکا متحدينو ايران او پاکستان د خپلو څارګرو شبکو ساواک (**SAVAK**) او سي.آی.ای (**I.S.I**) په وسيله دې اورپکو

ته د وسلو او نورو ډول ډول مرستو په رسولو کې مهم رول ولوباوه (WAR IN AFGHANISTAN **DREYFUSS, 2005, PP. 260 - 263**)

خو د شاه امان الله خان د کورنۍ یو نامتو غړی کبیر سراج لیکي چې د ۲۶ سرطان، ۱۳۵۲ه ش (۱۷ جولائی ۱۹۷۳ء) دا یو ملي خوځښت وو، سردار محمد داود دغسي شخصیت نه وو چې د کِنلاسو او یا هم ښیلاسو گوندونو په ملاتړ دي یې شاهي رژیم نسکور کړی وي. دا د هغه د اخلاقي او ایماني اصولو پر ضد کړنه وه.تر دې خوځښت یوه ورځ وروسته مې د یوه پرچمي نظر وپوښت؟. جواب یې راکړ چې گوند راته وئیلي دي چې مه یې تائید کوی او مه یې مخالفت(د قاسم باز او هم د سردار محمد داود د فیسبوک پاڼو څخه، ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۲ء).

چې یې پرون ددښمن سر تا له په بیه راوړ
سبا به دغه سړئ ستا د سر سودا هم کوي

عبید الله درویش درانئ





پاچا د کودتاه په ورځ په اټالیا کي

۱۷جولائي۱۹۷۳ء - سرطان۲٦ ،۱۳۵۲هش

سهار

افغاني مځکپوهانو(**Geologests**)د کابل د جنوب لویدیز پرلور پر پینځه دیرش کلومیټره واټن د عینک په سیمه کي په تصادفي توګه دمسو زیرمي وموندې دا کان پر مرکزي،لویدیز او جنوبي برخو تقسیم سوئ دئ. په لومړي پړاو کي د مرکزي برخي د مسو زېرمه شپږ ملیونه ټنه اټکل سوئ وه خو اوس یې اندازه دوولسو ملیونو ټنو ته جګه سوې ده. په ټولیزه توګه په خامو موادو کي د سوچه مس یوه سلنه(**1%**) اټکل سویدي. ددې تر څنګ پدغه کان کي سلفائډي منرالونه کاپر پیرائټ(**Copper Pyrite= C4FeS2**) چي پینځه دیرش سلنه سوچه مس لري او بل یې بورنېټ دئ چي اته شپیته سلنه سوچه مس لري. اکسیډي منرالونه لکه کاپر اکسیډ(**Cu2O**) یا کاپرائټ(**Coprite**) چي د سوچه مسو کچه یې ډیره ده خو ایستل یې زښت ډیر زیار غواړي. لویدیزه برخه یې د مرکزي برخي څخه یو کلومیټر لیري ده، ددې برخي انکشافي کار هم پای ته رسیدلئ دئ. په جنوبي برخه کي د مسو کچه نه ده معلومه سوې(**په افغانستان کي طبعي**

منابع، ډاکتر غلام رسول اکبر، خپلواکي مجله، څلورم کال، دویمه گڼه، جولائي-سپتمبر۱۹۸۹ء، ۸۱-۸۸مخونه).

۱۷ جولائی ۱۹۷۳ء

سند ۱۵

یادداشت، هارولډ ایچ. سانډرز او هنري اې. اپلبام، د ملي امنیت شورا کارکوونکي، ډاکټر هینري کیسنجر ته، "په افغانستان کي کودتا،" ۱۷جولای ۱۹۷۳ء، راز، ۲ مخونه.

سرچینه: NSCF، بکس 591، افغانستان لومړی ټوک.

د پاچا محمد ظاهر خان نیشتوالي سردار محمد داود ته فرصت ورکړ چي پرته له دې چي د تره زوی ته د سر زیان ورسوي واک ترلاسه کړ. د جولای پر شپاړسمه نېټه هغه خوځښت پیل او د اردو د څو سوه پلویانو په همکاري یې سر ته ورساوه. د این.ایس،سي کارمندانو(**National Security Council= N.S.C Staffers)** سونډرز(**Saunders**) او اپیلبیوم(**Appelbaum**) په ښه توګه د پلان او په چټکي سره په سرته رسولي خوځښت **"well planned and swiftly executed coup."** نومولی دی. لکه رابرټ فلیټن(**Robert Flaten**) چي وړاندوینه کړې وه سردار محمد داود د شاهي کورنۍ بادشاهت بحاله نکړ بلکي بادشاهت یې په جمهوریت واړاوه. سونډر او اپیلبیوم اټکل وکړ چي سردار د محمد ظاهر شاه او صدراعظم موسی شفیق په پرتله د امریکا پر موخو ډیر شکمن او د لږ ملاتړ هیله ورڅخه کیدلای سي.کیدای سي چي هغه شوروي پلوی وي. سربیره پردې هغه د

پخواني سلطنت دودیزي باندنۍ تګلاري ته د دوام ورکولو هیله یا تمه درلوده او هڅه به وکړي چې د یو بل په وړاندي لوی قدرتونه ولوبوي"

For an early analysis of the coup and its background, see Dupree, *Afghanistan*, 753-760.

۱۷ جولائی ۱۹۷۳

په ۱۹۷۳ء کي سردار محمد داود د شوروي اتحاد په مرسته شاهي حکومت ړنګ کړ او ولسواکي یې تاسیس کړه. د امریکا ځارګري شبکې (سي آی اې) په بدل کي د ګلبدین حکمتیار په ګډون د روسانو پر وړاندي د مقاومت غورځنګ په توګه د اسلامپالو افراطیانو تمویل پیل کړ. د امریکا متحدینو ایران او پاکستان د خپلو ځارګرو شبکو ساواک(Sawak) او سي.آی.اې (I.S.I)په وسیله دې اورپکو ته د وسلو او نورو ډول ډول مرستو په رسولو کي مهم رول ولوباوه WAR IN AFGHANISTAN **DREYFUSS, 2005, PP. 260 - 263**)

خو د شاه امان الله خان د کورنۍ یو نامتو غړی کبیر سراج لیکي چې د ۲۶ سرطان۱۳۵۲ه ش (۱۷ جولائی ۱۹۷۳ء) دا یو ملي خوځښت وو، سردار محمد داود دغسي شخصیت نه وو چې د کېنلاسي او یا هم ښیلاسي ګوندونو په ملاتړ دي یې شاهي رژیم نسکور کړی وي. دا د هغه د اخلاقي او ایماني اصولو پر ضد کړنه وه.تر دې خوځښت یوه ورځ وروسته مي د یوه پرچمي نظر وپوښت؟. جواب یې راکړ چې ګوند راته وئیلي دي چې مه یې تائید کوی او مه یې مخالفت(د قاسم باز او هم د سردار محمد داود د فیسبوک پاڼو څخه، ۱۳ سپتمبر ۲۰۲۲ء).

۱۹ جولائي ۱۹۷۳ء



خراسان

دیروز در افغانستان کودتا شد

سردار محمد داودخان رهبری کودتا را بعهده داشت

بازگشت اعلیحضرت

نقش شوروی در تبعید افراد ضد کمونیست

رهبران عربستان سعودی و بحرین موافقت کردند که یک پل معلق بین بحرین و عربستان ایجاد کنند

امریکا میکوشد تا اجلاس شورای امنیت سازمان ملل متحد را که قرار است در مورد بحران

۱۸ جولائي ۱۹۷۳ء/۲۷ سرطان



نوی رژیم دنباغلی محمدداؤد په رادیو ئی

متن بیانیهٔ نباغلی محمدداؤد بدین مناسبت.

صبح دیروز ازرادیوافغانستان انتشارباغت

نظام جدید از طرف مردم باگرمی استقبال گردید

۱۹ جولائي ۱۹۷۳ء

د رادیو پښتونستان په نامه یوې رادیو د ناڅرګند ځای څخه په خپرونو پیل وکړ.

۲۲ جولائي ۱۹۷۳ء

پاکستان په رسمي توګه د سردار محمد داود په مشرتابه د افغانستان نوئ حکومت په رسمیت وپیژاند

۲۰جولائي۱۹۷۳ء

شوروي اتحاد د نړۍ لومړئ هیواد دئ چې نوئ جمهوري حکومت یې په رسمیت وپیژاند

♥ د چیکوسلواکیا سفیرجین سوخانیک**(Jan Sukhanic)**، دهندوستان سفیرکې.ایل مهتا**(K.L Mehta)** د نوي ولسمشرسردار محمد داود،د فیډرل جرمني چارج ډي افئیرز ډاکټرکیلیان**(Dr Kilian)** د سردار محمد داود او هم د باندنیو چارو په وزارت کي د سیاسي چارو د شعبې د عمومي رئیس ډاکټرعبدالواحد کریمسره ولیدل او نوئ حکومت یې په رسمیت وپیژاند.

۲۲ جولائي۱۹۷۳ء

پاکستان په رسمي توګه د سردار محمد داود په مشرتابه د افغانستان نوئ حکومت په رسمیت وپیژاند.

۲۴ جولائي ۱۹۷۳ء

جمهور رئيس سردار محمد داود وويل: پښتونستان يو نه جبرانکيدونکئ حقيقت دئ او دا ستونځه به د پښتنو او بلوڅو د هيلو سره سم په درناوي غوڅه سي(**کابل راډيو**)

۲۴ جولائي ۱۹۷۳ء

جمهور رئيس سردار محمد داود پښتونستان د نه منلو حقيقت دی او دا لانجه به د پښتنو، بلوڅو او د دوی د مشرانو په خوښه حل سي.د پاکستان جمهور رئيس چي د انګلستان د يون په ترڅ کي نن لندن ورسيد وويل چي پاکستان به هيڅ ډول تسلط ته غاړه نه ږدي او له افغانستان سره د ښو اړيکو غوښتونکی دی

۲٦جولائي ۱۹۷۳ء

نوي حکومت مرکزي کميټه اعلان کړه چي د غړو نومونه يې په لاندي توګه دي

۱ - سردار محمد داود د مرکزی کميټی په راس کی
۲ - ډاکتر محمد حسن شرق
۳ - غلام حيدر رسولی
۴ - قدير نورستانی
۵ - تورن فيض محمد
٦ - جګړن مولاداد
۷ - سرور نورستانی
۸ - يوسف فراهی
۹ - عبدالاله
۱۰ - عبدالحميد محتاط

۱۱- پاچاګل وفادار

۱۲ - ضياء

۱۳ - غوث الدين فايق

♥ د شوروي اتحاد ولسمشر ليونيد برژنيف نوي جمهور رئيس سردارمحمدداود ته د مبارکئ په رالیږلي پيغام کي هيله مندي څرګنده کړيده چي د دواړو هيوادونو تر منځ به د ښه ګاونډيتوب ښې اړيکي او هر اړخيز تعاون نوره وده وموميِ (**د راډيو افغانستان مانښامني خبرونه**).


۲۷جولائي ۱۹۷۳ء

د پخواني پاچا محمد ظاهر خان ميرمني ملکه حميرا او د کورنۍ نورو غړو يې ايټاليا ته ليږد وکړ.





۱۲ اگست ، ۱۹۷۳ء

سردار محمد داود خپله نوې کابینه اعلان کړه


پوهاند دکتور عبدالله عمر وزیرصحیه



انجنیر عبدالکریم عطایی وزیر مخابرات


ښاغلی محمدخان جلالار وزیرتجارت


پوهاند عبدالقیوم وزیر معارف



ښاغلی عزیزالله واصفی وزیر زراعت


نیر عبدالتواب آصفی وزیر معادن وصنایع


پوهاند دکتورنوین وزیراطلاعات وکلتور


ښاغلی غوث الدین فایق وزیرفوایدعامه


ښاغلی سیدعبدالاله معاون دوم صدارت ووزیرمالیه


دوکتور محمد حسن شرق معاون اول صدارت


ښاغلی فیض محمد وزیر سرحدات


ښاغلی علی احمد خرم وزیربلان


دوکتور عبدالمجید وزیر عدلیه


ښاغلی عبدالقدیر وزیر داخله


ښاغلی وحید عبدالله معین وزارت امورخارجه



کابینه جمهوری افغانستان تشکیل شد

روز چهار شنبه کمیته مرکزی جمهوریت افغانستان تحت ریاست شاغلی محمد دا ؤد رئیس دولت وصدراعظم تشکیل جلسه داده واعضای کابینه را که از طرف صدر اعظم معرفی شده بود به اکثریت مطلق تائید نمود که اینشان عبارت اند ازشاغلی محمد دا ؤد رئیس دولت و صدر اعظم که وظیفه وزارت دفاع ملی ووزارت امور خارجه را شخصا بعهده دارند ـ دوکتور محمد حسن شرق بحیث معاون صدارت ، دوکتور عبدالمجید بحیث وزیر عدلیه ، شاغلی سید عبدالاله بحیث وزیر مالیه، شاغلی فیض محمد بحیث وزیر داخله، دکتور نعمت الله پزواك بحیث وزیر معارف ، شاغلی پاچاگل بحیث وزیر امور سرحدات ، دکتور عبدالقیوم بحیث وزیر معادن وصنایع ، شاغلی نورالدین بحیث وزیر فوایدعامه ، انجنیر عبدالحمید بحیث وزیر مخابرات ، پوهاند دکتور نظر محمد سکندر بحیث وزیر صحیه ، پوهاند دکتور عبدالرحیم نوین بحیث وزیر اطلاعات وکلتور ، شاغلی غلام جیلانی باختری بحیث وزیر زراعت و آبیاری. وزرای پلان وتجارت بعدا تعیین خواهند شد .

Shaim Rahimi
یاد تو کابل

شاغلی محمد دؤد رئیس دولت صدراعظم وزیر دفاع ملی ووزیر امور خارجه

شاغلی فیض محمد وزیر داخله

شاغلی عبدالاله وزیر مالیه

دکتور عبدالمجید وزیر عدلیه

دکتور محمد حسن شرق معاون صدارت

شاغلی نورالدین وزیر فوایدعامه

دکتور عبدالقیوم وزیر معادن وصنایع

شاغلی پاچاگل وزیر امور سرحدات

دکتور نعمت الله پزواك وزیر معارف

دیپلوم انجنیر عبدالحمید وزیر مخابرات

پوهاند داکتر نظر محمد سکندر وزیر صحیه

پوهاند داکتر عبدالرحیم نوین وزیر اطلاعات وکلتور

شاغلی غلام جیلانی باختری وزیر زراعت وآبیاری

۱۶ګست ۱۹۷۳ء


د جمهوریت په نامه د نوي ورځپاڼي لومړۍ ګڼه نن خپره سوه

♥ مرکزي کمیټې تصمیم ونیوو چې د اردو ډلګۍ مشرانو ته به ددریم بریدمن رتبې ته ترفیع ورکړي.دا امتیازیواځي خُردضابطانو ته په برخه سو، دوی کوچني کورسونه او مکتبونه ویلي وو، تجربه یې نه درلوده. سیدمحمدګلابزوی په هوایي ځواک کي د خُردضابطۍ څخه دریم بریدمن سو،دوې ترفیع یې نوري واخستې،لومړۍ بریدمن سواو د ثور تر کودتاه وروسته جنرالۍ ته ورسید. پر دې تر فیعاتو په حربي پوهنتون کي لاریون وسو(۱۳۵۲اسد۲۰ء).غوښتنه یې داوه چې دوی ته دي هم یوکال امتیاز ورکول سي یعني دکورس موده دي یې یو کال لنډه سي. دکورنیو چارو وزیر فیض محمد(پرچمۍ) لاریون شنډ کړ، لاریونوال یې وټکول او وروسته دوسیې ورپسي جوړې سوې(**د پیلوټ جنرل جمال الدین سره چې هغه مهال یې په حربي پوهنتون کي زده کړه کول د راقم ځانګړې مرکه، ګلستان، ۱۷مئي۱۹۹۹ء**).



امريکايي سناتورچارلس هيرټينګ پرسي(**Charles Harting Percy**)په نارسمي يون کابل ته ورسيد، د ولسمشر سردارمحمدداود او سردارمحمدنعيم په ګډون يې د يو شمير دولتي چارواکو سره وليدل، د ډيورنډ کرښې پر لانجه ورسره وږغيد او وروسته يې څرګنده کړه باور لري چې نوي جمهوري حکومت تصميم نيولئ دئ چې زړو لانجو ته به پر نوُو جوابونو رښا واچوي (**په حواله د سالنامه افغانستان،سال ۱۹۷۴ء،په انګليسي ژبه،وزارت اطلاعاتوکلتور،مطبعه دولتي کابل، سردار محمد داود، د ډاکټر عاصم اکرم کتاب، ۲۶۲مخ**)

۲ اسد ۱۳۵۲ه ش



د سردار محمد داود لومړی مطبوعاتي غونډه

خبريال: د کودتا او د جمهوري رياست د اعلان علت روښانه کړئ؟

سردار محمد داود: هرکله چې د اصلاح هيله په بشپړه توګه له مينځه ولاړه سي او هيواد د بدبختۍ او بربادۍ پر لور وخوځول سي او په حکومت کي فساد اوج ته ورسيږي نو هر وطن او وطنپاله د پاڅون په چپه بله لار نلري.

پوښتنه: د کودتا پريکړه مو کله او څنګه ترسره کړه؟

ځواب: زه نه غواړم دې پوښتنې ته مفصل ځواب ورکړم، څرګنده ده کله چې د عادي لارو اصلاحات نه سي راتللای نو بيا د پاڅوني يا انقلابي خوځښتونو د لاري عمليات پيليږي.

پوښتنه: نن ورځ د شاهي کورنۍ د غړو حيثيت څه دی او دوی په جمهوري نظام کي څه ډول رول لوبولی سي؟

ځواب: پخوانۍ شاهي کورنۍ په پوره روغتيا کي ژوند کوي او د نوي نظام په راتګ سره د دوی وندې پای ته رسېدلې او وروسته تر دې به د عادي افغانانو په څير ژوند ولري.

پوښتنه: داسي ويل کيږي چې د کودتا پر مهال يو شمير وګړي وژل سوي يا اعدام سوي دي؟

ځواب: زه په پوره وضاحت سره ويلای سم چې دا کودتا په بشپړه توګه سپينه کودتا وه، ځکه چې نه يواځي مقاومت نه وو، بلکي ټولو افغانانو، اردو، په ځانګړې توګه د ځواني او روښانفکره طبقې د احساساتو او مشترکاتو ښکارندويي کوي او راسره ملګري وو.زه درته په ډاډ وايم چې ځلور پوليس، درې د اردو سرتيري د ماشيندار په

ناڅاپه ډزو او یو سرټېری سیند ته د ټینک لویدلو پر مهال ژوند د لاسه ورکړی دی.

پوښتنه: د نوي جمهوریت لپاره څه ډول سیستم پلان سوی او د مرکزي کمیټې غړي به یې څه وخت اعلان سي؟

ځواب: په دې برخه کي د لومړۍ ورځي په اعلامیه کي په بشپړه توګه څرګنده سوې چي د ملي خوښۍ لپاره یو پاڅون رامنځته سوی، چې ټول یې شاهدان دي او د هغې عملي کول به د مرکزي کمیټې د پاملرني لپاره سپېڅلې وظیفه وي.د جمهوري ریاست راتلونکی اساسي قانون به په طبیعي توګه هرڅه ټاکي. مور د هغو وطنپالو په لټون یو چي د هغو درنو دندو د سرته رسولو توان ولري چي د پاڅون له روحیې سره سم یې په ښه توګه سرته ورسوي

.(On Facebook ID of Old Afghanistan, 21 May 2020)

۱۱ اسد ۱۳۵۲ ه ش



۱۱۷اګست۱۹۷۳ء

د افغانستان حکومت د پاکستان څخه ددې هیواد په بلوچستان ایالت کي د ملي عوامي ګوند د مشرانو پر نیولو کلکه خواشیني څرګنده کړه **(کابل راډیو)**.

۱۱۸اګست۱۹۷۳ء

د پاکستان د کورنیو چارو وزارت افغانستان ته ګواښ**(Warned)** وکړ چې د پاکستان په کورنیو چارو کي دي د لاسوهني څخه ډډه وکړي.

۱۲۲اګست۱۹۷۳ء

سردارمحمدداود په یوه بیانیه کي د جمهوري نظام خط مشي وړاندي کړ



۲۴ اګست ۱۹۷۳ء

جمهور رئیس سردار محمد داود وویل چې پاکستان هغه یواځنی هیواد دئ چې مونږ د پښتونستان پر ملي لانجه چې د پښتنو او بلوڅو وروڼو مشروع حقوق دي، ورسره تضاد لرو.

۷ سپتمبر ۱۹۷۳ء

په الجئیرز(**Aljeirs**) کي د ناپیلو هیوادونو څلورمي غونډي ته د وینا پر مهال د افغانستان استازي عبدالرحمان پژواک وویل چي هیواد به یې د پښتونستان د لانجې د خلاسون لپاره د ولس د ارادې پر بنسټ هیڅ ډول هڅي ونه سپموي.هغه تور ولګاوه چي د پلارني ټاټوبي افغانستان څخه یې د پښتونستان اووه ملیونه وګړي بیل کړل سویدي.

۱۷سپتمبر۱۹۷۳ء/۲۶سنبله۱۳۵۲ه ش

نن په کابل کي د امریکا سفارت د خپل هیواد د باندنیو چارو وزارت ته د سردار محمد داود د حکومت راتلونکئ تر سرلیک لاندي شپږ زره اووه سوه پینځه پینځوسمه ګڼه ټیلیګرام مخابره کړ.په ټیلیګرام کي د افغانستان د نوي حکومت په وړاندي د ننګونو درې وړاندویني سویدي.

لومړئ دا چي امکان لري د سردار محمدداود د احتیاطه ډکي مخکښئ په وړاندي به د اردو نوي صاحبمنصبان بې حوصلې سي، په بله کودتاه به لاس پوري کړي، تر څو دوی د هغه چا سره ودروي چي وربانديي باور لري.

دویم دا چي د شاهي پیر لوړ پوړي نظامي او پولیسي چارواکي چي د نوي جمهوري رژیم د حرکت څخه خواشیني یا پریشانه دي او نه غواړي چي له واکه لیري سي، د واک د بیرته تر لاسه کولو د پاره به د پخواني پاچا په ملاتړ د نوي حکومت د راپرزولو د پاره په بله کودتاه پیل وکړي.

دريم دا چې د کتونکو ډېر شمير پر دې متفق دئ چې سردار محمد داود به ورو ورو او په پټه د دغو نوو صاحبمنصبانو يو شمير له واکه گوښه کړي او خپل ځان به پياوړی يا مستحکمه کړي. همدغه رشتينې سناريو ده چې ورو ورو او گام پر گام به د سردار لخوا پر مخ ولاړه سي

(گزارش شماره6755 ،مورخ 17 سپتمبر 1973 ،ترجمه:احمد فواد ارسال، منتشره افغان جرمن آنالين،مورخ 24 جنوری 2016).

۱۸ - ۱۹سپتمبر۱۹۷۳ء/۲۶-۲۷سنبله۱۳۵۲ه ش



د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو د امریکا د دوه ورځني یون په ترڅ کي د امریکا ولسمشرریچارډ نِکسَن ته د لیدلو پر مهال وویل چي د افغانستان نوي جمهور رئیس سردار محمد داود ته دي درس ورکول سي (**د نور تفصیل د پاره وګورئ مقاله " تانباشدچیزکی،مردمنگویندچیزها!"، احمد فواد ارسال، افغان جرمن آنلائن، مورخ 6 فبروری 2016**). بټو غوښتل چي په نا مستقیمه توګه نوئ جمهوري نظام له منځه یوسي او یا هم کم تر کمه د ستونزو په ورته پیدا کولو د نوي نظام د بې ثباتئ د پاره ذهنیت سازي وکړي او هم پدې برخه کي د امریکا ملاتړ لاسته کړي. دا چي په کابل کي د امریکا سفارت واشنګټن ته په ورلیږلي رپوټ کي د افغانستان په اړوند هیله مندي څرګنده کړې وه، ریچارډ نکسن بټو ته سوړ جواب ورکړ(**دست های مرموز در شهادت میوندوال،لومړی برخه،داکترسیدعبدالله کاظم 2 اکتوبر2020ء، افغان جرمن انلائن**).

۱۸ سپتمبر ۱۹۷۳ء

د غرمې پاوکم دوه ساعته(11:00 a.m – 12:45 p.m)

په واشنګټن کي د پاکستان د صدراعظم ذوالفقار علی بټو او د امریکا د ولسمشر ریچرډ نکسن تر منځ د افغانستان په ټړاو دخبرو لنډیز-

د سپینې مانۍ یاداشت

برخوال، امریکائي لوری: ولسمشر ریچرډ نکسن، د هغه مرستیال او د باندنیو چارو وزیر هینري کیسینجر،کارمند هیرالډ ایچ. سونډرز

پاکستاني لوری: صدراعظم ذوالفقار علی بټو، د باندنیو چارو او دفاع وزیر عزیز احمد او په امریکا کې د پاکستان سفیر سلطان خان.
هینري کسینجر: د شوروي اتحاد سفیر د افغانستان په ټړاو زما سره رابطه وکړه. ورته ومو ویل که اوسنۍ کودتاه تر افغانستان پوري محدوده سوه، دا ددې هیواد خپله کورنۍ پېښه ده، او که یې د پښتونستان لانجه بیا راژوندۍ کړه نو امریکا به هم ور را مخته سي، دا د ولسمشر بنسټیزه تګلار ده.
ولسمشر نکسن: پدې اړوند موږ سپیني خبري سره کولای سو.کله چې تر ۱۹۷۱ء وړاندې تاسو دلې واست، ماته پوه کړې چې د امریکایانو عمومي ذهنیت یا افکار اداره کول ډیر ستونزمن کار دی. پدې هیڅوک نه پوهیږي چې د ۱۹۷۱ء په جګړه کې موږ ولي د هندوستان ملاتړ ونکړ. عجبه داده چې زموږ سترو ورځپاڼو لکه نیویارک ټائمز او کالم لیکونکو دا استدلال کاوه چې هند ستر هیواد دی، باید ملاتړ یې وسي. که موږ دغه لوی والی د باندنۍ تګلاري د پاره معیار وټاکو، بیابه دا نړۍ د هیڅا د پاره خوندي نه سي پاته.موږ پاکستان د خپلې دوامداري دوستی مستحق بولو.دا په سولئیزه نړۍ کې د امریکا په ګټه ده، پر دې تګلار موږ ټول متفق یو.
بټو: ډیره منه.ستاسو سره د خبرو دا یوه نادره موقع ده. مهرباني وکړی ماته د سپینو خبرو کولو اجازه راکړی، ځکه چې موږ ته اکثره د خبرو کولو موقع په لاس نه راځي. موږ پاکستانیان به د نړۍ د امنیت په تامینولو کې ستاسو په هلو ځلو کې خپله عاجزانه ونډه هم واچوو.د منځني ختیځ لانجه د جنوبي آسیا سره موښتې ده، پاکستان ددې څخه بې خبره نه سي پاته کیدلای.

هندوستان د یوه ځواکمن هیواد دعوه کوي خو دا روښانه نه ده چې د ځواکمن مطلب څه دی. دا مهال په هند کې تر پاکستان ډیر وګړي له لوږي مري. پدې هیواد کې ډیر تضادات شتون لري. مور په هندیانو او ددوی په اقتصادي کړاونو باندې خواشیني یو. اوسنیو سیلابونو زمور ملا هم راماته کړېده، کنه نو مور به په غنمو او بوره کې خودکفیله وای او زمور د پرمختګ امکانات روښانه وو. وریجې له وړاندې څخه لا صادروو.زمور په پرتله هند د پرمختګ د کمی څخه ناهیلی دی. په بنګله دیش کې چې څه پیښ سول، هند د هغه څخه ناهیلی ښکاري. که مور د جواهر لعل نعرو پر تګلار عمل کړی وای، د ۱۹۶۰ء په لسیزه کې به مې د هندوستان څخه د بنګله دیش په څیر یو شمیر هیوادونه ځیرولي وای.

نکسن : هغه بله ورځ همدغه خبره ډاکټر کیسینجر راته وکړه.

کیسینجر:زما زړه دا راته وائي چې هندوستان په بنګله دیش کې دغسي کړنه پیل کړه چې په اورد مهال کې به یې پخپله دوی ته زیان ورسیږي.

صدر: داسي نه چې مور د هندوستان خواشیني غواړو. زه دا ددې د پاره درته وایم چې تاسو او کیسینجر یوه خبره راپورته کړه.

بهټو:هندوستان د بنګال په بټی خپلې ګوتې وسوځلې.د ډیرو کلونو څخه سیکان او ناګاهند مور ته راغلي او د هندوستان پر ضد یې زمور څخه د مرستې غوښتنه کړېده. هغوی په هندوستان کې دننه د خپلواکۍ په جګړه کې زمور د ملاتړ غوښتنه کول، مور ونکړه

. پاکستان د خلیج فارس په خوله کې موقیعت لري.هر هیواد چې د کراچي ساحل ته ځان ورساوه، هغه خلیج نیولای سي.لدې امله شوروي اتحاد ددې ساحل سره دومره لیوالتیا لري. پاکستان د لویدیز

تهذيب سره پابند هيواد راغلی دی. موږ د امريکا سره ژمنه کړېده. په پخوا زمانه کي د دنيا د معاملاتو د پاره ساده طريقه وه، چي په الله او شيطان کي به يو غوره کيدی. موږ الله غوره کړی دی.نهرو به ويل چي پاکستان د امريکا تر ټولو لوی ملګری هيواد دی. موږ د سويس په ناورين کي د انګلستان سره ودريدلو. مصريانو تر اوسه نه يو بخښلي. موږ ددريمي نړۍ د ناپېلو هيوادونو د ولولو څخه ځانونه ګوښه کړيدي. د ۱۹۵۰ په لسيزه کي نهرو شوروي اتحاد ته ولاړ، د هغه هيواد سره يې ښې اړيکي نوري نژدې سوې. شوروي اتحاد پر موږ فشار اچاوه ځکه تودو اوبو ته يې لېوالتيا درلوده.لدې امله موږ نه غوښتل چي د چين سره اړيکي ورانې کړو، هسي هم د جنوب ختيزې آسيا ستونزې د چين بې ملتيا نه سي غوځيدلای.

نکسن: دا خبره دي رشتيا ده او دا حقيقت هم دی چي پر داسي نازکه موقع امريکا د پاکستان سره خپلې اړيکې د مجبوری د امله سړې وساتلې. پاکستان دي دې اړيکو ته بيا کاته وکړي. په ۱۹۶۴ء کي په پاکستان کي وم، هلته مي د جنرال ايوب خان سره وليدل، هغه راته وويل چي توکل د نړي سپښې په څير دی، چي يو ځل وشليږي، بيا يې جوړيدل مشکل وي. ده هغه مهال لا د چين سره دوستی ته چمتووالی درلود.

بټو: پاکستان اوس پينځه شپيته مليونه وګړي لري او مخ پر وده روان دی. افغانستان غواړي چي خپله پخوانۍ ادعا را ژوندۍ کړي. موږ باور لرو چي شوروي اتحاد د دې لانجې په بيا راژوندي کولو کي ليوالتيا لري. افغانستان پخپله د پاکستان لپاره کومه ستونزه نه ده.

اوس چې موږ په دې اړه خبري کوُو، د امریکا د حکومت دریځ دا دی چې د شوروي اتحاد د لاسوهنې کره شواهد نسته.

کیسنجر: د افغانستان د ولسمشر ورور (**سردار محمد نعیم**) همدا اوس مسکو ته تللی دی.

ولسمشر: زه په بشپړه توګه خبر یم چې د افغانستان مخکښې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو پر لور روانه ده. د قومونو ټوټه ټوټه یواځې د برصغیر لپاره ستونزه نه ده. دا په افریقا کې هم یوه ستونزه ده، حتی بریتانیا په آیرلینډ کې دا ستونزه لري. په دې ډول د هېوادونو ټوټه کیدل له ګډوډۍ پرته بل څه نه سي رامنځته کولای. موږ به د افغانستان او هند پر وړاندې د پاکستان د سالمیت ملاتړ کوُو.

(**ډاکټر کیسنجر ته په اشاره- ژ**) ډاډه اوسئ په باندنیو چارو وزارت کې ستاسو ملګری پدې پوهیږي.

کیسنجر: ښاغلې ولسمشر! په دریو میاشتو کې به دوی (**افغانستان ته په اشاره - ژ**) هم ستاسو ملګري سي.

ولسمشر: موږ به په دې اړه وګورو.

بوټو: شوروي اتحاد خپلې سترګې ساحل ته ټرلي دي. افغانستان یواځې د شوروي اتحاد ارمانونه نه سي پوره کولای او نه هم هند په یواځې سر دا کار کولای سي. د افغانستان د پخواني حکومت دا تګلاره د منلو وړ نه وه.

د افغانستان ولسمشر سردار داود په هغه کودتا کې ریښې نه لري چې هغه یې واک ته ورساوه. د هغه لاندې لوی درستیز او ډګروال په

شوروي اتحاد کې روزل سوي دي. دوی به تر هغه وخته آرام نه کښيني چې موږ په لاس کي نه وي اخستي.
د آسيا د ډله ايز امنيت وړاندیز سره د اروپا ډله ايز امنيت پرتله کول هيڅ ګټه نلري. اروپا ممکن د دې ډول تنظيم لپاره چمتو وي ، مګر آسيا د دې لپاره مناسبه نه ده. دلته لا هم مځکنۍ شخړي او جګړې رواني دي. په سويل ختيزه آسياکي يو لنډمهاله اوربند شتون لري. آسيا په روان حالت کې ده. د امنيت په اړه د دې ډول چلند لپاره هدفي شرايط نه دي روښانه سوي. موږ دا نه احساسوُو چې د آسيا د امنيت لپاره کومه تګلاره بايد د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو لخوا رهبري سي. شورويان زموږ څخه ناخوښه دي. دوی هڅه کوي چې افغانستان پر ګوډو کړي.
ايران د يوې اعلاميې سره موافقه وکړه چې په اصولو کي يې د آسيا د ډلئيز امنيت مفکوره ومنله. شاه څرګنده کړه چې هغه يواځي په خبرو کي برخه اخيستې او د نظر او هر ډول عملي ګامونو په اړه به محتاط پاته سي. ما ورته وويل چې اصلاً پخپله پاکستان ته زيان رسوي.
زه پوهيږم چې چاو اين لای (**د چين صدراعظم- ژ**)احساس کوي چې شورويان د آسيا په مينځ کي تمرکز کوي. د خليج فارس، پاکستان، ايران او بيا د ټولو پام دې سيمي تر اړولو وروسته چاو اين لای احساس کوي چې شوروي اتحاد به چين ته زيان ورسوي.
ولسمشر: ميرمن ګاندي موږ ته وويل چې د دوستۍ ټرون هيڅ معنی نه لري.
کيسنجر: هغې امريکا ته د ورته ټرون وړاندیز وکړ.

بوټو: په خلیج فارس کي پاکستان د اماراتو له دولتونو سره ډېرې ښې اړیکي لري. پاکستان له عربي هېوادونو سره هم ښې اړیکې لري، په تیره د لیبیا سره، پاکستان دلته یو شمیر پیلوټان لري.

ولسمشر: دا مهمه ده چې پاکستان تر کومه حده چې کولای سي، د خلیجي هېوادونو په څېر له نوُو هېوادونو سره ښه رول ولوبوي.

هینري: کله چې تاسو باندنیو چارو ته ولاړئ، زه غواړم چې ووایم چې د پاکستان د نور ټوټې کولو بحث پریږدی. زه نه پوهیږم چې په دې اړه په دولت کي کومه ستونزه شتون لري او که نه. زمونږ ستونزه دا ده چې په امریکا کي رویه دا ده چې پاکستان په اصل کي د پوځي دیکتاتورۍ له خوا اداره کیږي، او د امریکا او هند تر منځ د لیبرال حکومت تر منځ د مینې اړیکه موجوده ده. یو له هغو شیانو څخه چې تاسو یې دلته کولای سئ، ښاغلی لومړی وزیر، د خلکو سره خبرې کول او دوی ته اجازه ورکول چې تاسو په خپل حق کي لیبرال یاست. ستاسو ریکارډ دلته ستاسو سره مرسته کوي. تاسو یواځي د خپل هیواد د ګټو د ترجمان په توګه نه بلکي د فکري مشر په توګه خبرې کولای سئ. هندیانو په امریکا کي د لوړ اخلاقو له مخي خپله عریضه کړې ده. خو د دوی کړنو دوی ته بل څه وښودل.ډاکټر کیسنجر د سنا د باندنیو اړیکو د جرګګۍ په وړاندې د هغه د تائید په اوریدو کي شیطان نیولی وو.

کیسنجر: هند د شوروي پر پوځي تجهیزاتو ډېره تکیه لري.

ولسمشر: ښاغلی لومړی وزیر! یو له هغو ستونزو څخه چې پاکستان یې په امریکا کي لري، په رشتیا د عامه اړیکو ستونزه ده. ځینې

وختونه ستاسو لیوالتیا یو زیان ثابتوي. مګر د لیبرال تاسیس سره ستاسو اعتبار به خورا ګټور وي. تاسو کولای سئ زمور سره د مرستي لپاره په کانګرس کي د لا ډیر ملاتړ په رامینځته کولو کي مرسته وکړئ. په نظامي ډګر کې زمور لاسونه تړل سوي دي. تاسو د پور ستونزه لرئ، او مور غواړو په دې اړه ډیره مرسته وکړو.

کیسنجر: لومړي وزیر د سناتور پرسي سره په دې دوبي کي د پاکستان دوره کولو په وخت کي ډیره مرسته وکړه، او تاسو پوهیږئ، ښاغلی ولسمشر، پیرسي څومره هند پلوی وو.

ولسمشر: تاسو قوي اخلاقي قضیه لرئ. تاسو قانع کولای سي. خو د هند او پاکستان ترمنځ انتخاب مه کوئ. هغه څه چې مور یې په راتلونکو دریو کلونو کې غواړو هغه دا دي چې د اقتصادي یا بل ډول بحران په صورت کي د پاکستان سره مرسته وکړو. بشردوستانه مرستې پرته له غنمو پرته بله ستونزه نه ده، چې د نه شتون ستونزه ده. زمور ستونزه کانګرس ده.

کسنجر: تر کودتاه وروسته ولسمشر راته وویل چې سفیر ډوبرینین ته لارښوونه وکړه چې د افغانستان د بحران په ښکاره هر انداز به د نظربندی د روح سره سمون نه ولري

ولسمشر: زه به د شوروي اتحاد د باندنیو چارو وزیر اندرا ګرومیکو ته دا وایم دا د نړیوال امنیت په ګټه ده چې امریکا د شوروي اتحاد سره د یوه موډس ویوندې لرلو هڅه وکړي. خو شوروي ددې په مطلب هیڅکله هم نه دی پوه سوی.زمور د پاره دا اړینه ده چې د پي.آر.سي سره اړیکي وساتو. پاکستان یو حساس هیواد دی،د تودو

اوبو ګودرونو پر لارو موقیعت لري.یو پیاوړی او خپلواک پاکستان د امریکا د ګټو د تکمیل سره ټړاو لري

په افغانستان کي د بیلګي په توګه شورویان کولای سي ووایي، "څوک، زه؟" مورِ به په ډیر دقت سره ګورو او د باور په اړه به هیڅ شی نه اخلو. خو شورویان په دې اړه هیڅ فکر نه لري چې مورِ څنګه احساس کوو.

کیسنجر: په حقیقت کې، د ولسمشر له ټاکل کیدو راهیسې دوی څه ترلاسه کړي دي؟

بوټو: له همدې امله مورِ نه غواړو چې تاسو بیا په دې موقف کي اوسئ. مورِ غواړو خپل اصلي قوتونه متحرک کړو. مورِ نه غواړو چې تاسو شرمنده کړو.

کیسنجر: سفیر هیلمز به د نومبر په میاشت کي پاکستان ته درسي. هغه به له تاسو سره د وسلو د لیږد د ځینو امکاناتو په اړه خبرې وکړي.

ولسمشر: زمورِ د سي آی اې د پخواني مشر په توګه، هغه د دې ډول شیانو په اړه پوهیږي.

بوټو: په لنډه توګه، سبا به مورِ پر دریو موضوعاتو سره ورِغیږو لکه د نظامي مرستي، د سیلابځپلو پر اړتیاو او هم په بلوچستان ولایت کي په اورماړه سمیه کي د نوي بندر پر جوړولو.

ایرانیان د چاه بهار بندر جوړوي. مورِ هم په خپل ساحل کي د یوه بندر جوړولو ته اړتیا لرو. شورویان له دې ساحل سره ژوره لیوالتیا لري او مورِ ته یې د تیلو د موندلو په برخه کي د جیولوجیکي سروې او داسي نورو چارو کي د مرستي وړاندیز کړی دی. مورِ غواړو چې په اورماړه کي نوی بندر جوړ سي او هلته امریکایان شتون ولري.

(په دې وخت کې سلطان خان د بلوچستان نقشه پرانسته او د اورمارې سیمه یې په ګوته کړه)

عزیزاحمد: دا هغه نقشه ده چې د خپلواک بلوچستان د غورځنګ له خوا جوړه سوې ده. تاسو به وګورئ چې په سرحدونو کې یې نه یواځې دا چې د ایران او پاکستان سیمې شاملې دي بلکې د شوروي اتحاد یوه کوچنۍ سیمه هم شامله ده. په دې توګه ویلای سو چې شورویانو بلوچستان ته لږ څه ورکړي دي، خو اصلي موخه به یې دا وي چې د بلوچستان ساحل ته لاره اواره کړي.

ولسمشر: اجازه راکړئ په لنډو درته ووایم چې موږ تاسو ته د یوه ملګري په توګه ښه راغلاست وایو.

د امریکاګټې له تاسو سره زموږ د ملاتړ ژمنه پوره کولو ته اړتیا لري.

موږ کولای سو سبا مشخصاتو ته ورسیږو.

[ولسمشر لومړی وزیر په خپل موټر کې ونیوه.]

هارولډ ایچ سنډرز

د ۱۹۷۱ء تجربه عجیبه غوندي وه، هغه مهال په پاکستان کې څو احمق واکمن وو. اوس بنګله دیش د کړاو په حالت کې قرار لري .

ولسمشر فورډ: تاسو د بنګله دیش د پاره څه منصوبه لرئ؟

هینري کسینجر: ما څارګریز رپوټونه کتلي دي چې په بنګله دیش کې وخت پر وخت د پاکستان بیرغ پورته کیږي،آیا همدا رپوټونه تاسو ګورئ؟.

ولسمشر: دا یواځې زموږ د معلومات د پاره دي، هغوښنه وګړي دي، ډیر شمیر ستر پاکستاني مخکښان بنګالیان دي. ما د ځینو سره لیدلي

دي. ستاسو په فکر څه به کیږي،آیا تاسو دا محسوسوی چي بنګله دیش به وژغورل سي ؟

بټو: یقیناً، وګړي به یې وژغورل سي، خو دا تر ټولو بدقسمته وګړي دي، موږ د دوی سره ښې اړیکي غواړو، ددوی سره یوځای اوسیدل غواړو. خو څرنګه چي زه وینم دا نه سي کیدلای چي هغوی دي د چین تر آغښز لاندي راسي.

ولسمشر: زه افسوس کوم، مطلب مي مداخلت کول نه وو.

بټو: موږ د بنګله دیش سره ښو اړیکو ته چمتو یو، کچیري دوی زموږ سره کمزوري اړیکي غواړي نو موږ د یوه کمزوري کنفیدراسیون د لاري اړیکو ته چمتو یو. موږ به اوس د افغانستان د لوري ددې ستونزي سره مخامخ سو چي هغوی زموږ پر دوو ولایتونو دعوه لري، ددې څخه دا پوښتنه راولاړیږي چي آیا د پاکستان په بنسټیز تصور کي یو څه تیروتنه یا غلطي سته.؟. زه یې نه محسوسوم چي دا به وسي. دوو ملیونو وګړو د پاکستان د مفکورې د پاره خپل سرونه وښندل .

ولسمشر: په لومړیو ورځو کي غمیزه دا وه چي د کشمیر لانجه دي نه حل کیږي.

بټو: پاکستان ارومرو یوه معنا لري، دوو ملیونو وګړو ورباندي سرونه وښندل، موږ ولي ددې ستونزو سره مخامخ یو؟. د نړۍ په هر کونج کي بیلوالي ته لمسون ورکول ډیر آسانه کار دی، دغسي ښکاري چي هندوستان دې خبري ته پاملرنه ور اړوي. په پاکستان کي پینځه شپیته ملیونه وګړي اوسي او مخ پر وده درومي، دغسي نه ده چي افغانستان د تیر مهال ادعاء راژوندۍ

کول غواړي. موږ باور لرو ددې ادعا ء د ژوندي کولو شوروي اتحاد لیوالتیا لري. افغانستان د پاکستان د پاره هیڅ ستونزه نه ده. اوس چې موږ پر دې موضوع خبري کوو نو د امریکا دریز دادی چې د شوروي اتحاد پدې ادعاء کې د لاس درلودلو هیڅ پوخ ثبوت نسته.

کسنجر: افغانستان د جمهور رئیس محمد داود ورور سردار نعیم همدا اوس د شوروي اتحاد په یون دی.

ولسمشر:زه په دې ډیر ښه پوه یم چې د افغاني مشرانو کورږوالی د شوروي اتحاد پر لور دی. تاسو یوه بنسټیزه خبره ته اشاره وکړه چې د هیوادونو بیلوالی یواځې د برصغیر ستونزه نه ده،یقیناً دا د افریقا د پاره هم یوه ستونزه ده، هن چې انګلستان د آئرلینډ د ستونزې سره مخامخ دی.د هیوادونو پدې توګه په بیلوالي سره پرته له کړکیچه بل هیڅ هم لاس ته نه راځي. موږ به په افغانستان و هندوستان کې د یوه پر ضد د پاکستان د مځکنۍ بشپړتیا ملاتړ وکړو(کسینجر ته په اشاره)باور وکړه چې د باندنیو چارو په وزارت کې ستاسې دوستان پدې خبره پوهیږي.

کسنجر: ښاغلي ولسمشره! په دریو میاشتو کې به هغوی ستاسو هم دوستان سي.

ولسمشر: ګورو به

بټو: د شوروي اتحاد سترګي زموږ په ګودر یا ساحل کې دي. په یواځې سر نه افغانستان او نه هم هندوستان د شوروي دغه ارمان پوره کولای سي. زه دا نه وایم چې شوروي اتحاد د پاکستان ټوټې ټوټې کول غواړي، هغوی د آسیا د ټولنیز امنیت ټړون ته زموږ رسیدل غواړي. پخواني افغان حکومت کړنه یا عمل نه مانه. د سردار محمد

دغه غاو یا بغاوت ریښې نلري. چاچي دی واک ته رارسولی دی هغه میجران او کرنل په شوروي اتحاد کي روزل سویدي. ددوی په اړوند اټکل کول ګران کار دی. د اروپائي ټولنیز امنیت د آسیائي ټولنیز امنیت سره پرتله کول ګټه نلري.کیدلای سي چي اروپا ددې د پاره چمتو وي خو آسیا نه ده چمتو. لاهم سیمئیزي شخړي او جګړې دوام لري لري. په جنوب ختیزه آسیا کي سخته ډزبندي ده. شوروي اتحاد زمور ځخه ناخوښه دی. په افغانستان کي د کړکیچ راوستلو په هڅه کي دی. ایران د آسیا د تولنیز امنیت مفکوره منلې ده. زما په فکر د چین صدراعظم چون این لای محسوسه کړېده چي شوروی اتحاد د منځنۍ آسیا لور ته پاملرنه اړولې ده. تر خلیج فارس،پاکستان و ایران او بیا دې سیمي ته د ټولو تر پاملرني وروسته چون این لای دغسي احساس کوي چي شوروي اتحاد به د چین سره وموښلي.

ولسمشر: هندي صدراعظمي راته وویل چي د دوستی ټرون هیڅ معنا نلري.


۱۹ سپتمبر ۱۹۷۳ء

د ذوالفقار علي بټو او هینري کیسینجر تر منځ خبري



سپتمبر ۲۱، ۱۹۷۳ء/ ۳۰سنبله ۱۳۵۲هش

حکومت پخوانئ صدراعظم محمدهاشم ميوندوال، جنرال خان محمدمرستيال،د هوائي مدافع پخواني لوی قوماندانان جنرال گلبهار خان، ډګرجنرال عبدالرازق، تورن جنرال نيک محمد سهاک، تورن جنرال محمدرحيم ناصري، د اوومي فرقې قوماندان بريدجنرال عبدالحکيم کتوازئ، ډګروال زرغون شاه چې په ماما زرغون شاه يې شهرت درلود، د هوايي او دافع هوايي لوی قوماندان ډګروال سيد امير، جنرال عبدالسلام ملکيار، ډګروال کوهاټ خان، د هوايي ځواک ډګروال محمداکرم، جګړن محمدهاشم کاموال، د ولسي جرګې وکيلان حاجی الله نظر هزاربزکوچئ، د شينوارو وکيل مولوي سيف الرحمان شينوارئ، د مومند درې وکيل سعدالله کمالي، د پښتني تجارتي بانک رئيس جنت خان غروال، حاجی الله ګل او دده ورور مولاګل هودخيل، حاجی عبدالحنان ځائئ، محمدعارف ريکشا شينوارئ د پيښورچي په کابل کي يې تجارت کاوه، په ګډون دوځلويښت تنه چې شپږ ورپکي لوړرتبه نظامي صاحبمنصبان، څلور ډګروالان، شپږ ډګرمنان ، شپږ د شاهي پيړ د شورا وکيلان او درويشت سوداګر او ملي پانګوال د يوه باندني هيواد (امريکا)په لمسون د کودتاه په تور ونيول. پدې بنديانو کي ډګروال سيد امير، ډګروال محمد اکرم، جګړن محمدهاشم کاموال په امريکا کي زده کړي وې، ډګروال سيد امير د سرطان په کودتاه کي د سردارمحمد داود په پلوي ګډون کړئ او دوې ترفيع يې اخستي وې او هم يې په شوروي اتحاد کي د هوايي روزنې د پاره وخت تير کړئ وو خو د شورويانو ښه نه ايسېدئ. عظيمي چې کله د ورځې پر اتو بجو خان محمد خان مرستيال په کور کي ونيوو، د هغه توپنکچه، دوربين ، ښکاري توپک، لرغون توکي، د ښځو سره زر ودا يې هم د پلټنې پر مهال د ځانه سره يووړل.



د پلټني د پاره یو پلاوئ نظامي او بل د پولیسو وټاکل سو
د ډګرجنرال غلام فاروق په مشري په نظامي پلاوي کي د څلورمي زغروري قوا قوماندان محمدسرورنورستاني، د انضباط د ټولې تورن محمدنبي عظیمي، محمدآصف عالم(د ببرک کارمل او د ډاکټر نجیب د واک په پیر کي د نظامي محکمې رئیس)، عبدالستارسیدخیلي پرواني، محمدیوسف، مولاداد او د پولیسو په پلاوي کي د غلام فاروق یعقوبي په مشري سیدکاظم پرواني (د یعقوبي مرستیال)، د کورنیو چارو وزارت د پولیسو د عمومي قوماندانئ رئیس ارکان



عبدالصمد اظهر

عبدالصمداظهر، نصرالله عمرخیل،غلام رسول عمرخیل، اتمر، عبدالباقي او قطره ګډون درلود. د نظامي پلاوي رئیس ډګر جنرال غلام فاروق په سمبولیکه توګه رول لوباوه، د پلټنې اسلي کارد محمدسرورنورستاني، محمدنبي عظیمي او محمداصف عالم په لاس کي وو، دوی د پرچم ډلي



محمداصف عالم

سره تړاو درلود.تورن جنرال عبدالقدير خليق هم ددیوان حرب غړیتوب درلود او ددیوان په سر کي ډګر جنرال غلام فاروق خان وو خو دواړو د محمدسرورنورستاني خولې ته کتل.په لومړي پړاو کي يې بنديان د پلټني د پاره د ارګ کوټې باغيچه، دفاع وزارت ودانې ته بوتلل.پلټنه پيل سوه، نوم يې د پلټنې وو خو په اسل کي د شکنجې، عذاب، بې خوبۍ، سپکاوي او هرډول بې عزتۍ څخه کار اخيستل کيدۍ (**داودخان د کې.جي.بي په لوموکي، الف. هارون،دويم چاپ، د خيبر د چاپولو موسسه، سنبله ۱۳۷۴ه ش،٦٦مخونه**). د کودتاه د تائيد د پاره د مصئونيت ملي د رئيس جنرال محمداسماعيل فرمان (**دۍ د ډګروالۍ پر رتبه د شاهي پير د پخواني صدراعظم نوراحمداعتمادي لخوا د اردو څخه صدارت ته راوستل سواو د جنرالۍ ترفيع يې ورکړه**) لخوا هم نور تائيدي رپوټونه سردار محمدداود ته وړاندي کيدل.

۲۲سپتمبر۱۹۷۳ء/۳۱سنبله۱۳۵۲ه ش

د نوي جمهوري حکومت لخوا په دري او پښتو خپره سوې اعلاميه! د ډيري مودې څخه پاکستان دا ادعا کوي چې افغانستان يې په کورنيو چارو کي لاسوهنه کوي، حال دا چې په افغانستان کي هغه دسيسه کشف سوه چې د قوي دلائلو پر بنسټ د پاکستان په لمسون تر سره کيده. د يوه سوله دوست هيواد په توګه چې په سيمه او نړۍ کي بې له سولې بل څه نه غواړي، په کلکه هيله کوم چې پاکستان دي دويم ځل پدغسي کړنه لاس نه پوري کوي چې د سيمي او نړۍ امنيت د خطر سره مخامخ کوي.

دویمه اعلامیه! د څه مودې راهیسې ، د جمهوریت غوښتونکو ضد عکس العمل ګروپ، د امنیت ګډوډولو او د هیوادپال پاڅوني غورځنګ د له مینځه وړلو د پاره غونډې کولې، د پاڅون ملګري د دې غدارانو له وضعیت څخه خبر وو، خوشبختانه دوی ټول د اسنادو او شواهدو سره ونیول سول.چې وخت یې راسي، د ارتجاع ددې پلویانو مخونه به هیوادوالو ته ور څرګند سي، که څه هم د افغانستان ټول وګړي، کله چې دوی د عکس العمل ملاتړي بلل کیږي، د دې خلګو مخونه د دوی د سترګو په وړاندې څرګندیږي. مګر د حقیقت څخه غوره پیژندلو لپاره **(روزنامه جمهوریت، سال اول، شماره 41 ،مورخ شنبه 31 سنبله 1352ش).**

۲۲ سپتمبر ۱۹۷۳ء

د باندنیو چارو د وزارت له خوا په یوه خپره سوې اعلامیه کې پاکستان په افغانستان کې د حکومت ضد دسیسو په کشفولو کې د هغه هیواد د لاس لرلو په اړه د افغان حکومت تورونه په کلکه رد کړل.

۲۳ سپتمبر ۱۹۷۳ء

په یوه مکتوب کې پاکستان د الجئیرز په غونډه کې د پښتونستان په اړوند د افغانستان د استازي عبدالرحمان پژواک وینا په کلکه وغندل.

۲۵ سپتمبر ۱۹۷۳ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند وویل چې ویل سوي، چې پاکستان د افغان حکومت هغه غندنیز یا احتجاجي یادداشت رد کړی، چې پاکستان یې په هغو فعالیتونو کې د لاس لرلو ادعا کړې، چې په افغانستان کې د جمهوري ریاست پر وړاندې د تعصب وړ بلل سوی دی.

۳۰سپتمبر ۱۹۷۳ء/۸ میزان

محمدهاشم میوندوال د کوما(بیسده یا په بیهوشي کي) په حالت کي لومړئ د زنبیل په وسیله د څارندویانو لخوا د کورنیو چارو د وزارت د زیرخانو څخه قلعه جدید(بریکوټ) ته په راکشولو ورسول سو. دې حالت عبدالملک عبدالرحیمزئ چي همدلته بندي وو اغیزمن کړ، دا جنایت یې محکوم کړ او وې ویل کله چي مجیب الرحمان (**د بنګله دیش موسس چي وروسته صدراعظم سو**) د پاکستان د زندان څخه خوشي سو، د یوه ژورنالسټ دپوښتني په جواب کي یې وویل چي نه مو سپکاوئ سوئ دئ او نه هم وهل سوئ یم (**داودخان د کې.جي.بي په لوموکي، الف. هارون،دویم چاپ، د خیبر د چاپولو موسسه، سنبله ۱۳۷۴هش،٦٦مخ**).

۱۱اکتوبر ،۱۹۷۳ء/۹میزان ۱۳۵۲ه ش

کابل راډیو خبر ورکړ چي پخواني صدراعظم محمدهاشم میوندوال په زندان کي ځان پخپله وژلئ دئ.د فوائد عامې پخواني وزیر انجینئرغوث الدین فائق پخپل کتاب کي میوندوال ته د ولاړ عسکر د خولې لیکلي دي چي شپږ سره بندیان خان محمد مرستیال، ډګروال سید امیر، ډګروال مامازرغونشاه، مولوي سیف الرحمان او محمدعارف ریکشا یې دتیري شپې پر دوُو بجو د انضباط ټولې د څلورمي زغروري قوې د روزني او نښې ډګر ته بوتلل، په لاسونو او پښو یې وُلچک و بېړۍ او پر سرو یې توري خولئ ور اغوستي وې، قبله ته یې مخامخ ودرول، دیرش عسکر چي مولونه یې وهلي او کلاشنکوفونه ورسره وو، تورن نبي عظیمي د شا دخوا پر شل متره

واټن ورته زنګون کیش یا ګوډه غبرګه کړه، د نظامي او پولیسو د پلاوي غړي ټول حاضر وو، د اعدام امر محمدآصف الم ووایه، وروسته تورن نبي عظیمي عسکرو ته د اعدام امر دغسي ورکړ:- "د انظباط د ټولې ځوانانو! د خائینینو په وژلو نخه ونیسئ".

د بریدونو تر شلِک وروسته ټول بندیان پر مځکه را نسکور سول. نبي عظیمي ور وړاندي سو او په ورسره توپنکچه یې هر بندي پر سر سر وویشت (**راز راکه نمیخواستم افشاء گردد، لومړئ ودویم ټوک، د غوث الدین فائق د یاداشتونو ټولګه،۱۵حوت۱۳۷۹هش،۱۰۷مخ**).د میوندوال مړئ نه چاولید او نه یې خپلوانو ته وسپاره، تر تهدید لاندي د کابل پوهنتون د عدلي طب د رئیس پوهاند ډاکټر بالمکنداس څخه پرته له پوسټ مارټم د عدلي طب د نظریې په نامه لاسلیک واخستل سو. نوموړي ډاکټر دا منلې وه چې د میوندوال په برخه کي اصولي معائنات تر سره نسول، یواځي د زندان د کوټې په وره کي یې د هغه مړئ راښکاره کړ، د ځان د عزت د ډار له کبله مي نظر ور لاسلیک کړ (**داودخان د کې.جي.بي په لوموکي، الف. هارون،دویم چاپ، د خیبر د چاپولو موسسه، سنبله ۱۳۷۴هش،٦٦مخ**).د میوندوال مړئ په تکه توره شپه کي نامعلوم ځای تر خاورو لاندی سو.په وروستیو کلونو کی د هغه د مدفن پیژندګلوی په شهدای صالحین قبرستان کی د ښاغلی محمدداود ملکیار په مرسته سویده.یواځي د محمدعارف ریکشا مړئ خپلوانو ته وسپارل سو.

نور بندیان په بند محکوم سول. د جنت ګل غروال، عبدالحنان ځائي، الله نظر کوچي ، الله ګل او مولاګل پر بند سربیره سرایونه او

شتمنئ ضبط سوې. څه بندیانو په موک یا بډو(رشوت) ځانونه خلاس کړل. د بیلګې په توګه سعدالله کمالي د ځان د خلاسون د پاره خپله باختر نومې سینما وپلورل.

محمد هاشم میوندوال په ۱۲۹۸ه ش(۱۹۱۹ء) کې د غزنی ولایت په مقر ولسوالي کې وځیږید، لومړنۍ زده کړې یې په غزني ولایت کې پیل او وروسته په کابل کې لومړئ غازي ښوونځي ته ولاړ او وروسته یې خپلې زده کړیپه حبیبي لیسه کې پای ته ورسولې. میوندوال لومړئ "پردیس" تخلص کاوه او د میرمن سلطانه میوندوال سره یې واده وکړخو اولاد یې نه دئ پاته سوئ. هغه لومړنۍ رسمی دنده د مطبوعاتوپه مستقل ریاست کې پیل او په لږ موده کې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیال په توګه وټاکل سو.بیا د انیس جریدې مسئول مدیر، وروسته په هرات کې د "اتفاق اسلام" جریدې مسئول مدیر سو. په ۱۹۴۵ء کې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د "دایرة المعارف" اداري د عمومی مدیر په دنده وګمارل سو. میوندوال دوه ځله په پاکستان کې د افغانستان د لوی سفیر او ځانګړي استازي په توګه مقرر سوئ دئ.بیاپه انګلستان او وروسته یې په امریکاکې دافغانستان دځانګړي استازي اولوی سفیرپه توګه دنده درلوده. په ۱۹۴۵ء کې د صدراعظم ډاکټر محمد یوسف په کابینه کې د مطبوعاتو وزیر سو.



میوندوال یوغښتلئ سفارتکار، تکړهلیکوال، اغیزمنو یاند او د محمد ظاهر شاه په شاهي پېر کي دوه کاله(نومبر۲، ۱۹۶۵ء – اکتوبر۱۱، ۱۹۶۷ء) د افغانستان د لومړي وزیر په حیث خدمت وکړ.

دا تکړه لیکوال او اغیزمن ویاند د "جمعیت دموکراتیک مترقی" گوند بنسټ ایښیدونکئ(۱۹۶۶ء)او د "مساوات" جریدې مسئول مدیر وو، چې د دې گوند د افکارو ناشره جریده وه.

دې گوند د لویدیزي نړۍ سوسیال دموکراسۍ ته ورتوالئ درلود. اساسي موخي یې د یوه مشروطه شاهي حکومت تر چتر لاندي د ټولنیزي برابرئ، ملی گټو او پرگنیزه واکمني ته لار اوارول وه. میوندوال پدې اند ووچي هر بدلون باید د اسلام د سپیڅلي دین د تعلیماتو سره سم پرمترقي او دموکراتیکواصولو ولاړ وي.

د "مساوات" جریدې د امتیاز خاوند علامه عبدالشکور رشاد او مسئول مدیر یې محمد رحیم الهام وو.



د باچا محمدظاهر شاه ښي لور ته صدراعظم میوندوال او کې لور ته د ملګرو ملتو سرمنشي

د میوندوال موخه په ټولنه کي د یو ریشتیني بدلون او فرهنګیپاڅون منځ ته راوړل وه. د دې ګوند سره د عبدالروف بینوا په مشري د ویښ ځلمیانو د ځینو پخوانیو غړو د یوځای کیدلو وروسته داګوندلا پیاوړئ سو.



صدراعظم ميوندوال د امريکا په پلازمينه واشنګټن کي د دې هيواد د ولسمشر جان ايف کنيډي سره

د شوروي اتحادځارګري شبکې کې.جي.بي د پرچم ګوند د ځارندويانو او نظاميانو په وسيله ملي او پر هيواد مين صدراعظم، لوړ رتبه نظامي منصبداران او ملي سوداګر چي خپل غليمان يې ګڼل په جعلي دسيسه کي شکيل او له منځه يووړل. يوه ورځ (**۲۱اپريل۲۰۰۴ء**) د کابل په قرغه کي د ملاعزت مجاهد په کور کي د پير سيداحمد ګيلاني وراره سيد محمداسحاق ګيلاني راته وويل:- کله چي مي د پخواني پاچا محمدظاهرخان په هڅونه د ميوندوال څخه د استعفا علت وپوښت، کيسه يې راته وکړه- پخوا يو پاچا په ښکار پسي ولاړ، د ملګرو څخه په ځنګله کي ورک سو، تندي دئ او آس د کړاو سره مخامخ کړل، آخر يوه بيزو پر مهربانه سوه، د لکۍ په اشاره يې دئ او آس د اوبو چينې ته ورسول، پاچا و آس چي ځانونه اوبه کړل نو يې ورسره ښکاري توپک پر بيزو راواړاوه او دا يې په وويشته. بيزو ورته وويل زما په خيال چي پاچا يې.

باچا: پر څه دي وپيژندلم؟

بيزو: پر دې مي وپيژندلې چي د محسنانو سره بيوفايي کول د پاچهانو کار دئ.



خان محمد مرستیال

د خان محمد مرستیال وراره او زوم ډاکتر عصمت الله امیني چې د سپیني کودتاه او زندان د مودې پورې د ده سره ګرځېد او اوس په جرمني کې اوسي لیکي: کله چې مو د کابل په راډیو کې د محمد داود د کودتا خبر واورېد، نو په بیړه د خان محمد مرستیال سره د محمد داود خان کور ته ولاړو.د هغې خوا له څو استخباراتي کارکوونکو سره له کوره را وَوُوت.راته وېویل سردار محمد داود خان امر وکړ زه باید د دفاع وزارت چارې پرمخ یوسم. مرستیال د وزارت دفتر ته ولاړ، زه د باندې پاته سوم.نیم ساعت وروسته جنرال عبدالکریم مستغني، چې د سردار داود د لومړۍ درجې باوري منصبدار وو، راغی. مخکې له دې چې له مرستیال وویني، یوه صاحب منصب ورته وویل: جنرال صاحب خان محمد مرستیال د دفاع د نوي وزیر په توګه ټاکل سوی دی.

زه به دا هیر نه کړم چې جنرال مستغني هغه چارواکي ته وویل چې هغه (مرستیال) ځان خپله وزیر جوړ کړی دی. زه بیا د داوود خان کور ته ورغلم چې له موضوع یې خبر کړم. په هغه وخت کې ارواښاد سید حسن خان چې د دفاع وزارت د نظامي چارو رئیس وو، د سردارمحمد داود په پیره دارخانه کې د منشي په توګه دنده ترسره کول.دده په اجازه به د سردار سره چا لیدل. د جنرال مستغني په اړه مو ورته وویل. سید حسن خان راته وویل چې ژر ولاړ سه او مرستیال ته ووایه چې سردار صاحب تا خپل کور ته غواړي.مرستیال تایید کړه چې جنرال مستغني د استخباراتي معلوماتو او د دفاع وزارت د چارو د ترسره کولو د مخنیوي لپاره هلته راغلی وو. موږ بل ځل د

سرداردداود کور ته ورغلو. مرستيال د داود خان کور ته ننووت. چې را و ووت سردار داود خان چې ته خپل کور ته ولاړ سه، هر کله چې مي راوغوښتې بيا راسه.پدې توګه هغه په کور کي پاته سو. کله ناکله چې به دوستانو ورسره ليدل، د سردار محمد داود په اړه به يې د خواخوږی خبري کولې، خو د پايه بيا ونه توانيدی چې د سردار سره ووينې. ځکه چې هغه کينلاسو(خلقيانو)کلابند کړی او تر اغيز لاندې راوستلی وو.يوه ورځ خان محمد مرستيال بيا اراده وکړه چې داوود خان له خپل يوه ملګري سره ووينې،کله چې يې د هغه کورته مراجعه وکړه په هماغه ورځ چې د پنجشنبې ورځ وه،عسکري ټوليمشر چې د ضياء ګارډ په نامه يې شهرت درلود کور ته راغی سردار دي غواړي. مرستيال،ضياء زما په موټر کي سره ولاړو.پر لاري مرستيال ورته ويل چې د سردار محمد داود په ساتنه کي د ډيرې پاملرنې څخه کارواخلی کنه نو وينې به وبهيرې.ضياء جواب ورکړ چې تر خپله توانه مو لازم تدابير نيولي دي.کله چې شاهي ارګ (اوس په جمهوري ارګ نومول سوی وو)ته ورسيدلو، ضياء راته وويل چې موټر دي تر ارګ دباندي ودروه، دوی د ننه ولاړل. نيم ساعت وروسته پوليس راغلل، زما پر موټر يې خپور راوړ او زه يې د شهرِنو په ماموريت کي بندي کړم، تر جمعې پوري دلې بندي وم.په شنبه يې دهمزنګ زندان ته بوتم. د بند په موده کي يې يوه شپه پر يوه بجه د پلټنې د پاره د کورنيو چارو وزارت ته بوتم.دلته يې ما او نورو بنديانو ته وهل و ټکول راکړل چې دا ومنی چې خان محمد مرستيال او پخواني صدراعظم ميوندوال د نوي جمهوري حکومت

پر ضد کودتاه کول. دې خبري هيڅ حقيقت نه درلود. يوه ورځ مې په زندان کې له يوه بوډا څخه د خپل شهيد تره يو ليک ترلاسه کړ. په دې ليک کې په ښکاره ويل سوي وو چې نه کودتا وه او نه بغاوت. دا يوه دسيسه وه چې د سردارمحمد داود او د هغه د ظالمو او بې رحمه کيڼ اړخو ملګرو لخوا ترسره سوه. د دوی موخه دا وه چې د هيواد پوه او تجربه کار شخصيتونه له منځه يوسي او د افغانستان پر بدبخته ملت خپل فرعونيت ټينګ کړي.د ټولو بنديانو د جبري اعترافونو په اړه چې ژوندي پاته وو،يو دبل سره د ليدلو پر مهال وويل دومره ووهل سوُو چې ووايو چې ميوندوال او مرستيال کودتاه کول. ماته د دهمزنګ زندان يوه دردمن چارواکي وويل مرستيال چې کله وليدل چې يو ستر او باعزته مامور د ځينو ظالمو او وحشيانو له خوا وهل کيږي او خپلوان يې ځورول کيږي، نو هماغه وو چې د پلټني پلاوي ته يې وويل ماته قلم، کاغذ او وخت راکړی چې د"کودتا" نقشه وليکم. پلاوي د پلټني لپاره يوه شپه د کورنيو چارو وزارت ته بوت او په دې توګه يې له توهين څخه ځان خلاص کړ. مرحوم محمد هاشم ميوندوال د ډېرو وهلو ټکولو سره مخامخ سو

https://www.kabulnath.de/Salae_Shashoum/Shoumare_118/Dr.Esmatulla%20amini.html

ارواښاد محمد حسين ولسمل ليکي چې محمد هاشم ميوندوال راته وويل

هغه مهال چې صدر اعظم وم په هند کې د نړۍ د صدر اعظمانو او مشرانو په سطحه يو بين المللي کنفرانس جوړ سو په نوموړي کنفرانس کې د ګډون په منظور هند ته ولاړم، تر يوه ورځ دمخه مې

په هند کې د روسیې د سفارت له لارې د شوروي اتحاد صدر اعظم الیکسي کاسیګین سره تماس ونیووچې ورسره وینم '. جواب راغی چې کاسیګین وایي زه وخت نه لرم. کله چې نوموړی کنفرانس شروع سو نو د الفبا د حروفو په حساب افغانستان لومړی هېواد وو چې صدر اعظم یې باید په مشخصه موضوع ږغېدلی وای ' ما خپله بیانیه بې له کاغذه په انګلیسي ژبه پیل کړه چې په هره برخه کې د اورېدونکو د خاس پاملرنې وړ وګرځېده. د کنفرانس د لومړۍ ورځې په پای کې د کاسیګین له خوا حال راغی چې هر وخت تاسو ته مساعد وي زه ملاقات ته حاضر یم.

جواب مي ورکړ زه اوس وخت نه لرم او په هند کې د اوسېدو ټول پروګرام مې ډک دی، معذرت غواړم. میوندوال وویل پروګرام مې دومره ډک نه ووخو قصداً مې د هغه د لومړي حرکت ځواب په دې ډول ورکړ. دې خود داری او افغاني غرور میوندول او هم د بریژنیف سره لفظي شخړي سردار محمد داود د مرګ کندي ته ورسول

(مجاهد ولس جریده، Noor Pakteen,18 September 2020,Facebook.com)

۱۳اکتوبر، ۱۹۷۳ء

د ملګرو ملتو په غونډه کي د افغانستان استازي پخپله وینا کي د شوروي اتحاد، هندوستان او بنګله دیش سره د دوستی پر اړیکو ټینګار وکړ خو زیاته یې کړه چې د پاکستان سره یې د پښتونستان لانجه لا هم ناخلاسه پاته ده **(ebook.com)**.

۱۸اکتوبر ۱۹۷۳ء

لومړئ افغاني دري فلم (اندرز مادر) په کابل نندارې، پارک و آریانا سینماو کې نندارې ته وړاندې سو.

۲۹اکتوبر ۱۹۷۳ء



ددولت رئیس اوصدراعظم ښاغلی محمدداؤد کله چه دهند دباندنیو چارو وزیر ښاغلـــی چاوان بی دجمهوری ریاست په ماڼی کښی منلی دی .

د هندوستان د باندنیو چارو وزیرچاوان کابل ته ورسید، ولسمشر سردارمحمدداود ته یې د خپل هیواد د ولسمشر او صدراعظم اندراگاندهي د لوري هند ته د ورتلو بلنلیک(**دعوتنامه**)ورکړ.

۷نومبر، ۱۹۷۳ء

افغانستان پاکستاني چارواکو ته تیره میاشت نیولي ملیشا سرتیري د موټرانو سره یو ځای بیرته وسپارل چې په ګوریزرو یا

قاچاقبرو(**Smugglers**) پسې تر پوله اوښتي وو. پاکستان یې هغه مهال لا سمدستي د خوشي کولو غوښتنه کړېوه.

۱۲ نومبر ۱۹۷۳ء

د قبائلي سیمو د یون پر مهال د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو اعلان وکړ چې د افغانستان سره د دوستی اړیکي غواړي خو په هیڅ حالت کي به په خپلو کورنیو چارو کي لاسوهنه ونه زغمو

۱۴نومبر، ۱۹۷۳ء

د اطلاعات و کلتور وزیر ډاکټر عبدالرحیم نوین پداسي حال کي چې د اټالیا سفیر پاپیني شتون درلود، ددې هیواد د ختیز پېژندني د موسسې د رئیس توچي سره هوکړه لاسلیک کړه چې له مخي به یې اټالیا په غزني کي یو میوزیم جوړ او هم به د غزنویانو د پېر تاریخي توکي ورغوي.


۱۵ نومبر ۱۹۷۳ء

د پښتونخوا ایالت په جمرود سیمه کي د وینا پر مهال ددې هیواد صدراعظم ذوالفقار علي بټو وویل چې پاکستان نه دا چې د افغانستان سره یواځي د دوستی اړیکي غواړي بلکي ددې هیواد سره په هره برخه کي همکاري او مرستي ته چمتو دي.

۱۷ نومبر ۱۹۷۳ء

ذوالفقار علی بټو د قبایلو سیمو ته د خپل پراخ سفر په ترڅ کې له قبایلو سره ژمنه وکړه چې د دوی خپلواکي او استقلال به د ده د حکومت له خوا تر پښو نه لاندې کیږي او له هغوی څخه یې وغوښتل چې دافغانستان تبلیغاتي کمپاین یې بې لاري نکړي.

۲دسمبر ۱۹۷۳ء



يوه ناځرګند ورانکار د پاکستان د بلوچستان ايالت د کوټې د ښار په جمال افغاني روډ کي د پښتونخوا ملي عوامي ګوندموسس مشر او د انګريزانو پر ضد د ستر سياسي مبارز عبدالصمد خان خوني ته لاسي بم ورتس کړ او هغه يې ځای پر ځای شهيد کړ.



خان شہید کا آخری دیدار اپنے بڑے فرزند ڈاکٹر احمد خان مرحوم کر رہے ہیں



گلستان عنایت اللہ کاریز: خان شہید عبدالصمد خان اچکزئی کی نماز جنازہ مولوی رحمت اللہ





د پاکستان صدراعظم ذوالفقارعلي بټواو د بلوچستان وزیراعلی محمداکبربګټی د ګلستان په عنایت الله کاریزکي د خان شهید زوی محمودخان ته د پلار پاتا ورکوي.

خان عبدالصمد خان اڅکزی پر اووم جولائي۱۹۰۷ء د پښين د گلستان په بازار پورې مربوط په عنايت الله کاريز نومي کلي کې زېږيدلې دی . دی د نور محمد خان زوی د سلطان محمد خان لمسی د عنايت الله خان کړوسی د بوستان خان کوسی د برخوردار خان کودی، برخوردار خان د جلې او جلې د حميد، حميد د گلجان يا گوجن او گلجان د اڅک زوی دی(**دا شجره نسب مي د عنايت الله کاريز د مخور مشر او علمي شخصيت عبدالقدوس خان د عبدالغفور خان زوی او د کندهار د والي حيدر خان حميدزي د لمسي دخولې د بل کتاب اڅکزي د پاره ليکلې ده چې زما محسن هم دی،د پښتونخوا ملي عوامي گوند مخکښ مشر عبدالرحيم مندوخيل پخپله مقاله (تر پاني پته تر خان شهيد، نه سترې کيدونکي مبارزين)په لړ و ډير توپير د خان شهيد د شجرې يادونه کړې ده، مندوخيل غازي عبدالله خان ته د برخوردار د تېر سره تړاو ورکړی دی، خو هغه د برخوردار د ورور عرض بيګي په تېر کي راځي ، دو روزه خان شهيد بين المللی سيمينار، پايه تخت کابل افغانستان، ۱۹ - ۲۰ مارچ ۱۹۹۰ء، ۵ او ٦ مخ**)

۱۹۱۷ء: پدې کال د خان شهيد پلار نور محمد خان وفات وکړ، مور (**دلبره**) يې روزنه او پالنه پيل کړه. هغه يوه ديندار او سپيڅلې ميرمن وه. د ديني زده کړې تر څنګ يې عصري علوم په مډل سکول گلستان بازار کي تر اتم ټولګي پوري په وويل(۱۹۲۴ء). خو سرپرستي يې ماما محمد علي خان کول.

۱۹۲۵: د زده کړي تر پرېښودلو وروسته يې د سوداګرۍ د پاره د سيند او پنجاب تګ و راتګ وکړ، پدې بهير کي يې انګليسي ژبه ښه زده کړه او د وخت د پوهانو کتابونه يې مطالعه کړل.

۱۹۲۷: خان شهيد د ورور عبدالسلام خان، تربرو محمد ايوب خان او محمد عيسی خان سره ډيلي ته ولاړ، دوی هلته په ډيره ليوالتيا سياسي جريانات تعقيبول او د کانګرس په غونډو کي يې ګډون کاوه. د خپلواکی د سترو مبارزينو لکه ګاندي ، جواهر لال نهرو او باچا خان سره يې ليده کاته وسول. دې کتنو او ليدنو د خان شهيد سياسي تفکر ته ډيره وده ورکړه

۱۹۲۷ء: په افغانستان کي د امير امان الله خان پر ضد د انګريزانو په لمسون شخړي پيل سوې. خان شهيد يو شمير رضاکاران راغونډ او د غازي د ملاتړ اعلان يې وکړ خو انګريز حکومت هغه بندي کړ. په همدې کال ده او محمد ايوب خان د انجمن وطن ګوند بنسټ کښېښوو. دې نوي ګوند په هند کي له کانګريس او په پښتونخوا ايالت کي د خدائي خدمتګارانو سره اړيکي پلي کړې. د دغه انجمن غړو ډير زيار ويوست چې په افغانستان کې د امان الله خان ملاتړ وکړي، خو د دغه ملاتړ ټينګ مخنيوي وشو . په دغه مخنيوی کې د کويټی د سې ای ډی د دفتر معاون عين الدين خان پوپلزي چې د امان الله خان په ماتيدلو کـي ده ته د خان بهادر لقب ورکول س‌وی وو ،لويه برخه درلوده.

۱۹۲۸ء: خان شهيد خپل سياسي عملي ژوند لډې کاله پيل کړ، هغه غوښتل چې له ډيرو رضا کارانو سره د افغانستان په نجات کې عملاً برخه واخلي. کله چې انګريزان په خبر س‌ول، د ملګرو سره بندی کړ، بيا انګريزانو په ضمانت خوشي کاوه خو ده له ضمانت ورکولو څخه سخت انکار وکړ او نه مياشتي يې له مشقت سره بند تير کړ.

۱۹۲۹ء: د غازي امان الله خان د زوال کال، هغه چمن پر لار ګلستان-کوټې او بيا هندوستان او وروسته د موبئي د لاري اروپا ته ولاړ. د خان شهيد ملګری او د وطن ګوند مشر محمد ايوب خان د خپلو څو ملګرو سره لومړی د توبی مرکز ته راغلل ، د مرکزي تشکيل د مهاجرينو د کمپونو د جوړولو او سختو جنګونو وروسته افغانستان ته ولاړ. خان شهيد وطن ګوند نوم په ورور پښتون واړاوه. په همدې کال په لاهور کي د کانګريس کالنۍ غونډه تر سره سوه، خان شهيد و دا هم پدې غونډه کي ګډون وکړ او دلته يې د صنوبر کاکا جي او ډاکټر سيف الدين په ګډون د نوجوان بهارت او کرتي کسان تحريک د مشرانو سره وليدل. د پاچا خان خدائي خدمتګارانو او د هند ملی کانګرس ګوند د انګريزانو سره د عدم تعاون اعلان وکړ، خان شهيد هم له خپلو ملګرو سره په هغه کې برخه واخسته. انګريزانو باچا، د هغه خدائي خدمتګاران، د کانګريس مشران، عبدالصمد خان او دده ملګري تر دريو کلونو پوري ونيول.

خان شهيد او د بلوڅو له روشنفکرانو څخه مير يوسف علی مګسی مصلحتاً دې پريکړي ته ورسيدل چې سياسي ګوندونه او د سياسي

اخبارونو له لارې د انګریزانو پر ضد سیاسي مبارزه پیل کړې،د همدې پریکړې پر بنسټ خان شهید استقلال اخبار او میر یوسف علی مګسی البلوچ اخبارخپور کړ.

په دسمبر ۱۹۳۲ء د یعقوب آباد په ښار کې د بلوچستان د مختلفو سیمو د استازو لویه جرګه جوړه ښوه . جرګې په اتفاق سره د بلوچستان د پښتنو مشر خان عبدالصمد خان اچکزی د رئیس په توګه وټاکه. د جرګې تعلیمي او تنویري هدفونو د خان عبدالصمد خان شخصی نظریات هم منعکس کړل ، دده نظریه دا وه چې زده کړه دي په مورنۍ ژبه سي.

دسمبر ۱۹۳۳ء: شهزاده احمدیار خان د قلات خان ښو، څرنګه چې د هغه سره د بلوڅو د سیاسي مبارزانو ملګري موجوده وه ، نو په همدغه سیاست د آل انډیا بلوچ کنفرانس په جیکب آباد کې جوړ سو چې پریکړو یې انګریزان په تشویش کې واچاول.هغوی هڅه کول چې د بلوڅو او پښتنو ترمنځ اختلافات راولي خو خان شهید په لوړ تدبیر ددې غونډې د پریکړو ملاتړ اعلان کړ .

خان شهید د بلوچستان د پښتنو په باره کې د (**پښتونستان او بلوچستان**) تر سرلیک لاندې لیکي: زه د بلوچستان په پښتنو کې پیدا ښوی او لوی ښوي یم او دا قدرتي خبره ده چې زما په سیاسي ژوند او مقاصدو کې د دوی ضروریات او ستونزې ګډون لري. زما په فکر د هغوی د شاته پاتوالي او بې بسی تر ټولو لوی لامل د زده

کړي ناقصه طريقه ده، چې په مورنۍ ژبه کې زده کړه نه ورکول کيږي.لدې امله په ۱۹۳۳ء کې په جيکب آباد کې د بلوچستان کانفرانس پر مهال ددې سيمې په تاريخ کې په لومړۍ ملي غونډه کې دا قرار داد ومنل سو چې لومړنۍ زده کړه دي په مورنۍ ژبه ورکول کيږي.په همدې کال د استقلال اخبار په لومړۍ ځل د عزيز پريس په نوم مطبعه کې چاپ س‌و. د اخبار مديريت د کراچي د يو شخصي کالج استاد قدوس نعمانی ته وسپارل سو. په اخبار کې په اردو او پښتو مقالې خپريدي او خان شهيد په پښتو دغه اخبار ته مقالې ليکلي.

۱۹۳۴ء: خان شهيد د بلوڅانو په پلوي خپل ږغ پورته کړ، انګريزانو ډيرې ستونزي ورته پيدا کړې او تر ۱۹۳۶ء کاله پوري يې بندي کړ. د اتحاد بلوچان د ګوند ستر منشي عبدالعزيز کرد چې د لاهور په اخبارونو کې يې د بلوچستان د بد حالت په باب خپرونې کولې په جنوري ۱۹۳۴ء کې د قلات د پوليټيکل ايجنټ لخوا په درې کاله بند محکوم سو. د دغه عمل پر ضد په همدغه کال خان شهيد په کراچي کې غونډې وکړې او دا عمل يې په کلکه وغنده، حکومت دی هم بندي کړ.

۱۹۳۵ء: د خان شهيد په بلنه خان عبدالغفار خان بلوچستان ته سفر وکړ. پاچا خان ددې سفر په اړه ليکي: د ډيري مودې زمونږ د بلوچستان د وروڼو دا خواهش وو، چې زه ورسم خو حکومت نه پريښووم. په دغه ورځو کې عبدالصمد خان آڅکزی چې د

بلوچستان د پښتنو رښتینی خدمتګار او مخکښ دی، پر ما زور وکړ چې ورسم.کله چې د ریل د لاري ورغلم، دده په ګډون ډیری هندوان او مسلمانان راغلي وو. ما یو څو ورځې په کوټه کې تېري کړې او بیا د کوټې ږوب، قلعه عبدالله، ګلستان، چمن، لورلائي او د بلوچستان نورو سیمو ته ولاړم.

۲۵ مارچ ۱۹۳۶ء: کله چې خان شهید یوې محکمې ته وړاندې س‌و، ده د خپل بیان په ترڅ کې وویل چې زما د ژوند څلور موخې یا مقاصد دي : ۱- د اسلامي تعلیم خپرول، ۲- د عصري علومو دودول،۳- د صداقت اظهار،۴- د خپل ملک لپاره بهترین حکومت.کله چې خان شهید له زندان څخه راوَوُوت، نو په عملي توګه د انجمن وطن ګوند فعال کیدو ته یې اقدام وکړ. ده خپل ملګري راټول کړل او د انجمن وطن په نامه یې سیاسي ګوند تاسیس کړ او د استقلا ل اخبار یې هم د هغه نشراتي اورګان وټاکه. د انجمن وطن د ګوند د موسسینو په لومړی غونډه کې خان شهید ددې ګوند د مشر په توګه وټاکل س‌و. په همدې کال په جنوبي پښتونخوا کې چې هغه مهال یې ورته برټش بلوچستان وایه د اخبارونو او مطبوعاتو قانون د خان شهید او د هغه د ملګرو د هلو ځلو په پائیله جوړ س‌و.

پدې کال د انګریزانو په غوښتنه په چمن کې د افغانستان او برټش بلوچستان ګډه جرګه جوړه س‌وه. خان شهید یې په اړه لیکي چې یوه ورځ به جرګه د افغانستان په خیمو کې او یوه ورځ به په برټش

بلوچستانکي کیده . په یوه پیښه کې د بلوچستان لوري یو تن په زولنو کي جرګې ته راوستل سو، افغاني لوري وویل چې زمونږ زمونږ پښتون دی او مونږ د پښتنو بې عزتي نه سو ځغملای نو باید د کړیو او زولنو څخه خلاص سي. که هر څومره د بلوچستان لوري ټینګار وکړ چې دا سړی خطرناک دی وبه تښتي خو افغاني لوري نه منل او له جرګې څخه د وتو ګوابس یې وکړ او بالاخره انګریزان مجبوره س ول، پښې و لاسونه یې ور خلاس کړل.

جنوري ۱۹۳۸ء: خان شهید د باچا خان په بلنه د شمالي پښتونخوا دوره وکړه او ښه په تفصیل سره یې دلته سیاسي حالات وکتل ، ورپسی بل کال ۱۹۳۹کې عبدالصمد خان باچا خان ته د جنوبي پښتونخوا د دورې بلنه ورکړه او ښه په تفصیل سره یې دلته سیاسي حالات وکتل.

۱۶-۱۷ جون ۱۹۳۹ء: د انجمن وطن د ګوند لومړۍ کالنۍ غونډه وس وه . په دې غونډه کې خان شهید وینا وکړه او د ګوند د هدفونو، سیاست او تنظیم پر ډیرو اړخونو یې رڼا واچول. کله چې دویمه نړیواله جګړه پیل سوه، انجمن وطن ګوند پر خپل بنیاد د انګریزانو سره د عدم تعاون تګلار جوړه کړه. په همدې کال د هند نامتو سیاستوال مهاتما ګاندي شمالي پښتونخوا ته یون وکړ، باچا خان او ډاکتر عبدلجبارخان یې میلمه پالان وو، خان شهید ته هم باچا خان بلنلیک واستاوه خو انګریز حکومت یې د تګ مخنیوی وکړ. په جولائي ۱۹۳۹ء کي د انجمن اسلامیه قلات فعالیتونو په قلات کې

بندیز ولګید. د انجمن فعالانو ملک عبدالرحیم خواجه خیل، میر غوث بزنجو، عبدالکریم شورش او میرګل خان نصیر د ګوند د فعالیت مرکز له قلات څخه کوټې ته رانقل کړ او په کوټه کې خان شهید په مستقیمه توګه د انجمن وطن ملاتړ وکړ.

۱۹۴۱ء: د بلوچستان انګریز ایجنټ متکاپ د خان شهید پر ورځپانه (**استقلال**) بندیز ولګاوه.

۱۹۴۲: کله چې د هند ملی کانګرس د هندي خاوري څخه د انګریزانو د ایستلو ډغ پورته نو انجمن وطن بیا پر خپل بنسټ په دې غورځنګ کې ډیري هلې ځلې وکړې. په پای کې انګریزانو خان شهید او ملګري بندیان کړل.

۱۹۴۵ء: خان شهید په شاهي باغ کې په آل پولیټیکل پارټیز کانفرس (د سیاسي ګوندونو عمومی کنفرانس) کې ګډون وکړ. چارواکو په همدې کال خان شهید او نور سیاستوال خوشي خو بیرته د پښتونستان د خپلواکی د غوښتني له امله ونیوو، د څو میاشتو بند څخه وروسته یې خوشي او پخپل کورکې نظربند کړ.

۱۹۴۶ء: خان شهید د کانګري ګوند سره نژدې اړیکي پلي کړې ځکه چې د کانګرس د کراچي په څانګه کې دا پریکړه وس‌وه چې دوی به هڅه کوي چې د صوبو خود مختاري به د ژبو پر بنیاد وي.

۱۹٤۷ء: د کوچنۍ وچوبي يا برصغير دويش‌لو خبره رامنځته سوه، هغه مهال خان شهيد ډهلي ته ولاړ او هلته تر لږ ځنډ وروسته کراچي ته راغی او په کراچي کي يې د باچاخان، سندي مشرانو جي. ايم. سيد او عبدالمجيد سندهي سره وکتل او هم يې د منشي احمد الدين سره د نوي ګوند د جوړيدو په اړه سلا وکړه، ، په پای کي د دوی لخوا د پيپلز ارګنائزيشن په نامه يو سازمان ومنل سو . خو کله چې خان شهيد کوټې ته ورسيد نو د پاکستان د نوي تشکيل س‌وي دولت لخوا د تحفظ عامه د قانون تر حکم لاندې ونيول س‌و او پر استقلال اخبار دائ‌مي بنديز ولګيد.

۱۹٤۷: د هند نيمه وچه وويشل س‌وه خو د پښتنو او بلوڅو پر حق سترګ‌ي پټ‌ي س‌وې. په پښتونخوا ايالت کي مصنوعی ريفرندم وس‌و. خدائي خدمتګارانو او زياترو پښتنو ورپکي برخه وانه خسته. حکومت باچا خان، خان شهيد او ددوی په زرګونو پلويان بنديان کړل. درې مياشتي وروسته يې خان شهيد د مچ زندان ته واستاوه او تر ۱۹۵۴ء پوري بندي وو. شهزاده عبدالکريم هم ورسره بندي وو.

جون ۱۹۴۷ء: د پښتوخوا ايالت په بنو سيمه کي يوه قامي لويه جرګه جوړه س‌وه ، په دې جرګه ک‌ي قاضي عطاء الله خان وکړ چې د پښتنو دپاره دي يو آزاد حکومت جوړ س‌ي، جرګې د رايو به اکثريت دا وړاندیز ومانه.دا وړاندیز خان شهيد او ملګرو هم تائيد کړ.

۱۹۵۴ء:خان شهيد د کوټې په مياشتنۍ مجله (پښتو) کې د (**پښتو يا پښتونولۍ**) تر سرليک لاندې يو مضمون خپور کړ. په مضمون کې هڅه سوې چې قومي ستونزې د علمي اصولو پر بنسټ تحليل سي. په جولائي کې حکومت هغه پر کور نظر بند ، پر تحرير و تقرير ، ورور پښتون گوند، پر مياشتنۍ (**پښتو**) او اووه ورځنۍ(**پيغام جديد**)تر يوه کاله پوري بنديز ولگاوه.

په ۱۹۵٤ز کال خان عبدالصمد خان او نور سياسي رهبران د زندان څخه راووتل. په دې وخت کې خان عبدالصمد خان د (ورور پښتون) په نوم نوي سياسي سازمان د يوه گوند په شکل کې تشکيل او د پښتو په نامه يې يوه مجله خپره کړه.

۱۹۵٦ء : کله چې پخوانۍ گورنر جنرال سکندر ميرزا د پاکستان د جمهور رئيس واک لاسته کړ او د سهر وردی تر صدارت لاندې د يو يو نټ فعاليت پيل سو نو په سياسي ډگر کې نوي غبرگونونه راپورته سول. د خان شهيد او د پاکستان د کنلاسو سياسي مشرانو ترمنځ په لومړي پړاو کې د شپږو گوندونو تر منځ يو کنونشن جوړ سو، چې په موسسه کانگره کې يې د ورور پښتون په مشري خان شهيد، د خدائي خدمتگارانو په مشري باچا خان، د ستمان گل په مشری شهزاده عبدالکريم بلوڅ، د سندهاړي کميټې په مشري حيدر بخش جتوئي، د سند عوامي محاذ په مشري جی. ايم. سيد او شيخ عبدالمجيد سندهي، د آزاد پاکستان د گوند په نمايندگي ميا افتخار الدين برخه اخيستې وه ، دوی په گډه دنې‌شنل گوند جوړ او د ون

یونټ پر ضد یې د فعالیت کولو پریکړه وکړه. کله چې پدې ګوند کې د بنګال څخه مولانا بهاشانی ملګری سو نو د دغه سازمان نوم پر نې‌شنل عوامي ګوند واوښت.

۱۹۵۶ء: کله چې پاکستان پر ختیز او لویز یونټ تفسیم سو، د هغه هیواد سیاسي، ملی ګوندونو او شخصیتونو ورسره مخالفت کاوه . ددې کار لپاره ملي محاذ جوړ سو . د محاذ د نهضت په سر کې خان شهید واقع وو . په دې لړ کې د شپږو ګوندونو په کنونشن کې باچا خان، خان شهید، شهزاده عبدالکریم، حیدر بخش جتوئي، او جی. ایم سید او شیخ عبدالمجید په ترتیب سره د خدائي خدمتګار ، ورور پښتون ، د بلوڅو د استان ګل، د سندهاری کمیټی او د سند د عوامي محاذ د استازو په توګه برخه درلوده . ددې کنو نشن په وړاندیز پاکستان نیشنل ګوند جوړ سو.

پر ۱۶ جون ۱۹۵۶ء حکومت لومړی باچا خان او بیا خان شهید ونیول او بیرته یې په همدې کال خوشي کړ.

۱۹۵۸ء: فیلډ مارشل ایوب خان د نظامي کودتاه د لارې واک لاسته کړ، پر ۷ اکتوبر۱۹۵۸ء پاکستاني ځواکونو پر قلات ریاستي ښار ستر یرغل وکړ او ددې ښار لویه برخه یې د توپونو په بریدونو ورانه کړه، د خان قلات میرمن او د کورنۍ یو شمیر غړي ژوبل سول، عسکرو خان قلات احمدیار خان بندي کوټي ته راوُوست. په همدې ورځ نظامي حکومت خان شهید په کوټه کې د یوشمیر پښتنو او بلوڅو

سياسي مشرانو سره بيا زنداني کړ، پوره لس کاله خان شهيد د ملتان، سکر، مچ،ضلع هزاره، هری پور او لاهور په زندانونو کي تير کړل.پر ۱۱ اکتوبر ۱۹۵۸ء حکومت باچاخان او ختيز پاکستان اته نامتو سياسي مشران هم بنديان کړل.

۱۹۶۹ء:خان شهيد د خپلو ځينو ملګرو لکه خان محمد ايوب خان اخکزی، محمد عثمان کاسی ، عبدالصادق ، هاشم غلزی ، محمد علی کاکړ او د کورنۍ د غړو سره کابل ته راغی چې د پښتنو او بلوڅو د ملي ورځې په مراسمو کي برخه واخلي. دې مراسمو ته باچا خان، خان عبدالولی خان، محمد اجمل ختک، مير مهدی شاه مهدی، قلندر مومند او نور سياسي اشخاص هم راغلي وو.

۱۹۷۰ء: خان شهيد د پښتونخوا عوامي تحريک ګوند تشکيل کړ. په اګست ۱۹۷۰ء کي د جنوبي پښتونخوا ځوانانو د پښتونخوا ملي عوامي ګوند په مشري د پښتون ستوډنټ آرګنائزيشن په نامه سازمان جوړ کړ.

۱۹ اکتوبر ۱۹۷۱ء: په کوټه کي د پښتون کمشنر نصرمن الله په لاس پښتو آکاډمي پرانستل سوه، د پرانستلو پدې غونډه کي خان شهيد هم ګډون درلود.

ماخذونه

۱- د خان عبدالصمد خان لنډ ژوند لیک، د خان شهید یاد، کاندید اکاډمیسیون محمد ابراهیم عطائي، د خان شهید د سیمینار د مقالو مجموعه، د سرحدونو چارو وزارت، ۱۳۷۰ ه. ش، ۲۲مخ.

۲- خان عبدالصمد خان اچکزی، د خان شهید یاد، منوهر س‌ي‌نګ بترا،۴۱ مخ.

۳- انجمن وطن د خان شهید لومړی ګوند، د خان شهید یاد، کاندید اکاډمیسیون محمد ابراهیم عطائي،۷۸مخ.

۴- خان عبدالصمد خان اچکزی او افغانستان، د خان شهید یاد،پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار،۸۴مخ.

۵- خدائي خدمتګاران او خان عبدالصمد خان، د خان شهید یاد، سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار،۹۱مخ.

٦- د بلوڅو په سیاسي جنبشونو ک‌ي د خان شهید عبدالصمد خان همکاري، د خان شهید یاد،کاندید اکاډمیسیون محمد ابراهیم عطایي، ۱۰۸مخ.

۷- له ادبیاتو سره د خان شهید مینه او دده ادبي کارونه، د خان شهید یاد، څېړنپوه زلمی هیواد مل۱۱٦مخ.

۸- امام غزالی او د خان عبدالصمد خان اچکزی د کیمیای سعادت پښتو ژباړه، د خان شهید یاد،محمد اکبر کارګر،۱۳۸مخ.

۹- پښتو ته د خان عبدالصمد خان خدمت، د خان شهید یاد، سرمحقق معتمدجنتی شینواری،۱۵٦مخ.

۱۰- د خان شهید فرهنګي کارونه، د خان شهید یاد، پوهنمل بریالی باجوړی،۱۷۰مخ.

۱۱- د خان شهید ژوند او مبارزه، د خان شهید یاد، غوث خیبري،۱۸۰مخ.

۱۲- د خان شهید عبدالصمد خان اځکزي ژوند لیک، د ننګ او فرهنګ اتل، څېړندوی عبدالغفور لیوال، د خان شهید د سیمینار د مقالو مجموعه، د سیمۍیزو مطالعاتو مرکز، ۱۳۸۷ ه ش۸مخ.

۱۳- د خان شهید د ژوند فرهنګي او سیاسي اړخونه، د ننګ او فرهنګ اتل، عبدالرحیم خان،۲۲مخ.

۱۴- خان عبدالصمد خان شهید د پښتنو د ملي شناخت په تلاش کـي، ډاکټر فضل الرحیم مروت، د ننګ او فرهنګ اتل،۱۳۸مخ.

۱۵- د خان شهید سیاسي تګلاره او ملی افکار ، خوشال روهي، د ننګ او فرهنګ ملی اتل، ۱۴۸مخ.

۱٦- خان عبدالصمد خان اځکزی، منوهر سېنګ بترا، د ننګ او فرهنګ اتل، ۱۷۰مخ.

۱۷- اځکزی، خان شهید او دل سمد خان، زما ژوند او ژوندون،لومړی ټوک،۲۰۰۴ء.

۱۸- خان عبدالغفار خان ، زما ژوند او جدو جهد، د افغانستان کلتورې ودې ټولنه،جرمني، ۱۳۸۷ ه. ش.

۱۹- د پښتنو او بلوڅو سياسي کرونولوژي، کانديد آکاډميسيون محمد ابراهيم عطائي،د سرحدونو چارو وزارت، ۱۳٦۸ه.ش.

د خان عبدالصمد خان اڅکزی د ژوند، ادبي او سياسي خدمتونو کرونولوژی ځيړنوال عبدالرحيم بختانی خدمتگار،۲۳ فروري ۲۰۱۲ء

https://www.tolafghan.com/articles/13726،

۳دسمبر ۱۹۷۳

د پاکستان دولتي سرچينو په مطبوعاتو کي هغه راپورونه رد کړل چي پخوانی باچا محمد ظاهر خان پاکستان ته ورځي.




THE DAILY JANG KARACHI

جنگ کراچی

کویت پہنچنے پر وزیر اعظم بھٹو کا شاندار استقبال

صمد خان اچکزئی دستی بم کے حملہ میں ہلاک ہو گئے

۴دسمبر ۱۹۷۳ء



ولسمشر محمدداودخان، محمدصادق خان کاسئ شهید او خان شهید

د افغانستان حکومت په رسمي توګه د کابل په شیرپور مسجد کي د عبدالصمدخان شهید پاتا واخسته چي ورپکي ولسمشر سردارمحمدداود او د هغه د حکومت جګپوړو چارواکواو نظامي منصبدارانو ګډون وکړ.

۱۱دسمبر۱۹۷۳ء

د ولسمشر سردار محمد داود په مشري په هیواد کي د پلانونو د ودي د پاره ستره اقتصادي شورا(شوراعالی اقتصادي) جوړه سوه، په شورا کي د صدراعظم مرستیال، مالیه وزیر،د کرنې او اوبو لګولو وزیر،د معادن او صناعیو وزیر، د فوائدعامې وزیر، د سوداګرۍ وزیر، د پلان وزارت معین او د افغانستان بانک رئیس غړیتوب لري، شورا به په میاشت کي یوه غونډه ولري.

۱٦ دسمبر ۱۹۷۳ء

په یوه مرکه کي د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو د پاکستان و افغانستان تر منځ ددوستي پر اړتیا ټینګار وکړ.

۲۱ دسمبر ۱۹۷۳ء

د پاکستان د باندنۍ اړیکو په مباحثه کي ددې هیواد صدراعظم ذوالفقار علي بټو د افغانستان سره د نښو اړیکو پر درلودلو ټینګار وکړ خو افسوس یې څرګند کړ چې په دې وروستیو کي یې له افغانستان سره اړیکې خړې پړې سوي دي.

۲٦دسمبر، ۱۹۷۳ء

د ولسواکئ د پېر په مناسبت نوئ ملي سرود د کابل په حربي پوهنتون کي فارغ التحصيلانو ته د شهادتنامو ورکولو په غونډه کي په لومړي ځل وږغول سو، دا سرود عبدالروف بينوا، استاد عبدالغفور بريښنا او استاد عبدالجليل ځلاند ترتيب او تهيه کړئ دئ.

۲جنوري، ۱۹۷۴ء

N° 25-S-2

په کابل کي د کي.جي.بي هستوګنځای ته

کله چې تاسو وروسته د ببرک کارمل او نورمحمد تره کي سره ووينئ نو دوی ته لاندي خبري ووياست

"په مسکو کي د شوروي اتحاد د دولت مشر او د افغانستان د جمهوري رياست لومړي وزير محمد داود ته د رسمي دوستانه سفر پائيلي د ستاينې وړ دي او د شوروي - افغانستان په ګډه اعلاميه کي ثبت سوي او د شوروي اتحاد په مطبوعاتو کي خپاره سوي دي. افغانستان دا ډاډ څرګند کړ چې دغه ليدنه به زمونږ د هيوادونو ترمينځ د ملګرتيا او د ګټوري همکاري د اړيکو په پياوړتيا کي لويه مرسته وکړي. دا حقيقت چې شمالي ګاونډي هيواد شوروي ته د افغانستان د جمهور رئيس سردار محمد داود د لومړي يون په خورا رضايت سره يادونه وسوه.

د مرکزي کميټې د سياسي بيورو د عمومي منشي ليونيد برژنيف، د شوروي سوسياليستي جمهوريت د ولسمشرۍ د دفتر د رئيس او د شوروي اتحاد د وزيرانو د شورا د رئيس الیکسي اين کوسيګين نيغ

ګډون، د همږغۍ ، متقابل تفاهم او د لوړې کچې د باور فضا د هغه عالي پام ثبوت دی چې د شوروي اتحاد مشران یې د افغانستان له جمهوري ریاست سره د دوستانه ، ښې ملګرتیا اړیکو پیاوړتیا او پراخولو ته ورکوي او دغه اړیکې نوي او هم لوړې کچې ته پورته کوي.

د خبرو په بهیر کې د دوه اړخیزو اړیکو او نړیوال وضعیت په اړوند په پراخه کچه بحث او خبرې وسوې.

د شوروي مشرانو د افغان لوري هیلو ته په جواب ویلو سره اعلان وکړ چې شوروي اتحاد به د پخوا په څیر د افغانستان د نوي حکومت د پلانونو په پلي کولو کې مرسته وکړي چې ملي اقتصاد یې لا پراختیا او وده وکړي. هوکړه لیک د دوه اړخیزو همکاریو د پراخو موضوعاتو په اړه چې د افغان لوري لخوا راپورته سو، ترلاسه سو. د نړیوالو ستونزو په اړوند دواړو لورو یو شئ نظر درلود.

په ډاډ سره ویلای سو چې شوروي اتحاد ته د ښاغلي داود خان د رسمي دوستانه یون پائیلي به د دواړو هیوادونو ترمینځ د نژدې ملګرتیا او ګټوري همکارۍ د لا پراختیا او پیاوړتیا لپاره ګټوري اغیزې ولري. دا به د افغانستان او دسولئیزې نړۍ د پاره ګټوري وي.

د مساواتو اصول، ملي حاکمیت او خپلواکۍ ته متقابل درناوی او یو د بل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې تګلار به د دواړو هیوادونو تر منځ د دوستۍ اړیکې نوري پراخې او پیاوړې کړي.

د افغانستان د جمهوري رياست په وړاندي دندې ترسره کول خورا عالي او پيچلي دي. مگر لکه څنگه چي تجربې ښودلې،په بريالیتوب سره حل کيدلای سي.

٦ جنوري ١٩٧۴ء

د فرانس د اوونيزي مجلې **(Weekly L,Express)** سره د مرکې پر مهال د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو په سيمه کي د شوروي اتحاد پر تگلارو او هندوستان و افغانستان ته پر نظامي مرستو او هم د ايران، عراق او پاکستان سره د پاکستان پر اړيکو خبري وکړې او زياته يې کړه چي په پښتونخوا او بلوچستان ايالتونو کي باندني لاسوهنې رامنځته سويدي **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 54)**

کابل، ٨ جنوري ١٩٧۴ء

د ببرک کارمل او نورمحمد تره کي سره ووينې او لاندې يادداشت دوی ته جلا جلا وسپارئ

"په مسکو کي دوی د" پرچم "او" خلق " گوند د مشرتابه تر منځ د دوامداره متقابلي جگړې په اړه له کابل څخه راغلي راپورونه له ژور خپگان سره مخامخ کوي. دا خپلمنځي شخړه له بده مرغه د دواړو لورو دکمزورئ لامل گرزي او په ټوليزه توگه د پرمختللو ځواکونو او ديموکراتيک غورځنگ په ليکو کي بيلوالی رامينځته کوي.

هغه وضعیت چې رامینځته سوی دی، کولای سي یواځي د افغانستان د جمهوري ریاست کورنۍ او باندني دښمنان خوشحاله کړي، ځوک چې دسیسې(**سازشونه**)، تخریب او نوري ناوړه کړنې تر سره کوي او هم د پخوانیو رژیمونو د بیارغونې هڅې کوي. پدې پیچلي وضعیت کې ټول مخ پر وده ځواکونه چې د هیواد او خلکو د ګټو په وسیله ورته لارښوونه سوې ده، باید ځانونه یوه لور ته کړي او د جمهوري رژیم سره بشپړه مرستې وکړي او پیاوړی یې کړی.

د دې غوښتنې د متن سره په افغانستان کې د شوروي سفیر ته لنډ معلومات ورکړی.

۱۸ جنوري ۱۹۷۴ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند د امریکا د ایسوسیټډ پریس(**A.P**) د خبریال سره په مرکه کې د افغانستان د جمهور رئیس سردار محمد دا تور رد کړ چې تیر کال د سپتمبر په میاشت کې یې پاکستان د کودتاه په هڅه کې لاس درلود چې دده د جمهوري حکومت پر ضد جوړه سوېوه **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 54)**

۱۳فروري۱۹۷۴ء

د آموسيند د اوبو پر ويش د شوروي اتحاد سره په دويم ځل هوکړه لاسليک سوه، لومړۍ هوکړه په کال ۱۹۶۳ء (۱۳۴۳ه ش) کي لاسليک سويده.

۲۲- ۲۴فروري۱۹۷۴ء




د پاکستان په لاهور ښار کي د اسلامي هيوادونو د ټولني سرمشريزه غونډه ددې ټولني درئيس تَنکو عبدالرحمان لخوا د منځني ختيز پر کړکيچنه اوضاع د خبرو د پاره جوړه سوه،د افغانستان ولسمشر سردار محمدداود په خپل استازيتوب نامتو سفارتکار عبدالرحمان پژواک ورواستاوه. د ليبيا ولسمشر محمدمعمرالقذافي سردار داود ته پر ټيليفون د ګډون بلنه ورکړه د ډيورنډ کرښې لانجې ته په ايجنډا کي د ځای نه ورکولو په اړه هغه په غونډه کي د برخي اخستلو څخه ډډه وکړه. د همدې لانجې په اړه د پاکستان و افغانستان تر منځ اړيکي سره وراني دي (**سردار محمدداود، د ډاکټر عاصم اکرم کتاب،۲۷۲ مخ**).


۲۲ فروري ۱۹۷۴ء

د اسلامي هیوادونو د ټولني په دویمه غونډه کي تر وینا وړاندي د افغاني پلاوي مشر عبدالرحمان پژواک وویل چي هیواد یې د پاکستان سره څه اختلافات لري، موږ غواړو چي د عدالت پر بنسټ یې د سولي د لاري ورسره حل کړو.پژواک زیاته کړه چي د بنګله دیش د بیلګي څخه باید زده کړه وسي او په سیمه کي دغسي کړنه یا عمل ونه سي چي د چا د خپلواکی حق ورپکي تر پښو لاندي سي

(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 54)



د اسلامي ټولني غونډه ته د پاکستان صدراعظم ذوالفقارعلي بټو وینا کوي



دښي لوري: شاه فيصل، معمورالقذافي،ذوالفقار علی بټو، حواری بومدين، ياسرعرفات

۹ مارچ ۱۹۷۴ء

د پاکستان د کورنيو، رياستونو او سرحدونو د چارو مرکزي وزير اعلان وکړ چې هيواد يې د افغانستان خير غوښتونکی دی او د دې هيواد په پراختيائي **(Development)** چارو کې د ډيرو مرستو ور کولو نيت لري(**لوړ ماخذ او ۵۵مخ**).

۱۸ مارچ ۱۹۷۴ء

د پاکستان د کورنيو چارو مرکزي وزير وويل چې هيواد يې کابل ته د هندوستان د نظامي پلاوي يون پډيره پاملرنه څاري، لکه هند چې د

افغانستان په دفاعي جوړښت کي د پام وړ ليوالتيا لري(**لوړ ماخذ او ۵۵مخ**).


مئی ۴ ،۱۹۷۴ء

پوليسو او امنيتی عسکرو د اسلامی نهضت مشراستادغلام محمد نيازي او د هغه يو شمير پلويان په کابل کي ونيول، محکمې درې تنه مولوي حبيب الرحمان، ډاکټر محمد عمر، خواجه محفوظ منصور په اعدام او نور په عمر بند محکوم کړل- پوهاندغلام محمد نيازي، انجينئر سيف الدين نصريار، عبدالستار مستوفي، شاه ابدال، نسيم طارق مسليم يار، انجينئرعبدالعليم، انجينر عتيق الله، شيرعلی ساتک، عبدالعظيم، مولوی عبدالحميد،

سحرگل(زلمی)، مولوی عبدالرشید، داکتر ولی جان، نادر خان بدخشی، عبدالقیوم، عبدالغفورلالا.



۹مئی۱۹۷۴ء



سردارمحمد داود د ځانګړو مراسمو په ترڅ کي په ارګ کي نوئ جمهوري بیرغ ځوړند کړ



۱۰ مئی ۱۹۷۴ء

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر اعلان کړه چې ډیورنډ کرښه د پاکستان و افغانستان تر منځ نړیواله پوله ده، که چیري افغانستان ورباندې تېری وکړ، پښیمانه به سي **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 55)**

۱۱ مئی ۱۹۷۴ء

د افغانستان د باندنیو چارو مرستیال وزیر ایران ته د یون پر مهال اعلان وکړ چې هیواد یې د پاکستان سره د شته لانجې خلاسون ته د سولئیزو خبرو د لاري خلاسون ته چمتو دی(**لوړ ماخذ او مخ**).

۲جون ۱۹۷۴ء

څانګړی پوښی

مهم راز

د مرکزي جرګګی د سیاسي څانګې مهر یاستیمپ

1796 9

دوهم سکټور

موضوع ته د بیرته ستنیدو موضوع

د شوروي اتحاد د کمیونسټ ګوند د مرکزي جرګګی (CC CPSU)عمومي ریاست

د مرکزي جرګګی سیاسي څانګه

د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو ته د محمد داود د سفر د پايلو په اړه د "پرچم" او "خلق" مشرانو لپاره معلومات

د افغانستان د پرمختللو سياسي سازمانونو (**پرچم او خلق**)مشران ببرک کارمل او نور محمد تره کی چې د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو د وزيرانو شورا او په کابل کي د شوروي د ځارګري شبکې کا.جي.بي(KGB) د مرکز د لاري د شوروي اتحاد د کمیونستې ګوند د مرکزي کمیتې(**CC CPSU = The Central Committee of the Communist Party of the Soviet Union**) سره نا رسمي تماسونه ساتي، تر سپيني کودتاه سمدستي وروسته په نوي جمهوري حکومت کي د مرکزي جرګګې يا کمیتې د مترقي عناصرو په وسيله په حکومت او اردو کي د خپلو ګوندونو د اثر و رسوخ د پياوړي کولو او د کمیونستې ګوند د استازيتوب د حق د پاره په مبارزه بوخت دي. په ورته وخت کي دوی د چين پلوه او ملتپالو ډلو په ځير په اردو او دولتي بيوروکراسۍ کي فعال سياسي کارونه تنظيم کړي چې د افغانستان د جمهوري رياست د مشر او لومړي وزير محمد داود جدي اندېښنه يې راپارولې ده.هغه په ځانګړې توګه د امنيتي ادارو له خوا په هغه معلوماتو اندېښمن دی، ګومان کيږي د کِنګلاسو ځواکونو لخوا پلان سوي چې له واکه به يې ليري کړي کچيري هغه ټولنيز او اقتصادي اصلاحات ګړندي نکړي او افغانستان د غير پانګوالی **(Non-capitalist)**او بالاخره پر سوسياليستي لار نه بوزي.

په فروری و مارچ ۱۹۷۴ء کي سردار داود يو لړ اقدامات ترسره کړل چي پر مترقي ځواکونو د فشار راوستلو او د پرچم و خلق پر سياسي فعاليت د بنديز لارښوونه سوېده.

په جنوری ۱۹۷۴ء کي ببرک کارمل او نور محمد تره کي ته سپارښتنه سوېوه چي خپلمنځي شخړي دي بندي، دواړه ګوندونه دي سره يو سي او په ګډه دي د نوي جمهوري حکومت په بشپړه توګه ملاتړ وکړي. مناسبه به وي چي دې دوو مشرانو ته پورته سپارښتنه يو ځل بيا وواياست، او دا شوروي ته د سردار داود د يون په اړوند معلوماتو کي ګډولای سی. په کار داده چي پدې معلوماتو په کابل کي شوروي سفير هم خبر سي.

(ST.1 109/31-gs of 8.1.1974)

د شوروي اتحاد د سياسي څانګي د فرمان مسوده ضميمه ده.

د شوروي اتحاد د سياسي څانګي مرستيال مشر

نړيواله څانګه

(لاسليک)

R. Ul’yanovskiy

https://digitalarchive.wilsoncenter.org/collection/76/soviet-invasion-of-afghanistan

۴ – ۸ جون ۱۹۷۴ء



ولسمشر سردارمحمدداود تر واک وروسته په لومړي ځل په پینځه ورځني یون د کابل څخه ماسکو ته ولاړ، پدې یون کي د سوداګرئ وزیر محمد خان جلالر،د پلان وزیر علي احمد خرم، د باندنیو چارو وزارت معین وحید عبدالله،د تشریفاتو د شعبې مرستیال عبدالعلي سلیمان،د باندنیو چارو وزارت دا قتصادي چارو د شعبې مرستیال عبدالقیوم منصور، د ولسمشر درې یاوران محمداکبر،صاحب جان خان او عبدالمجید ګډون لري.



ددولتښاغلی رئیس اوصدراعظم ته دشوروی اتحاد هنرمندان وربژندل کیږی

په کریملن مانۍ کي د سردار محمدداود په درناوي کي دغرمې په میلمستیا کي ددې هیواد ولسمشر نیکولای ویکتورووېچ پودګورني(Nikolai Viktorovich Podgorny)پخپله وینا کي وویل چي د سیاسي، اقتصادي او ژواکیز یا کلتوري ژوند د نوي کولو د پاره لوی او پیچلي چاري به سرته رسول په کار وي. تجربو ښودلې ده چي که پخوانۍ پخې لاري تعقیب سي، دا چاري به په بریالیتوب سرته ورسیږي، او د نوي ژوند د پاره دي په پراخه پیمانه عامه پرګني ملګري سي چي اخلاصمن ځواکونه د نوي نظام د پیاوړي کولو د پاره په ډاډه زړه او بشپړه پیوستون سره کار وکړي. د نوي جمهوري نظام په راتلو سره د دواړو هیوادونو د دوستۍ اړیکو نوره وده کړیده، شوروي اتحاد لومړۍ هیواد وو چي افغان حکومت یې په رسمیت وپیژاند(Kabul Times, June 6,1977).افغانستان ته د اقتصادي او تخنیکي مرستو د ډیرولو او د هغه هیواد اووه کلن انکشافي پلان ته د مالي مرستو ورکولو په لړ کي د شوروي اتحاد مرستو ته په پاملرنه، دواړو لورو د اقتصادي او تخنیکي همکارۍ د پاره د ګډ کمیسیون هوکړه لاسلیک کړه، د کمیسیون دنده به داوي چي د پلان په چوکاټ کي هغه پروژې په ګوته کړي چي د شوروي اتحاد په مرسته عملي کیدلای سي، د ودي په اووه کلن پلان کي د بیلو پروژو د پاره د شپږو سوو ملیونو ډالرو ورکولو هوکړه وسوه. شوروي لوري دا هوکړه هم وکړه چي افغانستان ته به د پورونو ادا کولو د پاره نور مهلت ورکوي. شوروي اتحاد ته د صادراتي ګاز د بیې د لوړولو په اړه

سردارمحمدداود د شوروي صدراعظم الیکسي کوسیګن سره وږغید خو هغه مبهم جواب ورکړ چي د نرخ په لوړولو کي پیچلتیاوي شتون لري او د کارپوهانو ډیري مطالعې او څېړني ته اړتیا لري (**د افغانستان سقوط، د افغانستان د باندنیو چارو وزارت د باندنیو اړیکو د رئیس عبدالصمد غوث انګلیسي کتاب، د ډاکټر شیرزمان طائزي پښتو ژباړه، ۱۹۵-۱۹۶مخونه، ددانش خپرندویه ټولنې لخواپه کال ۱۹۹۹ء خپور سو**).

۵ جون ۱۹۷۴ء

د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو د ولسمشر رئیس نیکولای ویکتورووېچ پودګورني دسردار محمد داود په ویاړ د ماسکو په کرملین مانۍ کي سبا ناری.

https://digitalarchive.wilsoncenter.org/collection/76/soviet-invasion-of-afghanistan

۱۹ جون ۱۹۷۴ء

د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو ملت ته ډاډ ورکړ چي هیواد یې هغو پلانونو ته په بشپړه توګه بیداره دی چي ښایي په ځینو هیوادونو کي د پاکستان پر ضد جوړ سویدي. هغه د هند اټومي چاودنې ته په اشاره وویل چي د هغې وخت ډیر مهم وو چي ماسکو ته د افغان ولسمشر له یون سره سم ټاکل سوی وو.

۲۶جون۱۹۷۴ء

بیخي پټ ضمیمه

د کي.جي.بي لخوا شفر کابل

د کې.جي.بي هستوګنځي ته

کله چې تاسي ورسئ د ببرک کارمل او نورمحمدتره کي سره ووينئ. دوی ته لاندي دندي وسپارئ.

۱- په ماسکو کي شوروي اتحاد ته د سردارمحمد داود رسمي دوستانه يون ډير وستايل سو. په ګډه اعلاميه کي ددواړو هيوادونو لخوا باور څرګند سوئ دئ چې دا يون به د ګټورو همکاريو د اړيکو په پياوړتيا کي لويه مرسته وکړي. د افغانستان ستر شمالي هيواد ته د سردارمحمد داود دا لومړۍ ليدنه په ستر ډاډ ياده سوې ده. د سردارمحمد داود او ملګري پلاوي سره په خبرو کي ولسمشر ليونيډ برژنيف،د ولسمشرۍ شورا رئيس نيکولای ويکتورووويچ پوډګورني، د وزيرانو د شورا مشر الیکسي کوسيګن مخامخ ګډون وکړ چې د صميميت، دوه اړخيز پوهاوي او د لوړ کچ باور په چاپيريال کي تر سره سوې.دا د هغه ستري پاملرني ثبوت وو چې د شوروي اتحاد مشران يې د افغانستان سره د دوستانه، ښو ګاونډيو اړيکو پياوړتيا او پراختيا ته ورکوي او هم يې د نوي پړاو لوړي کچي ته خيژوي. د خبرو په بهير کي پر دوه اړخيزو اړيکو او پر نړيوال حالت په پراخه کچه خبري وسوې. شوروي مشرانو د افغاني لوري د هيلو په جواب کي اعلان وکړ چې شوروي اتحاد به د پخوا په څير د خپل سهيلي ګاونډي جمهوري هيواد د پلانونو په پلي کولو کي د ملي اقتصاد د نوري غزوني او پراختيا او هم د افغانانو د زياتي خوشحالئ او په کلتور کي د ودي د پاره نيغه مرسته وکړي. د افغاني لوري د خوا پر پورته سوُو يو شمير ستونزو د دوه اړخيزي همکارئ ټړون سره وسو. پر ډيرو مهمو ستونزو ددواړو لورو د نظر نژديوالئ او يووالئ هغه

مهال ولیدل سو کله چې پر نړیوالو ستونزو خبري سوه وسوې چې ددواړو لورو مشرانو یې په ډاډ سره یادونه وکړه. دا په باور سره ویلای سو چې شوروي اتحاد ته د سردار محمد داود ددې رسمي یون پائیلي به ددې دوو هیوادونو تر منځ د ټینګي دوستۍ او پرثمره همکارۍ پر نوره وده،پراختیا او هم به پر نړیوال امنیت مثبت اغیز وکړي. د مساوي اصولو، یو د بل حاکمیت او خپلواکۍ ته متقابل درناوئ او یو د بل په کورنیو چارو کي د نه لاسوهني پر اصولو ولاړ به د افغان- شوروي اړیکو پیاوړتیا او پراخوالۍ د افغانستان د نوي حکومت د نوري مضبوطۍ سره مرسته وکړي. مساوات، یو د بل خودمختاري او ازادي ته درناوئ او هم یو د بل په کورنیو چارو کي د نه لاسوهني د اصولو پر بنسټ د افغانستان او شوروي اتحاد د اړیکو پراختیا او پیاوړتیا به د سردار محمد داود نوئ حکومت نور پیاوړۍ کړي. دا به د افغانانو او د نوي حکومت د مخکښانو د ټولنیزو او اقتصادي اصلاحاتو سره مرسته وکړي چې اوس یې وخت رارسیدلۍ دۍ او هیواد به د سولي، تخلیقي وړتیاو، ملي او ټولنیزي ودي پر لور روان سي. د افغانستان د نوي حکومت په مخ کي پراته کارونه ډیر درانه او زښت ډیر پیچلي دي خو لکه تجربې چې ښودلې ده په بریالیتوب سره سرته رسیدلای سي. د جون د میاشتي پر پینځمه نیټه د شوروي اتحاد دایوان صدر یا پریزیدیم مشرنیکولای ویکتورووویچ پودګورني په کریملن ماڼۍ کي د جمهور رئیس سردار محمدداود په درناوي کي د نهاري ورکولو پر مهال وویل کله چې د ټاکلي مرام (هدف) کلکه پیروي وسي او د نوي ژوند په تعمیر کي

ولس په پراخه کچه برخه واخلي او هغه قوتونه چي په حقيقي توګه د نوي حکومت د پياوړي کولو سره ليوالتيا لري او د هغه سره په فعاله او ګډه توګه کار کوي.د افغانستان د پرمختللو ځواکونو په وړاندي ډيري ارزښتناکي دندي لري چي په حقيقت کي د جمهوري غوښتونکي رژيم وفادار او باوري ملاتړکوونکي دي، ددوامداره مبارزې په شرائطو کي د کورنيو او باندنيو غبرګون کوونکو په وړاندي چي د تير رژيم د بيرته راوستلو هڅه کوي، د پر مختللو سازمانونو مشران بايد اوسني توپيرونه له پامه وغورزوي ځکه چي ددوی تر منځ د کورنيو جګړو دوام يواځي دوی کمزوري کوي. د ځواکونو استحکام اوس د خلق او پرچم ګوندونو سره يو ځای سوي، تر څو د کارګرانو، بزګرانو او د افغاني ټولني د ټولو کاري برخو څخه دفاع وکړي تر څو د جمهوري غوښتونکي رژيم او د سردار محمد داود په مشري د نوي حکومت سره پر همکاري پوري تړاو لري چي د هيواد د خپلواکئ د پياوړي کولو د مفاداتو سره سمون خوري.

ددې ټيلي ګرام متن شوروي سفير ته هم ورکړه

چي دا مو وکړل بيا خبر راکړه

ددې متن يوه يوه کاپي لاندي مشرانو ته واستوی

ايم.اې سوسلوف **(M. A. Suslov)**

وي.آی ډولګيخ **(V. I. Dolgikh)**

آی.وي کيپيتونوخ **(I. V. Kapitonov)**

کې.ايف کتوشيف **(K. F. Katushev)**

اې.پي کيريلينکوف(**Kirilenko P. A.**)

ايف.ډي کولاکوف(**Kulakov F. D.**)

بي.اين پوناماريف(**Ponomarev B. N.**)

ډميټري فيدروويچ اوستينوف(**Ustinov D. F.**)

اې.يا پيلشيف(**Pel'she A. Ya.**)

Distributed: 27.6.1974 Khalturina

Adopted at the CC Secretariat meeting of 26.6.1974, pr. 129, p. 11s

۱۰ جولائی ۱۹۷۴ء

د پښتونخوا ايالت د سوداګرۍ د خوني او صنعت وياند وويل چې د افغان چارواکو لخوا د ډير محصول له امله له پاکستانه افغانستان ته د ميوُو صادرات او هم کابل ته د پاکستان د نړيوال هوائی شرکت پي.آی.اې(**P.I.A = Pakistan International Airlines**) الوتنې د افغانستان د لوري د کلکو بنديزونو له امله دريدلي دي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 55).

۱۰ جولائي ۱۹۷۴ء

د پښتونخوا ايالت د دير ولسوالی په مونډه سيمه کي يوې سترې غونډې ته په وينا کي ددې هيواد صدراعظم ذوالفقار علي بټو افغاني واکمن د پاکستان په کورنيو چارو کي په لاسوهنه (مداخلت) او د پاکستان په خاوره په بې بنسټه ادعا تورن کړل. هغه په ډاګه کړه د افغانستان لاسپوڅو يا ايجنټانو د پاکستان په يو شمير پيښو کي لاس درلود(**پورته ماخذ او ٥٦ مخ**)

۱۲ جولائی ۱۹۷۴ء

د سوات، دیر او چترال ولسوالیو د یون په بهیر کي د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو نن د سوات په مرکز مینګوره کي یوې سترې غونډې ته په وینا کي وویل پاکستان د افغانستان خیر غوښتونکی دی او هیڅکله به یرغل پر ونکړي، خو که یې پر پاکستان د یرغل جراَت وکړ، دغسي جواب به ورکړو چي تاریخ لره به یې په یاد لري. بټو د ملي عوامي ګوند مشران تورن کړل چي په کابل کي د افغاني مشرانو سره د پاکستان پر ضد د سیسې جوړوي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 56).

۱۴ جولائی ۱۹۷۴ء

په چترال کي یوې سترې عمومي غونډې ته د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو وویل چي افغان حکومت پر ډیورنډ کرښه خپل ځواکونه ځای پر ځای کړي دي، خو پاکستان د خپلې مځکنۍ بشپړتیا او خپلواکی د د فاع د پاره د هر ډول ننګونو او ګواښ سره د مقابلې د پاره چمتو دی **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page56 - 57).**

۱۴ جولائی ۱۹۷۴ء

په چترال کي د سه راغلاست غونډې ته په وینا کي ذوالفقار علي بټو وویل چي د افغانستان په نورستان سیمه کي دي ټولپوښتنه

(Referendum)وسي تر څو وګړي خپله خوښه څرګنده کړي.

مورِ هیله مند یو چي هغوی به د پاکستان په حق کي پریکړه وکړي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 57).**

۱۴جولائي ۱۹۷۴ء

په چترال کي یوې ولسي جلسې یا غونډې ته په وینا کي د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو وویل: د افغانستان د حکومت څخه مو غوښتنه داده چي د افغانستان د نورستان د وګړو څخه دي ټولپوښتنه (Referendom) وکړي چي هغوی پخپله خوښه د افغانستان که د پاکستان سره یو ځای کیدل غواړي؟. دا خبره یقیني ده چي پریکړه به د پاکستان په پلوي کي وسي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Page 57 Written by Bashir Ahmad Taher, Shabir Ahmad Khalid and Daily Jang Newspaper, 15 July 1974)

۱۵جولائي/۲۴سرطان۱۳۵۳ه ش

د دوه ویشت نیم زرو (۲۲۵۰۰) کلوواټو بریښنا تولیدپه ظرفیت د نغلو د اوبو د بریښنا ځلورم توربین **(Torbine)** د افغانستان د بریښنا موسسې لوی رئیس انجینئرمحمد عظیم ګران پرانیست.

۱۵ جولائی ۱۹۷۴ء

ذوالفقار علي بټو د پښتونخوا ایالت د قبائلي سیمي د پاړه چنار په مطبوعاتي غونډې کي د سردار محمد داود حکومت تورن کړ چي پر پوله د ځواکونو د ځای پر ځای کولو سره پاکستان ته کړکیچ یا تَشَنُج

پيدا کوي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 57) .**

١٦جولائي/٢٥سرطان١٣٥٣ه ش

ددولت د رئيس او صدراعظم سردارمحمد داود د څلوروسوو اوه اويا بنديانو د بند پاته موده وبخښل. د تيرکال د چنګاښ د شپږويشتمي نيټې څخه بيا تر اوسه په مرکز او ولايتو کي څلور زره درې تنه نروښځي خوشي سويدي

١٧ جولائي/٢٦سرطان ١٣٥٣ه ش

سردارمحمد داود د لومړي جشن په مناسبت د ملي توليداتو نندارتون پرانيست.

١٧ جولائی ١٩٧٤ء

د اپوزيسيون په نَوَښت، د پاکستان ملي اسمبلۍ پريکړه وکړه چې سبا به د پاکستان سره د پولو په اوږدو کي د افغان ځواکونو د تمرکز له امله چې صدراعظم بټو يې يادونه کړېوه بحث وسي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 57).**

١٨جولائي/٢٧سرطان ١٣٥٣ه ش

سردار محمد نعيم د باندنيو چارو وزارت د مرکزي ارشيف د ودانۍ د بنسټ تيره کښيښووه.

۱۸ جولائی ۱۹۷۴ء

د پاکستان په ملي غونډه یا نیشنل اسمبلۍ کي د خبرو پر مهال په دفاعي او باندنیو چارو کي ددې هیواد ددولت وزیر عزیز احمد وویل چي د افغانستان سره سِنې اړیکي غواړي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 57).

۲۱ جولائي/۳۰سرطان ۱۳۵۳ه ش

د جمهوریت د جشن په مناسبت د پوهنې دوه سوه څلور پینځوسوتنو منسوبینو ته ددولت رئیس سردار محمد داود لخوا د سروزرو رشتین نوښانونه،، د ژړو رشتین نوښانونه او نکلي رشتین نوښانونه ورکول منظور سویدي.

د جمهوریت د لومړي جشن په ویاړ د مالیې وزارت مډالونه جوړ او د ویش د پاره یې دافغانستان بانک ته سپارلي دي، هر یو یې سل افغانئ بیه لري.

د هرات ولایت کارګرانو د جمهوریت لومړنئ څلئ د هرات ښار د جمهوریت واټ پر څلور لاره پرانیست.

۲۲ جولائي/۳۱سرطان ۱۳۵۳ه ش

د کلیو د پراختیا مقررات د وزیرانو د عالي شورا له تصویب او ددولت د رئیس د منظورئ وروسته په رسمي جریده کي خپاره او نافذ سول.

۲۳جولائي/۱اسد

د بلخ ولایت د دولت آباد ولسوالئ په کلیو کي څه د پاسه څلورو زرو وګړو ته د سپا اوبو د استفادې زمینه پیدا سویده.

۲۴ جولائی ۱۹۷۴ء

د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو د جنوبي پښتونخوا د پښين او کوټي په ولسي غونډو کي وويل، هغه چمتو دی چي د افغانستان سره خبرو ته کښيني او د هندوستان سره زمونږ د سوي ټرون په څير يوه ټرون ته سره ورسيږو چي له مخي يې دواړه هيوادونه يو د بل په کورنيو چارو کي د لاسوهني څخه ډډه وکړي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 57 - 58).

۲۷جولائي/۱۵اسد

د عُظمٰی صدارت مرستيال ډاکټرمحمدحسن شرق د کابل ښار په شهرآرا کي د هاشم زيږنتون پرانيست.

۳۰جولائي/۱۸اسد

د کرکر د دبرو د سکرو(**کوئله**) د کان آمريت ته د زلزلې له امله لس مليونه افغانئ تاوان رسيدلئ دئ.

۳۰ جولائی ۱۹۷۴ء

د پښتونستان په اړوند د تبليغاتو د ردولو په ترڅ کي د پاکستان صدراعظم بټو څرګنده کړه چي د تيرو څو مياشتو په بهير کي تر څلويښتو زرو ډير افغانان په مزدوري پسي پاکستان ته رااوښتي دي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 58).

۱۴ګست/۱۳اسد

د پوهنې وزیر ډاکټر نعمت الله پژواک او د فرانس د پوهنې وزیر رنه ابي د پټې په پریکولو سره د مراسمو په ترڅ کې د استقلال د لیسې نوې ودانۍ چې ددې هیواد په مالي مرسته په عصري توګه بشپړه سویده په ګډه پرانسته.

۱۴ګست ۱۹۷۴ء

د پاکستان صدراعظم بټو وویل چې حکومت یې دا خبره تر پام لاندې نیولې ده چې په ناقانوني توګه د افغانانو د مخنیوي په توګه په بلوچستان کې د افغانستان سره تللې پوله وټړي او هم هغه هیواد ته د غنمو د ګوریزې یا قاچاق مخه ونیسي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 58).**

۱۶ګست/۱۵اسد

د فوائدعامې وزیرغوث الدین فائق د کاپیسا د لوی ولسوالۍ د کلالانو او خم زرګرځړک چې نوئ جوړ سوئ دئ، پرانیست.

۱۷ګست ۱۹۷۴ء

د پښتونخوا ایالت د کورنیو چارو وزیر وویل چې په سوابی، مردان او بونیر سیمو کې یې د تخریبي کړنو روزنځایونه موندلي دي، دې شوُونکو ته په افغانستان کې روزنه ورکول سوېده.

۱۸ګست/۱۷اسد

د ننګرهار ولايت د اچين ولسوالئ د معدن څخه د تلک د ايستلو کار د ننګرهار د والي لخوا پرانستل سو.

۱۸ګست ۱۹۷۴ء

د پاکستان د باندنيو چارو وزارت ويانډ د کابل پر راډيو د افغاني چارواکي دا تور رد کړ چې پاکستاني الوتکو يې پر خاوره تېری کړی دی.

۱۹ګست/۱۱۰اسد

د پوهنې د مديرانو سيمينار د پوهنې د وزير ډاکتر نعمت الله پژواک د خوا پرانستل سو.

۱۱ګست ۱۹۷۴ء

پاکستان په رسمي توګه ومنل چې ددې هيواد يوې نظامي چورلکي چې پينځه تنه ورپکې سپاره وو په تېروتنه د افغانستان پر خاوره ناسته کړېده.

۲۱ګست/۱۱۲اسد

د وزيرانو د عالي شورا په تصويب او ددولت د رئيس سردار محمد داود په منظوري په دريو مادو کي د محاسباتي دوسيو د مرحلو د تيرولو په اړوند د عظمْی صدارت د محاسباتو د پلټنې د رياست وړانديز ثبت او تصويب سو. هغه دوسيې چې انضباتي جزا او په وګړو باندې د باقياتو تحويلي پکې ده، د جزا د تطبيق د کار د چټکتيا او ګټورتوب د تامين او په دوی باندې د پاته پيسو د تحويل د پاره

دي پرته لدې چي څارنوالیو ته وړاندي سي، په نیغه توګه دي د محاسباتو د دیوان د ریاست د لاري حل او فصل سي.

۱۱۳ګست/۱۲۲اسد

د بیلو ولایاتو وګړو د نوي نظام د پیل څخه بیا تر اوسه د پوهنې د پرمختګ د پاره څه د پاسه درې ملیونه او اته سوه زره افغانئ مرسته کړې او څه د پاسه سل ښوونځي یې پخپل لګښت جوړ کړي دي.

♥ د روغتیا وزارت د اکسریز ریاست د سر کال د لومړیو څلورو میاشتوپه عائداتو کي د تیر کال د همدې مودې د عوائدو په پرتله درې سوه شپږ اویا زره او څه د پاسه سل افغانئ زیاتي سویدي

۱۱٦ګست/۱۲۵اسد

د سردار محمدداود د لارښوونې پر بنسټ اووه سوه دیرش جریبه مځکه د هلمند ناوې په پروژه کي په یو شمیر بې مځکو کورنیو وویشل سول.

۱۱۷ګست/۱۲٦اسد

د دولتي مطبعې د کارګرو د بیمې ډسپینسرۍ پرانستل سوه.

۱۱۸ګست/۱۲۷اسد

سردارمحمدداود د ولایاتو د پوهنې د مدیرانو سره د لیدنې پر مهال وویل چي د یوه ولس نیکمرغي هغه مهال تامینیدلای سي چي ټول په لوړو علمي معیارونو سمبال سي.

♥ د یو شمیر هغو وګړو نسبي دوسیه تر بشپړیدو وروسته دیوان حرب ته سپارل سویده چي په حربي پوهنتون کي یې د حکومت د

لوري په اردو کي د ترفيعاتو پر ضد لاريون کړئ وو، ديوان حرب ددوی په اړه دغسي پريکړه صادره کړې ده – حبيب الرحمان داعدام په سزا، محمدعطاءالله په عمري بند، غلام سخي او تورن حاجی محمد هر يو په پينځلس کاله بند، لومړئ بريدمن محمدعمر په لس کاله بند، بريدمن نورالدين، غلام دستگير او جگتورن محمدطاوَس هر يو په اووه کاله بند، تورن اخترمحمد په شپږ کاله بند، جگتورن عبدالمومن په څلور کاله بند، منتظم عبدالسبحان او تورن دوست محمد هر يو په درې کاله بند محکوم سوي دي. هغه شپې و ورځي چي جگتورن فضل باقي په توقيف کي تيري کړي دي، پوره شميرل سويدي.

۱۱۹اگست/۱۲۸اسد

د نوي دولت د تگلاري پر بنسټ د هلمند ناوې په پروژه کي يو شميرمستحقو او بې مځکو وگړو ته درې سوه اته ديرش جريبه مځکه وسپارل سول.

♥ د ولایاتو د پوهني د مديرانو سيمينار چي د اسد پر نولسمه نيټه په کابل کي پيل سوئ وو پای ته ورسيد.

۱۲۰اگست/۱۲۹اسد

د افغانستان سرې مياشتي ټولني د بنگله ديش د سيلاب ځپلو سره نغدي مرسته وکړه.

۱۲۱اگست/۱۳۰اسد

اريانا افغان هوائي شرکت په ۱۳۵۲ه ش کال کي څه د پاسه څوارلس مليونه افغانئ خالصه گټه کړيده.

♥ د کندهار ولايت د تازه ميوې ددريو مياشتو صادرات د تيرکال د همدومره مودې په پرتله اتيا سلنه (۸۰٪)ډير سوي دي.

۱۲۳ګست/۱سنبله

پر غروختونکئ د چيکوسلواکيا پلاوئ د لومړي جمهوري جشن په مناسبت نوشاخ ځوکي ته ختلئ او پاس يې ددواړو هيودونو بيرغونه وَرَپَوَل.

۱۲۴ګست/۲سنبله

د افغانستان د جمهوري دولت د بودجې نوې مقرره د مالیې وزارت په وړاندیز د وزيرانو د عالي مجلس د تصويب پر بنسټ او ددولت د رئيس په منظوري تر تطبيق لاندي ونيول سوه.

♥ د جوزجان د مرکز په جرقدوق کي د ګاز د پلټولو يوه څاه يا کوهي چې له واکه وتلئ او ګاز يې د مځکني فشار له امله هواته پورته کيدئ، د کورنيو او هم شوروي ماهرانو د ګډو هڅو په پائيله کي بند سو.

۱۲۵ګست/۳سنبله

د جمهوري دولت د کړنلارې پر بنسټ د هيواد د ولاياتو سل و پينځو بې مځکو کورنيو ته زر و دوه سوه او شپيته جريبه مځکه د هلمند په ناوه ولسولي کي وويشله سوه.

۲۹ ۱ګست ۱۹۷۴ء

د ايران د باندنيو چارو وزير په کابل کي وويل چې هيواد به يې هڅه وکړي د افغانستان و پاکستان تر منځ کړکيچ کم او دواړه هيوادونه يو بل ته سره نژدې کړي(**کابل راډيو**).

۱۳۰اګست ۱۹۷۴ء

د پاکستان د کورنيو چارو وزير افغانستان ته ګواښ وکړ چې هيواد يې په هيڅ توګه پخپلو کورنيو چارو کې د بل چا لاسوهنه نه سي منلای او کولای سي چې په ورته کړونو لاس پوري کړي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page59).

۲سپتمبر/۱۱سنبله

د مالیې وزارت په وړاندیز او د وزیرانو د عالي مجلس په تصویب او ددولت د رئیس په منظوري، د هغو موترانو خاوندان چې ګمرکي(کستم) سندونه ولري يا يې ونلري، کولای سي چې خپل موټران پرته د جريمې د رواني مياشتي تر يوويشتمي نيټې پوري محصول کړي، کنه نو د نيولو په صورت کي به دقانون سره سم مصادره او ضبط سي.

۳سپتمبر/۱۲سنبله

ديارلس زره، څلور سوه نيوي(۱۳۴۹۰) متره غالئ سړ کال د زمري په مياشت کي د تيرکال د همدې مودې په پرتله ډيري دباندي صادري سويدي.

د تخار ولايت مرکز د تالقان ښار جمهوريت واټ د بريښنايي ستنو يا خادو او مزو په لګولو روښانه سوئ دئ، پدې برخه کي د ډيزلي ماشينونو څخه کار اخستل کيږي.

۵سپتمبر/۱۴سنبله

د کرني د فعاليتونو د پراختيا او همدارنګه د ميکانيزه کرني د رواجولوپه موخه د بلخ ولايت کروندګرو ته د اسانو شرطونو له مخي پينځه شپيته ټراکټرونه او درو شپيته واټرپمپونه ورکول سويدي.

♥ د افغانستان نومیالئ شاعر ارواښاد عبدالغني مستغني د زيږيدني سلمه کالیزه په هغه ښوونځي کي چي د هغه خدای بخښلي په نامه یادیږي ولمانځل سوه.

٦سپتمبر/۱۵سنبله

د هلمند ولايت په ناوه ولسوالي کي بې مځکو کورنيو ته يو زر و څلور سوه، اتيا جريبه مځکه وويشل سوه.

٦ سپتمبر ۱۹۷۴ء

د اسلامي هيوادونو د ټولني ستر منشي د پيښور څخه کابل ته تر تلو وړاندي وويل چي هغه به د افغانستان د باندنيو چارو د مرستيال وزير وحيد عبدالله سره پر اړونده موضوعاتو خبري وکړي. هغه زياته کړه مور هڅه کوُو چي د ښې دوستی او وروروڼی داسي بنسټ کښيږدو چي پاکستان و افغانستان دواړو ته د منلو وړ وي(**کابل راډيو**).

۷سپتمبر/١٦سنبله

د سپنسيو د اوبدلو يوه نوې فابريکه د پينځه څلويښت ملیونو افغانيو په لګښت د سيد مرتضٰی د نساجي فابريکې په څنګ کي پرانستل سوه.

د فراه ولايت د کرني ليسه چي د شپږو ملیونو، شپږو زرو افغانيو افغانيو په لګښت جوړه سوې، د هغه ځای د والي په لاس پرانستل سوه.

۷ سپتمبر ۱۹۷۴ء



حضرت محمد مصطفیٰ کو آخری نبی کے ماننے کے خلاف تبلیغ قابل تعزیر جرم ہوگا

قادیانیوں کو دائرۂ اسلام سے خارج قرار دے دیا گیا

آئین اور قانون کی رُو سے آنحضور کے بعد ہر شکل اور ہر معنی میں نبوت کے دعوے کرنے والا اور سچے پیغمبر یا مذہبی اصلاح ماننے والا بھی غیر مسلم ہوں گے

قومی اسمبلی اور سینٹ نے آئین میں ترمیم کا بل متفقہ طور پر منظور کر لیا

مشرق

قومی اسمبلی نے قادیانی مسئلہ ہمیشہ کے لئے طے کر دیا ہے دوسرے مسائل بھی اسی طرح جلد سے حل کئے جائیں گے

پوری ملت اسلامیہ وزیر اعظم ذوالفقار علی بھٹو کی ممنون ہے



د ښي لوري: دويم مير غوث بخش بزنجو، دوالفقار علی بټو،شيربازمزاري، مولاناشاه احمد نورانی او مولانا مفتي محمود

د پاکستان ولسي جرګې(**قومي اسمبلی**) او د مشرانوجرګې(**سينيټ**) په ګډه هغه پريکړه ليک(**قرارداد**) ومانه چې له مخې يې قائدانيان په کافرانو ونومول سول.

۷ سپتمبر ۱۹۷۴ء

د امريکا د څارګري شبکې سيا(**C.I.A**) په افغانستان کې د کمونيستي حکومت پر ضد چې له شوروي اتحاد سره نژدې اړيکي لري، پټ عمليات پيل کوي. د سږ کال يو څه وخت سي آی اې په پاکستان کې د اورپکو روزنه پيل کړه او په افغانستان کې د راډيو پروپاګند بيمه کوي. د ۱۹۷۹ کال د اپريل په مياشت کې امريکايي چارواکي د افغان حکومت له مخالفينو سره د هغوی د اړتياوو د معلومولو په خاطر غونډه وکړه(**BLUM, 1995, PP. 344**)

۸سپتمبر ۱۹۷۴ء

د پاکستان و افغانستان اړيکو ته په کتو د اسلامي هيوادونو د ټولنې سرمنشي نن د پاکستان په ستر ښارکراچي کې وويل چې ددې دواړو هيوادونو اړيکي دري مياشتي زما تر يون وروسته نوري نازکي او سنګيني(**Critical and Serious**) سويدي.هغه پر دې خبره ټينګار وکړ چې سمدستي ددغسي ګام اخستلو اړتيا ده چې ددواړو هيوادونو تر منځ ټولي ستونځي په دائمي توګه اواري سي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 59).

۱۰- ۱۴سپتمبر/۱۹-۲۳سنبله

د جمهور رئیس سردارمحمدداود ورور او ځانګړئ استازئ سردارمحمدنعیم او د باندنیو چارو مرستیال وزیر وحیدعبدالله نن د کابل ځخه ماسکو ته په پینځه ورځني یون ورسیدل، پلاوی د شوروي اتحاد د مشرانو لیونیډ بریژنیف او الیکسي کوسیګن سره وږغید، د خبرو بنسټیزه موضوع د افغانستان او پاکستان تر منځ وراني اړیکي او سیمي ته ور پیښ خطر وه، سردار محمد نعیم په ځانګړې توګه د اقتصادي همکارئ په بهیر کي د عینک او حاجیګک کانونو ځخه د مِسو او اوسپیني د را ایستلو د پاره د شوروي اتحاد مالي مرستي ته اشاره وکړه خو شوروي مشرتابه، په بیا به یې ګورو کي جواب ورکړ. د پاکستان په لړ کي شوروي مشرانو افغاني پلاوي ته د نورو وسلو د ورکولو ډاډ ورکړ. سردار کوسیګن ته وویل چي وړاندیز به یې جمهور رئیس ته ورسوي (**د افغانستان سقوط، د افغانستان د باندنیو چارو وزارت د باندنیو اړیکو د رئیس عبدالصمد غوث انګلیسي کتاب، د ډاکټر شیرزمان طائزي پښتو ژباړه، ۱۹۵-۱۹٦مخونه، ددانش خپرندویه ټولنې لخواپه کال ۱۹۹۹ء خپور سو**).

۱۱سپتمبر/۲۰سنبله

د پوهنې وزیرډاکټر نعمت الله پژواک په غزني ولایت کي د اووه سوه ښوونکو د ښوونې او روزنې د کیفیت د ښه والي په موخه جوړ سوئ سیمینار پرانیست.

۱۷سپتمبر/۲۶سنبله

د قره قل یو سل و شپږ اویا زره، نهه سوه شپږ پوستوکي په یو ملیون، څلور پینځوس زره، پینځه سوه، اووه دیرش سټرلنګ پونډه په لندن کي د افغاني قره قل پوستوکو په لیلام کي پلورل سویدي.

۱۸سپتمبر/۲۷سنبله

د جمهوري ریاست د ارګ په جومات کي ددولت رئیس او صدراعظم سردارمحمدداود په ګډون د تراویحو په لمانځه کي د قرآن کریم ختم پیل سو.

۲۱سپتمبر/۳۰سنبله

د تصدیو قانون په اوو څلویښتو مادو کي او همدارنګه د کانو او صناعیو وزارت په چوکاټ کي د بلخ د جن او پرس او تیل ایستلو موسسې د اساسلیک په یوولسو مادو کي د رسمي جریدې په یوُولسمه او دوُولسمه ګڼه کي خپاره او نافذ سویدي.

۲۴سپتمبر/۲میزان

د هرات والي د هغه ولایت د غوریانو ولسوالۍ د مرکز د چښلو د صحي اوبو د پروژې لومړۍ پړاو پرانیست.

♥ شپاړس ټراکټرونه، نولس هرهټونه، او درو اویا واټرپمپونه د کرنې د بانک نمائندګۍ د سږکال په لومړیو شپږو میاشتو کي د نیمروز او فراه ولایتونو کروندګرو ته په پور ورکړي دي.

۲۵سپتمبر/۳ميزان

د جغندرو د کرنې د ودې د پاره د بغلان د قند د شرکت لخواځه د پاسه ديارلس مليونه افغانئ د جغندرو کروندګرو ته د تقاوئ په توګه ورکول سويدي.

۲۷سپتمبر/۵ميزان

د کندز د عالي دارالمعلمين د تجربوي ښوونځي کتابتون د کندز والي عبدالرزاق عابدي پرانيست.

۲۸سپتمبر/٦ميزان

د وزيرانو عالي مجلس د ټيو د استقرار د سياست تمديد تصويب کړ، د دغې پريکړې له مخې د روان کال تر پايه پورې د يو شمير لومړنيو د عامه اړتيا وړ توکو په اړه د ټيو د استقرار سياست دوام وکړي.

۲۹سپتمبر/۷ميزان

د دارالامان د وريښمو د چينجيو د فارم د پروژې د وريښمو د غوزو حاصلات سږ کال په دوُو کمپائنونو کې د تير کال د کمپائن په پرتله په سلو دوه سوه ډير سوئ دئ.

۳۰سپتمبر/۸ميزان

سږ کال د هرات،بادغيس، بدخشان، بلخ، کندز، جوزجان، ننګرهار او لغمان ولايتو د وريښمو د چينجيو خاوندانو ته شپاړس زره، نهه سوه او يو شپيته جعبې تخم ورکول سوئ دئ چې د هرې جعبې حاصل يې د اتو او نهو کلوګرامو ترمنځ دئ

۱۱اکتوبر/۹میزان

د مولانا جلال الدين بلخي د ستر شخصيت او د هيواد ددغه ستر عارف د کارنامو په اړه سيمينار د اطلاعاتو اوکلتو د وزيرپوهاند ډاکټرعبدالرحيم نوين

۱۲اکتوبر/۱۰میزان

د دولتي انحصارد موسسې اساسنامه چې شپږ فصله او پينځه ويشت مادې لري، د رسمي جريدې په ديارلسمه ګڼه کي خپره او نافذه سوه.

۱۵اکتوبر /۱۳ میزان

د باندنيو چارو وزارت ويانډ د امريکا نيوزويک مجلې(**د۳۳۰سپتمبر۱۹۷۳ء**) ادعا ته د اشارې په ترڅ کي چې د سرطان په سپينه کودتاه (۱۷جولائي,۱۹۷)کي شوروي اتحاد لاس درلود، د امريکا دخارګري شبکې سيا **(C.I.A)** د فکر خيالي ځيرنده وبلل چې خپلې ناوړه کړني په پټې کاندي. دا يو ملي خوځښت وو چې د هيوادپالو افغانانو لخوا د کورنيو لاملونو له مخي وسو. افغانانو هيڅکله هم د باندنيو لخوا مستقيمه او نامستقيمه لاسوهنه نه منلې ده او نه به يې ومني(**د کابل راډيو مابنامني پښتو خبرونه**).

۱۵اکتوبر ۱۹۷۴ء

د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو يو ليک د ملګرو ملتو او د اسلامي ټولني سرمنشيانو او هم د اسلامي هيوادونو مشرانو ته يو ليک واستاوه، په ليک کي د افغانستان د لوري د پاکستان په کورنيو چارو کي پر دوامدارو لاسوهنو کلک خښم او خواشيني څرګنده سوېده.

۱۷اکتوبر ۱۹۷۴ء

د پاکستان د باندنیو چارو د وزارت ویاند د خپلو خبرو پر مهال د پاکستان پر خاوره د افغانستان د باندنیو چارو د مرستیال وزیر وحید عبدالله د پاکستان پر خاوره د ملکیت ادعا بې بنسټه او د ملګرو ملتونو له منشور سره په ټکر کې وبلل.

۱۸اکتوبر ۱۹۷۴ء



د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو مطبوعاتي غونډې ته وویل چې هغوی د ګواښونو څخه نه ډاریږي او دومره زور لري چې د هر ډول یرغلګر سره یې سپینه کړي. هغه د پاکستان او افغانستان په شخړه کې د کوم زبر ځواک د لاسوهنې یا مداخلې امکان هم رد کړ **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 60).**

۹ اکتوبر ۱۹۷۴ء



په ملګرو ملتو کي پاکستاني استازي آغا شاهي ددې سازمان عمومي غونډې ته په وينا کي د پاکستان پر سيمه د افغانستان ادعا په کلکه وغندل او زياته يې کړه چې ددواړو هيوادونو تر منځ پولي په روښانه توګه تعريف سوي،پر مځکه مشخص سوي او هم په نړيواله کچه پيژندل سويدي(**لوړ ماخذ، ٦١ مخ**).

۱۰ اکتوبر ۱۹۷۴ء

د ملګرو ملتو عمومي غونډې ته پدې سازمان کي د افغانستان دائمي استازي پخپله وينا کي پاکستان د پښتونستان په اشغال تورن کړ او زياته يې کړه چې افغانستان د پاکستان سره اوسنۍ پوله په رسميت نه پيژني(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۱ اکتوبر /۱۹ میزان

د باندنيو چارو وزارت د پاکستاني صدراعظم ذوالفقارعلي بټو ددې ادعا په جواب کي چې د باندنيو چارو وزارت سياسي معين د امريکايي ورځپاڼي واشنګټن پوسټ ورځپاڼي خبريال ته ويلي دي

که د افغانستان و پاکستان تر منځ دښمني پیښه سي، شوروي اتحاداو هندوستان به د افغانستان په پلوي مداخله وکړي، ویلي دي چي دا د بټو دخپل فکر زیږنده ده.د باندنیو چارو وزارت د معین د مرکې متن وړاندي لا خپور سوئ دئ چي د بټو د وینا بې اساستوب او جعلي توب ثابتوي.افغانستان په وارار ویلي دي چي د پاکستان سره یې د سیاسي اختلاف د خلاسون لار د سولئیزو وسائلو سره بې قیدوشرطه د خبرو کولو لاره ده. افغانستان به د تیر په څیر تل خپلو هڅو ته دوام ورکوي(**د کابل راډیو مابنامني پښتو خبرونه**).

۱۲ اکتوبر /۲۰ میزان

د سردارمحمد داود د لارښوونې پر بنسټ په سل و دو اویا(۱۷۲) مستحقو کورنیو د غوربند په اوبو لګولوپه نوې پروژه کي مځکه ویشله کیږي.

۱۲ اکتوبر ۱۹۷۴ء

په عامه چارو کي د پاکستان د دولت وزیر(**Minister of state in Public Affairs**) وویل چي د کابل راډیو د پښتونستان په تشو تبلیغاتي نارو به قبائل هیڅکله هم بې لاري نه سي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 61).**

۱۳ اکتوبر ۱۹۷۵ء

د پاکستان د ملي جرګې یا قومي اسمبلی **(National Assembly)** د قبائلي سیمو دریو غړو وویل هغه وګړي چي دلته په بمي چاودنو کي لاس لري، د افغانستان ایجنټان دي(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۵ اکتوبر ۱۹۷۴ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند وویل چې افغاني مشرانو له نړیوالو خبریالانو سره په خپلو مرکو کې شیطاني چلند غوره کړی او هڅه یې کول چې د هغو ستونځو په اړه چې د دوی د پرسونل په ګډون د یوې پاکستاني چورلکې د عملې په شمول چې د اګست په میاشت کې د افغانستان خاوري ته ور اوښتي وو، چې په اړه یې توند نظرونه وړاندي کړل، افغاني چارواکو بیرته راوسپارل (**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۶ اکتوبر /۲۴ میزان

سردارمحمدداود د قاري محمدعمر په امامت د نیکمرغه کوچني اختر لمونځ دارګ په جامع جومات کې ادا کړ.

۱۶ اکتوبر ۱۹۷۴ء

په کوټه کې مطبوعاتي غونډې ته د پاکستان صدراعظم ذوالفقارعلی بټو وویل چې افغانستان زمونږ د مخالفینو روزنه کول، په بلوچستان ایالت کې د ستونځو او هم په پاکستان کې د بمي چاودنو تر شا لاس لري.بټو پدې پیښو کې د شوروي اتحاد لاس درلودل رد کړل او زیاته یې کړه چې ایران هڅه کوي چې د افغانستان و پاکستان تر منځ د دوستی اړیکي ورغوي.هغه ماسکو ته د راتلونکي په اړوند د هغه هیواد د چارواکو سره د پراخو خبرو هیله مندي څرګنده کړه **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 62).**

۱۸ اکتوبر /۲۶ میزان

د دولت د رئیس سردارمحمدداود په پیغام سره چې د راډیو افغانستان پر څپو خپور سود سرې میاشتې ځانګړې اوونۍ په ټول هیواد کې پیل سوه.

۱۹ اکتوبر ۱۹۷۴ء

پاکستان حکومت د بلوچستان د اوضاع په اړوند یوه سپینه پاڼه **(White Paper)** خپره کړه چې ورپکې د افغانستان د لوري دا تورونه په کلکه رد سویدي چې د پاکستان د هوائي ځواک الوتکي په بلوچستان ایالت کې د نظامي عملیاتو په بهیر کې دګوزارونو لپاره کارول کیږي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 62).**

۲۰ اکتوبر /۲۸ میزان

د کانو او صناعیو وزیرپوهاند عبدالقیوم د پلخمري د بیورائټو(**Burite**) د میده کولو دستګاه پرانسته.

د تورغونډۍ،شیرخان بندراو حیرتان بندر د تصدیواساسنامې د رسمي جریدې په څوارلسمه ګڼه کې خپوراو نافذ سوئ دئ.دغه اساسنامې دسوداګرۍ د وزارت د وړاندیز پر بنسټ د وزیرانو عالي مجلس تصویب کړی او ددولت رئیس منظور کړئ دئ. ددې دریو بندرونو اساسنامې هره یوه څوارلس اساسنامې لري.

۲۲اکتوبر /۳۰ میزان

د جنوبي آسیا د سیمئیز سیاحت کمیسیون دریمه غونډه په کابل کې د ملکي هوائي عمومي او ټوریزم عمومي رئیس سلطان محمود غازي پرانسته.

۱۲۳اکتوبر/۱عقرب

سردارمحمدداود نن پردوو بجو د جشن د سيمې په چمن کې د بزکشۍ لوبه وکتل، د قهرمانۍ ستر بيرغ او کپ يې د تخار ولايت د ټيم رئيس ته ورکړ.

۱۲٦اکتوبر/۴عقرب

دافغانستان د تيلو د موسسې قانون د رسمي جريدې په پينځلسمه گڼه کې خپور او نافذ سوئ دئ، دغه قانون پينځه فصلونه او اووه مادې لري.

۱۲۷اکتوبر/۵عقرب

د تير کال د نيمايه او تر اوسه د کابل ښار په حوضه کې د ليک لوست د زده کولوسل و دوولس (۱۱۲) کورسونه نوي جوړ سوي دي.

۲۷ اکتوبر ۱۹۷۴ء

د پاکستان د بلوچستان ايالت والي وويل چې افغانستان يې دې ولايت ته د سيمئيزو وگړو ورانيو ته د لمسولو او روزلو په موخه روزل سوي وگړي ور د ننه ايستلي دي.

۱۲۹اکتوبر/۷عقرب

د موټرانو د حق العبورمقررات په پينځو فصلونو او اته څلويښت مادو کې د رسمي جريدې په شپاړسمه گڼه کې خپاره سوي او نافذ سوي دي.

۱اکتوبر

د شوروي اتحاد د دفاع وزارت مرستيال مارشل موسکولينکو په مشري پلاوئ کابل ته ورسيد، هغه به د افغاني لوري سره د وسلو پر ليرد او نظامي روزنه خبري وکړي.

۱نومبر/۱۰عقرب

د امریکا د باندنیو چارو وزیر ډاکټر هینري کیسنجرکابل ته ورسید.د باندنیو چارو وزیر وحید عبدالله او داقتصاد وزیر علي احمد خرم یې پر خواجه رواش هوائي ډګر هرکلئ وکړ



هنري کیسنجر، کې لورته د پلان وزیر علی احمدخرم، ورپسې عبدالصمدغوث او کې لور ته د باندنیو چارو وزیر وحید عبدالله

سردار محمدداود د امریکا د باندنیو چارو وزیر هینري کیسنجر د جمهوري ریاست په مانۍ کي د لیدني د پاره ومانه.دواړه لوري پر دوه اړخیزو اړیکو،نړیوالو ستونزو او هم پدغه سیمه کي د حالاتو د پرمختګ په اړه سره وږغیدل.

♥ دخبرو متن

ګډونوال: افغاني لوری: سردار محمد نعیم (**د ولسمشر سردار محمد داود ورور او د هغه د باندنۍ تګلاري سلاکار**)، وحید عبدالله(**د باندنیو چارو وزارت مرستیال**)، عبدالصمد غوث(**د باندنیو چارو وزارت د سیاسي چارو د څانګې عمومي رئیس**)

امریکائي لوری: ډاکټر هنري کیسنجر(**د باندنیو چارو وزیر او د ملي امنیت په چارو کې د ولسمشر مرستیال**)

تیوډور ایل. ایلیټ(**په کابل کې د امریکا سفیر**)

الفریډ اتیرټن.جونیر(د نژدې ختیز او سویلي آسیا په چارو کې د بهرنیو چارو وزارت مرستیال

ایل. بروس لاینګن (**د نژدې ختیز جنوبي آسیا په چارو کې د باندنیو چارو د وزارت مرستیال**)

پیټر ډبلیو. روډمن، د NSC کارمندان

نیټه او وخت: جمعه، لومړی نومبر ۱۹۷۴ء

د سهار لس بالا لس بجې – د غرمې یوُولس نیمي بجې

ځای: د باندنیو چارو وزارت

کابل، افغانستان

(غونډه یوازې د مرستیال وزیر عبدالله په دفتر کې پیل سوه)

عبدالله: یو ځل بیا د افغان حکومت په استازیتوب کابل ته ښه راغلاست وایم.

کیسنجر: مننه.

عبدالله: کله چې ټيلې (**ايليوټ**) ما ته خبر راکړ يا ما ټيلې ته خبر ورکړ چې تاسو (خندا) راځئ، زه ډير خوشحاله وم.

ايليټ (**کيسنجر ته**): زه فکر کوم چې تاسو په نيويارک کې د دوی چارج ډي آفيئرز خبر کړی.

عبدالله: زه فکر کوم چې ستاسو خبري به د افغان او امريکا د اړيکو د راتلونکي لپاره ګټوري او مثبتي وي. کله چې زه په واشنګټن کې وم او د باندنيو چارو په وزارت کې مي له ښاغلي انګرسول او نورو همکارانو سره خبري وکړې، ډېر خوښ وم. فکر کوم چې اوس امريکا د نړيوالو چارو په اړه زمونږ په نظر ښه پوهيږي. په حقيقت کې يواځنی‌ستونزه چې مونږ يې لرو هغه د پاکستان سره ده. ډاډه يم چې ستاسو ليدنه به زمونږ اړيکي نوري هم پياوړي کړي او زمونږ د لوري به ښه نظر وويني.

کيسنجر: زه ډاډه يم چې دا به ښه اړيکه نوره هم پياوړې کړي. او همدارنګه زه دلته يم چې په شخصي توګه د مشرانو سره ووينم، مخامخ تماس تر ټيليفوني تماس غوره دی. مونږ ته ستاسو نظر معلوم دی او ستاسو د نه همغږۍ درناوی کوُو. مونږ ته تل ويل کيږي چې تاسو د خپلو نورو ګاونډيانو په اړه انديښمن ياست.

عبدالله: مونږ په سيمه کې يواځې سوله او سکون غواړو او له خپلو سرچينو څخه د پرمختګ، اقتصادي او ټولنيزو چارو لپاره کار اخلو. جګړه زمونږ لپاره ښه نه ده.

کيسنجر: دا په ښکاره ډول رشتيا ده.

عبدالله: زمونږ يو ګاونډی نه غواړي چې ستونزه حل کړي.

کیسنجر: تاسو باید تشریح کړی چې تاسو څه غواړی. ځکه چې پاکستانیان به هیڅ سیمه نه پریږدي.

عبدالله: موږ هیڅ سیمه نه غواړو. دا د پاکستانیانو غلط فهم ده.

(پر پاوبالا لس بجې ټول میلمانه د سردار محمد نعیم دفتر ته ولاړل، ددې او عبدالصمد غوث لخوا یې هرکلی وسو.مطبوعات د عکسونو لپاره د لنډې مودې د پاره ومنل سول)

کیسنجر: ما مخکې په هوایي ډګر کې زما له یوه افغان زده کوونکي سره لیدلي وو. هغه په هارورډ پوهنتون کې زده کړه کول.

سردارنعیم: موږ دلته تاسو ته ښه راغلاست وایو. زموږ یواځنی افسوس پر دې دی چې یون مې دیر لنډ دی او مصروفیتونه مو ډیر دي، خو بیا هم ستاسو په راتلو ډیر خوشاله یو.

کیسنجر: زه ستاسي د درانه هرکلي څخه ډیره مننه کوم.

سردار نعیم: زه به یواځي په لنډه توګه د هغه خبرو یادونه وکړم چې موږ ته یې ګټه رسیږي.

لومړۍ خبره د افغانستان او امریکا ترمنځ اړیکي دي. افغانان غواړي چې د امریکایانو سره تل ښې اړیکي، تفاهم او نیک نیت ولري. دا نه یواځي یوه هیله ده، بلکې د افغانستان جیو پولیټیکل وضعیت تل د دې اړتیا درلوده چې موږ له امریکا سره ښه او نژدې تفاهم ولرو. په سیمه کې د سیاسي شتون له امله کله ناکله زموږ په اړیکو کې غلط فهمی رامنځته کیدای سي، خو هیله مو تل دا ده چې غلط فهمی لیرې کړو او تاسو سره نژدې او دوستانه اړیکي ولرو. زموږ هیواد لیرې او هم کوچنی دی، کیدای سي چې د امریکا د ګټو څخه وتلی وي.

خو د افغانستان د جغرافیایي موقیعت له امله موږ تل په دې اند یو چې د امریکا شتون ته مو اړتیا ده. نو موږ هیله لرو چې د باندنیو چارو د وزیر یون به زموږ د دواړو د هیلو سره سم دا تفاهم ته وده ورکړي.

افغانستان یو کوچنی پرمختللی هیواد دی او د پرمختللو هیوادونو د مرستو د جلبولو لپاره طبیعي خبره ده او موږ تل د امریکا د مرستو د جلبولو هیله درلوده چې تل یې هرکلی کیږي او موږ ورته ډیر ارزښت ورکوُو. لکه څنګه چې تاسو پوهیږی، ښاغلیه، موږ په افغانستان کې د امریکا په مرسته په هلمند کې یوه لویه پروژه پیل کړه. د ټولو مرستو سره سره، دا لا تر اوسه بشپړ سوی نه دی. موږ باور لرو، پرته له ډیرو پیسو، دا باید پای ته ورسیږي، او یو بار نه وي بلکې بریالیتوب وي. دا پروژه چې د هلمند په پورتنۍ ناوه یا دره پورې اړه لري، په داسي وخت کې چې نړۍ د خوراکي توکو له لوی بحران سره مخ ده، د افغانستان لپاره بنسټیز ارزښت لري. ځکه چې د افغانستان لپاره د اوبو هر څاڅکی ژوند دی او موږ ورته د خوړو لپاره اړتیا لرو. په اصل کې موږ د دې پروژې د پراختیا لپاره مرسته غواړو. د دې حقیقت سره سره چې دا یوه اوږدمهاله پروژه بلل کیږي، دیرش کاله وړاندې پیل سوې ده. هیله من یو چې په راتلونکو لسو کلونو کې به د دې کار د پای ته رسولو لپاره امریکا مرسته وکړي.

اوس غواړم چې د افغانستان د باندنۍ تګلاري او سیمې په اړه د باندنیو چارو وزیر ته معلومات ورکړم.

لومړی به د هغې روښانه اړخ بیان کړم (**خندا**) - بیا به د ستونزو یادونه وکړم.

د ایران سره مو اړیکي خورا نژدې او دوستانه دي. موږ په مختلفو برخو کي د نژدې همکاری لپاره تفاهم ته رسیدلي یو او دا زموږ هیله او تمه ده چي دا ملګرتیا به د آسیا په دې برخه کي د ثبات لپاره یو عامل وي.

په سیمه کي یو بل مهم هیواد هند دی. موږ ډیرې نژدې اړیکي ورسره لرو، کولای سو دا نژدېوالی پراخ کړو او ملګرتیا نژدې کړو.

د شمالي ګاونډي هیواد شوروي اتحاد سره خورا نژدې اړیکي لرو، او د کلونو په اوږدو کي، موږ دوستانه اړیکي جوړې کړي دي. د شمال د لوري موږ د ډیر خوندیتوب احساس کوو.د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ همکاري ډېره نژدې سوې ده. دوی د افغانستان په ډېرو پروژو کي له موږ سره مرسته کړې ده. موږ پوهیږو چې زموږ نژدې همکاري زموږ په هېواد کي د ایډیالوژیکي لاسوهنې په معنا نه ده.

زموږ بل ګاونډی چین دی. له چین سره موږ ویلای سو چي زموږ اړیکي سمي دي. د چین ولسي جمهوریت ماته د رسمي سفر بلنه راکړه او هیله لرم چې په یوه میاشت کي به زما سفر د لا زیات تفاهم لامل سي.

کیسنجر: موږ ممکن هلته (**خندا**) سره ووینو.

نعیم: زه به خوشحاله سم چي هلته له تا سره ووینم.

اوس به ستاسو په اجازه د تیاره اړخ په اړه یو څو ټکي ووایم.

کیسنجر: تاسو وویل چي د شوروي اتحاد سره مي اړیکي ښې او د چین سمي دي. ایا کولای سئ چي د پاکستان په اړه یو صفت وکړی؟ (**په خندا**).

سردارنعيم: تر هغه چې پر افغانستان پوري اړه لري، زمونږ اړيکي سمي دي. د دې حقيقت له امله چې مونږ ډير وخت نه لرو، زه غواړم تاسو ته د تاريخي شاليد توضيحات درکړم. زه ډاډه يم چې دا ټول ستاسو د سفارت په فائلونو کې دي.

هينري کيسنجر: هلته ډير نور شيان موندل کيږي، مونږ نسو کولای دا ترتيب کړو. له دې يون څخه د خلاسون لپاره به سفير شپږ مياشتي وخت ونيسي. (**خندا**).

سردارنعيم: مونږ د تير نه بلکې د راتلونکي په اړه خبري کوُو. په تيرو مياشتو کې پاکستان پر افغانستان داسي تورونه لګولي چې په بشپړه توګه درواغ دي. يو له لومړنيو تورونو څخه دا دی، دوی ادعا کوي چې مونږ د پاکستان د ويجاړولو او ماتولو لپاره کار کوُو. مونږ دا ادعا په کلکه ردوُو. مونږ په هيڅ صورت د پاکستان د ړنګيدو تمه يا وړاندوينه نه کوُو او نه يې غواړو او په دې برخه کې هيڅ هم نه سو کولای.

د وخت د نشتوالي له امله زه نسم کولای چې پر تاريخي شاليد وږغيږم، مګر يو شی بايد په واضح ډول ووايم چې پر پښتونستان او بلوچستان فشار راوړل افغانستان نسي ځغملای. هره ورځ د پاکستان له خوا د دغو وګړو(**پښتنو و بلوځو**) پر ضد د ځواک کارول وضعيت نور هم خرابوي. پاکستان پر ځای پر ځای ددې چې په خپل اساسي قانون کې دې ستونزي ته سولئيزه لار ولټوي، له زور څخه کار اخلي. د افغانانو احساسات د تاريخي شاليد له امله د وضعيت په اړه بې پروا نسي پاته کيدلای. مونږ بايد دا هير نکړو چې دا دوې سيمې د

افغانستان برخه ده او برخه وه خو د استعمار له خوا له خپل وطن څخه جلا سویدي. له دې سره سره موږ پر پاکستان د خاوري ادعا نه لرو او نه غواړو چې دا هېواد ړنګ سي. که له یوې خوا د پاکستان حکومت د اساسي قانون له مخي دغو کسانو ته حقوق ورکړي او له بلې خوا یې له ځانه سره بوځي، موږ بې پروا نه سو پاته کیدلای.

ښاغلي هینري کیسنجره! په دې وروستیو کي په ټوله نړۍ کي په خپل سوله ساتي رول کي خورا فعال یاست او بریالیتوبونه مو هم ترلاسه کړیدي. موږ هیله لرو چې دلته به مو هم یون بریالی وي چې د دې ستونزي د حل لپاره د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تفاهم په موندلو کي مرسته وکړی.

کیسنجر: هیڅا زما څخه غوښتنه نه ده کړې چې له زر کالني ستونزي سره معامله وکړم(**خندا**).

سردار نعیم: په منځني ختیز کي د پایلو او ستاسو د بریالي سفرونو څخه موږ هیله لرو چې تاسو یو څه وکړئ. د دې زر کلنې ستونزي لپاره هم (**خندا**).

سردار نعیم (کنټ): که د پاکستان حکومت پدې هیواد کي د مېشتو ببلا بیلو وګړو تر منځ د تفاهم په راوستلو کي بریالی سي، زموږ د دواړو هیوادونو ترمنځ د تفاهم او همکاری پراخه ساحه سته. دا په لنډه توګه زموږ او پاکستان ترمنځ وضعیت وو، او موږ هیله لرو چې پاکستان وکولای سي چې خپلو وګړو ته د حل لاره وموميِ، چې زموږ د وګړو د احساساتو د رضایت لامل سي.

دا زموږ د کیسې بد اړخ وو(**په خندا**). او تاسو یې لیدلای سئ، تر هغه حده چې په موږ پورې اړه لري، دا واقعیتا ډیر بد ندی.

هینري کیسنجر: د هوایی ډګر پیلوټ یو ځل وویل: "بد خبر دا دی چې موږ ورک سوي یو. ښه خبر دا دی چې موږ ډیر ښه وخت جوړوو" (**خندا**).

عبدالله: زه فکر کوم چې تاسو په افغانستان کې سم لوری موندلی دی (**خندا**).

سردارنعیم: د جګړې د دې خطر په دې ټولو کلونو کې ستاسو هڅې په حقیقت کې د وګړو په منځ کې د ښه پوهاوي په راوستلو او د توقیف په وده کې مهم رول درلود او موږ په افغانستان کې ستاسو د هڅو ستاینه کوُو. زموږ په څیر کوچني هیوادونه دعا کوي او هیله لري چې پدې برخه کې ستاسو هڅې بریالۍ سي. زه ستاسو په اختیار کې یم که تاسو د کومې نقطې وضاحت غواړئ.

کیسنجر: زه ستاسو د توضیحاتو یا پریزنټشن ډیره ستاینه کوم او دا ماته د افغانستان په فکر کې خورا چټک او خورا ښه بصیرت راکوي. اجازه راکړی چې زموږ د نظرونو په اړه یو څه مشاهده وکړم، او زه کولای سم له پاکستان سره ستاسو د اړیکو په اړه یو څو پوښتنې وکړم.

تر ټولو لومړی له افغانستان سره د امریکا علاقه د هغه خپلواکې او حاکمیت دی. موږ په کوم غالب یا ځانګړي یا ځانګړي موقف کې لیوالتیا نلرو. زه دا د دې لپاره وایم چې موږ دا په بشپړ ډول طبیعي ګڼو چې تاسو د خپل شمالي ګاونډي سره ښې اړیکي ولرئ. د دې

ستونزي لپاره موږ ستاسو د شمالي ګاونډي سره ښې اړیکي لرو. د افغانستان د مشرانو لپاره دا ټول د نه منلو وړ او اړینه پالیسي ده.
موږ دا هم پوهیږو چې تاسو ولي دلته د امریکا شتون غواړئ، او موږ چمتو یو چې پدې کي همکاري وکړو. او زه هم موافق یم چې دلته زما لیدنه کولای سي پدې برخه کي ګټور رول ترسره کړي.
نو د افغانستان د تګلاري په بنسټیز اړخ موږ پوهیږو. موږ پوهیږو چې که افغانستان د یوې ناپیلي ډلي برخه وي، یواځنی ټکی چې زه یې باید په دې اړه وکړم دا دی چې ډیر ژر به د ناپیلو هیوادونو ټولنه د نړۍ ترټولو لوی بلاک سي. بلاک د واحد په توګه رایه ورکوي، ځکه چې بیا د رغنده باندنۍ تګلاري ترسره کول تقریبا ناممکن دي.
موږ په اصولو کي په افغانستان کي خپل شتون ته چمتو یو.
د ځانګړي پروژې په اړه، اجازه راکړئ چې دوه شیان ووایم: د هلمند د ناوې د پروژې په اړه یو څه عمومي پوهه لرم. زما په فکر غوره لاره دا ده چې په راتلونکو څو اوونیو کي چې زموږ د مرستندویه ادارې څخه یو لوړ پوړی چارواکی دلته راسي، تاسو د هغه او زموږ د سفیر څخه د ځانګړو پروژو په اړوند غوښتني کولای سئ.
ټیډ، ایا تاسو هڅه کولای سئ؟
ایلیټ: زه به هڅه وکړم.
هینري کیسنجر: هغه دلیل چې زه یې تاسو ته وایم، کله چې د کاغذ کار ډیر سي په یاد ولرئ چې زه څه رنځ لرم. دا د افغانستان پر ضد نه دی. په جدي توګه، موږ غواړو ستاسو سره زموږ په وسیلو کي او د امکان تر حده په ګټوره توګه مرسته وکړو.

سردارنعیم: زه غواړم تاسو ته ووایم چې په څو لنډو کلونو کې موږ د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره پلانونه پیل کړي، موږ فکر کاوه چې په څو کلونو کې به د ډیموکراتیک جوړښت لامل سي. د دې حقیقت سره سره چې د افغاني ژوند لاره د ژوند ډیموکراتیکه لاره ده او زموږ وګړي خپل ورځني ژوند په ډیموکراتیک جوړښت کې تیروي،

د افغانستان د اوسني حکومت موخه او هیله دا ده چې ډیموکراسي په داسي طریقه جوړه سي چې د افغانانو لپاره مناسبه وي. موږ باید په راتلونکي کې د خپلو قوانینو په جوړولو کې ډیر محتاط واوسو. کله چې اساسي قانون جوړ سي، باید د وګړو د پوهاوي او بلوغ سره مطابقت ولري. لکه څنګه چې تاسو وویل، ښاغلیه! اوسني شرایط ممکن وګړو ته فرصت ورکړي چې شخصي پریکړي وکړي، مګر موږ د اوسني جوړښت له شتون او اوږدوالي څخه راضي نه یو.

کیسنجر: دا خورا په زړه پوری دی، او موږ به په ډیره لیوالتیا سره وګورو.

د باندنۍ تګلاري په اړه چې تاسو د شوروي اتحاد سره کومې اړیکې لرې، د هغه څخه موږ هیڅ اندیښنه نلرو. په هرصورت، تاسو د خپې خپلواکۍ په ساتلو کې یو څه تاریخ لرئ. له همدې امله موږ دا طبیعي پالیسي ګڼو.

موږ له چین او شوروي اتحاد دواړو سره ښې اړیکې لرو. کله چې تاسو چین ته سفر کوئ تاسو به ومومئ چې دوی ستاسو د شمالي ګاونډي شوروي اتحادپه اړه په ورته دوستانه شرایطو کې خبرې نه

کوي لکه څنګه چې یې تاسو کوئ (خندا) مګر دا د دوی ستونزه ده، او موږ په دې شخړه کې شکیل نه یو.

موږ مو هرکلی کوُو که تاسو د چین له ولسي جمهوریت سره خپلې اړیکي ښې کړئ، خو بیا دا ستاسو خبره ده. دوی ډیر اندیښمن وو کله چې ستاسو د دولت مشر (**سردار داود**) واک لاسته کړ، دوی موږ ته دا خبره وکړه او فکر یې کاوه چې تاسو به د شوروي اتحاد تګلاره وغزوی. ستاسي د حکومت په راتلو د ایران د باچا په ذهن کي پوښتني وې.د هند په اړوند موږ واقعًا هیڅ تبصره نلرو.

اوس د پاکستان په اړه. زه په بشپړ ډول روښانه نه یم چې تاسو له پاکستان څخه څه غواړئ. زه فکر کوم چې د جګړې پرته سیمئیز بدلون ناممکن دی، موږ د شخړې د سولئیز حل په کلکه ملاتړ کوُو. مګر زه په رشتیا ډاډه نه یم چې دا هغه څه دي چې تاسو یې غواړئ.

نعیم: زه فکر کوم چې وضعیت خورا روښانه دی. هیڅ سیمئیزه ادعا نلرو. افغانستان هیڅکله د پاکستان پر وړاندي یرغلګر نه سي ګڼل کیدای. موږ یواځي له پاکستان څخه غواړو چې د خپلو مختلفو وګړو په منځ کي کرکه پیدا نه کړي، نه د خپلو مختلفو وګړو په وړاندي چې پاکستان جوړوي، له زور څخه کار واخلي او خپل کور سولئیز وساتي.

کیسنجر: ایا تاسو غواړئ له دوی سره دا خبري وکړئ، یا یې دوی باید په یو اړخیز ډول ترسره کړي؟

نعیم: موږ غواړو چې پاکستانیان د خپلو وګړو په منځ کي کرکه پیدا نه کړي، چې د ۱۹۷۱ء کال (**د بنګله دیش بیلوالی**)تکرار نه سي.

زمونږ وګړي د زور او فشار په صورت کي بې پروا نه سي پاته کيدلای.... که د پاکستان له خوا د وګړو پر ضد له فشار او زور څخه کار واخيستل سي، نو دا به زمونږ د وګړو په منځ کي يو احساساتي غبرګون رامنځته کړي چي د افغانستان حکومت به بې پروا پاته نسي. پاکستانيان تل مونږ د دوی په کورنيو چارو کي په لاسوهنه تورنوي. خو مونږ هيڅکله دا کار نه دی کړی او هيڅ اراده يې نه لرو. زمونږ سره داسې اسناد او ثبوتونه سته، چي دوه ځله يې زمونږ په کورنيو چارو کي لاسوهنه کړې ده، دوی په ميليونونو افغانی په جعلي توګه چاپوي او دلته يې ويشي. دا نااخلاقي او د نړيوالو اړيکو سره متناسب کړنه ده.هيله من يم چي تاسو به په هغه څه باور وکړئ چي مونږ ويلي دي.

کيسنجر: مونږ پرون پاکستانيانو ته وويل چي له زغم څخه کار واخلی. او البته د پولي په اوږدو کي هر ډول نظامي يا نيمه نظامي کړنې به په سيمه کې د تاو تريخوالي لامل وي. مونږ له پاکستان سره اوږده دوديزه دوستي لرو او غواړو چي صداقت يې وساتل سي. خو لکه څنګه چي جلالتمآب وويل، دا ستونزه نه ده. تر هغه ځايه چي د وګړو سره پر انساني چلند پورې اړه لري، مونږ عموما د دې پلوي کوُو.

نو زه فکر کوم چې له دې څخه د وتلو غوره لاره دا ده، که د افغانستان لوري کله هم يو وړاندیز يا نظر ولري، دوی غواړي چې مونږ يې واخلو، مونږ به يې په سپړلو خوښ شو.

نعيم: مونږ غواړو چي پاکستان د خپل اساسي قانون سره سم د خپلو ټولو وګړو لپاره مساوي فرصت برابر کړي او مساوي حقوق ترلاسه

ورکړي. که دوی په دې کار کي بریالي سي، زموږ سره به کومه ستونزه نه وي.

کیسنجر: تر هغه چې تاسو ګومان نه کوئ چې پښتانه به د خپلو عادي حقونو په پام کي نیولو سره پاکستان چلوي(**خندا**).

نعیم: زما مطلب دا نه وو. که پاکستان د دې ستونزي په خلاسون کي بریالی سي، د پښتونستان او بلوچستان د وګړو حقوق په معقول او قناعت وړ ډول خوندي کړي، کومه ستونزه به نه وي او موږ د پاکستان او افغانستان ترمنځ د ښو اړیکو وړاندوینه کولای سو.

کیسنجر: زه موافق یم، دا خورا طبیعي اړیکه ده. ایا تاسو کولی شئ زموږ سفیر ته د هغه څه په اړه ځینې وړاندیزونه ورکړئ چې تاسو د عادي اړیکو په توګه ګورئ؟

ایلیټ: ځینې ځانګړي نظرونه، او په دې اړه چې بلوڅان او کوم پښتانه.

نعیم: هر څه چې د پاکستان اوسنی اساسي قانون وایي، نه پلي کېږي. دا د خپل اساسي قانون ستونزه ده. که دوی دا وکړل، موږ به هیڅ شخړه ونه کړو.

غوث: هغه بله ورځ نور ټول سیاسي ګوندونه ناقانوني سول.

نیرم: موږ وخت په تیریدو یو، نو یو ځل بیا غواړم مننه وکړم او افغانستان ته ستا هرکلی وکړم او د هغه څه لپاره مننه وکړم چې تا ویلي دي.

کیسنجر: د تود هرکلي لپاره یو ځل بیا مننه. زه ډاډه یم چې دا به د تودو اړیکو پیل وي.

(هرڅوک د وتلو لپاره پورته کیږي. په داسي حال کي ځنډ شتون لري چي امنیتي ساتندویان د سکرتر په غوښتنه ښار ته د لنډ لید سفر لپاره ګړندي ترتیبات نیسي).

عبدالله زه هیله لرم هغه څه چې موږ وویل، تاسو به ښه په پوه سوي یاست.

کیسنجر: په اصولو کي هو خو په عمل کي... **(خندا)**.

عبدالله: دا اوس پر تاسو پوري اړه لري.

کیسنجر: زه به له پاکستانیانو سره خبري وکړم.

نعیم: موږ به په اصولو کي لیدو ته لیواله یو.

کیسنجر: ته به دې کار ته چمتو سې؟ تاسو به چیري سره ووینئ؟

عبدالله: پاکستانیان ډېر تکړه دي. او موږ به د لیدو لپاره چمتو یو، مګر پرته له مخکینیو شرایطو.

کیسنجر: په سیمه کي؟

نعیم: هانک بایروډ یو ځل وویل چي بوټو غوښتل چي زما سره ووینې. موږ به چمتو یو.

کیسنجر: چیرته؟

نعیم: هرچیرې. یو ځل د امریکا د ښو دفترونو له لارې ما له ایوب سره ولیدل. هغه وویل: "موږ تاسو ماتولی سو." نو زه بیرته راغلم.

کیسنجر: دا ګټور نه دی.

عبدالله: ښاغلی بوټو باید له واقعیتونو سره مخامخ سي.

نعیم: دوی هغه حالت رامینځته کړ چیري چي دوی بنګله دیش له لاسه ورکړ.

کیسنجر: هیڅ پوښتنه نسته.
نعیم: دوی اوس ورته شرایط رامینځته کوي.
کیسنجر: رشتیا؟
عبدالله: د ستونزې د حل کیلي دلته نه بلکي په اسلام اباد کي ده. توپ د دوی په خوا کي شتون لري.
کیسنجر: دا هغه څه دي چي دوی ماته وویل چي تاسو ته ووایم-- دا چي دا په کابل کي ده (**خندا**).
نعیم: دا باید یو څه رشتیا وي، نه جعلي.
کیسنجر: موږ به یې وګورو **(Released by the Office of the Historian, https://2001-2009.state.gov/r/pa/ho/frus/nixon/e8/96775.htm)**

۲نومبر/۱۱عقرب

د آسیا پرمختیائي بانک د عملیاتو د مدیر بیرن په مشري ددغه بانک پلاوئ د پلان د وزیر علي احمدخرم سره وکتل او د هلمند ولایت د کجکي د بریښنا بند د پرچاوې د جوړولوپه موخه یې ددغه بانک لخواد څوارلسو ملیونو ډالرو د پور او د تخنیکي مرستي پر هوکړه خبري وکړې.

۳نومبر/۱۲عقرب

د افغانستان جمهوري دولت د کروندګرو او کاریګرو د پاره د آسانتیاو د برابرولو په موخه د کوپراتیکونو قانون تدوین کړئ دئ.

۴نومبر/۱۳عقرب

د هغو مهمو صادراتي مالونو ټوله بیه چې د ۱۳۵۳ه ش لومړیو دریو میاشتو کې بیلوبیلو باندنیو هیوادونو ته صادر سویدي، پینځه ملیارده، څلورسوه او لس ملیونه افغانئ ده چې یو نیوي خال پینځه (۹۱.۵) ملیونه ډالر کیږي .

۵نومبر/۱۴عقرب

د ممیزو(**کشمشو**) د صادراتو د پراختیا د موسسې مرامنامه د وزیرانو عالي مجلس (**کابینه**) تصویب او د دولت د رئیس تر منظوري وروسته په رسمي جریده کې خپره او نافذه سوه.

♥ په بیورائټ معدن بار یو شمیر لارئ د پلخمري څخه د پټرولو د پلټنو د برمه کولو سیمې ته ولیږل سوې، دا لومړئ ځل دئ چې په هیواد کې دننه دبرمه کولو په چارو کې د بیورائټو د پوډرو څخه کار اخستل کیږي.


٦نومبر/۱۵عقرب

د برات د ممیزو پاکولو فابریکې د اووه لس نیم ملیونو افغانیو په پانګه د مزارشریف په ښار کې په کار پیل وکړ، دغه فابریکه په ساعت کې دوه ټنه ممیز د نړیوال مارکیټ د غوښتنې سره سم پاک او بسته کوي.

♥ د بدخشان ولایت د خواهان علاقدارئ د هوایي ډګر د ټرمینل د ودانئ ډبره د بدخشان والي تاج محمد کښیښووه، ملکي هوایي او د ټوریزم لوی ریاست ددې کار د پاره یو ملیون افغانئ تخصیص ورکړئ دئ.

♥ پر څلورم نومبر د پنجاب ایالت په بهاولنګر سیمه کي د خپلي وینا د سمولو په ترڅ کي صدراعظم ذوالفقار علی بټو وویل چي د شوروي اتحاد مشرانو سره یې د خبرو په ترڅ کي د ملي عوامي ګوند هیڅ یادونه لا هم نه ده کړي، البته دا مو ورته وویل چي د کومه وخته چي مو د افغانستان سره د دوستی اړیکي پلي کړیدي، کولای سي چي دا هیواد د پاکستان په کورنیو چارو کي د لاسوهنو څخه راوګرزوي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page62).**

۷ نومبر ۱۹۷۴ء



د پاکستان د بلوچستان ایالت لوی وزیر**(Chief MiniSter)** جام غلام قادرخان وویل چي د افغانستان د لوري د ورانکارانو د مخنیوي د پاره یې اړین ګامونه**(Necessary Steps)** پورته کړیدي. هغه زیاته کړه چي د بمي چاودنو پیښي او د ورانکاری نوري کړنې

(Activities) د ډيورنډ کرښې هغه لوري په ملاتړ تر سره کيږي **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages63).**

۸نومبر/۱۷عقرب

د پوهنې د وزير ډاکټر نعمت الله پژواک د دولت د رئيس په پيغام لوستلو سره د اماني ليسې د جوړيدو پينځوسم کال ددې ليسې په تالار کې د يوې ستري غونډې په ترڅ کې ولمانځل سو. تر څلويښتو کلونو وروسته د پوهنې دا مرکز بيرته د خپل موسس غازي امان الله خان په نامه ونومول سو(اماني ليسه) چې د لويديز جرمني په مالي لګښت جوړ سوئ دئ.

♥ د سَرِپُل ولسوالئ د شا چنار د کلي د ښوونځي د ودانئ د بنسټ ډبره د جوزجان د والي ډاکټر خليل احمد ابوي لخوا کښيښوو سوه. ددغه ځای وګړو سل و ديرش زره افغانۍ او دوه جريبه مځکه مرسته کړيده.

۹نومبر/۱۸عقرب

د جغندرو د حاصلاتو په رسيدلو سره د بغلان د قند د فابريکې شپږ ديرشم کمپائن به درې مياشتې وخت ونيسي.

۹ نومبر ۱۹۷۴ء

د پنجاب ايالت په صادق آباد سيمه کې ستري غونډې ته صدراعظم بټو افغانستان ته ګوابنی وکړ که دې هيواد د پاکستان په کورنيو چارو کې خپلو لاسوهنو ته دوام ورکړ، دا پخپله ستونزو ته بلنه ورکوي.

افغانستان نه داچي د پاکستان پر خاوره دعوه لري بلکي د پاکستان په پښتونخوا او بلوچستان ایالتونو کي د ورانکارۍ کړنو ته هڅونه ورکوي **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 63)**

۹ نومبر ۱۹۷۴ء

اسلام آباد؛ پاکستان په رسمي توګه ومنل چي په اګست کي نیولې نظامي چورلکه یې افغان حکومت ور خوشي کړې او بیرته ورغلې ده(**د کابل راډیو مابنامني پښتو خبرونه**).

۱۰نومبر/۱۹عقرب

د افغانستان بانک کالنۍ عمومي ټولني پداسي حال کي چي د پلان وزیر علي احمد خرم او د عالي شورا نور غړي حاضر وو، د مالیې د وزیر سیدعبدالاله په مشري د افغانستان بانک په تالار کي غونډه وکړه.په غونډه کي د افغانستان بانک د ۱۳۵۲ه. ش کال پر انډول یاتوازن **(Balance)** خبري وسوې او د بانک د ۱۳۵۲ه ش توازن تصویب سو، غونډې ددې بانک د کالنۍ خالصي ګټي څخه چي د ۱۳۵۱ه ش کال په پرتله لس سلنه (۱۰٪)ډیره سویده، څه پیسې خیره موسسو ته منظوري کړې.

د ښځو نړیوال کال د موخو په اړوندد میرمنو د خوا د زینب نندارې په تالار کي غونډه وسوه او د نومیالیو میرمنو لخوا یو شمیر مقالې ولوستلي سوې.

۱۱نومبر/۲۰عقرب

تر اوسه په دولتي پروژو کي په پينځه زره ، درې سوه او يو اويا(۵۳۷۱) بې مځکو وګړو مځکي ويشل سويدي.

♥ د سږ کال په لومړيو شپږو مياشتو کي د ګلبهارو پلخمري او جبل السراج نساجي فابريکو کي نهه ويشت مليونه، يوسل و اووه څلويښت زره متره سپنسين او سوندې توکران توليد سوي دي.

۱۳نومبر/۲۲عقرب

د کرني د پراختيا بانک د سږ کال په لومړيو شپږو مياشتو کي سل و نهه مليونه افغانئ د هيواد د کروندګرو سره د پور ورکولو په توګه مرسته کړيده.

۱۴ نومبر ۱۹۷۴ء

په رپوټونو کي څرګنده سوېده چي د چين په چپه د نړۍ ټولو سترو هيوادونو زيار ايستلی پر پاکستان فشار راولي چې د ملګرو ملتونو هغه پريکړه ليک ومني چې سهيلي آسيا يې د ايټمي وسلو څخه آزاده سيمه اعلان کړېده چين او د ايرن و افغانستان په ګډون ډير شمير اسلامي هيوادونه د پاکستان د ددريځ يا اقدام ملاتړ کوي.

۱۷نومبر/۲٦عقرب

د کرني او اوبو لګولو وزارت په وړاندیز د افغان کيمياوي سري د شرکت اساسنامه د وزيرانو عالي مجلس تصويب او د دولت د رئيس تر منظورئ وروسته د رسمي جريدې په اتلسمه ګڼه کي خپره او نافذ سوه، دغه اساسنامه چي نهه فصلونه او اته ديرش مادې لري،

ورپکي د. کیمیاوي شرکت د شرائطو او څرنګوالي په اړه مطالب سته.

۱۸نومبر/۲۷عقرب

په روان کال کي دهیواد د حاصلاتو (**پنبه،ممیز، د شفتلوتخم،غوزان یا جَوَز،زغرو بادام،انار**) څلویښت زره ټنه د حیرتان بندر دلاري شوروي اتحاد او اروپا ته صادر سویدي.

۱۹نومبر/۲۸عقرب

ددریو زرو او شپږو سوو ټنو غوړیو د پیرودلو ټرون په کندز کي د ارزاقو او عامه اړتیاو د ریاست او کندز د سپینزر شرکت تر منځ لاسلیک سو.

۲۰نومبر/۲۹عقرب

د پروان ولایت د اوبو لګولو په پروژه کي په سل و دو اویا(۱۷۲) مستحقو کورنیو مځکه وویشل سوه.

۲۲نومبر/۱قوس

کندهار والي په کوکران سیمه کي د پاکستان څخه د راغلو بلوڅو کډوالو د کوچنیانو د پاره په کوکران سیمه کي د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کښیښووه.

♥ د سمنګان ولایت د خلم ولسوالۍ څخه پدې وروستیو دریو میاشتو کي پینځه سوه ټنه بادام د باندي صادر سویدي.

♥ د زابل ولایت د ښارسپا ولسوالئ د مرکز د نقشې کښې د کابل – کندهار واټ جنوبي لورته پر دوُولس زره مربع متره مځکه د فوائد عامې وزارت د انجینئرانو لخوا واچول سوې.

۲۳نومبر/۲قوس

د کوپراتیکونو قانون د رسمي جریدې په فوق العاده ګڼه کي خپور او نافذ سو، دغه قانون چې د کروندګرو، کاریګرو او مامورینو د اسانتیاو برابرولو د پاره جوړ سوئ دئ، دیارلس فصله او یوپینځوس مادې لري.

♥ د کونړ د لوی ولسوالئ د سالار د ویالې د پروژې کارد کلیو د پراختیا ریاست لخوا پیل سو. چې پدغه پروژه کي د سربند خوړساتونکئ دیوال او سیفونو جوړول شامل دي چې په بشپړه کیدو سره به یې د کر د سیمي ډیره مځکه هم تر اوبو لاندي سي.

♥ د کندهار، هلمند او نیمروز ولایاتو کروندګروته د ټراکټورونو ویش په کندهار کي د کرني د پراختیا بانک پیل کړ، هر ټراکټورددرې سوه، نیوي زرو په بیه کروندګرو ته ورکول کیږي ، شل سلنه نغدي (۲۰٪) او پاته اتیا سلنه (۸۰٪) پور به د پینځو کلونو په موده کي ادا کیږي.

♥ د جوزجان ولایت د قرقین ولسوالئ د روغتیا مرکز او اوبو رسولو پروژه ددې ولایت والي پرانسته.

۲۴نومبر/۳قوس

د کرنې د ماشینې کولو په موخه سږ کال د شپږو ملیونو افغانیو په لګښت اووه لس ټراکټورونه او اووه واټر پمپونه په ښو شرائطو د هرات ولایت کروندګرو ته ورکول سوي دي.

♥ اقتصادي عالي شورا د دولت د رئیس سردارمحمد داود په مشري د جمهوري ریاست په مانۍ کې غونډه وکړه او د بشري قواو د جذب په اړه پر رپوټ چې د اقتصادي بورډ لخوا برابر او وړاندې سوئ وو خبرې وکړې. اقتصادي شورا ددغه رپوټ پر بیلو بیلو اړخونو تر پاملرنې او څیړنې وروسته د هغه د سمدستي تطبیق لپاره د اړوند مراجعو د لازمو اقداماتوسپارښتنه وکړه.

۲۵نومبر/۴قوس

د کرنې د پاره سل و څلویښت ټراکټورونه تر اوسه پورې د کرنې د پراختیا بانک د کندز، تخار او بغلان کروندګرو ته ورکړي دي.

♥ د افغاني قره قل درې سوه اووه اویا زره او څلور سوه لس(۳۷۷۴۱۰) پوستوکې د لندن په لیلام کې دوه ملیونوو یو سل و شپږویشت زرو او دوه سوه شل (۲۱۲۶۲۲۰) سټرلنګ پونډه پلورل سویدي.

♥ په کندهار ولایت د خرقې مبارکې د چارچوب د بنسټ تیږه د کندهار والي کښیښووه.

۳۰نومبر/۹قوس

تر اوسه دوه سوه اتیا ټراکټورونه په ښو شرائطو د بلخ ولایت په کروندګرو ویشل سویدي.

۳۰نومبر/۹قوس

د پنجاب ايالت په ساهيوال ښار کي يوې ستري غونډې ته ددې هيواد صدراعظم ذوالفقار علي بټو وويل پاکستان غواړي له افغانستان سره پر بنسټيزو اصولو له جوړجاړي پرته اړيکې ښې کړي

(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 64)

۳۰ نومبر ۱۹۷۳ء

د پاکستان د مشرانو د جرګې (سناتور)غړي مير نبي بخش زهري نن په کوټه ښار کي څرګنده کړه چې د عبدالحکيم جمال خان ګورګيچ په مشري د بلوڅانو شپيته کورنۍ د افغانستان څخه پاکستان ته را کډه سويدي

(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 64)

۱دسمبر/۱۰قوس

د ميزان د لسمي نيټې څخه بيا تر اوسه د مزارشريف د کيميائي سري په فابريکه کي څلور زره پينځه ټنه يوريا سره توليد سويده.

د افغانستان بانک لخوا د اسعارو د راکړې ورکړې کړکۍ د هرات ولايت په بندر اسلام کلا کي پرانستل سوه.

۲دسمبر/۱۱قوس

د هلمند ولایت په کروندګرو په تیرو پینځلسو میاشتو کي د یو سل و اته پینځوسو ملیونو(۱۰۵۸۰۰۰۰۰) افغانیو په ارزښت کیمیائي سره ، دوه ویشت ټراکټورونه د سامان آلاتوسره او هم څلور واټر پمپونه چې بیه یې لس ملیونه، څلور سوه زره (۱۰۴۰۰۰۰۰) افغانئ کیږي ویشل سویدي.

♥ د هوا حالاتو د څیړني د پاره څلور اقلیمي دستګاوي د جوزجان په ولایت کي په کار واچول سوې.

۴دسمبر/۱۳قوس

په کابل کي د سعودي عربستان سفارت د دوه سوه پینځوس زره ډالرو چک د پوهني وزارت ته د وړیا مرستي په توګه وسپاره.

♥ د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نوي ودانئ د بنسټ ډبره د اطلاعات و کلتور او د فوائد عامي وزیرانو لخوا د دولتي مطبوعې په خوا کي کښیښوو سوه.

♥ د سږ کال د پیل څخه بیا تر اوسه د کندهار د میوې په فابریکه کي اویا زره قُطی(**Boxes**) او بوتلونه، ډول ډول جیلي مربه او ترشي تولید سویدي.

♥ د پاکستان څخه د افغانستان د لاري د پښتنو او بلوڅانو حاجیانو لومړئ کاروان په شپږو بسونو کي د سرحدونو چارو د وزارت لخواد کعبې شریفي پر لور روان سو.

٦دسمبر/١٥قوس

د ځلورو دیرشو ملیونو(٣٤٠٠٠٠٠٠) افغانیو په ارزښت سره (Fertalizer)او غنم د سړ کال د پیل څخه بیا تر اوسه د پروان ولایت وګړو ته ورکول سوئ دئ.

♥ د ښار جوړولو او کور جوړولو د ریاست پر ځای د ښار جوړولو آمریت د فوائد عامې وزارت په چوکاټ کي د دویم واحد په توګه منځ ته راغلئ دئ، ددغه آمریت وظیفه د مرکز، ولایاتو او د ولسوالیو د ښاري پلانونو طرحه کول،جوړول، تفصیلي پلانونه جوړول، د هستوګني د طرحي د چارو مطالعه، د ساختماني توکو څیړنه و کتنه، د ښار جوړولو له نظره د هغو اقتصادي او ټولیزو ښیګنو څیړل دي.

٨دسمبر/١٧قوس

په کندهار کي دوه ملیونه او دوه سوه زره ټنه فلورائډ(Flouride) معادن کشف سوئ دئ.

١٠دسمبر/١٩قوس

د کندز د امنیه قوماندانۍ د سرحدي پولیسود تعلیمي وداني ددې ولایت والي د جمهوریت په کارته کي پرانسته.

١١دسمبر/٢٠قوس

د کجکي د بند د پرچاوې د دروازود جوړولو د اسعاري لګښتونو مربوط تمویل څوارلس ملیونه ډالرو د پور هوکړه د آسیا د پراختیا د بانک د مدیره پلاوي د خوا تصویب سوه.

۱۵دسمبر/۲۴قوس

د وردګو ولایت د جلریزو پل ددرې سوو، څلویښتو زرو(۳۰۴۰۰۰)افغانیو په لګښت د فوائدعامې د دویم یونټ لخوا بشپړه سوئ دئ. د فوائد عامې وزیر غوث الدین فائق وویل چې دغه پل د کابل و هرات ترمنځ په نظر کې نیول سوي څړک د پاره جوړ سوئ دئ، د حاجیګک کان او بامیان دهمدغه پله پر لار پراته دي.

۱۷دسمبر/۲۶قوس

د بدخشان والي د کوکچې پر سیند د پله جوړولو د بنسټ ډبره کښیښووه.

۱۸دسمبر/۲۷قوس

ددولت رئیس او صدراعظم سردارمحمدداوود اردو په منصبدارانو ډپلومي اسناد وویشل.

۲۰دسمبر/۲۹قوس

د کابل ولایت د بګرامیو د نساجي فابریکې د پراختیا د پروژې کار پیل سو، د پوهنې وزیر پوهاند عبدالقیوم ددغې پروژې د مربوطي ودانۍ د بنسټ تیږه د فابریکې په انګړ کې کښیښوده.

♥ د پوهنې وزارت دویم معین محمدنسیم د وردګو په ولایت کې د لومړنیو او کلیوالو ښوونځیو نوي ودانۍ پرانستلې، دغه ودانۍ د ملي بانک او یونیسف اداري د پولي او هم د وردګو ولایت د بشري قواوپه مرسته د پوهنې وزارت د ساختمان د ریاست د نمونیي پروژې په چوکاټ کې جوړې سویدي.

۲۱دسمبر/۳۰قوس

د هلمند ولايت د پُنبې او نباتاتي غوړيوموسسې په دريو مياشتو کي اتلس زره او اووه سوه(۱۸۷۰۰) ټنه پُنبه او غوړي د ورځي پيرودلي يا خرڅ کړي دي.د ميزان د لومړۍ نيټې څخه چي د پُنبې کمپائن پيل سوئ، تر اوسه د دولت د کريډټ څخه دوه سوه اويا مليونه (۲۰۷۰۰۰۰۰۰) افغانئ د پُنبې په کروندګرو ويشل سويدي.

♥ د تيرو دو نيمو مياشتو په اوږدو کي د کندز،بغلان او تخار د ولاياتو کروندګرو ته د پومبې د بيې په بدل کي د دولت د کريډټ څخه اته سوه دوه ويشت مليونه (۸۰۲۲۰۰۰۰۰۰) افغانئ ورکول سويدي.

۲۲ دسمبر/۱جدي

د کابل ښار د شيرپور جامع جومات چې سږ د اسد په مياشت کي زلزلې زيانمن کړئ وو، د دولت د رئيس ځانګړې لارښوونه د يو مليونو افغانيو په لګښت بيا ورغول سو.

۲۴ دسمبر/۳جدي

د دولت رئيس او صدراعظم سردارمحمد داود د لوی اختر لمونځ د ملامحمدعمر په امامت د ارګ په جامع جومات کي ادا کړ.

۲۸ دسمبر/۷جدي

د غوري د سيمنټو د موسسې د سږ کال په نهو مياشتو کي د اته شپيته زره، نهه سوه،پينځه اتيا (۶۸۹۸۵) ټنه سيمنټو د پلورني د لاري څه د پاسه نيوي مليونه څلور نيوي زره (۹۰۰۹۴۰۰۰)افغانئ لاسته راغلي دي.

♥ د روان کال په تيرو نهو مياشتو کي په کندز کي د کرني د پراختيا بانک د پينځه ديرشو مليونو(۳۵۰۰۰۰۰۰) افغانيو په لګښت کيميائي سره، د کرلو اصلاح سوي غنم او د کرني ټراکټورونه د کندز، تخار او بدخشان ولايتوکروندګرو ته په ښو شرائطو په پور ورکړي دي.

♥ په اسلام آباد کي د ايراني ژورنالستانو د يوه راغلي پلاوي سره په مرکه کي صدراعظم ذوالفقار علي بټو وويل هيواد يې د افغانستان سره د دوستۍ ډيري ښې اړيکي غواړي.

۲۹ دسمبر/۸جدي

د مزارشريف د کيميائي سري د فابريکې لومړني لين توليدات تر اټکل سوي پلان يوولس اوونۍ وړاندي بشپړه سويدي.

۳۰ دسمبر/۹جدي

د کونړ لوی ولسوالۍ د مروري سيمه چي دوولس زره وګړي لري، د علاقدارۍ کچي ته لوړه سوه او مامورينو يې په کار پيل وکړ.

۳۱ دسمبر ۱۹۷۴ء/۱۱جدي ۱۳۵۳ه ش

د پښتې د څنګلونو د پروژې د ودانۍ د بنسټ تيره د قلعه نو په تحقيقاتي فارم کي د بادغيس والي کښيښووه.

۱۹۷۴ء

د ايران پاچا محمدرضا شاه پهلوي لويديز لور ته د افغانستان د وراړولو په موخه په تهران کي سيمئيز اقتصادي او امنيتي ساحې ته د پاکستان، افغانستان، هند او د خليج فارس د رياستونو د غړولو د پاره هوډمنه هڅه پيل کړېده (**Out of Afghanistan By Slieg H .(Harrison,Page 15**

۱۹۷۵ء

۲ جنوری ۱۹۷۵ء

کراچي ته نژدې په لنګرتَه سیمه کي مطبوعاتي غونډې ته صدراعظم بټو څرګنده کړه چي ددوستی اړیکو ته د پراختیا ورکولو په موخه یې د افغانستان جمهور رئیس ته د پاکستان ورتلو بلنه ورکړېده

(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 65)

١٦ جنوری ۱۹۷۵ء

د پیښور های کورټ جسټس شاه نواز خان په مشري ځانګړي محاکمې د عوامي نیشنل ګوند**(N.A.P)** پخوانی سرمنشي محمداجمل خان خټک او د هغه پوخ ملګری هدایت الله چي دا مهال په افغانستان کي دي، فراریان ي مفرور وګرځول.

۲۴ جنوری ۱۹۷۵ء

د ملګرو ملتو سرمنشي ته په ورلیږلي لیک کي د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو افغانستان د پاکستان په کورنیو چارو کي په لاسوهنه او د مخکښبشپړتیا او سیاسي خپلواکی په وړاندي په دسیسو جوړولو تورن کړی دی

(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 65)

۵ فروری ۱۹۷۵ء

د خبرو ۱۸۸ ګڼه یاداشت(د سهار دلس نیمو څخه تر پاوکم یوولسو بجو پوري10:30–11:45 a.m)

واشنګټن

برخوال

د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علی بټو

په دفاعي او باندنیو چارو کي د دولت وزیر عزیزاحمد

د باندنیو چارو منشي آغا شاهي

صاحبزاده محمد یعقوب خان

د امریکا ولسمشر جیرارفورډ**(Gerard Ford)**

د باندنیو چارو وزیر او د ملي امنیت په چارو کي د ولسمشر سلاکار ډاکټر هینري کیسنجر**(Dr. Henry) AKissinger**

امب.هینري اې بایرود

د ملی امنیت په چارو کي د ولسمشر نائب مرستیال جنرال برینټ سکاوکرافټ(**Lt General Brent Scowcroft,Deputy Assist to The President for National Security Affairs**)





ولسمشر: ښه مي په یاد دي کله چې ما په لومړي ځل په۱۹۵۳ء کې د سفیر بایروډ سره ولیدل. زه د باندنیو مرستو په یوه فرعي کمیټه کې وم.

بایروډ: زه د NEA لپاره مرستیال سکرتر وم.

ولسمشر:

د امریکا باندنۍ تګلار محدودو ګټو ته د کتو پر ځای د ټولې نړۍ ګټو ته په کتو جوړیږي. موږ غواړو له تاسو او نورو هیوادونو سره د ثبات او پرمختګ لپاره کار وکړو.

بوټو: د میلمه پالنې مو مننه کوم. زه تیر کال راغلی وم، مګر ډیرو پیچلو ستونزو شتون درلود.

موږ ستاسو ددې خرګندونو هرکلی کوُو چې امریکا باید په نړۍ کې پیاوړی رول ولوبوي.ما په ۱۹۷۱ء کې په نیویارک کې د هینري کیسنجر سره هم ولیدل.

کیسنجر: لومړي وزیر په خورا غمجنو شرایطو کې واک واخیست او په زړه پورې چلند یې وکړ


بوټو: دا یوه دردونکې تجربه وه، خو امریکا د وضعیت په ثبات کې له ډېر مسئولیت سره چلند وکړ او نه یې پرېښودل

موږ نه پوهیږو چې هند د پاکستان د نسبي ثبات په اړه اعتراضونه لري. د هند مفکوره د هند لپاره بشپړ امنیت او د پاکستان لپاره بشپړ ناامني ښکاري. موږ پوهیږو چې هغه غواړي په سویلي آسیا کې د خورا ځواکمن او خورا مهم ځواک په توګه وپیژندل سي، مګر هغه له دې څخه ناوړه ګټه پورته کوي. دا هند وو چې پخوا یې د شوروي په

مرسته مور تویه کړو. په کشمیر کي هم هند ناوړه چلند کړی او اوس یو ځل بیا تمرین کوي. زمور د صبر او تفاهم لار پلې کړېده. خو نړیوال وضعیت نور هم پیچل سوی او په تګلاره کي بدلون (A`

Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 64)

۸فروري، ۱۹۷۵ء



کله چي د پاکستان د پیپلز ګوند د رئیس د مرستیال(**Voice Chairman)** حیات محمدخان شیرپاو موټر پښور پوهنتون ته پر لار وو، ورته ایښوو سوئ مهالیز بم**(Time bomb)**پر وچاودید او دئ یې وواژه، هغه د پیپلز ګوند بنسټیز(۱۹٦۷ء) غړئ او هم کله چي ذوالفقار علي بټو واک لاس ته کړ(۱۹۷۱ء) هغه یې د پښتونخوا ایالت

د والي(**گورنر**) په توګه وټاکه، صدراعظم ذوالفقارعلي بټو چې دامريکا په يون دئ، خپل ځانګړي استازي رضارفيع ته فون وکړچې د کورنيو چارو د وزير عبدالقيوم خان سره پېښور ته ولاړ سه، خان عبدالولي خان او دده ملګري ونيسه او پر عوامي نيشنل ګوند(**National Awami Party= N.A.P**) د بنديز لګولو په اړه فکر وکړه.خان عبدالولي خان هغه مهال په لاهور کي وو او د شيرپاو په جنازه کي يې د ګډون د پاره چمتووالئ نيوئ چې پوليسو د اتيا ملګرو سره ونيوولکه خان اميرزاده خان،سيدقصورګردېزي،غوث بخش بزنجو،نواب خيربخش مري، مير ګل خان نصير،سردارعطاءالله مېنګل، د بلوڅي ژبې نامتو ملي شاعر حبيب جالب او بيرسټر عزيزالله شيخ ودا. دوی يې لومړئ د راولپنډۍ زندان، بيا سائيوال او وروسته د حيدرآباد زندان ته واچول او د رياست ضد دوسيه (**Case يا مقدمه**) يې پر دائره کړه، د پښتونخواء، پنجاب او سنده ايالتونو پر يو شمېر کالجونو پوليسو چاپې ووهلې(**https://www.dawn.com/news/797637/a-leaf-from-history-sherpaos-murder-and-ban-on-nap**).پر دې نيونو او د ګوند پر بنديز د افغانستان حکومت کلکي نيوکي(**اعتراضونه**) وکړې او ويې غانده.

۱۰فروري، ۱۹۷۵ء

د پاکستان مرکزي حکومت د خان عبدالولي خان پر نيشنل عوامي ګوند بنديز ولګاوه، ټولي شتمنۍ (**اثاثې**) يې ور ضبط کړې، د سردارعنايت الله خان ګډاپور په مشري يې د پښتونخوا ايالتي

حکومت ړنګ او والي محمداسلم خان خټک لیري کړ. تورن جنرال(**میجر جنرال**) سیدغوث یې د والي او تورن جنرال نصیرالله خان بابړ(**په تیونس کي د پاکستان سفیر**)یې د پښتونخوا ایالت د لوی وزیر(**وزیراعلی**) په توګه وټاکل، د پیپلز ګوند، مسلم لیګ (**قیوم لیګ**) او د آیالتي اسمبلۍ د ازادو غړو څخه جوړ دا یو تر ټولو بې اغیزې ایالتي حکومت ثابت سو

)https://www.dawn.com/news/797637/a-leaf-from-history-sherpaos-murder-and-ban-on-nap.(

۱۰فروري ۱۹۷۵ء

افغانستان حکومت په یوه رسمي بیانیه کي د پاکستاني محاکمې لخوا د ملي عوامي ګوند د مشرانو پر نیولو او پر دې ګوند د بندیز لګولو له امله کلکه خواشیني او خپګان څرګند کړ **(A Chronology of Pakistan,sRelations With Afghanistan 1947-1988 by Bashir Ahmad Tahir, Shabbir Ahmad Khalid, National Institute of Pakistan Studies Quadi-i-Azam University Islamabad, 1989, Pages 65)** ۱۳ فروری

۱۹۷۵ء

کابل راډیو د پاکستان د لوري د ملي عوامي ګوند د مشرانو په غبرګون کي د یوه جګپوړي چارواکي لخوا د خطرناکو پائیلو ګواښ خپور کړ(**همدغه ماخذ او مخ**).

۱۶ فروری ۱۹۷۵ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند د افغانستان ګواښ د پاکستان په کورنیو چارو کي لاسوهنه وبلل(**لوړ ماخذ، ٦٦مخ**).

۱۷ فروري ۱۹۷۵ء

د پاکستان د کورنیو چارو وزیر خان عبدالقیوم خان وویل چې افغانستان د پاکستان پر ضد په یوه قرارګاه بدل سوی دی او د اوسنیو چاودونو مسئولیت د افغان حکومت پر غاړه دی(**لوړ ماخذ، ٦٦مخ**)

۲۸ فروری ۱۹۷۵ء

په یوه تیلیویژني مرکه کې صدراعظم بټو افغانستان د پاکستان په کورنیو چارو کې په لاسوهنه تورن کړ(**لوړماخذ،٦٦مخ**).

۲۸ فروری ۱۹۷۵ء

صدراعظم بټو وویل چې د پاکستان و افغانستان تر منځ اړیکي ورانې او هم غمجني دي. هغه خبرداری ورکړ چې پاکستان به پر خپلو ملي ګټو د چا سره جوړجاړی ونکړي(**لوړ ماخذ، ٦٦مخ**).

۱۰مارچ ۱۹۷۵ء



ولسمشر سردارمحمدداود د هند په رسمي یون د کابل څخه نوي ډیلي ته ورسید



د ولسمشر سردارمحمدداود وینا ته هندي صدراعظمي میرمن اندرا گاندهي غوږ نیولئ دئ

۱۲مارچ۱۹۷۵ء

د هندوستان پنجاب پوهنتون ولسمشرسردارمحمدداود ته د ډوکټرا افتخاري سندیا ډګرۍ ورکړه



۱۲ مارچ ۱۹۷۵ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند وویل چې د افغانستان او هند دباندنیو چارو د وزیرانو تر منځ د خبرو لپاره د افغانستان شرطونه د پاکستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه ده(**(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 66).**

۱۴مارچ ۱۹۷۵ء

ولسمشر سردارمحمدداود په رسمي یون د هند څخه د بنګله دیش پلازمېنې ډهاکې ته ورسید.



د بنګله دیش موسس او ولسمشر شیخ مجیب الرحمان د سردارمحمدداود په درناوي کې دمیلمستیا پر مهال وینا کوي

۱۷مارچ ۱۹۷۵ء

ولسمشر سردارمحمدداود د عراق په رسمي یون ددې هیواد پلازمېنې بغداد ته ورسید

۱۷ مارچ ۱۹۷۵ء

صدراعظم بټو د پنجاب ایالت په میاوالي ښار کي ستري غونډې ته د وینا پر مهال وویل پاکستان ددې وړتیا لري چي د خپلې مځکنۍ



دفاع ژغورنه وکړي او کولای سي چي د افغانستان ملي امنیت د ګواښ سره مخامخ کړي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 67).

۲۰ مارچ ۱۹۷۵ء

د پنجاب ایالت په جنګ ښار کي صدراعظم بټو ستري غونډې ته اعلان کړه چي متحدي ډیموکراتیکي جبهې یا یونائیټډ ډیموکراټیک فرنټU.D.F (**د حکومت ضد اتو ګوندونو اتحاد چي ملي عوامي ګوند، جمعیت علماء اسلام، جمعیت علماء پاکستان،د پیر پګاړا مسلم لیګ او جماعت اسلامي ودا**

پکي ګډون لري) دغسي چلند غوره کړی وو چې افغانستان ته يې د پاکستان په کورنيو چارو کي لاسوهنې ته لار اواره کړې وه(**لوړ ماخذ او مخ**).

۲۱ مارچ ۱۹۷۵ء

د پنجاب ايالت په لعلپور(**وروسته په فيصل آباد ونومول سو**)ښار کي غونډې ته صدراعظم بټو وويل چې هيواد يې د افغانستان سره جګړه نه غواړي خو که جګړه راباندې وتپل سوه نو بيا به يې تر وروستي سړي تر مرګه پورې ورسره سپينه کړو(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۳اپريل، ۱۹۷۵ء



ولسمشرسردار محمدداود په رسمي يون د ايران پلازمېنې تهران ته ورسيد، پاچا محمدرضا شاه پهلوي د اقتصادي مرستو ورکولو ډاډ ورکړ.



ولسمشر ته د ایران ملکه فرح پهلوی هرکلی وایي

۴ اپریل ۱۹۷۵ء

صدراعظم بټو د پنجاب ایالت په ګوجرانواله ښار کي افغانستان ته په اشاره ستري غونډي ته د وینا پر مهال وویل جګړه به له دوی سره په هیڅ ډول مرسته ونه کړي چې د پاکستان پر وړاندې خپلو موخو ته ورسیږي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 67).

٦ اپریل ۱۹۷۵ء

صدراعظم بټو نن د ملګرو ملتو سرمنشي ته په ورلیږلي لیک کي (**پر۱۲ اپریل ۱۹۷۵ء په مطبوعاتو کي خپور سو**) د افغانستان د جمهور رئیس سردار محمد داود هغه وړاندیز نا مناسب وباله چې یو پلټنیز ماموریت (**InvestigativeMssion**) دي وټاکي تر څو د دې هیواد د بلوچستان ایالت د اوضاع څیړنه وکړي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 67).

۸ اپریل ۱۹۷۵ء

د پاکستان په دفاعي او باندنيو چارو کي ددولت وزير **(Minister of State for Defence and Foreign Affairs)** عزيز احمدد ملګرو ملتو سرمنشي نن **(پر۱۲ اپریل ۱۹۷۵ء په مطبوعاتو کي خپور سو)**په ورلیږلي ليک کي ليکلي دي چي په افغانستان کي د پاکستاني کډوالو په اړوند افغان حکومت ته مثبت غبرګون د پاکستان د پاره يوه بدتميزي**(Rude Suprose)** وه**(لوړ ماخذ او مخ)**.

۱۹جون، ۱۹۷۵ء/سرطان۱۳۵۴،۲٦ه ش


داطلاعاتو اوکلتور وزير پوهاند داکتر نوين دمصر اوافغانستان ددوستی دټولنی لەمرستيال
ښاغلی ابوشادی سره دکتنی په وخت کښی .
۱۳۵٤ر٢٦ر

جون ۲۳، ۱۹۷۵ء/ ۱د اسد ۱۳۵۴ه ش



رئیس تصدی ملی بس ومستشار تجارتی سفارت کبرای چکوسلواکیا هنگام امضای قرارداد تسلیم دهی سامان وتجهیزات تریلی بس شهرکابل. ۱ره ر۱۳۵٤



بناغلی محمد نعیم حینیکه جام جمهوریت رابه تیم فتبال اتحاد شوروی که مقام قهرمانی رادرنتیجه مسابقات فتبال در دوران دومین جشن جمهوریت درغازی استدیوم احرازنموده تفویض مینمایند . ۱ره ر۱۳۵٤

۳جولائي۱۹۷۵ء

د فوائد عامې وزارت د فرانسوي شرکت سوفرائل سره پريکړه ليک (قراردادنامه) لاسليک کړچي له مخي به يې يوه سروې تر سره سي او وروسته به د اورګاډو لپاره داتلسو سوو اوخلورويشتو(۱۸۲۳) کلومترو اوسپينيزي لاري د جوړولو چاري پيل سي، په وسيله به يې کابل د غزني،کندهار او هرات د لاري د ايران سره وصل سي.

٦جولائي۱۹۷۵ء/اسد ۱۵، ۱۳۵۴ه ش

رئیس پلانآب وبرق ومستشارتجارتی سفارت کبرای چکوسلواکیا هنگـا م امضای قرار داد توربد جنراتور های دیزلی برق برای شهر هرات . ۱۵ره‌ر۱۳۵٤




۱۰جولائي۱۹۷۵ء/اسد ۱۹، ۱۳۵۴ه ش



ددولت رئیس او صدراعظم ښاغلی محمد داؤد کله چه دکوریا د ولسی جمهوریت د جمهور رئیس خاص نماینده ښاغلی یانګ هیونګ سو ب دجمهوری ریاست په مانې کی ومانه . ۱۹ر۵ر۱۳۵٤

۱۲جولائي ۱۹۷۵ء/اسد۲۱، ۱۳۵۴ه ش

ددولت رئیس اوصدراعظم ښاغلی محمدداؤد کله‌چه‌یی دکوریا د جمهوریت جمهور رئیس‌خاص نماینده دجمهوری ریاست‌په‌مانې کی‌منلی‌دی. ۲۱ر۵ر۱۳۵٤





دعظمی صدارت مرستیال ډاکتر حسن شرق دکوریادجمهوریت دجمهوررئیس خاص نماینده دوکتورسویانګ چونګ سره دکتنې په وخت کښې ۰
۱۳۵٤ر٥ر۲۱

جولائي ۱۴، ۱۹۷۵ء/اسد۲۳، ۱۳۵۴ ه ش



په داسی حال کښې چه دپلان وزیر ښاغلی علی احمد خرم هم حاضر ؤ دپلان معین ښاغلی عبدالعزیز فر وغ اودامریکی دلوی سفارت شارژدافیر افغانستان ته دکیمیاوی سری دتېبه کولوپه منظورد ۸ملیونو ډالر دقرضی یوه موافقتنامه لاسلیك کړه .
۱۳۵٤ر٥ر۲۳

جولائي ۱۷، ۱۹۷۵ء/اسد۲٦، ۱۳۵۴ ه ش

دبرښنا اواوبو دواحد پلان رئیس او دشوروی اتحاددلوی سفارت داقتصادی مستشاریت مرستیال دشمال دبرښنا دسروی دټرون دلاسلیك کولو پـــه وخت کښی . ۱۳۵٤د٢٦ره



۲۱جولائي ۱۹۷۵ء

د اسلامي نهضت پلویانو د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالي ونیوه، او تر لنډي شخړي وروسته یې بیرته خوشي کړه.

۲۲جولائي ۱۹۷۵ء

د پروفیسربرهان الدین او انجینئرګلبدین حکمتیار په مخکښي د بدخشان، لغمان، لوګر ولایتونو پر مرکزونو او د پنجشیر پر ولسوالي یرغلونه، یواځي د پنجشیر ولسوالي یې بې له څه وینو توئیدلو د لنډي مودې د پاره ونیوه. دې خوځښت په امنیتي ځواکونو کي د پرچم

گوندغړو ته وار په لاس ورکړ چې هر اسلام پلوئ څوک ونيسي. درو نيوي وګړي محاکمه وسول، شپيته خوشي، پاته د يوه کال څخه نيولې تر عمره بنده پوري محاکمه سول

(Dupree, *Afghanistan*, 762;
Haqshinas, *Political Changes*, 26-32; Roy, *Islam and Resistance*, 74-76)

۲۳جولائي،۱۹۷۵ء



مولانا ابوالوفاء افغاني نن د هند د حيدراباد په دکن کي پور پرې کړ او همدلته خاورو ته وسپارل سو. د دغه محقق او د معقولو او منقولو علومو د لوی او متبحر عالم اصلي نوم محمود شاه د مولوي مبارک شاه قادري زوی، په خټه بارکزی پښتون دئ او د کندهار په ارغسان کي د (۱۳۱۰ه ـ ق) کال د ذوالحجې(**لوی اختر**) د مياشتي پر لسمه زېږېدلی دئ، خو دی په کندهار ښار کي اوسېدئ او د تدريس او ښووني حلقه ئې هم په کندهار ښار کي د علامه عبدالحی حبيبي د کورنۍ په مسجد کي فعاله وه.

شيخ ابوالوفاء افغاني ډېر وخت په پردېسی د هندوستان د حيدر آباد په دکن کي اوسېدئ او هوړې ئې د خپلي لوی علمي او څېړنيزي اداړې او د حنفي څېړنو د مشهور مرکز (**مجلس احياء المعارف النعمانيه چي وروسته ئې نوم په لجنة احياء المعارف النعمانيه سره واوښتی**) له خوا د مسلماني نړۍ له پاره خورا ډېر او په تول او وزن پوره خدمتونه کړي دي. هغه به کله کله له هندوستانه خپل پلارني ټاټوبي کندهار ته هم راتلی او دلته به څه وخت پاتېدئ. کله چي په ۱۳۳۹ ه ـ ق کال کي کندهار ته راغی نو د خپلي استوګني پر مهال د تدريس ورکولو تر څنګ يې د علم التجويد په فن کي دوه کتابونه وليکل چي دليل القرآن يې په پښتو او دليل القاري على کلام الباري (**في الفنون الثلاثة التجويد، والوقف و البتداء و رسم نظم القرآن**) يې په عربي دی.

دليل القرآن پر دو ديرشو مخونو په ۱۳۰۰ ه ش(۱۹۲۱ء)کي په کندهار کي په روانه او سليسه انشاء د خپل وخت په مروج ليکدود ليکل سوی دی. تر يو نيم مخيزه مقدمې او سريزي وروسته د رسالې متن

شروع کیږي، چې متن ئې بیا په خپل ځان کې پر نولسو بابونو وېشل سوی دئ. د علامه رشاد په ویناچې دلیل القرآن وار دواره په ۱۳۴۰ه ق کې خپور سوی دئ، دوهم وار شیخ صاحب دا رساله د هندوستان د حیدر آباد له دکن څخه د نوُو اصلاحاتو، سمونو او زیاتونو سره په ۱۳۵۵ه. ق کال کې خپره کړه.په راوروسته کې مطیع الله ذهین دا رساله د نوي خپرني پر بنسټ بیا خپره کړېده

roSsdnoeptu26ue0hu363btgh2thmc05c6iia6e0fr 406D a53lt1tie022

۲۸ جولائی ۱۹۷۵ء

د پاکستان د باندنیو چارو وزارت ویاند د افغانستان هغه تورونه رد کړل چې د افغانستان د ګډوډۍ او ورانۍ په پښو کې پاکستان لاس لري **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 68).**

۱ اګست ۱۹۷۵ء

د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بټو مطبوعاتي غونډې ته وویل چې د افغانستان و پاکستان تر منځ د دوستۍ سېې اړیکي د ډیورنډ د نه ماتیدونکي کرښې د منلو سره تړاو لري. هغه زیاته کړه. کله چې دا کرښه ومنل سوه د دواړو هیوادونو تر منځ به تګ و راتګ په دوامداره توګه ازاد سي او ګډې پانګوني به شتون ولري(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۲۳گست ۱۹۷۵ء/سنبله ۱، ۱۳۵۴ه ش



نماینده خاص حکومت جاپان هنگامیکه به‌بـاغلی رئیس دولت وصدراعظم‌پیام خاص بـاغلی تاکیومیکی صدراعظـم جاپان راتقدیم مینماید .
۱ر٦ر۱۳٥٤

بـاغلی عاونومعین وزارت خارجـه و نماینده خاص حکومت جاپان هنگـام ملاقات بادوکتور محمد حسن شـرق معاون‌اول صدارت عظمی .
۱ر٦ر۱۳٥٤



ددولت‌دښاغلی‌رئیس اوصدرا عظم‌ماندینه محترمه زینب داؤدکلهچه یوه‌ماشوم ته‌سوغات ورکوی ۰
۱۳۵٤ر٦ر۱۹



۲۴ سپتمبر ۱۹۷۵ء

د افغانستان د باندنیو چارو د وزیر مرستیال وحید عبدالله د ملګرو ملتو عمومي غونډې ته په وینا کې یو ځل بیا د پښتنو او بلوڅو د حقونو خبره راپورته کړه

۲٦ سپتمبر ۱۹۷۵ء

د نیپال په پلازمینه کټمنډو کې د چاپیریال څېړنې او روزنې د اړتیا په اړوند د انسجام نهه ورځنۍ غونډه پیل سوه

۱۰سپتمبر ۱۹۷۵ء/سنبله۱۳۵۴،۱۹ه ش

۲۰سپتمبر ۱۹۷۵ء/سنبله ۲۹، ۱۳۵۴ه ش

رئیس پلان وزارت معادن وصنایع ونماینده مستشاریت اتحاد شوروی هنگـــام امضای قرارداد رسانیدن ســـامـان و بهره برداری ازگاز .
۱۳۵٤ر٦ر۲۹



۲۳سپتمبر، ۱۹۷۵ء/ ۱میزان۱۳۵۴ه ش



کله چه دلیبیالوی سفیر ښاغلی الهـادی عمرانحرك خیل باورلیك دجمهوری ریاســت په مانۍ کښی ددولت رئیس او صدراعظم ښاغلی محمد داؤد ته وړاندی کوی .
۱۳۵٤ر۷ر۱


۱۲اکتوبر ۱۹۷۵ء/۱۰میزان۱۳۵۴ه ش

دفواید عامی دوزارت د میخانیکی ریاست مرستیال کله چه دډنما دیک دنمایندهسره افغانستانته دهغه ملك دپورټرون لاسلیك کوی . ۱۰ر۷ر۱۳۵٤





دپلان وزیر او پـــه افغانستان کښی دکانادا دناستو ګن لوی سفیر کلهچه له افغانستان سره دکانادادوړیامرستی ترون لاسلیك کوی . ۱۰ر۷ر۱۳۵٤



ښاغلی محمد نعیم دچیـن د ولسـی جمهوریت دملی ورځی دنمانځنی پـه مناسبت دهغه هیواد لوی سفیر تـه مبارکی وایی .
۱۳۵٤ر۷ر۱۰

۱۴ اکتوبر ۱۹۷۵ء

د پاکستان د باندنیو چارو د وزارت ویاند وویل چې هیواد یې د افغانستان د حکومت وروستي نادوستانه کړنه یا عمل ته جدي پاملرنه کړېده چې پلاوي یې په نیپال کي د یونسکو(**U.N.E.S.C.O**) په غونده (***Nepal,* 26 September-2 *October 1975***) کي دغسي نقشه خپره کړېده چې د پاکستان سیمي یې د پښتونستان د برخي په توګه ښوولي دي.

۱۱اکتوبر ۱۹۷۵ء/۱۹میزان۱۳۵۴ه ش




بناغلی محمد داؤد رئیس دولت وصدراعظم بعد ازادای نمازعید سعید فطرحین خروج از مسجد جامع ارگ جمهوری در عکس دوکتور محمدحسن شرق معاون اول ، بناغلی عبدالاله معاون دوم صدارت عظمی ووزیر مالیه نیز دیده میشود . ۱۹ر۷ر۱۳۵٤

۱۹اکتوبر ۱۹۷۵ء/۲۷میزان۱۳۵۴ه ش



دیوهنی وزیر یوهاند عبدالقیوم کله چه دولایاتو دیوهنی د مدیرانو دسیمینار پهافتتاحیه غونډهکښی خیله وینا آوروی. ۲۷ر۷ر۱۳۵٤

۱۲۶اکتوبر ۱۹۷۵ء/۴عقرب۱۳۵۴ه ش



داطلاعاتو اوکلتور وزیر پوهاند ډاکترنوین دابونصر فارابی دنمانځنی دغونډې له ګډون کوونکو پوهانو سره .

۱۳۵٤ر۸ر٤



دجمهوریت مؤسس ،دتو لټ رئیس اوصدراعظم ښاغلی محمد داودکله چې جشن دسیمې به چمن کښې دیزکښې سترې لـو بې ګودی.

۱۳۵٤ر۸ر٤

۱۳۰اکتوبر ۱۹۷۵ء/۸عقرب۱۳۵۴ه ش


بناغلی محمد نعیم کله چه دباندنیوچارو پهوزارت‌کښی دهنددبهرنیوچاروله وزیربناغلی
جاوان سره خبری کوی .
۱۳۵٤ر۸ر۸

۱۳۱اکتوبر ۱۹۷۵ء

د پاکستان صدراعظم ذوالفقارعلی بټو هیوادوالو ته په ټیلیویژني وینا کي وویل چي هغوی د افغانستان سره د اختلافي ستونزو د خلاسون د پاره د خبرو د پیل کیدلو هرکلی کوي او خبرداری یې ورکړ چي افغانستان یو ځل بیا د پاکستان په کورنیو چارو کي لاسوهنه کوي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 68).

۲نومبر ۱۹۷۵ء/۱۱عقرب۱۳۵۴ه ش

کله چه دافغان اوهنـد داقتصادی او تخنیکی همکاری دګډ کمیسـیون پـــه غونډه کښی دافغانی هیات مشر دیلان وزیر بـاغلی علی احمدخرم او دهند ترمنځ داقتصادی اوتخنیکی همکـــاری تړون لاسلیك کوی .
۱۳۵٤ر۸ـ۱۱



١٦نومبر ۱۹۷۵ء/۲۵عقرب۱۳۵۴ه ش




بـاغلی محمدنعیم کله چه دهند دصدراعظمی له خاص نماینده سره ګوری . ۱۳۵٤ر۸ر۲۵

۲ دسمبر ۱۹۷۵ء

بي.بي.سي نن پخپله خپرونه کي د کابل څخه د خپل خبریال له خولې رپوټ خپور کړ چې د افغانستان حکومت منلې ده چې د نړۍ یوه هیواد یې لا هم د پښتونستان د لانجې ملاتړ نه دی کړی.

۳دسمبر ۱۹۷۵ء/۱۲قوس۱۳۵۴ه ش



دښتو ټولنې رئیس خپرنوال محمدصدیق روهی کله چه دښتو خپرنو دبین المللـی سیمینار دپرانستلو په غونډه کښی دافغانی بوهانویه نمایندګی وینا کوی
۱۳۵٤/۹/۱۲

۹دسمبر۱۹۷۵ء



د صدراعظم پوډګورني په مشري د شوروي اتحاد پلاوئ په دوه ورځني يون کابل ته ورسيد.




د افغاني او شوروي جګپوړيز پلاوي تر منځ خبري

۱۰ د سمبر ۱۹۷۵ء

په کابل کي د جمهوررئيس سردار محمدداود او پوډګورني تر منځ هغه هوکړه لاسليک سوه چي د کال ۱۹۳۱ء د شوروي اتحاد او افغانستان د دوستئ او نه تېري تړون يې نورو لسو کلونوته وغزاوه(**د کابل راډيو مابنامني پښتو خبرونه**).

۲۱دسمبر ۱۹۷۵ء/۳۰قوس۱۳۵۴ه ش



ښاغلی محمد داؤد رئیس دولت وصدراعظم هنگامیکه وزیر دولت دروزارت خـــا رجـــه
جمهوریت عربی لیبیارادرقصر ریاستجمهوری پذیرفتند وباوی صحبت مینمایند .
۱۳۵٤ر۹ر۳۰

۲۲دسمبر ۱۹۷۵ء/۱جدي ۱۳۵۴ه ش



پوهاند دکتورنویزوزیراطلاعات وکلتورحنگام قرائت پیام ښاغلی رئیس دولـــت و صدراعظم درسیمینار هزار مین سال وفات دقیقی بلخی
اولجدی ۱۳۵٤



فرانسوی پوه پروفیسر زیلیر لازار هغه وخت چه دایو منصور دقیقی بلخی دمړینې دزرم‌کال یادونې په مجلس‌کې‌درادیوافغانستان په لوی تالارکې وینا کوی .
۱۳۵٤ر۱۰ر۱

۲۵دسمبر ۱۹۷۵ء/۵دلوه۱۳۵۴ه ش



دکابل پوهنتون د ټیس پوهـــانه دوکتور غلام صدیق مجبی کله چه دسرکال دپوهنتون دپوهنځیودفارغانو دنمـایادتامو دویشلو پـــه غونډه کې خپله وینا اوروی .
۱۳۵٤ر۱۱ر۵

۲٦دسمبر۱۹۷۵ء/ ٦دلوه۱۳۵۴ه ش

۳جنوری۱۹۷٦ء/ ۱۴دلوه۱۳۵۴ه ش



دکانو اوصنایعو دوزارت دصنایعـــو رئیس او دآلمان اتحادی جمهوریـــت دکانزرتکس دکمپنی نماینده کله چه دکندهار دوړینې نساجې دجو پولـو ټرون لاسلیك کوی .
۱۳۵٤ر۱۱ر٦

آمرپروژه خان آباد و رئیس دستگاه ساختمانی هلمند در حالیکه رئیس عمومی آب وبرق حاضر است قرارداد ساختمانی پروژه آبیاری خان آبادرا درکابل امضاء مینمایند . ۱۳۵٤ر۱۱ر۱٤



ددولت ټاغلی رئیس اوصدراعظم هغه وخت چه دجمهوری ریاست په مانۍ کښی دپولند دلوی سفیرباورولیک ،نی ۱۳۵٤ر۱۰ر۳



۱۰جنوري ۲۰/۱۹۷٦جدي ۱۳۵۵ه ش

دترکیی دباندنیو چـــارو وزیر له بناغلی محمد نعیم سره دکتنی په وخت کښی . ۱۳۵٤ر۱۰ر۲۰



جنوري ۱۱، ۱۹۷٦ء/جدي ۲۱، ۱۳۵۵ه ش



ددولت بناغلی رئیس او صدراعظم کله چه پهافغانستانکښی دمالیزیاناسټوګن لوی‌سفیر دده دباورلیك دمنلو دپاره دجمهوری ریاست په مانۍ کښی منلی دی . ۱۳۵٤ر۱۰ر۲۱

۱۷جنوري ۱۹۷٦ء/۲۷جدی ۱۳۵۴ه ش



دفواید عامی وزیر ښاغلی فایق کله چه دښار اوهستوګنځی دسیمینار دپرانستلو په مناسبت ویناکوی .

۱۳۵٤ر۱۰ر۲۷

۱۹جنوری۲۹/۱۹۷٦جدی ۱۳۵۴ه ش

♥



رئیس صنایع وزارت معادن و صنایع، آمرکمپنی تخماش اکسپورت شوروی ونماینده کمپنی یونین ماتکس‌جمهوریت اتحادی آلمان هنگام امضاء قرار داد وتهیه ماشین آلات فابریکه نساجی نخی کندهار .

۲۹ر۱۰ر۱۳۵٤

دډولت رئیس او صدراعظم ښاغلی محمدداؤد کله چه دجمهوری ریاست‌په مانۍ کښی دفرانسی د ټولنی سفیرښاغلی ژورژ پیروش باور لیک منی .

۲۹ر۱۰ر۱۳۵٤



۲۰جنوري۱۹۷٦ء/ ۳۰جدي۱۳۵۴ه ش

داوبواوبرښنا دواحد لوی ریاست او په‌کابل کښی دشوروی اتحاد دتجارتی
اداری نمایندگان کـــله چه داوبو او برښنا دپروژو دضروری ماشین آلاتو
دیرابرولو ټرون لاسلیك کوی . ۱۳۵٤ر۱۰ر۳۰



۲۳جنوري ۱۹۷٦ء/ ۴حوت ۱۳۵۴ه ش



بناغلی هلالی کفیل ریاست‌شرکت کود وبناغلی زتو نسکیخ نماینده‌کمپنی وستوگ اینتورگ هنگام امضای قرار داد خریداری کود ازاتحادشوروی ۰ ۱۳۵٤ر۱۲ر٤

٢٦جنوري١٩٧٦ء/٧حوت١٣٥٤ه ش

د اقتصادي ودي اووه کلن پلان پرانستل سو

♥

دتجارت د وزارت د بین‌المللی ترانسپورت او ترانزیت رئیس او د شوروی اتحاد دمخنی آ سیادبیرو ی چلولو دموسسی مرستیال کله چه د افغان شوروی بند رونو کښی دبیړی چلولو ټرون‌لاسلیک کوی ۰

۱۳۵٤ر۱۲ر۷



۴فروری۱۹۷٦ء/۱۴حوت ۱۳۵۴ ه ش



ښاغلی محمدنعیم کله چه دآلمان داتحادی جمهوریت لوی سفیر داکتر هافمن سره خبری کوی .
۱۳۵٤ر۱۲ر۱٤


۱۴فروری ۱۹۷٦ء/۲۴حوت۱۳۵۴ه ش



و اوکلتور وزیرپوها نـــد دکتورنوین کلهچه دجمهوری ارګ د دلکشاه په مانۍ کښی دحضرتسرورکائنات دنیکمرغه میلاد دنمانځنی پـه ۱۳۵٤ر۱۲ر۲٤ ـی وینا کوی.

۱۳ مارچ ۱۹۷٦ء

په کراچي کي د سيرت کانفرس د برخوالو په درناوي کي د ميلمستيا غونډي ته ددې هيواد صدراعظم ذوالفقار علي بټو وويل چي هيواد به يې هيڅکله افغانستان جګړه ته ونه لمسوي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 70)**



۲۹مارچ۱۹۷٦ء/۹حمل۱۳۵۵ه ش



۱۳اپریل۱۹۷۶ء


صدر اعظم بټو وویل چې دافغانستان سره خبرو ته چمتو دی خو په هیڅ توګه به پخپل هیواد کې ددې هیوادلاسوهنه ونه ځغمي(**لوړ ماخذ اومخ**).

۱۴اپریل۱۹۷۶ء/۱۵حمل۱۳۵۵ه ش



لوی درستیز تورن جنرال غلام‌حیدر رسولی کله چه یـوتن چاپ‌انداز تـه دقهرمانی کپ ورکوی .
۱۵ر۱ر۱۳۵۵

۱۹اپریل۱۹۷۶ء/۳۰حمل۱۳۵۵ه ش



بناغلی محمد داؤد رئیس دولت و صدراعظم مو قعیکه نماینده خاص اعلیحضرت حسن دوم پادشاه المغرب رادر قصر ریاست جمهوری پذیرفتند. ۳۰ر۱ر۱۳۵۵

۲۵اپریل ۱۹۷۶ء


د زلزلې او نیزونو(Earthquake and Flood)د زیان په اړوند صدراعظم ذوالفقار علی بټو جمهور رئیس سردار محمد داود ته د زړه له تله دغمرازی پیغام لیږلی دي.معلومه سوېده چې پاکستان افغانستان ته تر یوه ملیون ډالرو ډیره د خوړو مرسته افغانستان ته استوي (A Chronology of Pakistan,s Relations With

Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 70).

۲۹ اپریل ۱۹۷٦ء

د پاکستان د رسمي خبر له مخي ددې هیواد د سرې میاشتې تولنې په وریجو بار د شپیتو لاریو کاروان افغانستان ته واستاوه(**لوړ ماخذ او مخ**).

۲۹اپریل۱۹۷٦ء/۹ثور۱۳۵۵ه ش



پو هاند دو کتور نوین وزیر اطلا عا ت و کلتور موقعیکه پیام بناغلی محمدداؤدرئیس دولت وصدراعظم رابمناسبت هزارمین سال تولد خواجه عبدالله انصاری عارف نامورکشور قرائت مینمایند . ۱۳۵۵ر۲ر۹

۱مئي۱۹۷٦ء/ ۱۱ثور۱۳۵۵ه ش

بناغلی محمدنعیم هنگامیکه سالگره تولدی اعلیحضرت هیروهیتوامپراتور جاپان را به سفیرکبیر آنکشور درکابل تبریك میگوید . ۱۱ر۲ر۱۳۵۵



۴مئي ۱۹۷٦ء

په افغانستان کي د امریکا د سفارت څخه ددې هیواد د باندنیو چارو وزارت ته ۳۳٦۷ګڼه ټیلیګرام

کابل ۴مئی ۱۹۷٦ء

موضوع: په افغانستان کې د کوکنارو کښت

- کله چې د میز افسر اتریش او ما د می په دویمه د باندنیو چارو وزارت مرستیال عبدالله ولید، موږ هغه په افغانستان کې د کوکنارو د کښت په اړه سخت وغانده. د ملګرو ملتو د مخدراتو د مخنیوي د اداري(**UNFDAC**) رئیس ډی بیوس او د ملګرو ملتونو همکار مائکل ډیویس ننګرهار ولایت ته د خپل وروستي یون پرمهال په دې سیمه کې د کوکنارو په کښت کې د دوولسو میاشتو دمخه د ورته مودې په پرتله د پام وړ زیاتوالي یادونه کړې ده. اتریش وویل چې هغه د دې اوونۍ په پیل کې د کندهار- لښکرګاه- کجکۍ په سیمه کې(**د امریکا د پروژې په سیمو کې نه**) د مختلفو اندازو له مخې سل و شپږ د کوکنارو کروندې شمیرلي دي. موږ ټینګار وکړ چې د افغانستان د کوکنارو کښت نه یواځې دا چې د کوکنارو کرکیله له جدي بشري ستونزو سره مخ ده.دا حقیقت چې د کوکنارو کښت نه کنټرولیږي. اتریش د دې موضوع په اړه د وړاندیز سوي قانون بیلابیلي برخې د کانګرس په کمیټو کې معرفي کړې. موږ له عبدالله وغوښتل چې د دې ستونزې په اړه ژر تر ژره اقدام وکړي.

۲- په جواب کې عبدالله د بزګرانو د قانع کولو ستونزې ته په اشاره پیل وکړ چې د کوکنارو کښت ودروي پرته لدې چې دوی د نورو فصلونو څخه مساوي عاید ترلاسه کړي. موږ ورته وویل چې د هلمند د ناوې په څیر سیمو کې باید کروندګر قانع سي چې حکومت د اقتصادي پراختیائي پروګرامونو د لارې د دوی لپاره کافي کار کوي ترڅو دوی د کوکنارو کښت ته اړتیا ونلري.

۳- عبدالله همدا راز وویل چې د افغانستان پر وړاندې یوه ستونزه په امریکا، لویدیځه اروپا او ایران کې د هغو جنایتکارو عناصرو شتون دی چې د تریاکو قاچاق کوي. هغه له مور څخه وغوښتل چې د دغو عناصرو په وړاندې مبارزه وکړي. هغه همدارنګه په افغانستان کې د قاچاق د مخنیوي لپاره په وروستیو میاشتو کې د افغانانو هڅو ته په ویاړ سره اشاره وکړه.

۴- په پای کې عبدالله وویل چې د دې ستونزې جدیت یې درک کړی او په دې اړه به د کرنې او کورنیو چارو له وزیرانو سره خبرې وکړي، څو وګوري چې څه وسي.

۵ – DCM او د AID رئیس د باندنیو چارو وزارت له عمومي رئیس او د هلمند ولایت له والي سره موازي چلندونه کړي دي. والي کله چې د امریکا د پروژې په سیمو کې د کوکنارو د کرلو خبر ورکړ، سمدستي ګامونه یې پورته کړل چې بوتې یې له منځه یوسي.

٦- د امریکا ماموریت د مخدره توکو سره د مبارزې کمیټه د غونډو لړۍ پیل کوي ترڅو د کوکنارو د کلتور په اړه زمور د موجوده معلوماتو اساس ښه کړي او د مخنیوي په برخه کې د نورو ګامونو لپاره وړاندیزونه چمتو کړي.

ایلیټ

1 - Source: National Archives, RG 84, Kabul Embassy Files: Lot 79 F 132, Subject Files, Box 133, SOC 11–5, Cables 1976. Confidential. It was drafted and approved by Eliot; and cleared in draft by POL; cleared by NEA/PAB and Curran (DCM).

2 - Ambassador Theodore Eliot reported his May 2 discussion with Deputy Minister for Foreign Affairs Abdullah on opium poppy cultivation and the importance of eradication in U.S. project areas. https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d21


۷ مئي ۱۹۷٦ء

د پاکستان د باندنيو چارو وزارت په رسمي اعلاميه کي خبر ورکړ چي صدراعظم بټو د سردار محمد داود د لوري کابل ته د ورتلو بلنه ومنل.په بيانيه کي زياته سوېده چي د وروستۍ زلزلې له قربانيانو سره د مرستې لپاره د دوی لخوا د کافي ترتيباتو په پام کې نيولو سره دوی د نورو هيوادونو، سازمانونو او اشخاصو مرستو ته اړتيا نه درلوده. پاکستان د خپل هيواد د ټولو خيريه ټولنو غوښتي وو چي د افغانستان د حکومت هيلو ته د درناوي په موخه دي ددې هيواد د زلزله ځپلو سره بسپنه شلاوند وکړي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 70)**

۸ مئي ۱۹۷٦ء

د پاکستان د باندنيو چارو وزارت ويانډ خبر ورکړ د سردار محمد داود بلنليک ته کورودانی ووايه. پاکستان پر دې دريځ ټينګ ولاړ دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ خبرې دې له کوم مخکيني شرط پرته وسي(**لوړ ماخذ او ۷۱مخ**).

۱۰مئي ۱۹۷٦ء/ ۲۰ثور ۱۳۵۵ه ش




نوین وزیر اطلاعات وکلتور حین ایراد بیانیه بمناسبت بر گـزاری میله عنعنوی گل نارنج . ۲۰ر۲ر۱۳۵۵

۱۲مئی ۱۹۷٦ء

د افغانستان د باندنیو چارو مرستیال وزیر وحید عبدالله د ترکیې په استنبول ښار کي د اسلامي هیوادونو د باندنیو چارو وزیرانو په غونډه کي د ګډون پر مهال د پاکستان د باندنیو او دعاعي چارو کي ددولت د وزیر عزیزاحمد سره ولیدل. وحید عبدالله وروسته څرګنده کړه چي د عزیزاحمد د خبرو څخه ډیر ډادمن سوی دی(**لوړ ماخذ او مخ**).

۲۲مئي۱۹۷٦ء/۱جوزا، ۱۳۵۵ه ش

شاغلی رئیس‌دولت‌وصدراعظم باگروپ ازنمایندگان استادان ومعلمان کشور در ارگ ریاست جمهوری صحبت می فرمایند . ۱۳۵۵ر۳ر۱




♥

رئیس تدریسات مسلکی وزارت معارف ومستشار اقتصادی سفارت کبرای اتحاد شوروی هنگام امضای موافقتنامه تمدید کمك های تخنیکی اتحادشوروی درمورد دوام وظیفه سی نفر معلم درتخنیکم نفت وگاز درمزار شریف.
۱۳۵۵ر۳ر۱



۲۳مئي ۱۹۷٦ء/ ۲جوزا،۱۳۵۵ه ش




وخت چه دښوو نکی دور ځی دنمانځی په‌مناسبت ددولت دښاغلی رئیس اوصدر اعظم پیغام دپوهنی وزیر پوهاند عبدالقیوم پواسطه نندارې په تالار کښې لوستل کیږی.

♥



چـه دښوونکـی دورځی‌د نمانځنی په مناسبت د دولت دښاغلی رئیس اوصدر اعظم پیغام دپو هنـی دوزیر پوهاند عبدالقیوم‌په‌واسطه‌دکابل
لار کښی لوستل کیږی.
۱۳۵۵ر۳ر۲

♥



ددولت ښاغلی رئیس اوصدراعظم کله‌چه دهیواد دښوونکو او استادانواستازی‌یی دجمهوری ارګ په ماڼۍ کی‌منلی
۱۳۵۵ر۳ر۲

۲۹مئي ۱۹۷٦ء/ ۸جوزا۱۳۵۵ه ش



ښاغلی منوچهر تسلیمی وزیـــر تجارت ایران هنگام ملاقات با ښاغلی سید عبدالاته معاون دوم صدارت‌عظمی
ر مالیه.
۸ر۳ر۱۳۵۵

۳۰مئي ۱۹۷٦ء/۹جوزا،۱۳۵۵ه ش



بناغلی محمدداؤد رئیس‌دولت‌وصدراعظم بعداز آنکه اعضابرجسته‌هیات‌انجمن‌ملی دکتوران حقوق فرانسه رادرقصرریاست جمهوری پذ یرفتند درکتاب طلایی‌هیات امضاء می نمایند۰ ۹ر۳ر۱۵۵

۴جون۱۹۷٦ء

په رسمي توګه ويل سويدي چي د افغانستان و پاکستان تر منځ به د جرمني د لاري د ټيليکس فون آسانتياوي پيل سي.

۷جون، ۱۹۷٦ء





د پاکستان صدراعظم او د پيپلز ګوند موسس ذوالفقارعلی بټو د افغانستان په رسمي يون کابل ته ورسيد، ولسمشر سردار محمد داود يې پر هوائي ډګر تود هرکلئ وکړ، په پلاوي کي ددې هيواد ددفاع او باندنيو چارو په وزارت کي ددولت وزير عزيزاحمد،د صدراعظم ځانګړئ استازئ محمديوسف بيګ،د باندنيو چارو وزارت منشيان آغا شاهي او شهنواز او د تشريفاتو رئيس محمد اسماعيل ګډون



لري.

ولسمشر سردار داود د پاکستاني صدراعظم بټو سره د خبرو پر مهال

۱۱جون ۱۹۷٦ء

په يوه ګډه اعلاميه کې چې افغانستان ته د صدراعظم بټو د يون په پايله کي خپره سوه، دواړو هيوادونو د سولئيز ژوند د پينځو اصولو پر بنسټ خپل سياسي اختلافات اواروي او هم به د يو بل پر ضد له دښمنانه تبليغاتو څخه ډډه وکړي. کابل ته د راستنيدو پر مهال، بټو

تبصره وکړه هڅه کوي چې د افغانستان سره ملګرتیا ته وده ورکړواو ساتنه یې وکړو،خو پدې پړاو کې دا نه سو وئیلای چې پدې موخه کې به څومره بریالي سو

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 72).

۱۷جون ۱۹۷٦ء

په ایران کې د افغانستان سفیر زلمی محمود غازي د خبري آژانس**(P.P.I)**سره په مرکه کې وویل چې هیواد یې د پاکستان پر خاوره دعوه نلري. هغه پر دې هیله مندي ټینګار وکړ چې پر هغو ټولو ستونزو چې د دواړو هیوادونو اړیکي اغیزمني کوي د نړیوالو فورمونو پر ځای دي دوه اړخیزه خبري وسي(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۷جون ۱۹۷۶ء

د باندنیو چارو وزیر کیسنجر لخوا ولسمشر فورډ ته یادداشت

واشنګټن د جون ۱۷، ۱۹۷٦

(۳ مخ)

موضوع:

• د جمیکا او افغانستان لپاره د PL 480 پروګرام

د جمیکا او افغانستان حکومتونو سږکال د کوچني سرلیک I PL 480 پروګرامونو غوښتنه کړې. زه دا خورا مهم ګڼم چې موږ دا ډول مرستي چمتو کړو.

د جمیکا (2.5 ملیون ډالر) او افغانستان (2.6 ملیون ډالر) پروګرامونه د 1976 مالي کال او انتقالي ربع لپاره د تصویب سوي سرلیک I

بودیجې کچې سره سمون لري. زه باور لرم چې مهمه مسله پراخوالی نه دی، مګر ایا سیاسي، پرمختیایي او بشري راستنیدنه د لګښت سره سمون لري. زه باور لرم چې دوی دي.

امریکا په جمیکا کې د پام وړ اقتصادي ګټې لري. د دوی په منځ کې د باکسایټ/الومینا په صنعت کې د متحده ایالاتو پانګه اچونه ده چې شاوخوا شپږ سوه دیرش ملیونه ډالره ده. د جمیکا د حکومت او باکسایټ شرکتونو ترمنځ د پانګونې شخړې د خبرو اترو په نازک پړاو کې دي؛ وضعیت باید خراب نه سي.

(۴مخ)

د افغانستان برنامه به سږ کال د سبزیجاتو د تیلو د واردولو اړتیاوي پوره کړي. افغانستان د نړۍ یو له بې وزلو هیوادونو څخه دی او د تیلو او نورو اجناسو د بیو یا قیمتونو د لوړیدو له امله یو له خورا جدي زیانمن سوي (MSA) هیواد څخه شمیرل کیږي.

مورږ په افغانستان کي رشتیني که محدودي، ګټې لرو. په تاریخي ډول هلته کورنۍ پرمختګونو پر ګاونډیو هیوادونو اغیزه کړې ده، او د جنوبي آسیا په سیمئیز ثبات کي زمورږ د پام وړ لیوالتیا په کابل کي د یو مسئول، اقتصادي پلوه پرمختلونکي حکومت د ودي لپاره د امریکا د رشتینو هڅو دلیل دی. همدارنګه مورږ هڅه کوُو چې د شوروي اتحاد له انحصار څخه د مخنیوي په برخه کي له افغانستان سره مرسته وکړو. د PL 480 برنامه به پدې اهدافو کي مرسته وکړي او سږکال به په مرستندویه برنامه کي د لنډمهاله کمولو لپاره مرسته وکړي.

د خپلو ګټو په خاطر مو د افغان ولسمشر د ستر سلاکار او ورور سردارمحمد نعیم ته بلنه ورکړه چې د جون په وروستیو کې واشنګټن ته یون وکړي. ټاکل سوې ده چې هغه د جولای په لومړۍ نېټه له تاسو سره ووینې. زه هیله لرم چې د افغانستان د PL 480 غوښتنه به په هغه وخت کې کومه ستونزه نه وي.

زه ستاسو څخه غوښتنه کوم چې د جمیکا او افغانستان دواړو وړاندیزونو ته ښه پاملرنه وکړی.کوچني هیوادونه زموږ لپاره مخ په زیاتیدو دي. PL 480 په ځانګړې توګه د باندنۍ ټګلارې یوه اغیزمنه وسیله ثابته سوې ده چیرې چې بیرته راستنیدنه د لګښت څخه ډیره ده (۵ مخ).

۲۹جون ۱۹۷۶ء

ټیلیګرام 4630 په افغانستان کې له سفارت څخه د باندنیو چارو وزارت ته

کابل، د جون ۱۹، ۱۹۷۶.

موضوع:

• د داوود/بوټو لومړۍ غونډه — بیا کتنه

حواله:

• کابل ۴۲۸۴؛ ب. کابل ۴۳۳۴؛ ج کابل ۴۳۹۹

۱- ولسمشر سردار محمد داود او صدراعظم ذوالفقار علی بوټو د رشتینو شخصي اړیکو د ترلاسه کولو لپاره د پام وړ خندونه لیږي کړل. په کابل کې ددوی تر منځ غونډه (**جون ۱۹۷۶ء**) د دې لامل سوه چې یو د بل پر ضد د پروپاګنډې د درولو لپاره د پرله پسې خبرو اترو

لړۍ پيل سي. لږ تر لږه په لنډه موده کي دا په ډاګه سوه چې د پښتونستان په اړه د سردار داود له نرمولو سره د افغان کيڼ اړخو او پښتنو "توکمونو" مخالفت د مديريت وړ دی. د بوټو د بلنې په برخه کي د سردار داود اشاره دا امکان نه لري چې په افغانستان کي دي دې لانجې ته د پخوا په څير وکتل سي. سيمئيز ثبات ښه سوی دی.

۲ - له کابل څخه د لومړۍ وزيرې بوټو له وتلو يوه اوونۍ وروسته د حکومت په دننه او دباندي کي له يو شمېر با نفوذه افغانانو سره د خبرو له لارې مور ته دا قناعت ورکړل شو چې د افغانستان او پاکستان په اړيکو کې يخ مات سوی دی. د داوود/بوټو غونډه چې د دواړو مشرانو د سياست له امله ممکنه سوې، په دوه اړخيزو چارو کي د ښه راغلاست د تودوخي د پيل نښه ده، چې په سيمئيز ثبات کي مرسته کوي.

۳ - دوه کليدي امتيازات شايد دا سرمشريزه ممکنه کړي. لومړی دا چې پاکستان په عامه توګه دا ومني چې د پښتونستان سياسي لانجه شتون لري او دا د نسلونو لپاره د افغانستان د باندني سياست مرکز دی. دويم دا چې افغانان(**يعني داود**) په پاکستان کي پښتون ملتپال عبدالولي خان او د هغه ملی عوامي ګوند **(NAP)** د برخليک د موضوع له مطرح کولو پرته د لوړې کچې دوه اړخيزو خبرو اترو ته ليواله وو، چې پاکستان يې «داخلي» ګڼي.

۴- د دولت مشر او لومړی وزير سردار داود او صدراعظم بوټو ته د دريو مهمو لاسته راوړنو اعتبار ورکول کيدی سي چې د جون د ۷ – ۱۱، ۱۹۷۶ء د سرمشريزي خبرو پايله ده:

• لومړی: دوه سړي هغه څه رامینځته کړل چې داسې ښکاري چې رشتیني شخصي اړیکې وي، د مخکې تصور سوي منفي تاثیراتو څخه چې هر یو یې د بل په اړه درلود.

• دوهم: داود منلې ده چې د دوه اړخیزو خبرو د دوام لپاره پاکستان ته سفر وکړي. دا ډول سفر دمخه په حقیقت کې د تصور وړ نه وو. دریم: دواړو خواوو موافقه کړې چې د دښمنۍ پروپاګند ودروي.

۵ - دا یو ډیر ښه پیل دی، د سیمئیز ثبات سره مرسته کوي.نه دا چې د امریکا په ګټه دی بلکې امریکا ته اقتصادي فرصتونه هم رامینځته کولای سي. که چیرې د افغانستان و پاکستان اړیکي وروسته په ګډو پروژو کار کولو ته اجازه ورکړي، د بیلګې په توګه د حاجیګک د اوسپنې د بډایه زیرمو را ایستل، دا به ددې دوو هیوادونو تر منځ اړیکي نوري ښې کړي.

٦ - موږ باور لرو چې روسیه او د دوی سیمئیز پلویان د غونډې وروسته یو څه توازن لري. موږ په کین اړخو حلقو کې د ډلو ټپلو راپورونه لرو چې ایا د سردار داود لخوا "د پښتونستان پریښودل" د د ۱۹۷۳ء د پاڅون سره خیانت دی؟.

۷ - پاړسوب که څه هم پیل سوی، په سختۍ سره پیل سوی. ډیری شیان کیدای سي د دې امید لرونکي پیل له مینځه یوسي: د مشرانو بدلون؛ یوه ترهګریزه پېښه؛ د دواړو خواوو د لوړ پوړو اشخاصو ترمنځ شخصي غلط فهمۍ. موږ اراده لرو چې پر هغه اهمیت ټینګار وکړو چې امریکا یې د باندنۍ لاسوهنې پرته د دوه اړخیزې ډیپلوماسۍ دوام او پراخولو ته ورکوي.

۸ - څه پیښیږي او کله لیدل کیږي. ښایي افغانان به مخکې له دې چې سردار داود هلته ولاړ سي او په اسلام اباد کې سفیر وټاکي. داسي راپورونه سته چې هغه به ډیر ژر یون وکړي، مګر دا ستونزمنه ده، وګورو چې دا به د جولای په وروستیو کې څنګه وي ځکه چې هغه هیواد ته د جولای د څلورمي څخه تر اوومي نیټې میرمن اندرا ګاندي، د جولای پر یوولسمه د اندونیزیا د باندنیو چارو وزیر ورځي. مورږ فکر کوو چې په دواړو خواو کې به کوټلي ګامونه پورته سي (۵ مخ).

۹- یوه خبره یقیني ده چې سردار داود د پښتونستان په لانجه کې د بدلون ښکاره اشاره ورکړې ده. مورږ په دې باور یو چې دا ناشونې ده چې دې لانجې ته یو ځل بیا په افغانستان کې په ورته ډول وکتل سي.

ایلیټ


1 – Source: National Archives,RG84,Kabul Embassy Files: Lot 79F 123,Subject Files,E Box131,POL7,Bhutto Visit 1976.

2 – Confidential, It Was Drafted by Curran and C William Hallman(POL); Cleared By POL;and Aproved By Eliot. It Was Repeated To Islamabad,Moscow,New Delhi and Tehran.

3 – The Embassy Reported on the Continuing Dialogue Following The June 1976 Summit Meeting Prime Minister Zulfiqar Ali Butto and President Between Mohammad Daoud.

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d22

۲۱جون۱۹۷۶ء/ ۳۱جوزا۱۳۵۵ه ش



بناغلی میلوش مینیچ معاون صدراعظم فدرالی و وزیر خارجه یوگوسلاویا هنگام عز یمت در میدان هوایی بین المللی کابل .
۱۳۵۵ر۳ر۳۱

جون ۲۹، ۱۹۷۶ء

د ولسمشر ورور او ځانګړئ استازئ سردارمحمدنعیم د امریکا په یون ولاړ.



سردار محمدنعیم د امریکا د ولسمشر جیرالډ آر.فورډ او د باندنیو چارو د وزیر هینري کیسینجر سره

۲۹جون ۱۹۷۶ء

د ملي امنیت په چارو کې د ولسمشر د مرستیال (**سکوکرافټ**) لخوا ولسمشر فورډ ته یادداشت

واشنګټن، د جون ۲۹، ۱۹۷۶.

موضوع:

- د جمیکا او افغانستان لپاره د PL-480 پروګرامونه

سکرتر کیسنجر د جمیکا (2.5 ملیون ډالرو) او افغانستان (2.6 ملیون ډالرو) لپاره د PL-480 کوچني پروګرامونو وړاندیز کړی. سکرتر تاسو ته په یادداشت کې د دې پروګرامونو اړتیا په اړه بحث کوي په ټب A کي. په ټاب ب کې تاسو ته د جیم لین لخوا د دې برنامو پروړاندې وړاندیز سوی.

د سکرتر کیسنجر یادداشت د دې دوُو کوچنیو پروګرامونو اهمیت په ګوته کوي.

• په افغانستان کي مورِ غواړو د هغه پروګرام خپګان لیري کړو چي په ۱۹۷۳ء کي بشپړ سوی نه وو،داځکه چي افغانان ورو حرکت کوي. تاسو به د جولای په لومړۍ نېټه د افغان ولسمشر له ورور او ستر سلاکار محمد نعیم سره ووینئ؛ هغه به خوښ وي چي پوه سي چې دا کوچنۍ ستونزه حل سوې ده.

• - افغانستان د باندنیو اسعارو ډیري زیرمي لري، که څه هم دا یو له خورا بې وزلو هیوادونو څخه دی، دلته زمورِ د مرستو کمول موقتي دي.

۳۰جون ۱۹۷٦ء

د خبرو اترو یادښت 1، 2

واشنګټن، د جون دیرشمه نېټه، د ماسپښین ۴ - ۵ بجې

موضوع:

• د سردار محمدنعیم سره لیدنه

ګډونوال: د امریکا د باندنیو چارو وزیر هینري کیسنجر،په کابل کي د امریکا سفیر ایلیوټ، د امریکا د باندنیو چارو د وزیر مرستیال ډېس

سردار محمد نعیم، په امریکا کي د افغانستان سفیر ملکیار، د باندنیو چارو د وزارت سرپرست عبدالصمد غوث

سکرتر: خوشاله یم چي ستاسو سره بیا وینم، زه کابل په خورا تود هرکلي او په زړه پورې مېلمه پالنه یادوم.

سردار محمد نعیم: زه دي هم په لیدو خوشاله یم، ستاسو سره چي هر چا لیدلي دي په ښه خوله مي یادوي.

کیسنجر: د افغانستان نندارە په زړه پوري وه.

سردار نعیم: افغانستان ډیر ښکلی او په زړه پوري هیواد دی.

سکرتر: زه ډیر د مخه افغانستان ته تللی یم او یو ځل مي د پاکستان د لاري د خیبر دره لیدلې ده.خو د افغانستان د ښکلا څخه ډیر متاثره سوم.

سردار نعیم: زه باور لرم چي د افغانستان او پاکستان ترمنځ تګ و راتګ اسانه سوی دی. موږ د خبرو د لاري د خپلو ستونزو د اوارولو د پاره نوي پړاو ته داخل سوي یو.جمهور رئیس سردار داود پریکړه کړېده چي د ښاغلي بوټو په بلنه اسلام اباد ته ولاړ سي. دا ددواړو هیوادونو د اړیکو د ښه کولو پر لور یو ګام دی.

(۲ مخ)

سکرتر: دا ډېر زړور او د سیمي د سولي لپاره ګټور ګام دی.

سردار نعیم: د دوستی چاپیریال رامنځته سوی دی. هیله من یو چي راتلونکې ناسته به د هري ستونزي د حل او زموږ تر منځ د اوږدې مودې د غلط فهمیو د له منځه وړلو فرصت برابر کړي. موږ له پاکستان سره ښې اړیکي ډېرې مهمي ګڼو. له بلي خوا موږ له ایران

سره د دوستانه او همکارو اړیکو د پراختیا غوښتونکي یو. دا ټول به په سیمه کې د ثبات په رامنځته کولو کې مرسته وکړي.

سکرتر: زه ستاسو سره په بشپړه توګه موافق یم. موږ فکر کاوه چې د غونډې پایلې به خورا ښې وي.

سردار نعیم: پدې وروستیو کې د نړۍ سیاسي تاریخ یو وخت داسې وو چې د نظامي اتحادونو پر جوړولو ټینګار کیدی. هغه مهال د پاکستان سره کړکېچ شتون درلود. زه په امریکا کې د افغانستان سفیر وم، د افغانستان او پاکستان تر منځ د کړکېچ په پام کې نیولو سره موږ فکر کاوه چې زموږ دفاع باید ښه سي. موږ د امریکا د باندنیو چارو د وزارت څخه د خورا محدودو وسلو غوښتنه وکړه،خو د امریکا لخوا رد سوه.

سکرتر: هغه کوم کال وو؟

سردار نعیم: د ۱۹۴۹ء پای یا د ۱۹۵۰ء پیل. افغانستان په داسې یوه حالت کې وو وګړو یې تمه درلوده چې حکومت به یو څه وکړي او د افغانستان د امنیت موضوع په پراخه کچه مطرح سوه. په پای کې پریکړه وسوه چې د هیواد د امنیتي ستونزو د کمولو لپاره د هري سرچینې څخه مرسته وغواړو. له همدې امله افغانستان له شوروي اتحاد سره اړیکي پیل کړې. روسیان چمتو سول چې افغانستان ته وسلې ورکړي. دا بیا د اقتصادي همکاری لامل سو چې د شوروي اتحاد وګړي او تخنیکران یې له ځانه سره راوړل. ډېر کلونه وړاندې په کابل کې د شوروي له سفیر سره زما لومړۍ لیدنه ښه په یاد ده. ما ورته وویل چې موږ غواړو ښه ګاونډیان واوسو خو دا چې موږ د

شوروي اتحاد څخه بيله مفکوره(Adealogy) لرو، ورته ومو وويل چې که شوروي اتحاد له افغانستان سره د دوامداره ښو اړيکو اراده لري، اقتصادي مرستي او مفکوره باید سره بيل سي. البته زه يوځي د يوه افغان په اړه نظر څرګندوم. په لومړيو څو کلونو کي دوی هڅه وکړه چې زمور د اړيکو ايډيالوژيکي او سياسي اړخ په واک کي ولري. په هرصورت وضعيت وروسته بدل سو. په افغانستان کي پخواني رژيم د نوي اساسي قانون په رامنځته کېدو سره ګډوډ حالت رامنځته کړ. شوروي اتحاد بيا دا اسانه وموندله چې هغه څه هير کړي چې مخکې ويل سوي وو. په افغانستان کي له وروستي انقلاب وروسته د روسيې په ګډون نژدې ټولې نړۍ د افغانستان پېښې ناسمي وبللې. کله چې زه د لومړي ځل لپاره تر انقلاب وروسته شوروي اتحاد ته ولاړم، ما وليدل چې د شوروي اتحاد ولسمشر ليونيډ بريژنيف زما دغسي هرکلی وکړ لکه زه چې د يوه دغسي دولت سفير يم چې کمونيزم رامنځته کوي. دا تصور د روسانو لپاره ځانګړی نه وو مګر د نورو په منځ کي څرګند وو. دې کار زمور لپاره لا زياتي ستونزي جوړي کړې. شورويان ډير ليوال وو چې د دوی د خوښي حالت رامنځته سي. خو په ښکاره دا انګېرنه د افغان حکومت له نظره او د افغانانو د ژوند له طريقې سره په بشپړه توګه مخالفه وه. البته مور د شوروي اتحاد وسلې ترلاسه کړي دي. د اقتصادي پرمختګ په برخه کي مور بايد په شوروي اتحاد کي روزل سوي افسران او سړي ولرو، لکه د تيلو د څېړنې په برخه کي. اوس شوروي اتحاد پر دغو کسانو حساب کوي چې هلته روزل سوي دي. د پايلي په توګه مور

احساس کوُو چې په سیمه کې د هغو سترو ځارګرې یا استخباراتي شبکو، او همدارنګه د هغو افغانانو په ګډون چې په شوروي اتحاد کې روزل سوي، امنیتي وضعیت د شوروي اتحاد په وړاندې ورځ په ورځ د ناخوښۍ پر لور روان دی. د ډېرو نورو وسایلو په درلودلو سره د هغوی پر وړاندې مبارزه اسانه کار نه دی. موږ د وضعیت د توازن سره علاقه لرو.

سرمنشي: په اصولو کې، زه د هغه څه سره بشپړ موافق یم چې تاسو وویل. څه باید وکړو؟

سردار نعیم: موږ غواړو چې د امریکا ملګرتیا او همکاري نوره هم خرګنده سي او هر څوک یې ووینې.

سکرتر: موږ په ځانګړې ډول څه کولای سو؟

سردار نعیم: امریکا کولای سي چې د کرنې او پوهنې په برخو کې فعاله ونډه واخلي. پدې برخه کې موږ ستاسي د ټیکنالوژۍ همکاري ته اړتیا لرو.

سکرتر: خنډ څه دی؟

سفیر ایلیوټ: دا هغه برخې دي چې مرستې په کې تمرکز کوي، دا د کرنې، تعلیمي او روغتیا خدمتونه دي. زه پوره نه پوهیږم چې ښاغلی نعیم په دې برخه کې د اضافي مرستې وړاندیز کوي.

ښاغلی. نعیم: له دود سره سم، امریکا تل د پوهنې او کرنې په برخو کې مرستې ته لېواله دي. موږ په افغانستان کې د امریکا د هر ډول حضور هرکلی کوو. پر. له بلې خوا، موږ باید نور شیان په پام کې ونیسو چې ممکن ترسره شي مګر په ډېر احتیاط سره نږدې شوي.

زمونږ استخبارات په بشپړه توګه د شوروي د شتون د مخنیوي لپاره کافي ندي.

سکرتر: ایا تاسو په دې برخه کې څه مرسته غواړئ؟

ښاغلی. نعیم: افغانستان په دې برخه کې مرسته غواړي.

(۵مخ)

سکرتر: دا په دې پوري اړه لري چي استخبارات د چا پر ضد دي. که دا د شوروي اتحاد پر ضد وي، مونږ کولای سو مرسته وکړو. که دا د پاکستان او ایران خلاف وي، مونږ مرسته نه سو کولای.

سردار نعیم: د پاکستان او ایران پر ضد د استخباراتو خبره نه ده. د پاکستان، ایران او افغانستان امنیت له یو بل سره تړلی دی.

سکرتر: په اصل کي مونږ مرستي ته چمتو یو. تاسي څه ډول مرستو ته اړتیا لرئ؟.

سردار نعیم: مونږ غواړو چي په افغانستان کي د شوروي اتحاد د نیتونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړو. اجازه راکړئ تاسو ته د هغه څه په اړه ووایم چي مونږ یې احساس کوُو او وینو چي شوروي اتحاد په هیڅ ډول د افغانستان په لور د ډیټانټ پروسې د پلي کولو اراده نلري. د دوی له نظره دا پروسه په دې تړاو هیڅ ارزښت نه لري. د افغانستان په اړه د شوروي اتحاد د ارادې په اړه هر هغه معلومات چي افغانستان ته ورکول کیدای سي، خورا ګټور دی. دا مرسته البته باید ښکاره نه وي.

سکرتر: زه په بشپړه توګه موافق یم چي دا ډول مرستي باید ښکاره نه وي.

سردار نعيم: خو له بلي خوا ستاسو ښکاره حضور او ستاسو اعلان سوې ملګرتيا به د افغانستان د يو بل ايډيالوژيک نظام له ډوبيدو څخه د ژغورنې د نظريې ملاتړ وکړي.

سکرتر: مورډ يو يا دوه کاره کولای سو. لومړی، مورډ کولای سو تاسو ته د غوره سوي چينل د لاري معلومات درکړو. دوهم، که تاسو غواړئ د خپلو داخلي امنيتي اړتياوو لپاره د وګړو په روزنه کې مرسته وکړئ، مورډ کولای سو مرسته وکړو.

سردار نعيم: د دې يون په ترڅ کې ما د دې امکان درلود چې د بيلو وګړو سره د ليدنې لپاره د مخ پر ودې هيوادونو لکه افغانستان سره د مرستې په اړه خبرې وکړم. مورډ غواړو چې امريکا په خپل اقتصادي پرمختګ کې لا زيات فعاله وګورو.

سکرتر: زمورډ اوسنی پروګرام څومره دی؟

سفير ايليوټ: مورډ په افغانستان کې زمورډ د تخنيکي مرستو په پروګرام کې شاوخوا سل امريکايان لرو، او دا پروګرام د 6شپږو او اوو ملیونو ډالرو په ارزښت دی.

سردار نعيم: لکه څنګه چې ما مخکې اشاره وکړه، د افغانستان او پاکستان تر منځ کړکېچ داسې وضعيت رامنځته کړ چې له امله يې مورډ له شوروي اتحاد څخه د وسلو په لټه کې سو. اوس مورډ پوهيږو چې پائيله يې دومره ساده نده لکه څنګه چې مورډ فکر کاوه.

سکرتر: ايا ته غواړې چې د وسلو د رسولو تګلاره بدله کړې؟

سردار نعيم: د اوس لپاره دا خورا غير عملي ده. هغه څه چې مورډ يې انديښنمن کړي يو، د هغو افسرانو او ملکي پرسونل شمير دی چې په شوروي اتحاد کې

روزل سوي دي. کله چې ځوانان د روزنې لپاره شوروي اتحاد ته ځي، نو دوی د شوروي اتحاد د ایډیالوژۍ تر اغیز لاندې راځي.

سکرتر: ایا تاسو غواړئ چې ستاسو وګړي په نورو هیوادونو کې وروزل سي؟

سردار نعیم: موږ له هند څخه وغوښتل چې خپل یو شمېر افسران وروزي خو امکانات یې محدود دی. د ترکیې په اړه همداسي ده. موږ باید دا ستونزه د اوږدې مودې لپاره حل کړو. د وسلو د رسولو په برخه کې سمدستي اقدام به وضعیت حل نکړي بلکې د شوروي اتحاد د شکونو له امله به ستونزې رامینځته کړي. هیله من یم چې د افغانستان ټولیز وضعیت ته جدي پام وسي. د افغانستان او امریکا تر منځ د پټې ځارګریزې همکاری او د دوستۍ ډیر ښکاره شواهد کیدای سي دا به زموږ د امنیت په اړه د توازن احساس رامینځته کړي. (۷مخ)

سکرتر: موږ دا څنګه کوُو؟ ناڅرګنده استخبارات اسانه دي.

سردار نعیم: زموږ په پرمختیایي هڅو کې زیات فعال ګډون به د امریکا شتون ټولو اړوندو کسانو ته ښکاره کړي.

سکرتر: هغه بند څنګه سو چې موږ په وروستي ځل په کابل کې خبرې پر وکړې؟.

سفیر ایلیوټ: موږ د هلمند سیند په دره کې یوه پروژه پیل کړې ده. دلته د لسو او پینځلسو پورې د امریکایانو یوه ډله کار کوي.

سردار نعیم: موږ د پرمختګ په برخه کې اوږده لاره لرو. ښایي تر ټولو مهمه ستونزه په افغانستان کې د پوهنې په برخه کې وي. که موږ

د زده کړي په برخه کي مرسته وکړو، موږ کولای سو هغه ځوانان رامینځته کړو چي د باندنۍ ایډیالوژۍ په وړاندي حساس وي.
سکرتر: زه په اصولو کې له هغه څه سره موافق یم چي تاسو وویل، مګر موږ په کلکه څه کولای سو؟ زه د هغه خطر په اړه ستاسو له نظر سره موافق یم چي تاسو ورسره مخامخ یاست. اوس ستونزه دا ده چي موږ څه کولای سو؟
سردار نعیم: زموږ سره د مرستي لپاره د امریکایی متخصصینو لوی شمیر ته ښه راغلاست ویل کیږي. د دې په کولو سره په غیر مستقیم ډول د معلوماتو لټون او ترلاسه کولو ډیر امکانات رامینځته کیږي.
سکرتر: امریکا په افغانستان کي د استخباراتو له راټولولو سره خپله علاقه نه لري، خو موږ چمتو یو چي په هغو کارونو کي مرسته وکړو چې ستاسو د حکومت ثبات ټینګ کړي.
سردار نعیم: کله چي تاسو وایاست چي په افغانستان کي د امریکا مستقیمه استخباراتي ګټه نلري، نو هلته وضعیت باید له دې حقیقت څخه جلا نه وي چي په افغانستان کي پرمختګونه د افغانستان پر ګاونډیانو او د امریکا پر سیمه ییزو ګټو اغیز کوي. دا د افغانانو داخلي مسله نه ده.
(۸مخ)
سکرتر: زه ستاسو سره په بشپړه توګه موافق یم. ما یواځي دومره وویل چي هغه استخبارات چي موږ یې د ځان لپاره ترلاسه کوُو زموږ لپاره مهم ندي مګر دا چي د افغانستان ثبات مهم دی.

سردار نعیم: زمونږ د اړیکو څرګندې برخې چې مونږ کولای سو د دواړو حکومتونو د مختلفو ادارو ترمنځ په تفصیل سره خبرې پر وکړو.

سکرتر: که تاسو د امریکا په حکومت کې ثابتې پائیلې ته د رسیدو پورې ژوندې پاته سئ، تاسو هیڅ خطر نه لرئ. مونږ کولای سو نور لوړپوړې امریکایان افغانستان ته واستوُو. دا به د امریکا لیوالتیا وښیي. مونږ کولای سو په ګډه مطالعه وکړو چې مونږ څنګه همکاري کولای سو او شاید په کابل کې سفیر ایلیټ دا کار وکړي. مونږ هم چمتو یو چې یو څوک بهر ته واستوُو که یې اړتیا وي.

سفیر ایلیوټ: ما هڅه کړې چې ژر تر ژره د افغان حکومت غوښتنو ته ځواب ووایم. په هرصورت ما تل دا احساس کړی، مونږ باید اجازه ورکړو چې افغانستان د نورو همکاریو د غوښتنو په اړه سرعت تنظیم کړي.

سردار نعیم: که تاسو ښاغلې سکرتره! په اصولو کې د هغه څه سره موافق یاست چې ما ورته اشاره وکړه، زمونږ تخنیکي وګړي په اړوندو څانګو کې کولای سي د همکاری امکانات مطالعه کړي او حدود وټاکي.

سکرتر: زه موافق یم. سفیر ایلیوټ کولای سي د امریکا استازیتوب وکړي او د اړتیا په وخت کې مونږ کولای سو اضافي وګړي کابل ته واستوُو. تاسو دې خبرې ته په خپل نظر او مونږ پخپل نظر ورته ګورو. ستاسو د کارونو سرته رسول زما د پاره خورا ستونزمن کار دی.(**ایلیوټ ته**)اجازه راکړئ پریکړه وکړو چې دوی څه ته اړتیا لري او ما ته خبر راکړئ.

(نیم ته) ایا تاسو به دا کار پیل کړئ کله چې تاسو کور ته ځئ؟
سردار نعیم: زه دلته یواځي د همدې هدف لپاره یم.
(۹ مخ)
سکرتر: ایا ښاغلی نعیم له ولسمشر سره ګوري؟
سفیر ایلیوټ: هو، سبا د مازدیګر پر څلور نیمو بجو.
سکرتر: زه به هلته ځم. زه به د غونډې لپاره هلته یم.
سردار نعیم: زه به ولسمشر ته هغه خبري بیا تکرار نکړم چې ستاسو سره مې وکړې.
سکرتر: زه به ورسره خبرې وکړم خو دا به ستاسو لپاره ګټوره وي چې هغه څه تکرار کړئ چې تاسو ما ته ویلي دي. هغه څه چې تاسو د تاریخ او ستاسو اوسنیو اندیښنو په اړه ویلي دي خورا مهم دي. تخنیکي توضیحاتو ته اړتیا نسته. ولسمشر به په هر صورت دا ماته راکړي. څنګه چې تاسو به د ولسمشر سره نژدې نیم ساعت ولرئ،لنډې خبري به ګټوري وي.
سردار نعیم: د هغه څه د روښانه کولو لپاره چې موږ ویلي دي، موږ غواړو چې د امریکا او افغانستان ترمنځ دوه اړخیزه همکاري رامنځته کړو. موږ د استخباراتو په چارو کې د لیدو وړ همکاري غواړو. دوهم موږ د امریکا ډیره ښکاره همکاري غواړو ترڅو زموږ وګړو او نورو ته دا پیاوړی احساس ورکړي چې موږ امریکا د یو فعال ملګري په توګه لرو.
سکرتر: زه بخښنه غواړم چې ایران ته د ولسمشر د وروستي یون په لړ کې مو په کابل کې د هغه ځای ناستی نه درلود. زه د اګست په

میاشت کي ایران ته ځم. شاید زه د یوې ورځي لپاره افغانستان ته هم درسم.

سردار نعیم: درته ښه راغلاست وایو.

سکرتر: ولې زه دا په ذهن کي نه ساتم. موږ به دا د پخوا په څیر ترسره کړو، دا چي سهار درځم او ماسپښین یا ماښام بیرته ځم. زه باید خپل مهال ویش وګورم.

(۱۰مخ)

سردار نعیم: نن مي له یو شمېر مشهورو سناتورانو سره د غرمې ډوډۍ وخوړه. سناتور پرسي ماته وویل چي هغه د افغانستان په شمال کي د شوروي اتحاد په مرسته جوړه سوې د سَري فابریکه(**Fertalizer Fabrica**)ولیده. دا به مهال ویش یا پای ته نه وي رسیدلې. پرسي وپوښتل چي ولي امریکا او شوروي اتحاد نسي کولای د دغسي پروژو د بشپړولو لپاره همکاري وکړي. ستونزه دا ده چي ډیری وګړي نه پوهیږي چي دا ډول پروژې ډیر نور ناڅرګند اړخونه لري.

سکرتر: دا رشتیا نه ده.

سردار نعیم: د افغانستان امنیت د سیمې د امنیت د پاره مهم دی. که موږ ډوب سو، نور هم په مصیبت کي راسره لویږي.. د ایران، افغانستان او پاکستان ترمنځ د همکاری زیاتیدل به په سیمه کي عمومي امنیت ښه کړي. نه پاکستان او نه افغانستان په سیمه کي د شوروي د استخباراتو د مخنیوي وړتیا لري.

سکرتر: موږ به سبا ستاسو سره د غرمې پر ډوډۍ وګورو.

ملکیار: موږ نن ماښام د ښاغلي نعیم په ویاړ میلمستیا کړېده، هیله لرو چې تاسو هم ورپکې ګډون وکړئ.
سکرتر: دا زما په مهال ویش کې نسته، موږ به سبا سره وګورو.
1. سرچینه: د کانګریس کتابتون، د نسخې څانګه، د کیسنجر کاغذونه، بکس CL 90، افغانستان 1974-76. پټه; نوډیس. غونډه د منشي په دفتر کې وشوه.
2. د باندنیو چارو وزیر هینري کیسنجر د ځانګړي استازي محمد نعیم سره د پرمختیایي او امنیتي ستونزو او په کابل کې د لومړي وزیر ذوالفقار علي بوټو او محمد داود ترمنځ د وروستۍ سرمشریزې غونډې د پایلو په اړه خبري وکړې.

1 – Source: Library of Congress,Manuscript Division,Kissinger Papers,Box CL 90,Afghanistan 1974-1976.Secret; Nodis.The Meeting Took Place in the Secretary,s Office.

2- Secretary of State Kissinger Discussed With Special Envoy Mohammad Naim Development and Security Issues and The Implications of The Recent Summit Between Prime Minister Zulfiqar Ali Butto and Mohammad Daud in Kabul

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d24

۱ جولائی ۱۹۷٦ء

د خبرو اترو یادښت

واشنګټن، د جولای لومړۍ، ۱۹۷٦، د ماسپښین ۱ بجه

موضوع:

• د افغانستان له ځانګړي استازي محمد نعیم سره د سرمنشي د غرمې ناسته

ګډونوال

سردار محمد نعیم (**د جمهور رئیس ځانګړی استازی او ورور**)

عبدالله ملکیار(**په امریکا کي د افغانستان سفیر**)

علی احمد خرم(**د پلان وزیر**)

)عبدالصمد غوث(**د باندنیو چارو وزارت سرپرست**

) عبدالعلی سلیمان(**د پروتوکول مرستیال**

) عبدالاحد ناصر ضیای (**د باندنیو چارو وزارت د دارالانشاء مرستیال**

• امریکائي لوری

سناتور ګارلس پرسي (**منشي**)

کلیمنټ زابلوکي(**د کانګریس غړی**)

برینټ سکوکروفټ(**این. ایس.سي**)

ډینئیل پارکر (**د اې.آی.ډي مدیر**).

تیوډور ایل ایلیټ جونیر(**په کابل کي د امریکا سفیر**).

ستیوارټ ډبلیو راک ویل

اډولف ډبس(**مرستیال سکرتر**)

رابرټ اې.بیک(**یاداشت لیکونکی**).

منشي: آیا تاسو دلته له خپل یون یا سفر څخه راضي یاست؟

سردار نعیم: دا زما لپاره یو ښه فرصت دی.

سکرتر: زه د هغه خبرو ډیره ستاینه کوم چې پرون مو وکړې(**سکوکرافټ ته**) زه غواړم له ولسمشر سره د لیدنې دمخه د پینځو دقیقو لپاره له تاسو سره ووینم.

سناتور پرسي: ښاغلي سکرتر!د افغانستان و ګاونډیانو تر منځ دوې ستونزې د اوږدې مودې څخه شتون لري. یوه له ایران سره د هلمند سیند د اوبو ویش دی. ښکاري داسي چې په سولئیزه توګه به حل سي. دویمه ستونزه له پاکستان سره د پولې دواړو غاړو ته د میشتو پښتنو په اړه اندېښنه ده. لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ، لومړی وزیر بوټو او ولسمشر داود په دې وروستیو کې په کابل کې سره ولیدل او ظاهرا په خپلو خبرو اترو کې د پام وړ پرمختګ وسو.

منشي: دا یوه د پام وړ لاسته راوړنه ده. ښاغلي نعیم له بوټو سره د خبرو په اړه راته وویل. زه فکر کوم چې دوی لوی پرمختګ کړی دی.

سردار نعیم: د ښاغلي بوټو لپاره دا داخلي پوښتنه پاتې ده. موږ هیله لرو چې هغه به هڅه وکړي چې د خپلو خلکو په وړاندې یو متوازن سیاست ولري.

سکرتر: تاسو له ښاغلي بوټو سره په دې اړه خبرې کړې دي؟

ښاغلی نعیم: (**د اوریدلو وړ**)

سرمنشي: (**سکوکرافټ ته**) موږ پرون پر دې موضوع خبرې کولې چې څنګه باید په اقتصادي ډګر کې په افغانستان کې نور ښکاره فعالیتونه ولرو. ما په دې اړه د مرستیال سکرتر سره خبرې کړې دي. سردار نعیم ته مو وویل چې موږ په اصولو کې درسره موافق او د لا زیاتې

همکاری په لټه کي یو، چي وکولای سو ځینې پروژې پرمخ یوسو، ښاغلی نعیم به افغانستان ته د ستنیدو پر مهال دا وګوري. موږ د کانونو په صنعت کي د ځینو امکاناتو په اړه خبري وکړې، په ځانګړې توګه د فولادو پر تولید.

سناتور پرسي: تاسو پوهیږئ چي موږ هلته په کندهار کي د هوایی ډګر خورا څرګنده پروژه لرو. دا د پروپ الوتکو په ورځو کې د نوي ډیلي او تهران ترمنځ د نړیوالو الوتنو د راجلبولو لپاره جوړه سوېده، اوس دوی ټول افغانستان ته پرواز کوي.

سکرتر: ایا دا معلومه نه وه چې جیټ الوتکې جوړیږي؟ دا البته مخکي لدې چې ډین پارکر واک واخیست.

سردارنعیم: د جِټ دورې ته د ننوتلو سره سم کار پای ته ورسېد.

سرمنشي: ولي به یې په افغانستان کي دریدلي وای؟ تهران نژدې دی.

سناتور پرسي: د پیستون په دوره کې دوی اړتیا درلوده چي د نوي ډیلي او تهران ترمنځ تیلو ته اړتیا ولري.

(۳ مخ)

منشي: زه باید یوه نقشه وګورم.

سناتور پرسي: ښاغلي نعیم له څو مهمو سناتورانو، ښاغلي سکرتر سره ښه ملاقات درلود. د هوبرټ همفري تر سترګو هغه مهال اوښکي اوښکي راتوی سوې کله چي یې واورېدل چي په افغانستان کي زموږ نوي مرستندویه پروژې څنګه پرمخ ځي. موږ په کلیوالو سیمو کي ښوونځي جوړوُو — او نوري پروژې.

ښاغلی پارکر: دې ته د ثابتې پيسې جبران ويل کيږي. موږ په فيليپين او اندونيزيا کې هم ورته هڅه کوُو.

سرمنشي: ايا موږ په افغانستان کې نور څه کولای سو او که نه؟ ، موږ به د مرستې نوې رئيس ته اړتيا ولرو.

ښاغلی پارکر: په افغانستان کې زموږ ډېرې پروګرامونه د بلوغ لپاره پيل سوي دي.

سرمنشي: موږ د ډېرو دلايلو له مخې لېواله يو چې په افغانستان کې خپل فعاليتونه زيات کړو، که د افغانستان حکومت پروژې په لاس کې ولري.

سفير ايليوټ: همدارنګه د اوپيک هيوادونو په مرسته يو شمير پروژې رامينځته کيږي چې امريکايي شرکتونه پکې برخه اخيستلای سي.

سکرتر: (**رابينسن ته**) ايا تاسو کولای سئ د دې پروژو څخه يو څه وګورئ؟

ښاغلی رابينسن: زه دمخه پوښتنې ته ګورم او د پارکر د رئيس سره يې خبرې کړې دي.

منشي: بل راجرز هم پکې شامل کړئ. (**سناتور پرسي**) تا څنګه له افغانستان سره علاقه پيدا کړه؟

سناتور پرسي: زما وراره په کابل کې د سولې د قول اردو د رئيس په توګه دنده ترسره کوله. موږ دوې اوونۍ د هغه ليدو ته ولاړو، په افغانستان کې مو سفر وکړ، بيا د پاکستان هُنزه سيمې ته ولاړو. په دې توګه په دواړو هيوادونو کې زما ليوالتيا وَده وکړه. ما غوښتل وګورم چې ايا کومه لاره شتون لري چې فشار کم سي. ما د دښمنۍ

پروپاګند د بندیز وړاندیز وکړ. ټاکل سوې نیټه تیره سوه او هیڅ شی نه وو.

سردار نعیم: زما په یاد دي چې مور (**د اوریدلو وړ**) هڅه وکړه.

(۴ مخ)

سناتور پرسي: دا په لومړي سر کې ناکام سو. ستونزه په ورته وخت کي یوه وه. خو د کابل په وروستیو خبرو کي په رشتیا هم په دې برخه کي لوی پرمختګ سوی دی. ښاغلی سکرتر! ما د افغانستان له سفیر څخه وپوښتل چې ایا زه کولای سم د پاکستان سفیر صاحبزاده یعقوب خان ته د سردار نعیم سره د ډوډۍ لپاره بلنه ورکړم. سفیر عبدالله ملکیار وویل دا به ښه نظر وي. صاحبزاده یعقوب خان وروسته راته وویل چې هغه د سردار نعیم د ښه راغلاست څخه ډیر متاثره سوی دی.

منشي: ایا ولسمشر سردار داود به پاکستان ته ولاړ سي؟

سناتور پرسي: هو.

سرمنشي: د افغانستان او پاکستان خرابي اړیکي د ټولي سیمي امنیت زیانمنوي.

سناتور پرسي: زه حیران یم چې ایا سردار نعیم به د هند په اړه تبصره وکړي. ښکاره خبره ده چې په دې وروستیو میاشتو کي له چین سره د سفیرانو د تبادلې او له پاکستان سره د اړیکو د ښه کیدو په بهیر کي ډېر بدلون راغلی دی.

ښاغلی نعیم: (**د اوریدلو وړ**)

سکرتر: دا ښه خبره ده چې هند يو سوله غوښتونکی هيواد دی. که نه نو ګاونډيان به يې په جدي ستونزه کې وای.

(۵ مخ)

سردار نعيم: د هند او پاکستان ترمنځ کړکېچ د هيڅا په ګټه نه دی. اړيکې د يوې کوچنۍ خاورې په اړه خرڅ پرڅ شوې. د بنګله دېش خلکو وليدل چې دوی هيڅ شی نه ترلاسه کوي او (**د اوريدلو وړ**). بنګله ديش ډاربړي.

سناتور پرسي: بنګله ديش د هند په اړه ډير انديښمن دی لکه څنګه چې چک رابينسن به وموميږ. ما پرون د بنګله ديش له اميرالبحر خان سره يو نيم ساعت ناسته درلوده.

(٦ مخ)

سکرتر: په ۱۹۷۱ء کې زه باوري وم چې ډېر ژر يا وروسته به بنګله دېش له هند سره له ستونزو سره مخ شي. ښاغلی نعيم! زه غواړم تاسو ته ووايم چې زه څومره خوښ يم چې تاسو دلته زمونږ سره ياست. مونږ اميد لرو کله چې په اکتوبر کې رونالډ ريګن درسي، تاسو به ښه وخت ولرئ. مونږ د خپلو اړيکو د لا ښه کولو لپاره چمتو يو، او مونږ به په دې برخه کې ستاسو د هڅو هرکلی وکړو. زه غواړم د افغانستان او امريکا د وګړو تر منځ د دوستۍ لپاره يو بل وړاندیز وکړم.

سردار نعيم: ښاغلي سيکرټر! زه غواړم ستاسو د ميلمه پالنې څخه مننه وکړم. مونږ هيله لرو چې د امريکا او افغان ولس تر منځ لا نژدې اړيکې وګورو. مونږ به په صادقانه توګه کار وکړو ترڅو د دواړو هيوادونو ترمنځ د همکارۍ لپاره يو ثابت بنسټ جوړ کړو. زه غواړم

له تاسو منه وکړم چې ما ته مو فرصت راکړ چې یو ځل بیا ستاسو ستر هیواد وګورم او د کانګرس ډیری غړو او سناتورانو سره ګټور بحثونه وکړم. دا نه یواځې زما لپاره لوی ویاړ وو، بلکې زه احساس کوم چې دا به زما د هیواد لپاره وروستۍ ګټه وي. اجازه راکړئ چې امریکایانو ته وړاندیز وکړم چې د دواړو هیوادونو ترمنځ د دوستۍ اړیکي وي.

سناتور پرسي: سفیر په انګلیسي ښې خبري کوي. ستونزه دا ده چې هغه په انګلیسي ژبه خبرې کولو ته وهڅوي. تاسو هم فرانسوي خبرې کوئ؟

ښاغلی نعیم: هو.

1. **Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy Files. Confidential; Nodis. It was drafted on July 6 by Robert Peck (NEA/PAB); and approved in S on July 20. The meeting took place in the Secretary's Office. All brackets in the original.**

2. **Secretary of State Kissinger lunched with Special Envoy Mohammad Naim and discussed aid to Afghanistan.**

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d25

۱جولائی ۱۹۷٦ء

د خبرو یاداشت

واشنګټن، د جولای ۱، ۱۹۷٦ء، د ماپښین د لس کم پینځو بجو څخه تر شپږ دیرشو بالا پینځو بجو پورې

ګډونوال:

ولسمشر جیرار فورډ

ډاکټر هنري اې کیسنجر (**د باندنیو چارو وزیر**)

سردار محمد نعیم (**د جمهور رئیس ورور او ځانګړی استازی**) •

علي احمد خرم(**د پلان وزیر**)

عبدالصمد غوث (**د باندنیو چارو وزارت عمومي رئیس**)

ولسمشر فورډ: دا د خوښۍ ځای دی چې تاسو دلته یاست. مهرباني وکړئ خپل ولسمشر ته زما سلام ورواندي کړی. زه خوښ یم چې زمور دوه اړخیزې اړیکي ښې دي. غواړم چې زمور د اړیکو او د نړۍ په برخه کي د وضعیت په اړه ستاسو تاثرات واورم.

سردارنعیم: ښاغلي ولسمشره ! ستاسو مهرباني ده او زه یې ستاینه کوم چې ماته مو د ځان او ملګرو سره د لیدو فرصت راکړ. د کانګرس او سنا د یو شمیر غړو سره مو خودور کاته تر سره سوی دي.

مور احساس کوو باید د خپل امنیت لپاره کافي وسایلو ته او معلوماتو ته اړتیا ولرو چې پدې برخه کي را سره مرسته وکړي او پدې پوه سو چې څه تیریږي. زه دلته د سفیر په توګه وم کله چې زمور نظامي اتاشی د وسلو یو معمولی لیست چمتو کړ چې مور ورته اړتیا درلوده. مور لږ مرسته غوښتل خو ستاسو لخوا رد سوه. مور په بشپړه توګه بې دفاع وو او د وسلو لپاره مو له شوروي اتحاد سره اړیکه ونیوه. هغوی مثبت ځواب راکړ او پر دې بنسټ زمور د هېواد په نورو برخو کي هم همکارۍ پراختیا و موندل.

(۲ مخ)

موږ شوروي اتحاد ته افسران د روزنې لپاره د دوی نظامي ادارو ته لیږلي دي. څرنګه چې د دوی له خوا مرسته را روانه وه، دوی وویل چې دوی باید زموږ پرسونل وروزي. زموږ یو شمېر پوځیان نه یواځې د وسلو په برخه کې روزل سوي بلکې سیاسي انګېزه یې هم ترلاسه کړې ده. په شمیره کې دوی د پام وړ سلنه استازیتوب نه کوي، مګر دوی ډیری وختونه په مهمو دندو کې دي. موږ د شوروي اتحاد سره د ښکاره ملګرتیا په حالت کې یو، مګر موږ نه غواړو چې ډیر ورنژدې سو.دا احساس کوُو چې دښمني مي ورسره زیاته سوېده.

که موږ د استخباراتي کارونو په برخه کې پټه همکاري سره وکړو، دا به ډیره لویه مرسته وي.

ولسمشر: شوروي اتحاد څومره پوځي مرستي کوي؟

سردارنعیم: دا اوس د پام وړ نه ده. موږ لا دمخه وسلې لرو او زموږ خلک لا دمخه روزل سوي، نو دا د پخوا په څیر نه دي.

کیسنجر: زه باید پریږدم، خو لکه څنګه چې ما ښاغلي نعیم ته وویل، له ولسمشر سره تر خبرو وروسته به په اصولو کې د استخباراتي همکاریو پر سر موافقه وکړو او د همکارۍ په ځینو نورو ښکاره پروژو به هم کار وکړو.

(سیکرټري کیسنجر ولاړی)

سردارنعیم: تاسو د سکرتر کیسنجر څخه راپور ترلاسه کړی دی. موږ د استخباراتو په برخه کې مرستې ته اړتیا لرو چې په افغانستان کې څه پیښیږي. خو موږ په افغانستان کې د امریکا د دوستانه حضور د

پرمختګ په برخه کي همکاري غواړو، چې زمور د وګړو په ګټه وي او سمبولیکه معنی ولري. تر ټولو مهم دا به په کرنه کې ګټور وي.
زمور وګړي نه غواړي چې د هغو لږو فیصدو خلکو لخوا ونیول سي چې د باندني ځواک په خدمت کي دي.
ولسمشر: لکه څنګه چې زما په یاد دي، په پنځوسمه لسیزه کي کله چې زه د کانګرس غړی وم، مور د هلمند د کجکي بند په جوړولو کي مرسته وکړه. ایا دا بند بشپړه سوی دی؟
نعیم: د اوبولګولو پر یوې پروژې ډېر کار وسو، خو دا څو اړخیزه پروژه وه او له بده مرغه لا هم بشپړه سوې نه ده. د دې بشپړول به مور ته انرژي راکړي چې مور ورته سخته اړتیا لرو او مور ته اجازه راکوي چې دا د کرنې پروسس کولو لپاره وکاروو. همدا اوس مور د سري(**Fertalizer**) جوړولو لپاره هیڅ وسیله نه لرو.
(۳ مخ)
جمهور رئیس: مهم کرنیز محصولات کوم دي؟
نعیم: وچه او نوده میوه. د کور د مصرف لپاره د خوړو تر څنګ. مور د دې په زده کولو کي مرستې ته اړتیا لرو چې څنګه زمور وچه میوه په امریکا کي بازار ته وړاندي کړو، ما د ښاغلي مک نامارا سره د فولادو د تولید په اړه بحث وکړ. مور د ریل پټلۍ د شبکې د جوړولو په حال کي یو. ښاغلي مک نامارا ژمنه وکړه چې د پروژو د مطالعې لپاره به متخصیصین واستوي. مور فکر کاوه چې شاید امریکا او نور پرمختللي هیوادونه به په دې برخو کي د پرمختګ لپاره زمور سره مرسته وکړي.

ولسمشر: زه به د سکرتر کیسنجر او AID سره خبرې وکړم او هیله من یم چې پدې او هم د استخباراتو په برخه کې یو څه کار وکړو خو مونږ باید په جزیاتو کار وکړو.

نعیم: دا ستا ډیر مهربانه دی. زمونږ د امنیت او پرمختګ لپاره دا ډول مرسته به نه یواځې زمونږ د امنیت بلکې د سیمئیز امنیت سره هم مرسته وکړي چیرې چې مونږ ژوند کوُو. په پای کې زه ډیر خوښ یم چې دلته یم او تاسې د خپلواکۍ ورځ لمانځئ. زه د هغه هیواد څخه یم چې تل یې د خپلواکۍ لپاره مبارزه کړې او دا د ویاړ خبره ده، زه تاسو ته ستاسې د جشن مبارکي وایم.

ولسمشر: ډیره مننه، مهرباني وکړئ خپل ولسمشر ته ووایاست چې مونږ به په هغه برخو کې د مرستې لپاره خپله هڅه وکړو چې مونږ خبرې ورباندې وکړې. سکرتر کیسنجر به سیمې ته د یون پر مهال ستاسې سره پر دې موضوع هم خبرې وکړي.

سردارنعیم: ډیره مننه. هر کله چې راغې مونږ به یې هرکلی وکړو.

1. **Source: Ford Library, National Security Advisor, Memoranda of Conversation, 1973–77, Ford Administration, Box 20. Secret; Nodis. The meeting took place in the Oval Office. All brackets in the original.**

2. **Special Envoy Mohammad Naim met with President Gerald Ford to discuss U.S-Afghan relations.**

   https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d26



ددولت رئيس اوصدراعظم ښاغلي محمدداؤد اوده درنده ميلمنه دهندصدراعظمه ميرمن اندراګاندی کله چې دکابل په بين المللی هوايی ډګرکی دتشريفاتو ګارد سلام منی .

۳جولائي ۱۹۷٦ء



ښاغلی محمد داؤد رئيس دولت وصدراعظم ومحترمه ميرمن زينب داؤد خانم د ئيس‌دولت وصدراعظم با ميرمن اندراګاندی صدراعظم هند دروزارت امورخارجه .

د هندوستان صدراعظمه ميرمن اندرا ګاندهي په رسمي يون کابل ته ورسيده

۴جولائي ۱۹۷٦ء



د سردارمحمد داود او میرمن اندراگاندهي تر منځ د جمهوري ارګ د ګلخاني په مانۍ کي رسمي خبري

۴جولای ۱۹۷٦ء

په خبرونو کي راغلي چي د یون پر مهال د افغانستان جمهور رئیس د هندوستان صدراعظمي ایندرا ګاندهي ته د اوسنیو نیزونو(سیلابونو) او زلزله ځپلوسره د پاکستان د بشري مرستو ستاینه کړېده. هغه د پاکستان سره د ښو اړیکو غوښتنه وکړه.

٦جولای ۱۹۷٦ء

د جیمز ای کونور لخوا د مدیریت او بودیجې دفتر رئیس ته یاداشت (لین) واشنګټن، د جولای ٦، ۱۹۷٦ء

موضوع:

• P.L. 480 د پروګرام کولو رجحانات

جمهور رئیس د پورتنۍ موضوع په اړه د غبرګولي د میاشتې په ۲۱ نیټه ستاسو یادداشت ته کتنه وکړه او لاندي تصمیمونه یې ونیول:

افغانستان:
اختیار 1 — د ٦.٢ ملیونو ډالرو وړاندیز سوی
جمایکه:
اختیار 2 — برنامه مه اخلئ.
خپرېدل:
لاندې یادونه د OMB لپاره ستاسو د سپارښتنې په اړه د ولسمشر لخوا د ۱۹۷۷ء مالي کال په پیل کي د بیاکتنې او تصویب لپاره د سیاسي او پرمختیایي موخو لپاره د راتلونکي سرلیک I د خوراکي توکو مرستې برنامې لپاره د لارښود رامینځته کولو لپاره د بین المللي مطالعاتو ترسره کولو په اړه جوړه سوې وه.
"د OMB نوې مطالعه اوس اړینه نه ده."
مهرباني وکړئ د مناسب اقدام سره تعقیب کړئ.
۱- سرچینه: فورډ کتابتون، د ملي امنیت مشاور، د منځني ختیز او جنوبي آسیا په چارو کي د NSC کارمند، د اسانتیا فایلونه، 1974-77، بکس 1، افغانستان (2)، د عکس فایل. محرم. د عمل لپاره لیږل سوی. په Tab A کي د ولسمشر لپاره د کیسنجر د ۱۷جون یاداشت ضمیمه دی چې د PL-480 دواړو برنامو ملاتړ کوي. همدارنګه د جولای په شپږمه د کارکونکو د سکرتر جیمز کونور لخوا د مدیریت او بودیجې د دفتر رئیس جیمز لین د راپور سره ضمیمه سوی چې ولسمشر د افغانستان برنامه تصویب کړه او د جمیکا برنامه یې رد کړه. (Ibid.)
۲ - د ملي امنیت په چارو کي د ولسمشر مرستیال سکرافټ د باندنیو چارو د وزیر کیسنجر د وړاندیز په اړه راپور ورکړ چې د افغانستان

لپاره د PL-480 یو کوچنی پروګرام جوړ کړي. ولسمشر دغه پروګرام تصویب کړ.

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d23

۸جولای ۱۹۷٦ء

د ایران په پلازمینه تهران کي د پاکستان صدر اعظم بټو مطبوعاتي غونډي ته وویل چي هیواد یې د پراختیا د سیمئیزي همکاری ***(Regional Cooperation for Development (RCD)*** په سازمان کي د افغانستان د غړیتوب مخالفت نه کوي خو دا هیواد پخپله غړیتوب ته لیوالتیا نلري ځکه چي د ناپیلو هیوادونو غړیتوب لري

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 72 - 73)

۱۳اګست ۱۹۷٦ء

په کوټه کې په کمانډ او سټاف کالج کې یوې استقبالیې ته د وینا پر مهال صدراعظم بټو وویل چي د افغانستان جمهور رئیس سردار محمد داود به د دویم پړاو خبرو د پاره په همدې میاشت پاکستان ته ورسي(**لوړ ماخذ ۷۳مخ**).

۱۵اګست ۱۹۷٦ء

جمهور رئیس سردار محمد داود د پاکستان جمهور رئیس فضل الهي چودهري او صدراعظم ته په ورلیږلي پیغام کي د نیزونو او زلزله ځپلو

افغانانو سره د خواخوږی پر څرګندولواود بشري مرستو پر ورليږلو منه څرګنده کړېده(**لوړ ماخذ او مخ**)

۱۷ګست ۱۹۷٦ء

په پاکستان کي د اورښتونو او نيزځپلو يا سيلابځپلو سره دجمهور رئيس سردار محمد داود د خواشينۍ پر څرګندولو صدراعظم بټو په جوابي پيغام کي ليکلي دي چي سردار د خواخوږی په دې پيغام سره د پاکستانيانو په زړونو کي ځای نيولی دی(**لوړ ماخذ او مخ**).

۱۸ګست ۱۹۷٦ء

د امريکا د باندنيو چارو وزير هينري کيسنجر په رسمي يون کابل ته ورسيد، د سردار داود د واک په پير کي افغانستان ته د هغه دا دويم يون دئ.

يکشنبه ۸ اګست ۱۹۷٦ء، غرمه تر ماپښين (12:35-2:34 (p.m.

ارګ کابل

جمهور رئيس سردار محمد داود: زه ډير خوشحاله يم چي ستاسو سره يو ځل بيا وينم او د دې فرصت هرکلی کوم چي يو څو خبري سره وکړو.

د امريکا د باندنيو چارو وزير هينري کيسنجر: ښاغلي ولسمشره ! زه ډيره منه کوم، او زمونږ وروستۍ خبري مي په ډيره خوښي په ياد دي. واشنګټن ته د سردار محمد نعيم په هرکلي ډير خوشاله سوم.مونږ له افغانستان سره خپلو اړيکو او ستاسو خپلواکۍ او مځکنۍ بشپړتيا ته ډېر ارزښت ورکوُو.

داود: مننه جناب. پوهیږم چې ستاسو یون دلته ډیر لنډ دئ، زه به درسره پر څو اړینو خبرو وږغیږم، ډاډه یم چې ښاغلي محمد نعیم په واشنګټن کي له تاسو سره په لیدنه کي دا فرصت درلود چې د سیمې له هېوادونو سره زموږ اړیکي او کورنۍ و باندنۍ تګلار درته روښانه کړېوي.ما کابل ته ستاسو په تېر یون یا سفر کي فرصت درلود چې په افغانستان کي د پاڅون (**د محمد ظاهر شاه پر ضد سپینه کودتاه=۱۷ جولائی ۱۹۷۳ء- ژباړن**) موخه تشریح کړم، چې ولي رامنځته سو. ما دا فرصت هم درلود چې په سیمه کي زموږ نااندوله تګلار او اړیکي تشریح کړم. زموږ د تیري ناستي راوروسته هیڅ لوی بدلون نه دی راغلی، مګر په سیمه کي یو څه د پام وړ بدلونونه شتون لري، غواړم په لنډه توګه یې درته تشریح کړم. یو له دغو مهمو پرمختګونو څخه هغه بدلونونه دي چې له پاکستان سره زموږ په اړیکو او د هند او پاکستان په اړیکو کي راغلي دي.د جلالتمآب به هغه وخت په یاد وي چې د طبیعي آفتونو لکه سیلابونه او زلزلې، پاکستان زموږ سره ډیري بشردوستانه مرستې وکړې. مګر هغه څه چې وروسته پیښ سول زموږ لپاره خورا مهم او د پام وړ اقدام وو. پاکستان زموږ پر ضد د دښمنۍ ټول تبلیغات او اشارې بندي کړې. موږ دا د نېکمرغۍ د یوې نښې په توګه تعبیر کړه او په دې اساس مو د دې فرصت څخه ګټه پورته کړه، چې څو ګامونه وړاندي ولاړ سو. له همدې امله مو د پاکستان صدراعظم ذوالفقار علي بوټو ته بلنه ورکړه چې افغانستان ته راسي او هغه په ډیره مهرباني سره ومنل. زه تاسو ته د افغانستان د یوه دوست او هم د پاکستان د دوست په توګه وئیلای سم چې زموږ

ليدني په خورا دوستانه فضا کي ترسره سوې. افکار مو سره تبادله کړل. موږ باور لرو چې که دا خبري او تماسونه دوام ومومي، موږ به وکولای سو چې د پښتونستان په اړه سياسي اختلافات حل کړو او اړيکي به نوري ښې سي.

کيسنجر: ستونزه څنګه حل کوی؟

سردار داود: موږ به دا ستونزه په باعزته او واقعي توګه حل کړو. هيله مند يو چې پاکستان به د پښتنو او بلوڅو هغه حقوق ومني چې خپلو نورو قومونو ته يې د پاکستان د اساسي قانون سره سم ورکوي. بې له شکه دا به د پښتنو او بلوڅو د منلو سره مشروط وي. هيله مند يو که پاکستان ددوی سره ددوستی رويه يا وضعيت وکړ، پدې سره به دواړه قاموونه ډاډه سي. زما لپاره به دا تر وخت د مخه وي چې زموږ د خبرو او تماسونو وروستۍ پائيلي ووايم، خو هيله مند يم چې که دا فضا همداسې دوام وکړي، موږ به دا ستونزه په عزت سره حل کړو.

کيسنجر: زه پوهيږم چې ولسمشر د ناپيلو هيوادونو په غونډه کي تر ګډون وروسته پاکستان ته يون کوي.

داود: هو، موږ همدا پرېکړه کړې ده. په کولمبو کي تر غونډه وروسته د راستنيدو پر مهال به د دريو يا څلورو ورځو لپاره په پاکستان کي تم سم. موږ به هغه خبرو ته دوام ورکړو چې په کابل کي مو پيل کړي وې او وبه ګورو چې دا به مو په پاکستان کي کوم لوري ته بوځي.پاکستان ته مو دا خبره د شرط په توګه نه، بلکي د يوه دوستانه وړاندیز په توګه کړې ده او د پاکستان د يوه دوست په توګه به تاسو ته دا ووايو- که د پاکستان حکومت د پښتنو او بلوڅو پر سر

د شفقت لاس **(Friendly gesture)** ټپر کړي دا به یو ډیر ښائسته چاپیریال رامنځته کړي.

کیسنجر: د"شفقت لاس" څخه مو مطلب څه دی؟

داود: زه غواړم لومړی تاسو ته دا روښانه کړم چې پاکستان ته تلل زما لپاره ډېر ګران کار وو. ځکه چې دنیشنل عوامي ګوند مشران دا مهال په زندان کي دي او پاکستان موږ تورن کړي یو چې ددې مشرانو سره د پاکستان په ماتولو کي همکاري کوُو. زموږ په نظر زنداني مشران د خپلواکی جنګیالي دي.

وحیدعبدالله: (**د افغانستان د باندنیو چارو وزیر**): هغوی د خپلو حقونو لپاره مبارزه کوي.

کیسنجر: آیا تاسو په راتلونکې لیدنه کي د دې ستونزي د خلاسون هیله لری او کنه؟

داود: لکه څنګه چې تاسو پوهیږئ، زموږ او پاکستان ترمنځ دا ستونزه ډیره پیچلې ده او فکر کوم چې تاسو یې په یوه یا دوُو غونډو کي نه سئ خلاسولای. باور وکړی که په یوه او دوُو غونډو کي خلاسه سي، دا به موږ ته ستر ډاډ را په برخه کړي. دا به د دواړو لورو په تفاهم پوري اړه ولري. په هرصورت، موږ هلته ځو، او هیله مند یو چې که ستونزه حل نه سي، لږ تر لږه یو ګام خو به د خلاسون پر لور ولاړ سو.

کیسنجر: موږ د افغانستان او پاکستان د اړیکو د ښه کیدو هرکلی کوُو او هیله لرو چې تاسو به د قناعت وړ حل ته ورسیږئ، ځکه تاوتریخوالی به یواځي د دواړو خواوُو امنیت زیانمن کړي.

سردار داود: مننه کوم صاحب! د دواړو هيوادونو د امنيت په اړه چې تاسو کومې خبرې وکړې، زه يې پخلی او ملاتړ کوم.بل ټکی چې زه يې غواړم د افغانستان او ستاسو د هيواد اړيکې دي. مونږ پوهيږو چې امريکا يو لوی ځواک دی او د نړۍ په کچه د معلوماتو وسيلې لري، مونږ به خوشاله سو چې زمونږ او ستاسي ترمنځ د اړيکو پر بنسټ په دې سيمه کې د پيښو او پرمختګونو په اړه خبرتيا راکړی چې د سيمئيزو هيوادونو پر امنيت منفي اغېز کوي

کيسنجر: په دوامداره توګه يا په دې غونډه کې؟

داود: نه، مونږ له تاسو غواړو، که امکان ولري، مونږ ته د دوستی په توګه معلومات راکړی، کله چې تاسو ته راسي او راکول يې تاسو مناسب وبولی.

کيسنجر: ښاغلي سردارنعيم هم دا خبره په واشنګټن کې وکړه او مونږ په اصولو کې دې کار ته چمتو يو. مونږ به ليوالتيا ولرو که ولسمشر مونږ ته په لږ دقت سره ووايي چې هغه څه ليوالتيا لري؟.

داود: لکه څنګه چې جلالتمآب ته معلومه ده، افغانستان يو ځانګړی جغرافيايي موقيعت لري او د تاريخ په اوږدو کې د همدې جغرافيايي موقيعت له امله د يو ډول يا بل ډول ستونزو سره مخ سوی دی.

کيسنجر: له کومه ځايه پوري چې زه د افغانستان په تاريخ پوهيږم، تاسو تل هر هغه چاته چې دلته راغلي دي کړاونه و مشکلات پيدا کړيدي(**خندا**).

داود: په حقيقت کې دوی زمونږ لپاره مشکلات پيدا کړيدي، دوی زمونږ کور ته راغلي دي، مونږ د دوی کور نه يو ورغلي(**خندا**).

کیسنجر: مګر تاسو هغوی پر ارامه نه دي پرې ایښي(**خندا**).
داود: غواړم زیاته کړم چې زموږ په دې سیمه کې ډول ډول لیوالتیاوي او مفکورې سته چې یو د بل سره په ټکر کې دي او کله چې په تماس کې سي تل ستونزې پیدا کوي.زما په فکر د کوچنیو هیوادونو په پرتله ستاسو په واک کې وسایل خورا لوی او ډیر دي.
کیسنجر: د ټیلیفون تر خبرو مخامخ خبرې ښې دي ځکه چې زه دلته شتون لرم، تاسو د باندني یرغل او که د لاسوهنې څخه اندیښمن یاست؟
داود: زه باور نه لرم چې باندنی تېری دي عملي سي. موږ په دې اړه هیڅ ویره نه لرو. مګر په داخلي توګه تخریب هغه څه دي چې موږ یې اندیښمن کړي یو. موږ له خپلو ګاونډیانو سره ښې اړیکي لرو او دا مهال د هغوی له کوم یرغل څخه نه وېرېږو. مګر موږ په کورنۍ او عمومي تګلارو کې پر دغسي لار روان یو چې زموږ د ژوند د ډول خصوصیت او زموږ د پاره ځانګړې ده چې زموږ د وګړو او دودونو سره سمون خوري. له همدې امله دا ډول چلند یوه خپلواکه رویه او خپلواکه کرښه، کیدای سي د کین اړخو او ښي اړخو به خوښه نه وي. له همدې امله موږ د خپل اولس هر ډول نفوذ ته لمن وهو او په تیرو لسو کلونو کې حالات داسي وُو چې هېواد مو د هر ډول نفوذ او هر ډول افکارو پر مخ خلاس وُو. نو موږ به ډیر خوشحاله سو او ډاډګیرنه به مو وسي که چیرې زموږ ملګرې امریکا په ټوله نړۍ کې د دوی په اختیار کې وي، که دوی زموږ امنیت ته کوم ګواښ احساس کړي او یا یې وویني، ژر تر ژره کولای سي چې موږ ته خبر راکړي.

کیسنجر: په اصولو کې موږ دې کار ته چمتو یو چې وې کړو. او ولسمشره! که زه په پوهیدلی یم دا کار د کورنې او باندنې امنیت دواړو سره تړاو لري.

داود: بلې! کورنی و باندنی دواړه.

کیسنجر: او دا معلومات باید چا ته ورکړو؟

داود: البته، موږ نه غواړو چې تاسو موږ ته دا معلومات د یادښت یا لیک په بڼه راوسپاری، خو موږ دواړه لوري به یو و بل ته یو یو تن ور وپیژنو، ددوی د لارې به معلومات سره تبادله کوُو.

کیسنجر: موږ به هم دا غوره کړو. په واشنګټن کې د کاغذ پر مخ هر څه په واشنګټن پوسټ (**ورځپاڼه**)کې خپریږي(خندا). تاسو به یو څوک وټاکئ او سفیرایلیوټ (**Eliot**) ته به یې ور په ګوته کړی. هغه به یې سیکرټر ته وروپیژني. زموږ په سفارت کې به له سفیر پرته یواځې یو تن په دې اړه خبر وي، نو تاسو به له هغه تن په چپه چې سفیر درته ټاکلی وي، بل چاته نه ځی.

سردار داود: بلې، مننه.

کیسنجر: تاسو به سفیر خبر کړی.

سردار داود: بلې، صاحب.

کیسنجر: موږ به ستاسې پر پولو د هر ممکن نظامي حالت څخه تاسو خبر کړو او هم د هر کورنې خطر څخه چې ستاسې امنیت ته ګواښ وي.

سردار داود: زه مننه کوم صاحب. پډیر درنښت! زموږ د باندنی تګلاري په اړه، البته، تاسو د هغوی څخه خبر یاست، مګر غواړم

ووایم، موږ چمتو یو چې ناپیلې تګلار پلې کړو. موږ له خپلو ملګرو څخه د هغه ډول مرستې غوښتنه کوُو چې ددې تګلاري سره سم او زموږ لپاره د دې تګلاري د ارزښت په پام کې نیولو سره تاسو ته یادونه وکړه.

کیسنجر: موږ هیڅ لیوالتیا نلرو چې پر دې تګلار مو وَغَمَوُو.

سردار داود: غواړم د هغو مرستو په اړوند یادونه وکړم چې موږ یې له امریکا څخه غواړو. باور لرم لکه چې زما استازي(**سردار محمد نعیم**) یې هم یادونه کړېده، دا د اغیزمنې مرستې په توګه نسې تشریح کیدلای چې افغانان به یې وکړي. د هغې اندازه او اهمیت ته پام وکړی. ځینې هغه پروژې دي چې د امریکا له خوا پیل سوي او موږ غواړو چې د دې سولئیزو پروژو تکمیل یا بشپړه کیدل وګورو.

کیسنجر: ستاسو اجراییه رئیس (**Executive**)په ځانګړې توګه څه په ذهن کې لري؟

سردار داود: نن به زموږ د پلان وزیر په ژوره توګه دا تشریح کړي چې موږ د امریکا مرستو ته څنګه ګورو. خو زه به د بېلګې په توګه د مرکزي هلمند د ناوې، د کجکي د اوبو رسولو د سیستم چې ددې ناوې(**ډیم**) څخه سرچینه اخلي او هم د کجکي د برېښنا د جنراتورونو یادونه وکړم. پر دې ټولو د امریکا په مرسته کار پیل سوی دی، او موږ غواړو چې دا په اغیزمنه توګه ستاسو لخوا ترلاسه سي، او هم د کندهار، لښکرګاه، ګرشک او د کندهار و کابل تر منځ د برېښنا د مزو غځول. د ښوونې په برخه کې موږ د انجینرۍ یو پوهنځی په پام کې لرو او غواړو چې نور یې پراخ کړو، او د متخصیصینو

(Experts) شمير يې هم ډير کړو.پر دې د وړاندې څخه لا د امريکا لخوا کار پيل سوی دی،مور غواړو چې دا پراخ سي.

کيسنجر: د يوه پخواني پروفيسور په توګه ويلای سم د کوم هيواد د پروفيسورانو شمير چې زياتيږي، ورسره ورسره د ستونزو شمير هم زياتيږي. (**خندا**).

داود: او هم په ورته وخت کې، د کرنې د پوهنځي پراختيا. مور هم مديريت ته سخته اړتيا لرو، او که امريکا راسره د مديريتي اداري **(Managerial institution)** په جوړولو کې مرسته وکړي، دا به هم د ستاينې وړ وي. همدارنګه د کليو د پراختيا **(Rural Development)** په برخه کې ستاسو مرسته غواړو. او که هم د کليو د پراختيا په برخه کې يوه نوې اداره جوړيدلای سي.د کرنې په برخه کې مور کيمياوي سَرې **(Fertilizer, phosphates-diamonds and phosphate)** ته اړتيا لرو. که امريکا يو نيم لک(۱۵۰۰۰۰) ټنه راته چمتو کړي، مور به يې ډيره منه وکړو.د روغتيا په برخه کې، که شونې يا ممکن وي د څلور نيمو او پينځو سوُو بستيرو تر منځ (۴۵۰ - ۵۰۰) د يوه روغتون په جوړولو کې راسره مرسته وکړی.او همدارنګه په پوهنځي کې د انجونو لپاره د اوسيدو کوټې. په کابل پوهنتون کې د نجونو لپاره ليليه يا هاسټل **(Dormitory)**.

کيسنجر: همدا اوس زمور سفير راته وويل چې د مشرانو جرګه يا سينيټ زمور څخه غواړي چې د ښځينوُو لپاره يو څه وکړو. کيدای سي چې دوی د کتنې يا معائنې د پاره د باندې راسي(**خندا**). زه حيران يم چې ايا ولسمشر په پام کې نيولې چې هيڅ يو جمهوري

غوښتونکی **(Republican)** د انجونو سره په جنسي دسیسه **(Sex scandal)**کي شکیل نه دی. زه پدې خواشینی یم **(خندا)**. موږ لږ تر لږه یوې جنسي رسوایي ته اړتیا لرو**(خندا)**.

ښاغلی ولسمشره!، موږ به نن ماښین فرصت ولرو چې په دې اړه نور په تفصیل سره وږغیږو. ځینې شیان چې موږ یې کولای سو، هغه د کلیو پراختیا، اداري مدیریت**(Management institute)**، د بریښنا بند، د هلمند بند، یو ځانګړی شی چې موږ یې کولای سو. د کندهار د برښنا تمدید.

ایلیټ: د کندهار د ویش سیستم**(Distribution System)**.

سردار داود: دا زموږ وړاندیزونه وُو. اوس په تاسو پوري اړه لري چې زموږ سره څه کولای سی.

کیسنجر: ما دا ټکی یا نقطه وپامول چې تاسو په ښکاره د امریکائي شتون سره لېوالتیا لرئ.

سردار داود: هو، دا یو حقیقت دی. موږ د امریکا دوستانه شتون په ښکاره غواړو. زموږ د جغرافیایي موقعیت په پام کې نیولو سره.

کیسنجر: موږ ددې سره لیوالتیا نلرو چې ستاسي اوضاع نوره درته پېچلې **(Complicating your situation)** کړو بلکې لیوالتیا مو پدې کې ده چې درته آسانه یې کړو. موږ د اشتباهاتو په جوړولو کې لیوالتیا نه لرو.

سردار داود: زه منه کوم صاحب. ایا زه کولای سم چې له تاسو څخه د هند و امریکا د اړیکو په اړوند وپوښتم؟

کيسنجر: له هند سره زمور اړيکي دوستانه او اوږدې دي. دا د خوشبختۍ خبره ده چې هنديان سوله غوښتونکي دي. که نه نو د دوی ګاونډيان به اندېښمن وای (**خندا**). مګر په لومړي ځل کله چې مور په هند کې وُو، دوی راته وويل چې کابل هم د هند ملکيت وُو(**خندا**). زما په اند دا سمه ده چې ووايو مېرمن ايندراګاندي داسي شخصيت نه لري چې په لومړي سر کې امريکايانو ته زړه ښه کړي او هم په دوهم ځل کې(**خندا**). هن دغسي قضيې هم شتون لري (**خندا**).خو مور له هند سره کومه ځانګړې قومي شخړه نه لرو. مور احساس کوُو، هرکله چې دوی په کورنيو ستونزو کې را شکيل سي، نو د شپيان يا پرې ګوته زمور لور ته ونيسي. دا خورا ښه ساتېرى دى، تر هغو چې ورته غبرګون څرګندوُو. نو مور کومه ځانګړې پاته شخړه نه لرو. مګر تاسو ته يې د نژدې ملګرتيا خبره هم نسو کولای. او که هند پر خپلو ګاونډيانو پوځي فشار راوستل پيل کړي مور په خواشيني کيږو. له بله پلوه، مور پاکستان و هند هڅوُو چې خپلې ستونزې په سولئيزه توګه حل کړي. زما په فکر پدې برخه کې يو څه پرمختګ سوى هم دى.

سردار داود: لکه څنګه چې جلالتمآب خبر ياست، په څو ورځو کې به په کولمبو کې د ناپېلو هيوادونو غونډه پيل سي.

کيسنجر: بلې.

داود: هلته به مور د اجنډا په اړه د هېوادونو تر منځ د ډېر توپير او همدارنګه د هيوادونو تر منځ د مهمو اختلافونو په اړوند خبرې وکړو. زه نه پوهيږم چې پايله به يې څه وي؟.

کیسنجر: دا راته څرګنده نه ده چې کیوبا د کوم معیار له مخې د ناپیلو هیوادونو غړیتوب لري؟ که نه نو موږ به هڅه وکړو چې لږترلږه پخپله د څارونکي دریځ غوښتنه وکړو(**خندا**).جمهور رئیس تر ټولو د یوې ستري ډلې یا ګروپ سره تړاو لري، چې دلته شتون لري او دا موږ یو، چې یو دوست یې **لا هم** نسته (**خندا**).

موږ درې ستونزي لرو چې امریکا ورسره ځانګړې لیوالتیا لري.

لومړی پیورتو ریکو **(Puerto Rico)** ده. دا زموږ لپاره کورنۍ ستونزه ده چې په نړیواله کچه بحث ته اړتیا نلري. که چیرې په عمومي غونډه کې د پیورټو ریکو په اړه څه پیښ سول، دا به موږ نادوستانه کړنه وبولو.

موږ په پیورټو ریکو کې دوې ټولپوښتنې یا ریفرنډمونه درلودل چې په هغه کې دوی خپل اوسنی دریځ غوره کړ. زه باید تاسو ته ووایم که چیرې عمومي غونډې د پیورټو ریکو په اړه څه رایه ورکړه، نو موږ به د عمومي غونډې په بله ناسته کې برخه وانخلو. زه دا یواځې د دې لپاره وایم چې دا د اصولو ستونزه ده.

دویمه ستونزه د کوریا ده. موږ له دوستو هېوادونو څخه دومره غوښتنه نه کوُو چې زموږ نظریاتو یا مفکورو ته رایه ورکړي. موږ فکر کوُو چې غوره د حل لار یې دا ده چې سړکال پر دې موضوع خبرې ونه کړو. که چیرې خبرې وربانديې کیږي، نو موږ هیله لرو چې یوه مساوي پایله شتون ولري.

دریمه د منځنۍ ختیځ ستونزه ده. موږ هیله لرو چې ملګري ملتونه او د ناپیلو هیوادونو غونډه به د وضعیت د پیچلتیا لپاره هیڅ کار ونه

کړي. مګر تاسو به په سریلانکا کي د قومونو د یوې لوی ډلي سره یاست چي مشران یې په حقیقت کي کمزوري شخصیتونه ندي. نو دا به یوه خوندوره غونډه وي.

وحیدعبدالله: مورِ کولای سو خپلي خبري پای ته ورسوُو.

(د غرمې پر اووه دیرشو دقیقو بالا یوه بجه د غرمې ډوډۍ ته سره ولاړل. هیڅ نوټ لیکونکي شتون نه درلود. د ماپښین پر څلورویشت د قیقو بالا دوو بجو بیرته خبري پیل سوې)

سردار داود: په ماضي کي د ایران د پاچا محمد رضا شاه پهلوي سره زمورِ اړیکي ښې وې خو اوس ډیري ښې دي.

کیسنجر: شاه هم ستا سو د اړیکو څخه خوښي کول. دوه کاله د ولسمشر داود څخه هر څوک ډارېدل او اوس هر څوک تاته داسي نرم سړی **(Gentle person)** وایي. آیا تاسو بدلون موندلی دی؟ **(خندا)**.

سردار داود: مننه جناب. زه نه پوهیږم چې دوی ولي زما څخه ویره درلوده او اوس ولي نه ویریږي.

کیسنجر: کوم قضاوت سم وو؟ **(خندا)**.

سردار داود: نه پوهیږم.کله کله غلط فهمۍ پیښیږي، زه نه پوهیږم چي دا د کومه ځایه راوځي.

کیسنجر: کله چي ولاړ سم، زمورِ سفیر به راسي او د هر هغه څه لپاره به بخښنه وغواړي چې ما وویل. زه مسلکي سفارتکار نه یم.

سردار داود: ستاسو څرګندوني ماته د قدر وړ دي.

کیسنجر: موږ دلته ځان د شوروي اتحاد سره په سیالي کي نه اچوُو. موږ فکر کوُو چي ستاسو لپاره ناپیلتوب غوره تګلار ده. هغه څه چي د ولسمشر ځیني ناپیلي ملګري نه په پوهیږي، هغه دادي چي د شمېر یا احصایوي پلوه ناممکن دي چي امریکا دي تل پر غلطه لار روانه وي.. یوځل د یو څه وخت لپاره موږ د یو څه سم کولو پابند یو. او دا هغه وخت دی چي موږ به د ناپیلو هیوادونو و ملاتړ ته اړتیا ولرو.ښاغلی ولسمشر، له هند سره مو اړیکې څنګه دي؟

سردار داود: له هند سره موږ ښې دوستانه اړیکې لرو.

کیسنجر: لکه موږ(**خندا**).

سردار داود: زموږ حال لږ ښه دی(**خندا**). زه به په کولمبو کي له مېرمن ایندرا ګاندي سره ووینم. که کوم پیغام لرئ نو راسره شریک یې کړئ.

کیسنجر: هغې ته زما سلامونه ووایه(**خندا**). کاش زموږ په کابینه کي د هغې په څیر پیاوړی سړی وای(**خندا**).

خو په اسل کي موږ اوس له هند سره په کومه ځانګړې موضوع کي اختلاف نه لرو.

عبدالله: زه ډاډه یم چي ښاغلی چوان به سبا له ولسمشر څخه پوښتنه وکړي چې ښاغلي کیسنجر له هند سره د اړیکو په اړه څه ویل؟ (**خندا**).

کیسنجر: تېر کال مو له هند سره د اقتصادي کمیسیون غونډه درلوده.

سردار داود: ستاسو ډیر وخت ستاسو د الوتکي په سفر کي تیریږي؟

کیسنجر: ښه، زه ډیر سفر کوم. دا یواځنۍ لار ده چې زه کولای سم خپل کارمندان وساتم. که نه نو دوی به ټول استعفا ورکړي. کله چې زه په ۱۹۸۱ء کې خپله دنده پریږدم، خپل ژوند لیک به ولیکم. مگر زه به د خپلې پوهې څخه کار واخلم ترڅو خلک ما ته پیسې راکړي چې کتاب ونه لیکم(**خندا**). دا به د باندنیو چارو وزارت د بیوروکراسۍ په اړه وي. زما همکاران په دې باور دي چې د باندنیو چارو وزارت ته د ننوتلو یواځنۍ لار د باندنیو چارو د وزیر په توګه وه. زه د باندنیو خدماتو د افسر په توګه وړتیا نلرم. دا زما په وړاندې د دوی د چلند اغیز دی. د ریاست ټوله ماشین د باندنیو چارو د وزیر د هر ډول معقولو پریکړو د مخنیوي لپاره دی(**خندا**).

سردار داود: زه ډیر خوښ یم چې تاسو دلته یاست.

کیسنجر: مننه چې مورِ ته مو ښه راغلاست ووایه. مورِ ستاسو او ستاسي د هیواد بریا غواړو.

(خبري پای ته ورسېدې)

Foreign Relations,1969-1976,Volume E-8,Documents on South Asia,1973-1976,Released By The Office of The Historian, https://20012009.state.gov/r/pa/ho/frus/nixon/e8/96865.htm, White House Washington

پیورتو ریکو(Puerto Rico): دا سیمه د امریکا و هسپانیا تر جګړه وروسته په ۱۸۹۸ء کې د امریکا برخه وګرځیده.ډیره محدوده خپلواکي لري.د مرکزي حکومت د زیاتو محصولاتو له امله یې اقتصاد ډیر ولوید. د قدرتي آفتونو لکه د وائرس ناروغۍ یې د وګړو شمیر لږ کړ او د چارواکو درغلۍ یې اوج ته رسیدلي دي. یو شمیر قانون پوهان غوښتنه

کوي چې ددي سيمې سياسي حيثيت ته دي بدلون ورکول سي، جونز ايکټ (The Jones Act) دي منسوخ سي او وګړو ته دي اقتصادي ريليف (Economic relief) ورکول سي(https://www.cfr.org/backgrounder/puerto-rico-us-territory-crisis).

۱۸ اګست ۱۹۷۶ء

د خبرو اترو يادښت

کابل، د اګست ۸، ۱۹۷۶، د ماسپښين ۳:۳۰-۴:۰۵

ګډونوال:افغاني لوری

علي احمد خرم(**د پلان وزير**)

) ډاکټر عبدالقيوم (**د پوهنې وزير**

) عبدالتواب آصفي (**د کانونو او صنايعو وزير**

) ډاکټر عبدالله عمر(**د عامې روغتيا وزير**

) وحيد عبدالله (**دباندنيو چارو وزارت مرستيال**

) عبدالصمد غوث(**د باندنيو چارو وزارت د سياسي چارو عمومي رئيس**

امريکائي لوری:

) ډاکټر هنري اې کيسنجر(**د باندنيو چارو وزير**

) تيوډور ايل ايليټ جونير(**په افغانستان کي د امريکا سفير**

الفريډ ايل اتيرټن جونيئر(**د نژدی ختيز او جنوبی آسيا په چارو کی د باندنيو چارو مرستيال وزير**)

) وينسنټ ډبليو براون(**د افغانستان لپاره د مرستو رئيس**

پيټر ډبليو روډمن (**دNSC کارمند**)

عبدالله: ښاغلی سکرتر، ښاغلی سفیر او ښاغلی اتیرتن ته سلامونه وایم. ډیر خوښ یم چې تاسو دلته تشریف لری. غواړم چې زمونږ د اقتصادي پرمختګ لپاره د امریکا د راتلونکي مرستې په اړه د دواړو خواوُو خبرو ته ښه راغلاست ووایم.

کابل ته دا ستاسو دویم یون دی، هیله لرم چې دا به وروستی یون نه وي. تاسو زمونږ د پلان وزیر ته وسپارم.

(۲ مخ)

خرم: د جلالتمآب په اجازه به زه مستقیما ځینو پروژو ته ځم. کله چې مونږ په امریکا کې زمونږ د ټولو ستونزو په اړه بحث وکړ، مونږ نه پوهیږو چې اصول به څه وي.

مونږ په واشنګټن کې د خپلو اوسنیو اړتیاوو پر بنسټ (**د کابل پوهنتون**) د انجینرۍ د نوي پوهنځي د جوړولو او همدارنګه زمونږ د انجینرۍ پوهنځي د پیاوړتیا په اړه بحث وکړ.

همدارنګه زمونږ د کرنې د پوهنځي پیاوړتیا، د روزنیز انستیتیوت جوړول او د کلیو د پراختیا پروګرام.

همدارنګه مو د کرنې د سکتور په اړه د پوښتنو په اړه خبرې وکړې - د کجکي څخه کابل ته د بریښنا د لیږد مزي، او د کجکي بریښنا د دودیرشو میګاواټو څخه یو نیم سلو میګاواټو ته پیاوړتیا او په ګرشک او کندهار کې د بریښنا د ظرفیت غځول.

کیسنجر: زه پدې نیمی خبرو لا هم نه پوهیږم. تاسو به دلته د مطالعې ډیری ټیمونه لرئ. لومړی د سکټور مطالعه بیا د ساحې مطالعه

خرم: موږ خپلې زده کړې کړې دي. که څوک زموږ سره ناست وي، موږ کولای سو خپلې اړتیاوې بیان کړو. موږ په خپلو غوښتنو پوهیږو.
کیسنجر: موږ د اسسټنټ پروفیسورانو ترمنځ د بیکارۍ ستونزه لرو (**خندا**).
خرم: د کرنې په برخه کې هم موږ د نړیوال بانک او اسیایي بانک له خوا مطالعات کړي دي. نړیوال بانک یو تر ټولو وروستی دی. اړتیا نسته چې لاړ شئ او نورې زده کړې وکړئ.
زه د راتلونکي لپاره له دې چلند سره موافق یم مګر د اوس لپاره نه. د راتلونکي اوږدمهاله پلان لپاره.
کیسنجر: دا کیبل چا چمتو کړی؟
(۳ مخ)
ایلیټ: AIDدا د ټیلیګرام څخه اقتباسونه دي.
براون: د نړیوال بانک مطالعات شتون لري مګر خورا عمومي دي.
خرم: دا یو نامکمل سمفوني ده. دا د متحده ایالاتو په مرسته پیل شوی. کله چې جان هانا راغی، موږ د هلمند دره ته یون وکړ. موږ د کندهار پر پروژه ۵۰ میلیونه ډالر ولګول او د برېښنا د پای ته رسولو لپاره یواځې ۴ میلیونه نورو ډالرو ته اړتیا لرو. چې له دې وروسته اته میلیونه ډالرو ته لوړ سوی دی. ما فکر کاوه چې امریکا باید دا پای ته ورسوي او کریډیټ ترلاسه کړي. ولي بل څوک راغی او دا یې وکړ؟ د دریم توربین ځای لا دمخه شتون لري. پاتې ټول ترسره سوي دي. موږ به تر شپږو ملیونو ډالرو ډیر مصرف ونکړو. مګر د دودیرشو میګاواټو څخه یو نیم سل میګاواټو ته تلل به موږ ته لوی توپیر

رامینځته کړي. موږ له امریکا څخه غوښتنه کوُو چې زموږ سره مرسته وکړي.

کله چې ما په امریکا کې ذده کړه کول، یوه خبره مشهوره وه چې د فیل لکۍ تل له سر سره ځي.

(سیکرټري کیسنجر له براون سره خبرې وکړې)

ډاکټر عمر: د دې پروژې موخه یواځې د خلکو درملنه نه ده، بلکې د زیربنا په جوړولو کې مرسته کول دي. دا به د متخصصو ډاکټرانو د روزنې د مرکز په توګه وکارول سي. د روزنې موضوع زموږ لپاره خورا مهمه ده، ځکه چې زموږ ډاکټران یواځې د طب له پوهنځي څخه راغلي دي. دوی نوره تجربه نه لري.

ایلیوټ: د انجینرۍ د پوهنځي په کاغذ کې، زه پوهیږم چې تاسو په دې برخه کې کومه ستونزه نه لرئ؟

کیسنجر: هغه هلته هم د مطالعې مخالف دی.

ایلیوټ: خو موږ کولای شو چې دلته یو څوک راولېږو چې له تا سره کښېنې. مګر موږ نه پوهیږو چې تاسو مطالعه درلوده.

خرم: تا زما څخه پوښتنه وکړه!

(۴مخ)

کیسنجر: بیا دوی نسي کولای یو څوک بهر ولېږدوي**(خندا)**

ایلیټ: موږ بیا هم غواړو چې یو کس واستوُو.

خرم: ورپسې د اوبو لګولو کوچنۍ پروژې دي. زموږ تر منځ هیڅ توپیر نه وو؛ یواځنی پوښتنه نیمه ماهر پرسونل وه. په دې او نورو کلیو پراختیایي پروژو کې موږ د حل لاره ومومندله چې د نیمه ماهرو،

ځوانو تخنیکرانو د روزنې لپاره یو انسټیټیوټ جوړ کړو. موږ دې منځګړو وګړو ته اړتیا لرو، نه یواځې انجنیرانو ته.
ښاغلي نعیم وویل چې موږ د دې منځمهاله پرسونل د لنډ مهاله روزنې لپاره یو روزنیز مرکز ته اړتیا لرو.
په دې اړه موږ کومه ستونزه نه درلوده. بل د اوسني دودیزو مرستو پراخول دي - لومړني ښوونځي، روغتیایی مرکزونه. هغه څه چې موږ یې اوس ترلاسه کوُو.
ورپسې الماس او فاسفیت دی. موږ د دې لپاره حل نسو موندلای.
وروستی توکی په افغانستان کې د فولادو د فابریکې جوړول دي. زما همکار، د کانونو او صنایعو وزیر، په دې اړه خبرې کولای سي.
د لومړي پینځه کلن پلان څخه تر اوسه موږ خپل ټول تجهیزات له بهر څخه واردوو. موږ په باندنیو تجهیزاتو ډیره تکیه کړې. موږ به دلته د فولادو یوه فابریکه جوړه کړو، د ښه خامو موادو سره چې موږ یې لرو – د دوو ملیاردو ټنو اوسپني ثابت زیرمه؛ چې د سوچه اوسپیني کچه یې څلور شپیته سلنه ده.دا په نړۍ کې ترټولو لوړه کچه ده،خو موږ یې نسو کارولای. موږ غواړو د فولادو فابریکه جوړه کړو. موږ په مستقیم ډول یا د نړیوال بانک د لارې ستاسو څخه مرسته غواړو.
عبدالله: د کنسورشیم پر بنسټ.
(۵مخ)
کیسنجر: موږ په دې اړه له نړیوال بانک سره خبري کړي دي.

وزیر اصفي: دلته د اوسپني زیرمي د خپل ډول ترتولو بډایه زیرمي دي. دا له دوو ملیارد ټنو څخه ډیري دي، راسپړل یې ډیر لګښت ته اړتیا نلري.

کیسنجر: تاسو په افغانستان کي چاپیریال پوهان نلرئ؟.

وزیر آصفي: یواځنۍ ستونزه د ترانسپورت ده. موږ د ریل پټلۍ پر پروژه کار کوُو او دا بازارونو ته لاره پرانیزي چې ایران، پاکستان او شوروي اتحاد زموږ بازارونه کیدای سي.

عبدالله: او د خلیج سیمه.

وزیر اصفي: زیرمي ښه کیفیت لري او هیڅ اضافه کولو ته اړتیا نلري. طبیعت داسي جوړي کړیدي. موږ هیله لرو چې دا د یوه کنسورشیم لخوا ترلاسه کړو. دا به ډیر تمویل ته اړتیا ولري. موږ هیله لرو چې د نړیوال بانک په څیر نړیوالي اداري پدې برخه کي زموږ سره مرسته وکړي. دا به نه یواځي افغانستان بلکي د سیمي نورو هېوادونو ته ګټه ورسوي.

خرم: یوه بله پروژه: د کرنیزو مځکو ښه کول. دا د هلمند ناوې د پروژې دوهم پړاو دی. یو بل هم شتون لري: د - تنظیم او مدیریت لپاره د نوي پوهنځي جوړول. موږ اوس له دې څخه هیڅ نه لرو.

براون: د نیبراسکا پوهنتون دا مطالعه کوي.

وزیر آصفي: د مدیریت په اړه زموږ څېړنو ښودلې چې زموږ د پروژو د بریالیتوب یو لامل مدیریت دی. موږ هیله لرو چې موږ د مدیرانو د روزنې لپاره یو ښوونځی جوړ کړو — صنعتي مدیران، د تولید مدیران

دا هغه لویه ستونزه ده چې موږ ورسره مخ یو. دا اداره کولای سي زموږ د هیواد په راتلونکي کي مهم رول ولوبوي.

کیسنجر: موږ دوه ستونزي لرو. یوه د امریکا ستونزه ده، بله د امریکا او افغانستان ستونزه ده. دامریکا ستونزه دا ده چې د بیوروکراسۍ وده داسي ده چې موږ ډیری مطالعې پیدا کوُو، او هیڅ شی نه کیږي. کله چې ښاغلی نعیم په واشنګټن کي وو، ولسمشر او ما پریکړه وکړه چې په افغانستان کي به ځینې پروژې جوړوُو. پوښتنه دا ده چې کومه یوه. لکه څنګه چې ستاسو د پوهنځي د پروژې لپاره زه نسم ویلای چې څوک باید دا وګوري مګر موږ به یو حرکت وکړو. دا باید وخت ونه نیسي.

(٦مخ)

کیسنجر: موږ کولای سو د کندهار ښار ته د انتقال د لینونو په اړه یو څه وکړو.

براون: او موږ کولای سو د کندهار په ویش کي مرسته وکړو.

کیسنجر: فاسفیت - زه باید دا وګورم.

ما ته ویل سوي چې تاسو د اوپیک څخه ډیري پیسې لاسته کوی(**خندا**) ایا اوپیک ستاسو سره مرسته کوي؟

عبدالله: په اصل کي هو، دوی د مخ پر وده هیوادونو لپاره فنډ لري. دا تل د کاغذ پر مخ دی، څه چې ترسره کیږي د هغه څخه توپیر لري.

براون: تېر کال د افغانستان د باندنیو اسعارو منابع څلویښت میلیونه ډالره زیاته سوې ده. افغانۍ په قوي موقف کي ده. او زموږ نظر دا

دی چې د اجناسو مستقیم واردات په غوره توګه د خپلو سرچینو څخه اداره کیدای سي.

خرم: موږ د باندنیو اسعارو زیرمي لرو، خو نوري ډیري برخي سته چې باید ترې ګټه واخلو. زه له دې وړاندیز سره موافق نه یم.

کیسنجر: د دې شیانو په شمیر کي چې زه یې په اړه هیڅ نه پوهیږم، زه به یې وګورم. زه به تاسو ته د میاشتې په پای کي ځواب درکړم. زه نسم کولای د میاشتي په پای کي ټول ځوابونه تضمین کړم. زه دا تضمین نسم کولای چې ټول ځوابونه به مثبت وي، مګر لږترلږه تاسو به یو روښانه ځواب، او منطق ترلاسه کړئ.

خرم: په ټولو شیانو کي؟

کیسنجر: په ټولو کي. په روغتون او نورو کي، ځینې دلیلونه زموږ د قانون له تفسیر سره تړاو لري. زه به تاسو ته د هري میاشتي په پای کي یو پیراګراف ځواب درکړم.

خرم: ما مخکې هم دا خبرې کړي دي.

(۷مخ)

کیسنجر: دا به یو روښانه ځواب وي، زه ستاسو سره ژمنه کوم.

خرم: مننه کوم.

کیسنجر: که زه د دې دندې لپاره کوم وړتیا لرم، دا د بیوروکراټانو د ترور کولو وړتیا ده(**خندا**).

براون: ښاغلی سکرتر، موږ ستاسو د مرستي ستاینه کوو.

کیسنجر: زه ستاسو لپاره د خپل زړه شاهدي ورکوم.

براون: زه پوهیږم، ما لوستلی دی.

ایلیټ: موږ به تاسو ته د دې اوونۍ په پای کې لنډیز در استوُو. زموږ ګډه اعلامیه څنګه ده؟

عبدالله: کومه ستونزه نسته.

وزیر آصفي: که زه یو بل شی وپوښتم چې پدې اوونۍ کې یې په خبرونو کې یادونه کیږي، سپوږمکۍ یا سټیلائټ دی.

کیسنجر: ولې نه؟ موږ دا یو شمیر هیوادونو ته وړاندیز کړی دی.

وزیر آصفي: د کانونو لپاره.

کیسنجر: زه پوهیږم، د مځکې د سرچینو سروې د سپوږمکۍ د لارې کیږي.

وزیر آصفي: د تیلو لپاره.

کیسنجر: تیل؟ موږ ټول په اوپیک کې یو افغان ته اړتیا لرو (**خندا**).

براون: هغه ستونزه چې موږ دمخه درلوده دا وه چې دوی به ټیمونو ته اجازه ورنکړي چې د ساحې د پلټنې لپاره هغه هیواد ته ولاړ سي. د کارتوګرافیک کارمندان به دوی ته اجازه ورنکړي چې د سټیلایټ عکسونو د تصدیق لپاره د ساحې د نقشه کولو لپاره بهر ته ولاړ سي. که چیرې په تګلاره کې کوم بدلون راسي، نو موږ به یې خامخا وګورو.

آیا موږ کولای سو د کرنې سکتور هم وګورو؟ دا نقشې د کرنې په برخه کې خورا ګټوري کیدای سي.

(**۸مخ**)

عبدالله: په دې اړه باید پخپله بحث وکړو.

خرم: زه ستاسو د ګډون څخه مننه کوم.

کیسنجر: مور غواړو ستاسو په پرمختګ کې مرسته وکړو. ما په واشنګټن کې ښاغلي نعیم ته وویل چې مور غواړو د لیدلو په پروژو کې مرسته وکړو. هغه څه چې مور ورته اړتیا لرو یو لوړ لید بیوروکراټ دی چې دا به وکړي. دا به ټول لیست نه وي، مګر دا به د بیوروکراټیک لیست څخه ډیر وي. دا به څه وي، زه نسم ویلای.
(غونډه پای ته ورسیده)

.1 Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy Files. Confidential. The meeting took place in the Afghan Foreign Ministry. In telegram 223874 to Kabul, September 10, the Department informed the Embassy and Daoud that several of the projects discussed could be funded by existing grants or new loans, including Helmand Valley irrigation, school financing, electricity generation in the Kandahar area, new women's dormitories at Kabul University, and promised sympathetic consideration for the large fertilizer assistance proposal and the use of satellite imagery in natural resource exploration, but not for a large hospital and steel mill. (Ibid., RG 84, Kabul Embassy Files: Lot 79 F 132, Subject Files, Box 133, Cables 1973–76) All brackets in the original

.2 Secretary of State Kissinger met with several members of the Afghan cabinet, including Deputy Minister of Foreign Affairs Abdullah to discuss development questions.

https://history.state.gov/historicaldocuments/frus1969-76ve08/d28

۱۷اګست ۱۹۷٦ء

پاکستان په رسمي توګه خبر ورکړ چې افغانستان يې د نيزونو څپلو سره پينځوس زره ډالر مرسته کړېده

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 73)

۲۰اګست، ۱۹۷٦ء



د اسلام آباد پر هوائي ډګر ددې هيواد ولسمشر او صدراعظم فضل اِلهي چودهري او ذوالفقار علي بټو ولسمشر داود خان ته هرکلئ وائي

جمهور رئيس سردارمحمد داود د پاکستان د صدراعظم ذوالفقار علي بټو په رسمي بلنه دې هيواد ته په څلور ورځني يون ولاړ، د يون

پر مهال سردار د صدراعظم ذوالفقارعلي بټو سره پينځلس ساعتونه خبري تر سره کړې. په پاکستان کي د افغانستان د هغه مهال سفير ډاکټرعبدالرحيم شيرزوی ويلي دي ذوالفقار علي بټو ته د سردار محمد داود د لوري مود ښه نيت دا پيغام وسپاره چي هغه په سيمه کي پياوړئ او متحد افغانستان و پاکستان غواړي. د ليدني پر مهال بټو ورته وويل چي زه تاسو ته د پلار په سترګو ګورم،د ډيورنډ لانجه چي په کوم ترتيب غواړې، زه هم غواړم چي په هغه رقم حل سي، بايد پر دې فکر وسي چي يو زوی د ملت په وړاندي د خجالت سره مخامخ نه سي (**وقائع اتفاقيه،به استگاه خطرنزديک ميشويم، د عبدالرزاق مامون د ياداشتونو ټولګه، لومړئ ټوک،د دلوي دريمه نيټه ۱۳۹۰ه ش**).



وحيد عبدالله، معين وزارت خارجه؛ رئيس جمهور سردار محمد داؤد؛ صمد غوث، مدير سياسی وزارت خارجه. اسلام آباد، اگست ۱۹۷۶ ميلادی(کولکسيون شخصی خانم مريم سلطان).

۱۲۱ اګست ۱۹۷۶ء

د راولپینډۍ په میلمستیا کې د پاکستان و افغانستان دواړو مشرانو هغه هیله څرګنده کړه چې د تېر جون په میاشت کې په کابل کې د دوی د خبرو له لارې د ښه نیت فضا رامنځ ته سي،دوام به یې د دواړو وروڼو هیوادونو ترمنځ د جوړجاړي لامل سي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page73)**

۱۲۲ اګست ۱۹۷۶ء

په لاهور ښار کې د درناوي په میلمستیا کې جمهور رئیس سردار محمد داود باور څرګند کړ چې د پاکستان او افغانستان وروڼه ملتونه به خپل اختلافات د مخامخ او سولئیزو خبرو د لارې حل کړي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 74)**


۱۲۳ اګست ۱۹۷۶ء/ ۱سنبله۱۳۵۵ه ش



د کابل ښاروال دوکتور غلام سخي نورزاد د آریانا په سینما کي د ملګرو ملتو د موسسې د کالیزې د لمانځنې غونډې ته د وینا پر مهال



کابل ښاروال حین ایراد بیانیه خویش در پیرامون روزتاریخی وملی پښتونستان . ۱۳۵٤/٦/۱



سردار محمد داودخان، ذوالفقار علی بهتو او تورن عبدالمجید باز لیدل کیږی

د سردار محمدداود په مشري افغاني پلاوي د پاکستان څلور ورځنۍ یون پای ته ورساوه. هغه مهال په اسلام اباد کي د افغانستان سفیر ډاکټر رحیم شیرزوی چي پدې یون کي د جمهور رئیس محمدداود خان سره ملګرۍ وو وایي چی د اسلام اباد پر نړیوال هوایي ډګر پاکستاني صدراعظم ذوالفقار علی بهتو د داودخان او زما څخه هیله وکړه چی د څو دقیقو لپاره به پلي وګرځو،سردار ورسره ومنل او مونږ تر هغو چی الوتکه چمتو کیده وګرځیدو.ذوالفقار علی بهتو داودخان ته وویل چی دکابل څخه څو هلکوان(مطلب یې پروفیسرربانی، انجینئرحکمتیار او ملګري وو-لیکوال)دلته راغلي دي او په افغانستان کی یې ورانۍ هم کړۍ دۍ، که ستاسو خوښه وي ، زه یې په لاس درکوم. سردار محمدداود جواب ورکړ چي هغه مهال به دوی ځانونه خوندي نه احساسول، ځکه تاسو ته راغلل. هغوی افغانان دي، زما زامن دي، هرکله چي وغواړي خپل هیواد ته راتللای سي، هیڅ ممانعت وربانديي نسته.ډاکټر شیرزوی پر مخ زیاتوي کله چي سردار رخصت اخیست، بټو خپلو وزیرانو ته وویل چي تاسي د سردار عظمت ته وګورئ چي زه یې غلیمان په لاس ورکوم او دۍ یې په زامنو نوموي. د خدای پامانی پر مهالبټو ور ټیټ سو چي د سردارلاسونه مچ کړیخو سردار دې کار ته پرینښود(**په لندن ښار کي د سردارمحمدداود دتلین لمانځلو غونډې ته د ډاکټر شیرزي وینا، (https://www.youtube.com/watch?v=8CbGt70KxKQ**

۱۲۴اګست ۱۹۷۶ء

په یوه ګډه اعلامیه کې چې پاکستان ته د افغان ولسمشر د سفر په پایله کې خپره سوې، دواړو هېوادونو هوډ څرګند کړ چې د جون د میاشتې په روحیه کې به د کابل د داود او بټو ترمنځ خبرو ته دوام ورکړي.

خبریالانو ته صدراعظم بټو وویل چې ډیر ژر به د سردار محمد داود سره د خبرو د پاره کابل ته ولاړسي

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 74)

۵ سپتمبر ۱۹۷۶ء



د امریکا د کانګریس غړئ مارګن مَرفي(**Morgan Murphy**) کابل ته ورسید او د باندنیو چارو وزارت د معین وحیدعبدالله سره یې ولیدل.

۸نومبر ۱۹۷٦ء

پاکستان ته د نومول سوي افغاني سفیر نوراحمد اعتمادي په تورخم بندر کي تود هرکلی وسو

(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 74)

۱۱نومبر ۱۹۷٦ء

پیښور ته نژدې په شیرپاو کلي کي ژورنالستانو ته صدراعظم بټو وویل پاکستان به د افغان حکومت سره د دوه اړخیزي لیواتیاپر ستونزو ډیر ژر نوري خبري وکړي(**لوړ ماخذ ۷۵مخ**).

۱۳نومبر۱۹۷٦ء



د

امريکا په کانګريس کې د باندنيو اړيکو د جرګګۍ د رئيس لِستر وُلف **(Lester Wolf)** په مشري څلور کسيز پلاوئ په دوه ورځني يون کابل ته ورسيد ، د ولسمشر سردارمحمد داود، د هغه د ورور سردار محمد نعيم او وحيد عبدالله سره يې ليده کاته تر سره کړل.

۲۷ دسمبر ۱۹۷٦ء

نيويارک ټايمز د پاکستان او افغانستان ترمنځ د اړيکو د نه کيدو په اړه تبصره ليکي؛ د دې افسانوي غرنۍ لارې په اوږدو کې نازک حالت په دې ورځو کې ناڅاپه آرام دی ځکه چې دوه محتاط ګاونډيان چې دا سره نښلوي، د اوږدې مودې شخړې پای ته رسولو لپاره حرکت کوي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 75)**

۲۸دسمبر۱۹۷٦ء

ولسمشرسردارمحمد داود يو فرمان خپور کړچې پکې د هيوادوالوڅخه غوښتنه سوې ده چې د لوی جرګې د پاره خپل استازي وټاکي.

۳۱دسمبر ۱۹۷٦ء

صدراعظم ذوالفقار علي بټو په لاهور کې وويل چې د افغانستان او پاکستان تر منځ د اړيکو د نه کولو په اړه د هيڅا ته اړتيا نه ليدل کيږي **(A Chronology of Pakistan,s Relations With Afghanistan 1947-1988, Written By Bashir Ahmad**

Taher and Shabbir Ahmad Khalid, Page 75)

۳جنوري ۱۹۷۷ء/۱۲سرطان ۱۳۵٦ه ش

په جلال اباد کي د يوې غونډې په بهير کي خلق او پرچم ګوند يووالئ وکړ،ديرش غړي د مرکزي کميټې،په دوی کي لس د سياسي بيورو غړي وټاکل سول،د اردو سره د پټ تماس لپاره خلق ګوند حفيظ الله امين وُ ډاکټر شاه ولي او پرچم ګوند نوراحمد نوروُ ډاکټر عبدالوکيل وټاکل.

۲۰جنوري ۱۹۷۷ء

د امريکا د ستري محکمې رئيس وارن اي برګر(**Warre E.Burger**.)جيمي کارټرته د امريکا د ۳۹ ولسمشر په توګه لوړه ورکړه



۲٦جنوري ۱۹۷۷ء

د اساسي قانون نوې طرحه د هیواد په ورځپاڼو او جریدو کي خپره سویده.

۳۰جنوري ۱۹۷۷ء

سردارمحمد داود په کابل کي د نوي اساسي قانون او د ولسمشر په قانوني توګه د ټاکلو په موخه لویه جرګه پخپله وینا پرانسته ـ



د لوی او تواناخدای په نامه!

د افغانستان د ملت درنو استازو!

زموږ د ملت په عنعنو کي ولسواکي ژوري ریښې لري، لکه تاسو ته چي معلومه ده لویه جرګه زموږ ددې ملي خصوصیت یوه ځرګنده بیلګه ده. پدې مهم او تاریخي وخت کي چي تاسو محترم هیوادوال دلته د ملت په استازیتوب جرګه سوي یاست او د هیواد د نوي جمهوري نظام د اساسي قانون پر مسوده تر پاملرني وروسته تصمیم نیسئ، خپله وظیفه بولم چي د ځان، خپلو ملګرو او همکارانو لخواکابل ته ستاسو تشریف راوړلو ته د زړه له کومي ښه راغلاست

ووایم او پردې مسوده د بشپړه پاملرنې د پاره به د ګران افغانستان په راتلونکې نیکمرغي کې ښکاره اغیزه وکړي. د الله تعالی د درباره ستاسو د موافقیت هیله کوم (د افغانستان کالنی،۴۳ګڼه،۱۳۵۵-۱۳۵۶هش،۱۲مخ).

"کله چې لویه جرګه جوړیدل.د صدارت مرستیال ډاکټرمحمدحسن شرق د ملي توري دلیري کولو هڅه وکړه، د پښتو ټولنې رئیس محمدصدیق روهي یې وروغوښت چې مورږ اساسي قانون جوړوو، یو سیمینار راوغواړه چې پدې اړوند هر څوک خپل نظرونه درکړي. دا سیمینار د چمن حضوري د مطبوعاتو په کلب کې جوړ سو، استاد عبدالحی حبیبي، علامه عبدالشکوررشاد، صدیق الله رشتین، عبدالروف بینوا او استاد قیام الدین خادم ودا هم ورپکې ګډون درلود.علامه رشاد پخپله وینا کې د هند د حیدراباد د کن د عثمانیه پوهنتون د استادمولاناابوالوفائي افغاني (**د کندهار ولایت د ارغسان ولسوالئ بارکزئ**) هغه ورته کړې خبره وکړه چې تر څو مو دربار پښتو کړئ نه وي، د پښتو د وَدي هیڅ هیله مه کوه. دا خبره خپره سوه. د ډوډۍ پر مهال استادسعدالدین شپون پر علامه رشاد زیرئ وکړ چې زمورږ د زړه تناکه دي را ټکور کړه، سردارمحمد داود په لومړي ځل لویه جرګه په پښتو وینا پرانسته "(**د علامه رشاد سره دده په کورخیرخانه مېنه کابل کې د راقم ځانګړې مرکه، ۱۳اکتوبر۲۰۰۳ء**).

د لوی جرګې د غړو نوملړ

ولایت	ولسوالي	استازئ	د پلار نوم	ولایت	ولسوالي	استازئ	دپلار نوم
ارزگان	ترین کوټ ښار	عیدمحمد	محمدایوب	غور	چغچران مرکز	خلیفه نور احمد	خلیفه علي شاه
	دایکنډي	محمدقاسم	محمدجان		لعل وسرجنگل	محمدامین بیګ	غلام حیدربیګ
	شهرستان	سهراب علي	قنبرعلي		تولک	عبدالستار	دوست محمد
	ګیزاب	محمدحنیف	محمدشریف		شهرک	سیدانور	سیدتاج محمد
	اجرستان	لاهور	اشرف خان		تیوري	محمدحسین	محمدابراهیم
	چوره	نظرمحمد	بورمحمد		پسابند	امرالدین	شادي خان
	کجران	غلام حیدر	محمدکریم	فاریاب	میمنه مرکز	محمدعمر	محمدعلي
	دهراود	عبدالقیوم	عبدالرحمان		اندخوی	عبدالرسول	نادرنیاز
	خاص ارزگان	عبدالرحمان	عبدالله		پښتوکوټ	غلام سخي لارمل	
بامیان	مرکز	عبدالمالک	عبدالصمد		بلچراغ	کشمیر	عبدالله
	پنج آب	محمدیوسف	احمدعلي		شیرین تګاب	محمدعظیم	ادم خان
	ورث	شیخ محسن	عبدالحسین		قیصار	عبدالقادر	سیدمراد

	یکاولنگ	سیدحبیب الله	سیدمحمدمحسن		دولت آباد	جمعه ایشان	قربان سعید
	سیغان و کهمرد	سیدشاه	سید دم شاه		درزآب	نصرالله	بهرام
بادغیس	قلعه نومرکز	محمدابوبکر	زالبیگ	فراه	مرکز	عبدالرزاق	عبدالقدوس
	قادس	محمدظاهر	جمعه خان		بکوا	عبدالرشید	تاج محمد
	جوند	محمدالف	محمدرحیم		شیندند	محمداسماعیل	روح الله
	غورماچ	بازمحمد	بلال		اناردره	میرمحمدایوب	میرمحمدمرتضٰی
	مرغاب	غلام جیلاني	محمد امین		پرچمن	ک	
بدخشان	فیض اباد مرکز	عبدالحفیظ	عبدالغزیز		کلستان	صبغت الله	عبدالله
	درواز	سیدمحمداکبر	سیدمحمود		قلعه کاه	سیدمقیم الدین	سیدشرف الدین
	جرم	عبدالواسع	مولوي خاکسار		لاش جوین	غلام محمد	جمعه خان
	اشکاشم	مرزامحمد	محمدنسیم		بالا بلوک	محمدعمر	محمدصدیق
	کشم	برکات احمد	تاج محمد	کابل	مرکز	میرمن کبرا	بسم الله خان
	دواخان	خواجم بردي	آدینه بیگ		مرکز	دوکتورعبدالفتاح همراه	گل علیخان
بغلان	نښار	محمدسالم	عبدالدیان		مرکز	محمدشریف	محمدرضا

	پلخمري	سلطان احمدروفي	عبدالروف		ميربچه کوټ	پوهنوال حبيب الرحمان هاله	عبدالمحمد
	دوشي	خيرالدين	غلام رسول		چهاردهي	غلام نبي باهر	غلام قادر
	اندراب	عيدي محمدخورسند	آدينه		پغمان	محمدعلي فيض	رمضان
	خوست وفرنگ	عبدالغفاربای	محمدرستم		بگرامي	محمدانور	سيداحمد
	نهرين	محمدشريف	محمداکرم		سروبي	عصمت الله	محمدشريف
بلخ	مزارشريف	غلام محمدارمړ	امرالله		ده سبز	پوهاندمير محمدشريف انصاري	ميرفيض الدين
	مزارشريف	فيض الله	حبيب الله		شکردره	عبدالله نيک	امرالله
	دولت اباد	فيض الله	چاري		قره باغ	محمدداود	دل محمد
	چمتال	اميرمحمد	محمودخان	کندهار	مرکز	محمدداود	محمدعثمان
	چاربولک	عبدالرحيم	عبدالکريم		مرکز	خيرمحمد	محمداعظم

	شولگری	نورمحمد	جمعه خان		ډنډ	عبدالله	خیرمحمد
	بلخ	جلادخان	نیازمحمد		سپین بولدک	حاجی عبدالکریم خان	حاجی دارو خان
	نهرشاهي	سیدداود	سیداقبال		ارغستان	امان الله	دلبرخان
	شورتیپی	مولوي عبدالرحمان بردی	محمدعمر		خاکریز	محمدعثمان	نیازمحمد
پروان	مرکز	میر غوث الدین	میرنظام الدین		پنجوائي	عبدالحلیم	شیرمحمد
	غوربند	سیدمحمداضغر	میرعلي گوهر		میوند	عبدالوهاب	عبدالله
	پنجشیر	عبدالقیوم عطائي	عطامحمدخان		شاه ولیکوټ	لعل محمد	دوست محمد
	جبل السراج	یارمحمد	میرمحمدخان		شوراوک	نظرمحمد	سیدمحمد
	بگرام	عبدالرحمان	محمدنادر		معروف	غلام علي	عبدالسلام
	سرخ پارسا	فراموز	محمد اکبر		شیګي	غلام رسول	غلام محمد
کاپیسا	مرکز	محمدآصف	محمدصدیق		ارغنداب	حیات الله	محمدرفیق

	تگاب	سعدالله	محمدقاسم	کندز	مرکز	میرمن عزیزه	محمدامان
	کوهستان	عبدالواحد	عبدالقادر		مرکز	محمدانوررسولي	عبدالرسول
	نجراب	مولـــــــوی ابوالقاسم	عبدالمجید		امام صاحب	عبدالحکیم	محکم تاش
پکتیا	گردیزښار	فیض محمد	جلاد خان		خان آباد	نعمت الله	خان ملا
	گردیزښار	گل احمد	نیک محمد		دشتِ ارچي	مولوي قلندر	محمدحسین
	سیدکرم	عبدالغني	پیردوست		قلعه زال	صفرمحمد	نظرمحمد
	زرمت	محمدانور	محمداکبر		چاردره	محمدگلاب	رحمت گل
	څمکني	سلطان محمد	حاجی گل	لغمان	مهترلام مرکز	ډاکټر جانان	تاج محمد
	ځاځي	محمدعمر	گلاجان		نورستان	عبدالقدیر	محمددین
	جاني خیل	ملاخواجه	شیرمحمدخان		علیشینگ	عبدالرزاق	محمدافضل
	دوزی څدرانې	میراجان	غلام محمد		قرغیي	سیدعباس	سیدغلام حسین
	خوســـــت مرکز	وریښمین	پاچا گل		علینګار	ملک عبدالحی	ملاګل نور

	میـــــدان ځاځي	برکت الله	رحیم الله	لوګر	پُلِ عالم	محمدآصف	محمدسرور
	موسْی خیل	موسْی خان	صاحب		محمدآغې	کریمداد	عبدالرحمان
	د تنیوخوست	مرزاشازار	سلیمي		برکي برک	سیداحمد	سیدګلاب
	ارګون	شیرمحمد	عیسْ خان		ازره	شاه محمود	محمدعلي
	دســـپیري ځدرانې	قطب خان	میروخان		د کوچیـــانو استازئ	ملک نوراحمد	محمدجان
	ګومله	نعمت خان	شیرخان	ننګرهار	جـــلال ابـــاد ښار	جان محمد	جهانګیر
تخار	تالقان مرکز	عبدالمبین	عبدالکریم		-	ډاکټر تاراسینګ	پیارام سینګ
	رستاق	کریم الله	حبیب الله		کونړ	محمدهاشـــــم زماني	میرزمانخان
	ینګي قلعه	نائـــب جمعـــه خان	محمدشفیع		څوکۍ	محمدطاهروطنیار	عبدالحکیم خان
	اشکمش	محمدسرور	محمدحسن		کامدیش	عبدالجبار	عبدالله

	فرخار	مولـــــــوي عبدالواحد	عاشورمحمد		برکونړ	عبدالله غمخور	عبدالودود
	چاه آب	میرغلام حیدر	میرحبیب الله		سرکانې	نورستان خان	عبدالستارخان
	خواجه غار	عبدالرشید	خدایقل		خاس کونړ	محمدجان	مرزا محمدحلیم
جوزجان	شـــــبرغان ښار	ایکم یردي	محمدقل		پیچ	محمدصدیق	محمدموسی
	سنگچارک	وصال الدین	محمداقبال		شینواري	سیدبهرام شاه	سیدمحمدشاه
	سَرِپُل	سیدمحمد	غلام رسول		دهبالا(هســـ که مینه)	مامورسردار	ځاځئ
	آقچه	صحبت	جمعه گلدي		اچین	گل محمد	محمدعمر
	قرقین	خضر محمد	مخم		نازیان	فولاد	زرمت خان
	منگجک	رحمان نظر	ملاتوبت		مومنددره	سردارمحمد	محمداصغر
زابل	کلات ښار	عبدالقادر	غلام حسن		گوشتی	سیدکریم خان	سیداکبرخان
	ارغنداب	عبدالجلیل	نیک محمد		کامه	ملک شیریندل	کوندل
	شینکی	حاجی کمال	عبدالغني		کوزکونړ	محمدامان	شیرمحمد

	جلدک	حاجی دلبر	عبدالواحد		رودات	مطیع الله	حـــــــاجی محمدسعید
	دایه چوپان	منگل خان	ارسلان		سورود	عبدالله	شیراحمد
	شاه جوی	محمدکریم	حـــــــاجی محمدخان		خوگیانې	جنرل والا خان	محمدجان
	د کوچیانو استازئ	محمدایوب	صـــاحب جـــان خان		حصارک	عبدالوهاب	احمدخان
سمنگان	ایبک مرکز	غلام صدیق	سورگل	نیمروز	زرنج مرکز	فیض محمد	محمدعالم
	دره صوف	جهانگیر	جهانمیر		چاربرجک	محمدجان	احمدجان
	خلم	میرمن نجیبه	محمدسهیل		چخانسور	محمدشریف	سخي ملاحسن
	اوبی دوآب	نورمحمد	رحمت بای		گنگ	محمدحسین	جمعه خان
غزنئ	مرکز	حبیب الله	شیراحمد	وردگ	میدانښـــارمرکز	حیات الله	عبدالقادر
	مرکز	عبدالله شمیمي	جمعه گل		بهسود	محمداسحاق	غلام حسین
	اندړ	سیدجعفر	سیدجیلاني		سیدآباد	سلطان محمد	فضل محمد
	ناور	غـــلام عـــلي	جمعه خان		چک وردگ	محمدمحسن	محمدطاهر

		عبدي					
	جغتو	شجاع محمد	سلطان محمد	هلمند	لښکرګاه ښار	سلطان سکندر	عیسی خان
	قره باغ	اخترمحمد	شیرجان		نهرسراج	پیر محمد	عبدالحبیب
	جاغوري	غلام علي	محب علي		نوزاد	اغا محمد	دوست محمد
	ګټواز	نیازمحمد	ګل محمد		موسی کلا	فیض الله	دوست محمد
	وازه خوا	محمدخان	خټک		ګرمسیر	محمدنعیم	محمدکریم
	ښرنه	محمدرفیق	نظرمحمد		نادعلی	خدائیداد	خزان
	کټوازمرکزد کوچیانو استازئ	محمدسرور	میرګل		باغران	غلام سرور	عبدالله
	-	بخت پور	شیرعلي		بارکزو ناوه	حاجی ظریف	نیک محمد
	مقر	فضل احمد	حبیب الله		دیشو	محمدزمان	محمدکریم
	ناوه	عبدالسلام	حبیب الله	هرات	مرکز	میرمن نجیبه	عبدالرحیم
	مالستان	محمدجعفر	محمدباقر		مرکز	علي آقا	عبدالحسین
					غوریان	قاري	محمدسرور

	محمدابوبکر						
عبدالحمید	غـــلام رســـول حقیقي	انجیل					
محمدابراهیم	اخترمحمد	اوبې					
احمدقلي	محمـــــــدامین شکیبا	زنده جان					
محمدسرور	عبدالباقي بهواز	ادرسکن					
سیدمحمد	امین الله	کرخ					
نورمحمد	عبدالهادي فائق	پښـــــــتون زرغون					
خدائیداد	عبدالکریم تمنا	گلران					
ملاعبدالرحمان	عبدالرحیم رنجور	کُشک					
محمدسرور	صالع محمد	گزره					
سیداحمد	حاجی اعظم	کهسان					

د انتصابي غړو نومړ

د دولت د رئیس او صدراعظم محمدداود د فرمان پر بنسټ سل و دیرش تنه د افغانستان د جمهوري دولت د لومړۍ لوی جرګې د انتصابي غړو په توګه وټاکل سول، پدوی کي پینځلس د اردو صاحبمنصبان او نور کروندګر،کاریګران، منورین او ځوانان دي

نوم	د پلارنوم	نوم	د پلارنوم	نوم	د پلارنوم
ډګرجنرال عبدالعزیز	عظیم الدین	ډګرجنرال محمدموسّی خان	خیرالدین خان	تورن جنرال عبدالله روکي	محمدسلیمان خان
تورن جنرال عبدالغني	عبدالواحد	بریدجنرال محمدطاهر	عبدالغفارخان	بریدجنرال باباجان	عبدالواحد
برید جنرال غلام دستګیر	حاجي قلندر	بریدجنرال نورمحمد	خیرمحمد	ډګروال نیک محمدعزیزي	عزیزمحمد
ډګروال ډاکټر سورګل	ریدي ګل	ډګروال محمدنعیم	محمداسلم	ډګروال غلام صدیق	طره باز
ډګرمن مرتضی قل	روزي قل	ډګرمن سیدسکندرشاه	سیدنذرالدین	جګړن عبدالستار	محمدیوسف

کروندگر					
محمديعقوب	محمدامير	زمرئ	دولت محمد	آدم خان	گل علم
عبدالغفور	محمدجان	فتح الله	خان محمد	ميراسلم	يارمحمد
عبدالصمد		ملاجان	محمدجان	عبدالمجيد	جان محمد
عبدالمجيد	شيرمحمد	عبدالواسع	ميرعلم	محمدظاهر	خانشرين
علي جان	ميراجان	غلام رسول	محمداعظم	حضرت محمد	گل محمد
نواب	زندئ	عبدالجبار	عبدالغفار	صوفي رمضان	مرزاعلي
محمدعظيم	محمدحسين	امير الله	عزيزالله	رجب علي	يوسف علي
غلام روف	غلام رسول	عبدالباقي	جان دل	خواجه فيض محمد	خواجه جلال
کاريگران					
عبدالصمد	شاه محمد	عبدالوهاب	عبدالاحد	عبدالروف	عبدالغفور
عبدالله	محمدصديق	شيرمحمد	سيدمحمد	فيض الله	محمدجان
غلام حيدر	محمدرحيم	محمدعيْسى	محمدياسين	محمدسرور	غلام جان
اسدالله	غلام غوث	بازمحمد	سلطان محمد	محمداسحاق	محمداسماعيل
محمدطاهر	عبدالرزاق	عبدالقدير	عبدالقيوم	غلام رباني	مير افغان

شاه دل	مسافرصادق	محمدابراهيم	شهنواز	محمدسليمان	خدائيداد
محمدقسيم	عبدالغني	نيازمحمد	بازمحمد	شجاع الدين	اميرالدين
عجب گل	محمدرسول	محمدامان	محمدحسين	باشي زرين	پښتون
محمدعلي	سيدمحمد	محسن	عبدالرزاق		

نوم	د پلار نوم
ميرمن خالده	محمدزمان
ميرمن حميرا	غلام غوث
ميرمن ثريا خادم	قيام الدين
ميرمن ذكيه	محمدرسول
ميرمن زينب	محمدامين
ميرمن محبوبه	نورمحمد
عبدالكريم حقاني	عبدالله
محمدكبير	مددخان
محمدامين قربت	عبدالغياث
عبدالله واحدي	عبدالسلام

زده کړه	
د ادبياتو د څانګي ليسانسه	
د ادبياتو د څانګي ليسانسه	
د طب په څانګه کي ډاکټره	
د سائينس په څانګه کي ليسانسه	
بکلوريا	
د حقوقواوسياسي علومو په څانګه کي مافوق ليسانس	
ډيپلوم انجينئر	
د طب داکتر	

محمدبشیر	دوست محمد	ډیپلوم انجینئر
محمدیونس	محمدعیسْی	د اقتصاد په څانګه کي لیسانسه
میرعبدالصمد	سیدعلي	دتخنیک په څانګه کي ماستر
عبدالعلي مهرزاد	مهرعلي	دطب داکټر
میرحسین سادات	شیرمحمد	ډیپلوم انجینئر
جلال نوراني	محمدسالم	د حقوقواو سیاسي علومولیسانسه
محمدطاهرسیفي	محمدحسن	د حقوقواو سیاسي علوموپه څانګه کي ډاکټر
عزیزاحمد	فضل احمد	انجینئر
روشندل	احمدشاه	
محمدیاسین عظیم	محمدعظیم	د ښووني او روزني په څانګه کي ډاکټر
سیدکریم حایز	ملتان	د ښووني او روزني په څانګه کي لیسانس
میرمحمدیوسف	میرمحمدعیسْی	مافوق بکلوریا
خان آقا خاشع	محمداسلم	دطب ډاکټر
مولوي عبدالمجید		د مدرسې استاد

محمدلطیف وهابزاده	محمداسحاق	د حقوقواو سیاسي علومولیسانسه
غلام شاه سرشار روشني	بابه خان	بکلوریا
محمدافضل	عبدالکریم	د سوسیالوژۍ په څانګه کي مامور
قیام الدین راعي	محمداسماعیل	د ادبیاتو په څانګه کي ډاکټر
عبدالاحد	غلام محمد	انجینئر
غلام حضرت	وجیه	د لیسانس معادل
محمدحسن فروتن	شربت	د فارمیسي په څانګه کي لیسانس
محراب الدین	مقبل	د اقتصاد ډاکټر
محمدمبین همراز	محمدمقیم	د غاښونو ډاکټر
محمداقبال	محمدصدیق	د حقوقواو سیاسي علوموپه څانګه کي لیسانسه
عبدالغفارمتوکل	محمدرستم	دطب داکټر
عبدالله نقشبندي	غلام نقشبند	د اقتصاد د پلان جوړولوپه څانګه کي ډاکټر
حمیدالله	عبدالله	لیسانسه
محمد	فدامحمد	انجینئر

محمدصديق روهي	محمدحسين	دروانشناسئ په حانگه کي ماستر
مهرحبيب سهيلي	محمدايوب	د سائنس په څانگه کي ليسانسه
محمدسعيد	محمديوسف	د حقوقواو سياسي علوموپه څانگه کي ليسانسه
شبيوسرن		د طب داکتر
عبدالحبيب حميدي	عبدالحميد	ليسانسه
محمدحسن	سخي داد	د ژورنالیزم په څانگه کي ليسانسه
محمدظفر	سردارمحمد	انجينئر
محمدقاسميار	محمداسماعيل	د ژورنالیزم په څانگه کي ليسانسه
عبدالتواب	شمس الدين	ليسانسه
فتح محمد	غلام حسن	متقاعدجنرال
امين الله	رحمت الله	ډيپلوم انجينئر
سيدرسول فکور	سيدحسين	ليسانسه
عنايت شريف	محمدشريف	د اقتصاد ليسانسه
سيديوسف واعظي	سيد اسماعيل	د حقوقواو سياسي علوموپه څانگه کي

		لیسانسه
عمادالدین غیاثي	جمال الدین	د نباتاتودساتني په څانګه کي ډاکټر
سیدعمرضیاء	میرضیاءالدین	دبریښنا د انجینئرئ په څانګه کي لیسانسه
عین الدین	ضیاءالدین	انجینئر
عطامحمد	محمدعمر	د حقوقواو سیاسي علوموپه څانګه کي لیسانسه
غلام نبي	غلام جیلاني	د ښوونې او روزنې په حانګه کي لیسانسه
لعل محمد	محمدایوب	داقتصاد لیسانسه
میرعلي احمدهاشمي	میر محمدحسین	دطب ډاکټر
عبدالستار	محمدافضل	لیسانسه
وحیداحمد	علي احمد	د تحنیک په څانګه کي ماسټر
سرورغنچه	حاجی توره	دکرنې او مالدارئ په حانګه کي ماسټر
محمدکبیر	محمدیونس	د اقتصادډاکټر

د اساسي قانون د تسوید جرګې

نوم	وظیفه	نوم	وظیفه
ډاکټرمحمدحسن شرق	دصدراعظم لومړئ مرستیال	سیدعبدالاله	د صدراعظم دویم مرستیال
عبدالقدیرنورستاني	د کورنیو چارو وزیر	ډاکټرعبدالمجید	عدلیه وزیر
انجینئرغوث الدین فائق	دفوائدعامې وزیر	عبدالتواب آصفي	د معدن او صناعیو وزیر
محمدخان جلالر	د سوداګرئ وزیر	ډاکټرعبدالله عمر	دروغتیا وزیر
انجینئرعبدالکریم عطائي	د مخابراتو وزیر	پوهاندعبدالقیوم	د پوهني وزیر
پوهاندډاکټرعبدالرحیم نوین	د اطلاعاتو و کلتور وزیر	عزیزالله واصفي	د کرني وزیر
فیض محمد	د سرحدي چارو وزیر	انجینئر جمعه محمد محمدي	داوبو او بریښنا وزیر
وحیدعبدالله	د باندنیو چارو معین	علي احمدخرم	د پلان وزیر
ډګرجنرال غلام حیدررسولي	لوی درستیز	محمدسرور	د ځلورمي زرهدارځواک قوماندان
مولوي عبدالبصیر	د تمیز لوی رئیس	-	

مولاداد		محمدیوسف	
خلیل الله		غلام علي کریمي	
مولانا عنایت الله ابلاغ		ډاکټرسعید افغاني	
عبدالهادي هدایت		ډاکټر محمدآصف سهیل	
پوهاند وفی الله سمیعي		برید جنرال شاه پور	
ډاکټر غلام صدیق محبي		برید جنرال محمدیحیٰی نوروز	
محمداکبر عبقري		محمداسماعیل قاسمیار	
ډاکټرضامن علي		یارمحمددلیلي	
ډاکټرسیدمخدوم رهین		ډاکټرعبدالبشیروهابزاده	
پوهنمله عالیه حفیظ		پوهنمله فاطمه کیفي	
پوهنمل محمداعظموهابزاده		سیدناصر	

۱۴فروري۱۹۷۷ء

په کابل کي لوی جرګې نوئ اساسي قانون په ۱۳ فصلونواو ۱۳٦ مادو کي تصويب کړ.



۱۵فروري۱۹۷۷ء

په کابل کي د لوی جرګې غړو په لوی اکثريت سردارمحمد داود د ولسمشر په توګه غوره کړ.



۲۵فروري/۵حوت۱۳۵۵ه ش

ولسمشرسردارمحمد داود نوئ اساسي قانون توشيح کړ



سردار محمد داوود خان در قصر ریاست جمهوری، کابل



بسم الله الرحمن الرحيم

د لوی خدای په نامه، د افغانستان د نجيبو وګړو د نيکمرغۍ په هيله، زه محمد داود – د افغانستان لومړنۍ جمهوررئيس، د هغې وظيفې پر بنسټ چې د جمهوري دولت د لومړۍ لوی جرګې استازوپر ۲۵سلواغه ۱۳۵۵ه ش د مصوبې په استناد د رايو په اتفاق ماته را سپارلې ده، نن په پنجشنبه، پينځم حوت ۱۳۵۵ه ش په کابل کې اساسي قانون توشيح کوم.

د افغانستان د جمهوري دولت لومړنۍ جمهوررئيس (۵حوت۱۳۵۵هش).

سريزه = له هغه ځايه چې ملتونه او ټولني د تاريخ په اوږدو کې تل د بدلون او پرمختګ په حال کې دي او له هغه ځايه چې دغه واقيعت زمور په تاريخي ژوند کې د يوه ملت او بشري ټولني د يوه جُز په

توګه ښکاره سوئ دئ، لدې کبله : د یوه دغسي پَټمن ژوندد تامینولو د پاره چي د عدالت او کفایت پر بنسټونو ولاړ وي، د نیکمرغئ، هوساینې او اطمینان څخه ډک وي. د سرطان د ۲۶نیټې ۱۳۵۲ه ش د ملي، ټولنیز، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي سپیڅلو ارمانونو د تامینولو او زمونږ پر ټولنه د حاکمو عیني او ذهني شرائطو، ملي فرهنګ او تاریخي واقیعتونو سره سم په مترقي او مثبته توګه د تضادونو د محوه کولو د پاره زمونږ د هیوادوالو پرتمین ماضي او برمیال تاریخ ته د ژور درناوي، د هیواد د خپلواکئ، ملي هویت د ساتني په لاره کي ددوی پر له پسې مبارزې، ددوی د تاریخي او انساني رسالت د پرځای کولو د پاره. پر لوی الله جل جلالهُ د ایمان درلودلو او د اسلام د سپیڅلي دین د اساساتو په پیروي.او په پای کي ددې ټولو موخو د تحقق د پاره . مونږ افغانانو د زمانې د غوښتونو او شرائطو په درک کولو سره تصمیم نیولئ دئ چي خپل ملي ژوند د آزادئ، ترقئ، حق، عدالت او سولي پر بنسټ د وروروليئ، د اصولو سره سم ، د ژوند فلسفه او د هیواد نن و سبا ورځي د نسلونو د سرنوشت د افغانستان د ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ه شد ملي او مترقي پاڅون د بنسټیز او اقتصادي موخو پر بنا ټینګ کړو.

لومړئ فصل

اساسي هدفونه

لومړۍ ماده

د خپلواکۍ، ملي حاکمیت او د خاوري د تمامیت دفاع کول

دویمه ماده

د قدرت اجراکول،د وګړو لخوا چې اکثریت یې د کروندګرو، کاریګرو، منورینو او ځوانانو دئ

دریمه ماده

د فکر او عمل تر منځ د یووالي ټینګښت، د وګړو د پوره ونډې اخستلو په تکل د هیواد د مادي او معنوي جوړښت او پراختیا د پاره

څلورمه ماده

د یوې دغسي ولسواکئ تامین چې په ټولنیز عدالت او د ملت پر ګټو ولاړه وي

پینځمه ماده

د آزادۍ او ملي کرامت درناوئ او د هر ډول کړاو او توپیر د له منځه وړل

شپږمه ماده

د جمهوري نظام ورځ په ورځ ډیریدونکي ټینګښت او پیاوړیتوب

اووه ماده

د اکثریت ملت په ګټه ددې اساسي قانون د ارزښتونو او بنسټونو سره سم د ژورو بنیادي او پر له پسې اقتصادي او ټولنیزو ارزښتونو منځ ته راوستل

اتمه ماده

د هر ډول استثمار له منځه وړل

نهمه ماده

د کار د حق تضمینول

لسمه ماده

د ملت د خدمت د پاره په اجباري توګه د لومړنیو ښوونو تامین ، تصمیم، د علمي و فني کادرونو د روزني او بشپړتیا په منظوروړیا ډول د ثانوي ، عمومي، مسلکي او عالي زده کړو پراختیا او پرمختیا.

یوولسمه ماده

د عامي روغتیا د ښه والي او ساتني د پاره د وقایوي او معالجوي طب پراختیا

دوولسمه ماده

د ملګرو ملتو د منشور د اساساتو او د بشردحقوقو د نړیوالي اعلامیې درناوئ او هم د عادلانه سولي ملاتړ په پائیله کي د یوې هوسا او پرمختللي ټولني جوړول چي د وروړلئ، سمسمیومرستي او د انساني کرامت د ساتني پر بنسټ ولاړه وي.

دویم فصل

اقتصادي بنسټونه

دیارلسمه ماده، لوی صنایع، مخابرات،د هوائي او مځکني ټرانسپورټ مهم تاسیسات، بندرونه، بیمې، بانکونه، د خوړو برابرولو مهم تاسیسات، لرغوني او تاریخي توکي د قانون د حکمونو سره سم د ملت شتمني ده او اداره یې پر دولت پوري اړه لري

څوارلسمه ماده

د کرنیز ملکیت لوړه اندازه د مځکو اصلاحات د قانون له پلوه تثبیت او ټاکل کیږي

پینځلمه ماده

ځانګړي ملکیتونه او تشبثات د استثمار د منځه وړلو د اصل په ملاتړ د قانون په وسیله تنظیږي

شپاړسمه ماده

حکومت د لګښت او پیدایښت تعاوني شرکتونه او کوپراتیفونه د خلګو په ګډون او د خلګو د اکثریت په ګټه د قانون د حکمونو سره سم تشویقوي، ملاتړ یې کوي او لارښوونه ورته کوي

اوولسمه ماده

د منځنیو، وړو او لاسي صناعیو په ساحه کي ځانګړي تشبثونه او پانګه اچول د قانوني حکمونو سره سم تشویق کیږي، ملاتړ یې کیږي او لارښوونه ورته کیږي.

اتلسمه ماده

د هیواد سوداګري د لارښودل سوي سوداګرئ په اساس چي د ملت د اکثریت پر ګټو ولاړه ده، د قانوني حکمونو سره سم تنظیږي

نولسمه ماده

مالیه د ټولنیز عدالت پر بنسټ د قانوني حکمونو سره سمه اخستل کیږي

شلمه ماده

افغانستان یو جمهوري، ډیموکراتیک، خپلواک، یوموټئ او نه بیلیدونکئ هیواد دئ

یوویشتمه ماده

په افغانستان کي ملي حاکمیت پر ملت پوري اړه لري، د افغانستان ملت ټول هغه وګړي دي چي د قانون د حکمونو سره سم د افغانستان تابیعت ولري

دوه ویشتمه ماده

د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دئ. نامسلمان افغانان په هغو حدودو کي دننه چي د ادابو او عامي هوساینې په هکله یې قوانین ټاکلي، آزاد دي چي خپل مذهبي مراسم پر ځای کړي

درویشتمه ماده

د افغانستان د ژبو د جملې څخه پښتو او دري رسمي ژبي دي

څلورویشتمه ماده

د افغانستان د بیرغ رنګ تور، سور او زرغون دئ، دا رنګونه په افقي ډول په ټاکل سوو اندازو، له پورته مخ پر کښته واقع دي، د کنې خوا په پاسنۍ برخه کي یې د دولت ملي نوښان لګیدلئ دئ، د بیرغ او ملي نوښان تعریف او اندازه د قانون لخوا ښودل کیږي

پینځویشتمه ماده

د افغانستان د جمهوري دولت وسلوال ځواکونه چي د ملي پاڅون موخو ته په وفاداري او پر خپلو ملي دودونو په کلکه ولاړ دي، د ملت د خدمت د پاره د حکومت د آوامرو تابع دي. د مځکنئ بشپړتیا دفاع د وسلوالو ځوکونو پر غاړه ده او د وسلوالو ځواکونو د عالي شورا د لاري به په ملي فعالیتونو کي برخه اخلي.

شپږویشتمه ماده

د افغانستان اداره د قانون د حکمونو سره سم د مرکزیت پر اصل ولاړه ده

څلورم فصل

د وګړو حقوق او وجیبې

اووه ویشتمه ماده

ټول افغانان د قانون په وړاندي یو شانو حقوق او مسئولیت لري

اته ویشتمه ماده

ازادي د انسان بنسټیز حق ده، پرته له هغو حالاتو چي د نورو آزادي، شرافت یا عمومي ښیګړو، امنیت او ملي مصلحتونو ته زیان ورسوي،دا حق د قانون د خوا ښودل کیږي .

نهه ویشتمه ماده

هر اتلس کلن افغان د رای ورکولو حق لري

دیرشمه ماده

د ذهني برائت اسلي حالت دئ، ترڅو پوري چي تورن د واکمني محکمې لخوا په قطعي حکم سره په جزا محکوم نه سي، بیګناه ګڼل کیږي. هیڅ عمل بې د قانون د حکمه جرم نه ګڼل کیږي. د قانون د حکم په چپه هیچا ته سزا نه سي ورکول کیدای.تر هغو چاته سزا نه سي ورکول کیدای مګر دداسي قانون د حکمه سره سم چي ددغه تهمتي کار کولو څخه وړاندي نافذ سوئ وي. هیڅوک تعقیب کیدلئ، نیول کیدلئ یا توقیف کیدلئ نه سي

یو دیرشمه ماده

جرم د هر چا څاني کړنه ده.د تورن تعقيبول،نيول، توقيفول او سزا ورکول بل هيچاته نه سي ورکول کيدلای.کړول او له انساني کرامت څخه مخالفه سزاتاکل ناروا دي.هر څوک حق لري د هغه تور د ليري کولو په غرض چي د قانون له مخي پر لګول سوئ وي، دځان د دفاع د پاره وکيل ونيسي.

دوه ديرشمه ماده

د چا پوروړئ کيدل، د پوروړي د ازادئ دسلبيدو يا کميدو لامل نه سي کيدای.د پور ويستلو لاري چاري د قانون لخوا ښودلي کيږي.

درودیرشمه

هر افغان حق لري چي د خپل هيواد هري سيمي ته ولاړ سي او هلته هستوګنه غوره کړي، پرته له هغو ځايو چي څخه قانون منع کړي وي.همدارنګه هر افغان حق لري چي د قانون د حکمونو سره سم د افغانستان څخه د باندي سفر وکړي او بيرته هيواد ته ورستون سي.

څلور ديرشمه ماده

هيڅ افغان په افغانستان کي دننه او يا د افغانستان څخه دباندي په شړلو محکوميدلئ نه سي. هيڅوک په يوه ځای کي له ميشت کيدلو او يا د هغه ځای څخه بل ځای ته د ليږديدلو څخه منع کيدای نه سي، مګر په دغسي حالاتو کي چي د قانون د امنيت او عامه ګټو د تامين په منظور اجازه ورکړې وي. هيڅ افغان د يوه جرم په تور باندني دولت ته نه سي سپارل کيدلای.

پينځه ديرشمه ماده

د هر چا کور د بلوسي څخه په امن دئ. هیڅوک هن دولت هم د اوسیدونکي د اجازې یا د یوې واکمني محکمې له حکمه پرته او بې د هغو حالاتو او لاروچارو چې په قانون کي څرګند ښودل سویدي، د چا کور ته نه سي ننوتلای او نه یې پلټولای سي. د مشهود جرم پر مهال مسئول مامور د یو چا کور ته د هغه بې اجازې یا د محکمې د مخکښې اجازې څخه په خپل مسئولیت ننوتلای او لټون کولای سي.خو دغه مامور پدې مکلف دئ چې د ننوتلو او پلټنې وروسته د قانون د خوا په ښودل سوې موده کي د ننه دمحکې حکم تر لاسه کړي .

شپږ دیرشمه ماده

ملکیت د بلوسي څخه په امن دئ. د هیچا ملکیت د قانون د حکم او د یوې واکمني محکمې د پریکړې په چپه نه سي مصادره کیدلای.د خصوصي ملکیت استملاک یواځي د عمومي ښیګړو د پاره د عادلانه عوض په بدل کي د قانون د حکمونو سره سم جواز لري.هیڅوک د قانون په دائره کي د ملکیت د لاسته وروړلو او تصرف څخه منع کیدلای نه سي. د ملکیت د استعمال لاري چاري د عامه ښیګړو د پاره د قانون د پلوه تنظیم او ښودل کیږي.

اووه دیرشمه ماده

د هر چا د مخابرې آزادي او پټوالئ، په لیک سره وي هادي او پټوالئ په لیک سره وي که په ټیلیفون او یا هم ټیلیګراف او یا هم په بله وسیله د بلوسي څخه په امن دئ. دولت د چا د مخابرې د پلټنې حق نلري، مګر د قانون د حکمونو سره سم په سملاسي حالاتو کي

چې قانون ښودلي دي، مسئول مامورېې لدې چې لومړئ له محکمې څخه اجازه واخلي، پخپل مسئوليت سره کولای سي چې مخابره وپلټي. دغه مامور پدې مکلف دئ چې تر پلټنه وروسته په هغه موده کې چې قانون ښودلئ دئ د محکمې حکم تر لاسه کړي.

اته ديرشمه ماده

د فکر او بيان آزادي د بلوسي څخه په امن ده. هر افغان حق لري چې د قانون د حکمونو سره سم په وينا، ليکنه،تصوير او يا داسي نورو وسيلو سره خپل فکر څرګندکړي. د چاپخانو د تاسيس او د مطبوعاتو د خپرولو اجازه او امتياز د قانون د حکمونو سره سم يواځي د افغانستان اتباعو ته ورکول کيږي. د لويو چاپخانوود راډيو او ټيلي ويژن، د عامه خپرونکوکارځايو تاسيس او چلول يواځي په دولت پوري اړه لري.

نهه ديرشمه ماده

د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ناکو مقصدونود پوره کولو د پاره د قانون د حکمونو سره سم بې وسلې ټولنه وکاندي.

څلويښتمه ماده

د افغانانو د سياسي روزنې او ټولنيزو غوښتنو د څرګندولو په منظور تر هغه وخته چې دا آرزو تر لاسه کيږي او طبعي ودي ته رسيږي. په هيواد کې د ملي پاڅون د ګوند په لارښوونه کوم چې د افغانانود سرطان دمترقي او ولسي پاڅون بنسټ ايښودونکئ او مخکښ ګوند دئ يواځي يو ګوندیز سسټم ټينګوي.

يوڅلويښتمه ماده

کار د هر افغان چې د کولو وَس يې ولري، حق،شرف او د غړې فرض دئ.د کار د تنظيم د پاره چې کوم قوانين جوړيږي، د هغوی لوی هدف يوه دغسي پړاو ته رسيدل دي چې په هغه د ټولو زيارکښانو، کروندګرو، کاريګرواو اصنافو حقوق او ښيګړې وساتل سي. د کار مناسب حالات راپيدا سي او د کاريګرو او هم د کارفرمايانوتر منځ اړيکي په عادلانه او پرمختللې توګه تنظيم سي.د کسب و کار غوره کول په هغو شرائطو کي دننه چې قانون ټاکلي دي آزاد دي.

دوځلويښتمه ماده

د افغانستان اتباع د وړتيا له مخي او د قانون د حکمونو سره سم د دولت د خدمت د پاره منل کيږي

دروځلويښتمه ماده

بيګار که د دولت د پاره هم وي، ناروا دئ. د بيګار بنديز د هغو قوانينو د عملي کولو په لاره کي چې د عمومي ښيګړوپه نيت د يو ځای کار د سمون د پاره جوړيږي کوم خنډ نه راپورته کوي.

څلورځلويښتمه ماده

هر افغان مکلف دئ چې دولت ته ماليه او محصول ورکړي. هيڅ راز ماليه او محصول بې د قانون له حکمهنه سي ټرل کيدای. د ماليې او محصول اندازې او د هغو د ورکولو لاري چاري د ټولنيز عدالت سره سم د قانون لخوا ښودل کيږي. دا حکم پر باندنيانو هم چليږی.

پينځه څلوښتمه ماده

د هیواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو سپیڅلې وظیفه ده.د افغانستان ټول اتباع د قانون د حکمونو سره سم د عسکري خدمت په کولو مکلف دي.

شپږڅلویښتمه ماده

داساسي قانون د حکمونو سره سم چلیدل د جمهوري نظام او د سرطان د پاڅون د هدفونوسره وفاداري، دجمهور رئیس درناوئ کول، قوانینو ته غاړه ایښودل، عمومي نظم او امن ته پاملرنه، د هیواد دښیګړو ساتل او په ملي ژوند کي ګډون کولد ټولو افغانانو وظیفه ده.

اووه څلویښتمه ماده

هیڅوک نه سي کولای چي ددې اساسي قانون دمندرجه حقوقو او ازادیو څخه په استفاده ملي خپلواکي، مځکنۍ بشپړتیا، ملي یووالئ او هم هغو غوښتونو ته چي د وګړو د اکثریت پر ښیګړو ولاړي وي او یا د سرطان د پاڅون نورو هدفونو ته زیان رسوي.

اته څلویښتمه ماده

ملي جرګه د افغانانو د ارادې څرګندویه ده او د ټول ملت استازیتوب کوي.

نهه څلویښتمه ماده

د ملي جرګې غړي چي پینځوس سلنه (۵۰٪) یې کروندګر او کاریګرتشکیلوي، د ګوند لخوا وړاندیز سوي او د ازادو،عامو پټواو د سمو انتخاباتو د لاري د قانون دحکمونو سره سم د څلور کالني مودې دپاره د وګړو لخوا غوره کیږي.ددې مقصد د پاره افغانستان پر انتخابي برخو ویشل کیږي، د برخو شمیر او سمیه د قانون له مخي ټاکل کیږي.

پینځوسمه ماده

د ملي جرګې د وکیلانودغوره کیدو لاري چاري شرطونه او ددوی وظیفې د قانون د حکمونو سره سمي تنظیمیري. د یوه وکیل د انتخاب په قانونوالي د اعتراض او دده د غړیتوب د وثیقې کره کتنه د ملي جرګې دداخلي وظائفو د اصولو سره سم تر اجرا لاندي نیول کیږي.

یوپینځوسمه ماده

د وکیل څخه د وکالت د امتیاز سلبول د ملي جرګې د غړو ددریو برخو څخه د دوو برخو په موافقه سره کیدای سي.

دوپینځوسمه ماده

د انتخاب کوونکو شرطونه د انتخاباتو په قانون کي ښوول کیږي.هغه څوک چي د ملي جرګې د غړیتوب د پاره غوره کیږي، په کار ده چي د انتخاب کوونکو پر شرطونو سربیره دغه صفتونه هم ولري.

۱- باید دملي جرګې په غړیتوب تر غوره کیدو وړاندي لا لږترلږه لس کاله پخوا د افغانستان د دولت تابیعت تر لاسه کړئ وي.

۲- د محکمې دخوا د سیاسي حقوقو څخه په محرومي محکوم سوئ نه وي.

۳- د انتخاب په وخت کي یې د خپل عمر پینځویشتم کال پوره کړئ وي.

دروپینځوسمه ماده

د ملي جرګې هر غړئ حق لري چي د جرګې دننه د هغه موضوع په اړوند چي خبري پر رواني وي، خپل نظر د داخلي وظایفو پر اصولو برابرځرګند کړي.

څلورپینځوسمه ماده

د ملي جرګې هیڅ یو غړئ د هغه نظریې له کبله چي د خپلي وظیفې د پر ځای کولو په وخت کي ښکاره کوي تر عدلي تعقیب لاندي نه راځي.که د ملي جرګې پر یوه غړي تور پوري سي، نو مسئول مامور د دې پیښي خبر ملي جرګې ته ورکوي،کله چي د جرګې اکثریت غړي اجازه ورکړي نو تورن تر عدلي تعقیب لاندي راځي. د څرګند جرم په اړه مسئول مامور کولای سي چي تورن د جرګې بې اجازې بندي کړي او تر عدلي تعقیب لاندي یې راولي.کچیري عدلي تعقیب د قانون له مخي د توقیف غوښتنه کول نو مسئول مامور مکلف دئ چي سمدستي جرګې ته خبر ورکړي. کچیري تورپدغسي وخت کي پیښ سوئ وي چي جرګه پر رخصتي وي نو دتوقیف خبر د جرګې اداري هیات ته ورکول کیږي، هغه بیا مکلف دئ چي ملي جرګه په راتلونکې غونډه کي په خبره کړي.

پینځه پینځوسمه ماده

حکومت کولای چي د ملي جرګې په غونډو کي ګډون وکړي.ملي جرګه کولای سي چي د حکومت غړي خپلو غونډو ته وروغواړي او د هغوی نه څرګندتیا وغواړي.په غونډوکي به د ملي جرګې خبري ښکاره وي. کچیري جمهور رئیس پټوالئ اعلان کړ، بیا به پټې وي.کله چي د ملي جرګې مشر، یا د حکومت هر غړئ او یا هم

لږترلږه لس غړي غونډته وکړي چې جرګه دي پټه وسي او جرګه دا خبره ومني.هیڅوک په زور ملي جرګې ته نه سي ننوتلای، سرغړونکي ته به د قانون دحکم سره سم سزا ورکول کیږي.

شپږ پینځوسمه ماده

بې له هغو حالاتوچې حکم یې پدې اساسي قانون کي څرګند ښودل سوئ دئ د ملي جرګې پریکړه د حاضرو غړو د رایو په اکثریت کیږي.

اووه پینځوسمه ماده

ملي جرګه په هرکال کي څلور میاشتي پرله پسې عادي غونډه چې دقوس (نومبر) میاشتي پر اوله نیټه پیل کیږي، دایروي.

اته پینځوسمه ماده

ملي جرګه د تقنیني دورې په اول وخت کي د خپلو غړو له منځه یو تن د مشر په توګه غوره کوي. جرګه د خپلو غړو له منځه دوه تنه د لومړي نائب او دویم نائب په توګه او دوه تنه نورد منشي او د منشي د نائب په توګه د کالنۍ غونډي په لومړي پراو کي د یوه کال د پاره غوره کوي.دغه پورتني وګړي د جرګې اداري هیات تشکیلوي او په اعظمي ډول د غونډي تر پیل کیدلو وروسته د پینځلسو ورځو په موده کي غوره کیږي.

نهه پینځوسمه ماده

ملي جرګه تر بحث لاندي موضوعاتود کره او پراخي کتني د پاره د داخلي وظیفو د اصولود حکمونو سره سمي جرګګۍ جوړوي.

شپیتمه ماده

ملي جرګه د خپلو داخلي وظایفو اصول جوړوي

یو شپیتمه ماده

د ملي جرګې د غړو د پاره د قانون د حکم سره سم مناسب معاش ټاکل کیږي.

دوشپیتمه ماده

ملي جرګه د افغانستان د حیاتي چارو د سمون د پاره ددې اساسي قانون پر حکمونو برابرد قوانینو پر هغو مسودو باندي چې د حکومت او یا د قضائیه قوې لخوا ورته وړاندیز سوي وو وروسته تر کتني او پاملرني لازم تصمیم نیسي. پر بودجې باندي تصمیم نیول، د بین الدول ټړونونو تصدیقول، خارج ته د افغانستان د جمهوري دولت د وسلوالو ځواکونو د ټولګو لیږل د ملي جرګې په واک کي دي. د ملي جرګې د رخصتئ او یا انحلال په وخت کي حکومت کولای سي د بیړنیو چارو د سمون د پاره تقنیني فرمانونه تسوید او ترتیب کړي. دا فرمانونه د جمهور رئیس تر لاسلیک او اعلامولو وروسته نافذ بلل کیږي.او د ملي جرګې د لومړۍ غونډې د نیټې څخه تر دیرشو ورځو پوري ملي جرګې ته د تصمیم نیولو د پاره وړاندي کیږي.

درو شپیتمه ماده

قانون هغه مصوبې ته وایي چې ملي جرګې منلئ او جمهوررئیس لاسلیک کړئ وي.

څلورشپیتمه ماده

هیڅ قانون نه سي کولای چي د اسلام د سپیڅلي دین اساساتو، جمهوري نظام او هم د نورو هغو ارزښتونو سره ټکر ولري چي پدې اساسي قانون کي راغلي دي.

شپږم فصل

لویه جرګه

پینځه شپیتمه ماده

په افغانستان کي لویه دافغانانو د ستر قدرت او ارادې ښکارندویه ده او د لاندي وګړو څخه جوړه ده.

۱- د ګوند دمرکزي شورا غړي

۲- د حکومت او وسلوالو ځواکونود عالي شورا غړي

۳- د ستري محکمې غړي

۴- د هر ولایت د پینځو تنو څخه تر اتو تنو پوري استازي

۵- دیرش تنه چي د جمهور رئیس د فرمان په وسیله ټاکل کیږي

شپږشپیتمه ماده

لویه جرګه ددې اساسي قانون د حکمونو سره سم په جمهوري فرمان دائریږي. جمهور رئیس د لوی جرګې رئیس دئ. د جمهور رئیس د مړیني یا استعفا په صورت کي لویه جرګه د مړیني یا استعفا د ورځي څخه بیا په شلو ورځو کي ننه د جمهوري ریاست د مقام لخوا برابریږي.

اووه شپیتمه ماده

لویه جرګه د لاندي مقصدونو او حالاتو د پاره د جمهور رئیس او یا د لوی جرګې د نائب رئیس په مشري دایریږي

۱- د اساسي قانون تعدیل
۲- د جمهور رئیس انتخابول او یا د هغه استعفا منل
۳- د جګړې او اوربند د اعلان تصویبول
۴- د بلي هري مهمي پیښې په مقصد چې د لوی جرګې د تصویب غوښتنه وکړي

اته شپیتمه ماده

پداسي حال کي چې لویه جرګه دایره سي، د هغې د غړو په هکله د دې اساسي قانون د څلور پینځوسمي مادې حکم عملي کیږي.

نهه شپیتمه ماده

د لوی جرګې خبري به ښکاره وي ، خو کله چې د حکومت تر دوو برخو ډیر غړي یا د ګوند مرکزي شورا او یا هم دجرګې دیرش غړي وغواړي چې غونډه دي پټه وي او لویه جرګه دا غوښتنه ومني.

اویایمه ماده

لویه جرګه تر پرانستلو وروسته په لومړۍ غونډه کي په خپلو غړو کي یو تن د رئیس د نائب په توګه او دوه د منشیانو په توګه د رایو په اکثریت سره غوره کوي.

یواویایمه ماده

پرته له هغو حالاتو څخه چې احکام یې پدې اساسي قانون کي په ځرګند ډول راغلي دي د لوی جرګې تصمیم د هغې د حاضرو غړو په اکثریت سره نیول کیږي.

دواویایمه ماده

ددې اساسي قانون د حکمونو سره سم د لوی جرګې تګلاره د قانون لخوا ښودل کيږي.

درواويايمه ماده

لويه جرګه هغه واکونه لري چې پدې اساسي قانون کې ټاکل سويدي.

څلوراويايمه ماده

د لوی جرګې د ړنګيدو په حالت کې د هغې غړي د لوی جرګې د غړو په توګه خپل حيثيت د نوي ملي جرګې تر دايريدو پوري ساتي. پدغسي حالت کې چې د لوی جرګې غونډې رواني وي، ټول غړي پرته لدې چې مقام ، رتبه او وظيفه يې په نظر کې ونيول سي، مساوي حقوق لري.

اووم فصل

جمهور رئيس

پينځه اويايمه ماده

جمهور رئيس د افغانستان د دولت مشر دئ، د اجرائيه ځواک، ګوندي وظيفه ددې اساسي قانون او د ګوندد اساسنامې دحکمونو سره سم په نيغه توګه پر غاړه لري او د مربوطو ادارو د لارې يې اداره او لارښوونه کوي.

شپږاويايمه ماده

جمهور رئيس لومړئ د ګوند لخوا نومول کيږي او د لوی جرګې ددريو برخو څخه ددوو برخو رايو په اکثريت د شپږو کلونو د پاره انتخابيږي.

اووه اویایمه ماده

جمهور رئیس باید د افغانستان د اتباعو څخه وي، مسلمان وي.هغه او د هغه د میرمني مور و پلار افغانان وي، د مدني او سیاسي حقوقو څخه ګټمن او عمر یې تر څلویښتو کالو کم نه وي.

اته اویایمه ماده

د جمهور رئیس صلاحیتونه او وظیفې په لاندي توګه دي –

۱- د افغانستان د وسلوالو ځواکونو ستره مخکښي

۲- د جرګې په سلا دجګړې او اوربند اعلان.جمهور رئیس کولای سي د سمدستي او څرګند خطر په حالت کي چي خپلواکي او د خاوري تمامیت تهدید کړي او یا په سمدستي حالاتو کي استثنایي تصمیم ونیسي او لویه جرګه دایره کړي

۳- د بیړني حالت اعلانول او ختمول

۴- د لوی جرګې دایرول او پرانستل

۵- د ملي جرګې د عادي غونډې پرانستل او د هغې د فوق االعاده غونډې دایرول او پرانستل.

٦- د ملي جرګې ړنګول او د نورو انتخاباتو د فرمان خپرول، نوي انتخابات د ړنګولو د نیټې څخه په دریو میاشتو کي سرته رسیږي.

۷- د ملي یووالي ټینګښت او د افغانانو د ښیګړو ملاتړ

۸- ددې اساسي قانون د حکمونو سره سم د هیواد د کورنۍ او باندني سیاست لارښوونه او یو شان کول.

۹- د سزا کمول او بخښل

۱۰- د قانون د حکمونوسره سم د نوښان ورکول

۱۱- د ګوند د غړو څخه د جمهوري رياست د مرستيال يا مرستيالانو، د ګوند د غړو اويا هم د ګوند څخه دباندي وګړو څخه د وزيرانو ټاکل، معزولول او د هغوی استعفا منل

۱۲- د ستري محکمې د غړو او د قاضی القضات ټاکل

۱۳- د قانون د حکمونو سره سم د قاضيانوو وسلوالو ځواکونو منصبدارانو او د لوړي کچي د مامورانو ټاکل، تقاعد کول، معزولول او يا هم د هغوی استعفا منل.

۱۴- په باندنيو هيوادونو کي د افغانستان د سياسي نمائندګيو، مشرانو او په نړيوالو موسسو کي د افغانستان د دائمي استازو ټاکل او د باندنيو هيوادونو د سياسي استازو باورليک منل.

۱۵- دقوانينواو تقنيني فرمانونو لاسليک او د هغو د جاري کولو اعلان او بين الدول تړونونولاسليکول او د قانون د حکمونو سره سم د بين الدول تړونونو د لاسليک د پاره د باور ليک ورکول.

نهه اويايمه ماده

جمهور رئيس کولای سي چي مهمو ملي ستونزو کي د افغانانو عمومي رايو ته مراجعه وکړي

اتيايمه ماده

جمهور رئيس به د وظيفې تر لاسته کولو د مخه د لوی جرګې په وړاندي دغسي لوړه پر ځای کوي

ستاسي د افغانستان دملت د استازو په وړاندي زه .... د لوی الله تعالی په نامه لوړه کوم چي د اسلام د سپيڅلي دين د بنسټونو ملاتړ به کوم، دې اساسي قانون او د افغانستان نورو قوانينو ته به په درنه سترګه ګورم

او هغوی ته به غاړه ایږدم. د ملي خپلواکۍ او د خاوري د تمامیت څارنه به کوم. خپل ټول قوت او طاقت به د افغانستان د وګړو د حقوقو، ښیګړو، د سرطان د پاڅون د موخو او جمهوریت په لار کي وقفوم.

یواتیایمه ماده

پرته له هغو حالاتو چي ددې اساسي قانون په شپږدیرشمه ماده کي څرګند سویدي، جمهور رئیس د خپلي وظیفې د چلولو په موده کي د دولت سره د هیڅ رازګټي وټي معامله نه سي کولای.

دواتیایمه ماده

جمهور رئیس د ناروغۍ او سفر پر مهال د جمهوري ریاست مرستیال او یا مرستیالانو ته وظیفه ورسپاري چي د هغو لارښودنو سره سم چي دوی ته ورکړي دي، دده پر ځای چاري وکاندي.

درواتیایمه ماده

د جمهور رئیس معاش (تنخوا) او لګښت (مصارف) د قانون لخوا ټاکل کیږي.

څلوراتیایمه ماده

د جمهور رئیس د انتخاباتو د پاره د جمهور رئیس د دورې د پای ته رسیدو څخه پینځه څلویښت ورځي وړاندي باید ددې اساسي قانون او د ګوند د اساسنامې د حکمونو سره سم لازم چلند وسي

پینځه اتیایمه ماده

کچیري جمهور رئیس د استعفا تکل وکړي، لویه جرګه راوغواړي او خپل استعفا لیک ورته وړاندي کوي. پداسي حالت چي لویه جرګه

استعفا ومني، د نوي جمهور رئيس انتخاب ددې اساسي قانون د شپږاتيايمي مادې سره سم صورت نيسي.

شپږاتيايمه ماده

کچيري جمهور رئيس مړ سي او يا هم استعفا وکړي، د جمهوري رياست وظيفه په موقتي توګه د ملي جرګې رئيس ته سپارل کيږي، پدې حالت کي د ملي جرګې رئيس په انتخاباتو کي د جمهوري رياست د نومونې په توګه ټاکل کيدلای نه سي. پدغه موده کي چي د ملي جرګې رئيس د جمهوري رياست وظيفه په موقتي توګه پر مخ وړي دا اساسي قانون تعديليدئ نه سي.نوئ جمهور رئيس د جمهوري رياست د کرسۍ د تشيدنې د ورځې څخه په ديرشو ورځو کي دننه د قانون د حکمونو سره سم انتخابيږي.د هغو بيړنو او ملي مهمو پيښو د راسربيره کيدو په حالت کي چي موقتي جمهور رئيس دې ته اړ کړي چي ددې اساسي قانون په اته اويا يمه ماده کي د راغلو صلاحيتونو څخه کار واخلي، موقتي جمهور رئيس کولای سي چي ددې مادې د حکمونو څخه په رعايت د حکومت او د ګوند د شورا د غړو د موافقې سره سم ددې اساسي قانون د اته اويايمي مادې د مندرجه صلاحيتونو څخه ګټه واخلي.

اوه اتيايمه ماده

پر جمهور رئيس د ملي خيانت تور دملي جرګې ددريو برخو څخه ددووبرخو غړو د رايو په اکثريت لګيدلای سي، دا غوښتنه د ګوند د مرکزي شورا ددريو برخو څخه د دوو برخو غړو د رايو په اکثريت د منلو وروسته لوی جرګې ته وړاندي کيږي. پدې حالت کي جمهور

رئیس مکلف دئ چي لویه جرګه دائره کړي. د ملي جرګې رئیس د لوی جرګې د غونډې مشري کوي.کله چي لویه جرګه لګول سوئ تور د وړاندي سوو دلائلو سره سره ددریو برخو څخه د خپلو دوو برخو غړو د رایو په اکثریت تصویب کړي، د جمهوررئیس لاس د کاره ایستل کیږي.د محکمې جوړښت او د محاکمې لاري چاري په بیل ډول د خاس قانون له پلوه ښودل کیږي.پدې حالت کي د جمهوري ریاست چاري په موقتي توګه د ملي جرګې رئیس ته سپارل کیږي. موقت جمهور رئیس ددې اساسي قانون د شپږاتیایمي مادې د حکمونو تابع دئ.

اتم فصل

حکومت

اته اتیایمه ماده

حکومت د دولت ستر اداري او اجرائیوي ارګان دئ چي د جمهوري ریاست د مرستیال یا مرستیالانو او وزیرانو څخه جوړ وي او هم د جمهور رئیس تر مشري لاندي خپله دنده سرته رسوي.

نهه اتیایمه ماده

د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران باید د افغانستان د اتباعو څخه وي، هغوی او میرمني یې د افغاني مور او افغان پلاره زیږیدلي وي، ټول مدني او سیاسي حقوق یې پر ځای وي.

نیوي یمه ماده

د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران د وظیفو تر مخه د جمهور رئیس په وړاندي به دغسي لوړه کوي – د لوی الله تعالی په

نامه لوړه کوم چي د افغانستان د اساسي قانون او هم نورو قوانينو ته به په درنه سترګه ګورم او هم به ورته غاړي ږدم، خپل ټول قوت و طاقت به د ملي ښيګړو او حقوقود ملاتړ په لار کي وقفوم او د سرطان د پاڅون د موخو او د افغانستان د جمهوريت ساتنه به کوم.

يونيوي يمه ماده

حکومت لاندي واکونه او وظيفې لري

۱- د قانون د حکمونو او د ګوند د اساساتو سره سم د هيواد د کورني او باندني سياست پرځای کول

۲- دارونده وزارتونو ددائرو اوپه هغوی پوري د اړوندو موسسو دچارو اداره،ځارنه او د هغوی د اجراآتو يو شانته کول.

۳- په اجرائيوي اواداري چاروکي دقوانينو او جمهوري فرمانونو سره سم تصميم نيول او د هغوی د عملي کيدو ځارنه.

۴- د قوانينو د مسودو جوړولاو د مقرراتو وضع کول.

۵- ددولت دبودجې دسمون،جوړيدو،اقتصادي،ملي او پولي سستم دټينګښت دپاره دلارو چارو پيداکول.

٦- ددولت دپرمختيائي پلانونو طرح او د هغوی د عملي کيدو او اجراآتو د پاره د لارو چارو سنجول.

۷- دباندنيو اوکورنيو پورونو د راکړي ورکړي په اړوند مفاهمه او خبري.

۸- دعمومي نظم او امنيت ساتلو دپاره دلارو چارو سنجول.

۹- دهر ډول اداري فساد دله منځه وړلو دپاره دقانون دحکمونو سره سم لازم اواغيزناکه تدبيرونه غوره کول.

۱۰- دباندنیو هیوادونو او موسسو سره د قانون د حکمونو سره سم د قراردادونو تړون.
۱۱- دټولوهغو وظیفو پرځای کول چې د اساسي قانون او نورو قوانینو دې حکومت ته سپارلي وي.

دوه نیوي یمه ماده

حکومت د خپلو وظیفو د سمون د پاره د قانون پر بنسټ مقررات جوړوي. دا مقررات باید د هیڅ قانون د عبارت او روح سره ټکریا تناقض ونلري.

درو نیوي یمه ماده

د هغو حالاتو پرته چې د دې اساسي قانون په شپږدیرشمه ماده کي څرګند سویدي، د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران د وظیفو د اجرا کولو پر مهال د ګټې وټې هیڅ ډول معامله د دولت سره نه سي کولای.

څلور نیوي یمه ماده

د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالان او وزیران د خپلو اجراآتو له بابته جمهور رئیس، د ګوند مرکزي شورا او ملي جرګې ته مسئول دي.

پینځه نیوي یمه ماده

د جمهوري ریاست مرستیال یا مرستیالانو او د حکومت د هر غړي په اړه د ګناه ټرلو تور د ملي جرګې د غړو د دریمي برخي په غوښتنه کیدای سي. ملي جرګه دا غوښتنه د خپلو دوو برخو غړو د رایو په اکثریت تصویبوي. تورن غړئ (د ثبوت په صورت کي) د ملي جرګې د

پریکړي وروسته سمدستي د خپلي وظیفې څخه لیري کیږي. تورن غړئ په ځانګړې محاکمه کي محاکمه کیږي .د محکمې جوړښت او د کار لاري چاري یې او همدارنګه د حکومت د تورنو غړو سزاوي په ځانګړې توګه د یوه ځانګړي قانون له پلوه څرګندیږي.

نهم فصل

قضاء

شپږنیوي یمه ماده

قضایه ځواک د دولت یو رکن دئ چي د یوې ستري محکمې او نورو محکمو څخه جوړیږي چي شمیر یې په قانون کي ښودل کیږي. ددې قوانینو لویه موخه د قضایي موافقو یووالئ ، د محکمو د تشکیلاتو واک او د محاکمې د تګلاري تنظیمول دي.

اووه نیوي یمه ماده

د قضاء واک او اختیار پر ټولو هغو دعوُو د پاملرني او پریکړو د پاره غځیږي چي په هغه کي حقیقي یا حُکمي اشخاص که څه هم دولتي وي د مدعي او مدعي علیه حیثیت لري او د قضاء په وړاندي به د قانون د حکمونو سره سم دایر سي.

اته نیوي یمه ماده

پرته د جګړې له حالته بل هیڅ حالت نه سي کولای چي یوه قضیه یا ساحه د قضایي قوې د واک او اختیار ددائرې څخه په هغه ډول چي پدې فصل کي یې بریدونه ښودل سویدي وباسي او بل مقام ته یې وسپاري. دا حکم د نظامي محکمود جوړیدو مخنړ نه کوي خو یواځي به د هغو جرمونو په ساحه کي وي چي د افغانستان د وسلوالو

ځواکونو پوري اړه ولري.د نظامي محکمو تشکیل، واک و اختیار په قانون کي ښودل کیږي.

نه نیوي یمه ماده

محکمې چي پر کومو پیښو پاملرنه کوي، په هغوی کي ددې اساسي قانون او ددولت د نورو قوانینو حکمونه پر ځای کوي.که تر پاملرنه لاندي پیښو څخه د یوې پیښې په اړه په اساسي قانون او ددولت په قوانینو کي کوم حکم نه وي نو محاکمې د اسلامي شریعت د حنفي مذهب د کُلي اساساتو له مخي په هغه چوکاټ کي دننه چي دې اساسي قانون ښودلي دي، پدې حالاتو کي یو داسي را باسي چي ددوی په نظر کي څومره چي ممکنه وي عدالت تر ټولو په ښه توګه تر سره کړي.

سلمه ماده

قاضیان د قاضی القضات په غوښتنه د جمهور رئیس په منته ټاکل کیږي.

سل و یومه ماده

د قاضیانو عزل د قاضي د جرم د کولو په حالت کي د ستري محکمې په غوښتنه او د جمهور رئیس په منته صورت نیسي.کچیري پر قاضي تور ولګول سي، ستره محاکمه به د قانون د حکمونو سره سم دده پر دوسیه پاملرنه کوي او د تورن د دفاع تر اوریدو وروسته که ستره محاکمه پر قاضي لګیدلئ تور وارد وګڼي، د تورن قاضي د عزل وړاندیز جمهور رئیس ته وړاندي کوي، که هغه دغه وړاندیز ومانه، قاضي به د وظیفې څخه لیري کیږي او د قانون د حکمونو سره سم به سزا کیږي.

سل و دویمه ماده
د قاضیانو ترفیع، بدلول، تقاعد، استعفا او د هغوی مواخذه د قانون د حکمونو سره سم د ستري محکمې لخوا سرته رسیږي.
سل و دریمه ماده
د قاضیانو لپاره د قانون د پلوه مناسب معاش ټاکل کیږي.
سل و څلورمه ماده
پرته له هغو حالاتو چې ددې اساسي قانون په شپږدیرشمه ماده کې څرګند سویدي، د ستري محاکمې غړي او قاضی القضات د و ظیفو پر مهال د ګټې وټې هیڅ ډول معامله د دولت سره نه سي کولای.
سل و پینځمه ماده
د افغانستان په محاکمو کې محاکمه په ښکاره توګه کیږي او د قانون د حکمونو سره سم هر څوک د ورتلو حق لري. د محاکمو د ټول قطعي پریکړو عملي کول واجب دي خو د چا د مرګ د حکم په حالت کې د وروستۍ محاکمې د پریکړې د عملي کولو د پاره د جمهور رئیس لاسلیک یې شرط دئ.محاکمه کولای سي چې په هغو ګوښو حالاتو کې چې قانون څرګند کړي دي، پټه غونډه وکړي، ولي دا حکم اورول به ارومرو ښکاره وي. محاکمې مکلفي دي چې د ورکړي حکم سره یو ځای په خپلو پریکړو کې د حکم سببونه څرګند کړي.
سل و شپږمه ماده
د جرمونو کشف د پولیسو لخوا او د جرمونو پلټنه او د دعوې سورول د قانون د حکمونو سره سم د څارنوال د خوا چې د دولت پر اجرائیه

قوه پوري تړلئ دئ کیږي.د هغو جرمونو کشف او پلټنه چې د افغانستان پر وسلوالو ځواکونو پوري اړه لري د ځانګړي قانون لخوا تنظیږي.

سل و اوومه ماده

ستره محاکمه نهه غړي لري چې د جمهور رئیس لخوا ټاکل کیږي. د ستري محاکمې غړي باید لاندي صفتونه ولري

۱- د عمرپینځه دیرش کلونه یې پوره کړي وي

۲- د ټاکل کیدو د نیټې څخه وړاندي باید لږتر لږه لس کلونه وړاندي یې د افغانستان ددولت تابیعت حاصل کړئ وي.

۳- د محاکمې لخوا د سیاسي حقوقو څخه په محرومي محکوم سوئ نه وي.

۴- د حقوقو په علم،ملي موخو او د افغانستان په حقوقي نظام په بشپړه توګه پوه وي.

جمهور رئیس د ستري محکمې د غړو څخه یو غړئ چې عمر یې تر څلویښتو کلونو کم نه وي د قاضی القضات په توګه ټاکي. جمهور رئیس کولای سي چې د ستري محکمې په غړو او قاضي القضات پر مقرري د ټاکنې د نیټې څخه هر پینځه کلونه وروسته بیا کاته (نظرثاني) وکړي.ددې حکم او اساسي قانون د (۱۱۱) مادې د حکم څخه پرته په بل هیڅ ډول د ستري محکمې غړي او قاضي القضات د خپلو وظیفوڅخه لیري کیدلای نه سي.

سل و اتمه ماده

د ستري محکې غړي او قاضی القضات په وظيفو تر بوختيدو وړاندي د جمهور رئيس په وړاندي دغسي لوړه پر ځای کوي
د لوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چي د قضاء وظيفه په پوره امانت او شرافت سره پر ځای کوم، حق او عدالت به د اسلام د سپيڅلي د ين د اساساتو، د اساسي قانون د نورو حکمونو، ارزښتونو او د افغانستان د جمهوري حکومت د قوانينو د په نظر کي نيولو سره سم تامينوم او هم به پخپلو اجراآتو کي الله تعالی (جل جلاله) حاضر گڼم، د عدالت په گټه به د هيواد او د هيوادوالو د حقوقو ساتنه کوم.
سل و نهمه ماده
د هغه حالت څخه پرته چي ددې اساسي قانون په سل و يوولسمه ماده کي ښودل سويدي د ستري محاکمې غړي او قاضی القضات په قانوني توگه د خدمت د دورې تر پای ته رسيدو وروسته د پاته عمر ټوله موده د خدمت د دورې له ټولو مالي ښيگړو څخه گټه اخلي.د خدمت د دورې تر پای ته رسيدو وروسته د ستري محاکمې غړي او قاضی القضات د ملي جرگې او حکومت غړيتوب او د دولت ماموريت نه سي کولای.
سل و لسمه ماده
د ستري محاکمې غړي او قاضی القضات کولای سي د قانون د حکمونو سره سم د خپلي وظيفې څخه گټه واخلي. د ستري محاکمې غړي او قاضی القضات استعفا د جمهور رئيس تر منلو وروسته نافذيږي.مستعفي غړي او قاضی القضات د هغو مالي

ښیګړو څخه چې په یو سلو نهمه ماده کې راغلي دي په مستعفي غړي او قاضی القضات باندي تطبیقیږي.

سلو یوولسمه ماده

کچیري د ملي جرګې دریمه برخه غړي د وظیفې د اجراء څخه د راپورته سوي جرم په تور د قاضی القضات یا ستري محاکمې د یوه یا څو غړو د محاکمې غوښتنه وکړي او د ملي جرګې په دریو کي دوې برخي غړي د رایو په اکثریت دا غوښتنه ومني نو د تورن لاس د کاره خیژي. ملي جرګه د غړو له منځه د دعوې د سورولو او د اتو غړو څخه جوړه یوه ډلګی د محاکمې چلولو د پاره ټاکي. دا ډلګی د ملي جرګې د رئیس په مشري د جزائي محاکمې د تګلاري سره سم تورن محاکمه کوي او کچیري پر تورن جرم ثابت سي نو دئ د وظیفې څخه معزولیږي او سزا ورکوي.

سل و دوولسمه ماده

ستره محاکمه ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو سره سم د محاکمو اجراآت، تشکیلات او د دولت قضائي چاري سموي.پرته له هغو مواردو چې پدې اساسي قانون کي څرګند سوي دي د ستري محاکمې اداري او قضائي صلاحیتونه د قانون له پلوه ښودل کیږي.

ستره محاکمه د محاکمو د اداري چارو د سمون د پاره ضروري لاري چاري برابروي.د قضائي قوې بودجه د قاضي القضات لخوا د حکومت په سلا جوړیږي او د دولت د بودجې د یوې برخي په څیر د حکومت لخوا ملي جرګې ته وړاندي کیږي.د قضاء د بودجې د لګولو واک د ستري محاکمې په واک کي دئ. ستره محاکمه کولای

سي د قضائي چارو د سمون په برخه کي د قوانينو مسودې جوړي او ددې اساسي قانون د دوه ويشتمي مادې د حکم سره سم ملي جرګې ته وړاندي کړي.

سل و ديارلسمه ماده

د قضائي قوې د مامورينو او ټولو اداري کارکوونکو په اړه د دولت د مامورينو او ټولو اداري کارکوونکود قوانينو حکمونه نافذ دي، خو د دوی ټاکل، ترفيع، استعفا منل، مواخذه او هغوی ته تقاعد ورکول د قانون سره سم د ستري محاکمې لخوا سرته رسيږي.

لسم فصل

بيړنئ حالت

سل و څوارلسمه ماده

کچيري د جګړې، د جګړې د خطر د اله ګولي يا بل دغسي حالت د کبله چي هيواد له خطر سره مخامخ کړي او د خپلواکئ، امنيت او ملي ژوند ساتنه پر هغه لار چي دې اساسي قانون ښودلې ده، ناممکنه سي نود جمهور رئيس لخوا بيړنئ حالت اعلانيږي.که دې حالت تر څلورو مياشتو ډير دوام وکړ نو د اوږدوالي د پاره يې د ملي جرګې منل شرط دئ.

سل و پينځلسمه ماده

په بيړني حالت کي جمهور رئيس کولای سي چي د ملي جرګې ټول يا ځيني واکونه د حکومت په لاس کي ورکړي.

سل و شپاړسمه ماده

په بیړني حالت کي جمهور رئیس کولای سي چي د دې اساسي قانون د اته نیوي یمي مادې د حکم په نظر کي نیولو سره د قضاء ځیني واکونه نظامي محاکمې ته وسپاري.

سل واووه لسمه ماده

په بیړني حالت کي حکومت کولای سي چي د ستري محاکمې په موافقه د اساسي قانون د لاندنیو حکمونو چلند د جمهوري فرمانونوله مخي وځنډوي یا ورباندي بندیزونه ولګوي

۱- د دیرشمي مادې د پینځمي مادې حکم

۲- د پینځه دیرشمي مادې د لومړۍ فقرې حکم

۳- د شپږ دیرشمي مادې د دریمي او څلورمي فقرې حکم

۴- د اووه دیرشمي مادې د دوهمي فقرې حکم

۵- د نهه دیرشمي مادې حکم

سل و اتلسمه ماده

په بیړني حالت کي جمهور رئیس کولای سي د افغانستان مرکز د کابل ښار څخه بل ځای ته ولیږدوي.

سل و نولسمه ماده

کچیري دملي جرګې د غړو د وکالت موده په بیړني حالت کي سرته ورسیږي جمهور رئیس کولای سي نوي انتخابات وځنډوي او د ملي جرګې د غړو د وکالت موده د بیړني حالت تر پایه اوږده کاندي.نوي انتخابات د بیړني حالت تر پای ته رسیدو سمدستي وروسته اجراکیږي.

سل و شلمه ماده

په بيړني حالت کي اساسي قانون نه تعديليږي.

پوولسم فصل

تعديل

سل و يويشتمه ماده

د دې اساسي قانون د حکمونو سره سم د اسلام د اساساتو د پيروئ اصل او جمهوري نظام تعديل کيدلای نه سي. د اساسي قانون نوري برخي د تجربو او د زمانې د ايجاباتو پر اساس د حکومت او يا گوند د مرکزي شورا او يا هم د ملي جرګې د دريمي برخي په وړاندیز د دې فصل د حکمونو سره سم تعديل کيدلای سي.

د تعديل پر وړاندیز به لويه جرګه پاملرنه کوي او کچيري د جرګې اکثريت د تعديل اړتيا ومنل نو به د خپلو غړو يوه ډلګی د تعديل د طرحي د چمتوکولو د پاره ټاکي. دا ډلګی به د حکومت او ستري محاکمې په سلا د تعديل طرحه جوړوي او لوی جرګې ته به يې وړاندي کوي.کچيري لوی جرګې په اکثريت د تعديل طرحه ومنل نو به د جمهور رئيس تر لاسليک وروسته اعلان او نافذيږي.

دوولسم فصل

انتقالي حکمونه

سل و درویشتمه ماده

ددې اساسي قانون د نفاذ سره سم جمهور رئیس د حکومت د ړنګولو فرمان صادرولای او نوئ حکومت د جمهوري دولت ددې اساسي قانون د روحیې سره سم تشکیلولای سي.

سل و څلورویشتمه ماده

د دې اساسي قانون د حکمونو سره سم ملي جرګه د ۱۳۵۸ه ش د لیندۍ پر لومړۍ نیټه د جمهور رئیس لخوا پرانستله کیږي. ددې اساسي قانون د نفاذ او ملي جرګې د پرانستلو تر منځ موده د انتقال دوره ګڼل کیږي. د انتقال په دوره کي د ملي جرګې واک په حکومت پوري اړه نیسي.

سل و پینځه ویشتمه ماده

کچیري د انتقالي دورې په موده کي یو دغسي حالت رامنځته سي چي د دې اساسي قانون د اووه شپیتمي مادې د حکمونو سره سم د لوی جرګې دایرول وغواړي، جمهور رئیس کولای سي چي لویه جرګه دایره کړي. پدغسي حالاتو کي جمهور رئیس د لوی جرګې د دایریدو تر مهاله د لوی جرګې د ټولو واکونو څخه استفاده کولای سي. جمهور رئیس د لوی جرګې تر پرانستلو وروسته بې له ځنډه هغه اجراآت چي د دې مادې د حکم سره سم یې پر ځای کړي وي د لوی جرګې په استحضار رسوي او لویه جرګه د هغې په اړه تصمیم

نیسي. که د نوموړو حالاتو د راپیداکیدو پر مهال د ګوند مرکزي شورا، یا د وسلوالو ځواکونو عالي شورا او یا هم ستره محاکمه ددې اساسي قانون د حکمونو سره سم نه وي جوړ سوي، لویه جرګه د هغوی د جوړیدو پرته په دودیزه توګه دایریږي.

سل و شپږویشتمه ماده

ددې اساسي قانون د سل و اوومي مادې د حکم سره سم ستره محاکمه د سرطان په لومړۍ ورځ ۱۳۵۷ه ش د جمهور رئیس لخوا اعلانیږي.د دې اساسي قانون د نافذیدو او د ستري محاکمې د جوړیدو تر منځ په موده کي جمهور رئیس صلاحیت لري چې د ستري محاکمې د وظیفو د اجراء د تامین د پاره لازم تدبیرونه غوره کړي.

سل و اووه ویشتمه ماده

هغه تقنیني فرمانونه چې د انتقال په دوره کي نافذ سوي وي د ملي جرګې د پرانستلو وروسته د هغې په لومړۍ غونډه کي د دیرشو ورځو په موده کي د ننه ملي جرګې ته د تصمیم نیولو د پاره وړاندي کیږي.

سل و اته ویشتمه ماده

په انتقالي دوره کي حکومت موظف دئ چې د ملي جرګې د انتخاباتو مطبوعاتوو اجتماعاتو او د دولت د اساسي تشکیلاتو تقنیني فرمانونه جوړ او جمهور رئیس ته یې د لاسلیک د پاره وړاندي کړي.

سل و نهه ویشتمه ماده

په انتقالي دوره کي حکومت د اجراآتو د یو شانتوالي او د دولت د کړنلارو د عملي کیدواو تطبیق په منظوري د دې اساسي قانون د حکمونو سره سم لازمي لاري چاري غوره کوي.

سل و دیرشمه ماده

په انتقالي دوره کي د دې اساسي قانون د څلویښتمي مادې د حکمونو سره سم د ملي پاڅون د ګوند اساسنامه چې د سرطان د مترقي او ولسي پاڅون بنسټ ایښودونکئ او لومړئ ګوند دئ، دلومړني ګوند په توګه د جمهور رئیس لخوانافذ او اعلانیږي.

سل و یو دیرشمه ماده

په انتقالي دوره کي د وسلوالو ځواکونوعالي شوراد جمهور رئیس لخواتاسیس او اعلانیږي

سل و دودیرشمه ماده

د انتقال په دوره کي جمهور رئیس واک لري چې د ده د وفات په حالت کي د جمهوري ریاست د وظائفو د پر ځای کولو د پاره د جمهوري ریاست یو موقته شوراد فرمان په وسیله کي په نظر کي ونیسي. دا شورا مکلفه ده چې د وفات د نیټې څخه د لسوورځو په موده کي د نوي جمهور رئیس د انتخابولو د پاره لویه جرګه په دودیزه توګه دایره کړي.

دیارلسم فصل

عمومي حکمونه

سل و درودیرشمه ماده

د جمهورد شپې نظام لومړنی لویه جرګه چې د دلوي پر لسمه نیټه ۱۳۵۵ه ش په کابل کي دایریږي، د افغانستان د جمهوري دولت لومړنئ جمهور رئیس به د خپلو په دریو کي ددوو برخو په اکثریت د شپږو کلونو د پاره انتخابوي.

سل و څلوردیرشمه ماده

د وسلوالو ځواکونو صاحبمنصبان، پوليس او د باندنيو چارو وزارت مامورين خپله او همسران يې بايد د افغاني موروپلاره زيږيدلي وي.

سل و پينځه ديرشمه ماده

ددې اساسي قانون د تفسير واکداره مرجع ستره محاکمه ده.

سل و شپږديرشمه ماده

د دې اساسي قانون د نافذ کيدو سره سم پخوانۍ اساسي قانون او د ۱۳۵۲ء د اسد دمياشتي د څلورمي نيټې لومړۍ ګڼه، دويمه ګڼه او دريمه ګڼه جمهوري فرمانونه لغوه ګڼل کيږي. د ټولو هغو قوانينو احکام چې د دې اساسي قانون تر نافذيدو وړاندي صادر سويدي، پدې شرط نافذ ګڼل کيږي چې د دې اساسي قانون د حکمونو او ارزښتونو سره ټکر ونلري (**د افغانستان کالنی،۱۳۵۵-۱۳۵٦ ه**



ش،۴۳ګڼه،دافغانستان داطلاعاتو او کلتور وزارت لخوا،۱۴۹-۱۷۰مخونه)

۸ عقرب ۱۳۵۵ه.ش/اکتوبر ۱۹۷۶ء



جمهوریت

بند کمال خان باصرف ۷۰۰ ملیون افغانی در نیمروز احداث میشود ۱۳۵۵\۸\۱۸

کابل- بمنظور جلو گیری از خسارات بزرگ ومداوم سیلابها در ساحه ولایت نیمروز و بمقصد انکشاف آنولایت دولت طبق پروگرام پلان هفت ساله‌شروع کار پروژه احداث بند کمال خان را منظور نموده وبو زارت آب وبرق عدایت داد تا کار این پروژه را بسر عجلت ممکنه پیش ببرد. ۱۳۵۵\۸\۱۸

یك منبع وزارت آب‌وبرق گفت این پروژه مشتمل بر احداث بند آبگیر دائمی اساسی که در ناحیه کمال خان ولسوالی چاربرجك بالای‌دریای هلمند اعمار میگردد و دهانه های اساسی کانال ها بمنظور آبیاری ساحات وسیع جناح های راست و چپ در یا واحدات یکدستگاه برق آبی میباشد.

Imran Baloch

مصارف این پروژه به اضافه از هفتصد ملیون افغانی بالغ خواهد شد.

پلان پنجساله کشور:

منبع علاوه کرد که یك قسمت عمده کار های سروی وتحقیقات تخنیکی و اقتصادی پروژه متذکره تکمیل گردیده است.

Imran Baloch

منبع افزود تدابیر اولی جهت ساختمان پروژه‌متذکره اتخاذ گردیده و کار آن توسط موسسات ساختمانی داخلی انجام خواهد شد.

په نیمروز ولایت کي د نیزونو یا سیلابونو د مخنیوي په موخه جمهور رئیس سردار محمد داود د اووم انکشافي پلان له مخي د اوُوسوُو ملیونو افغانیو په لګښت د کمال خان بند د پروژې منل لاسلیک کړل او د اوبو و بریښنا وزارت ته یې لارښوونه وکړه چي ددې پروژې چاري دي په ځغرده (**په چټکي**)پر مخ بوزي.

۱ مارچ ۱۹۷۷ء

جمهور رئیس سردار محمد داود د پاکستان د صدراعظم ذوالفقار علي بټو د هغه ورلیږلي پیغام څخه منه وکړه چي ده ته یې د نوي اساسي قانون پر جوړولو او توشیح کولو تبریکي ویلي وه، په پیغام کي هیله مندي څرګنده سوېوده چي یواځنی سیاسي ستونځي ته باید د عزت دغسي د خلاسون لار ولټول سي چي دواړه هیوادونه د دوستی او امنیت په چاپیریال کي ژوند سره وکړي.

۲مارچ ۱۹۷۷ء

د اريانا افغان هوائی شرکت او د پاکستان نړيوال هوائي شرکت**(pakistan International Airline=P.I.A)** ترمنځ په کابل کي د هوايي خدمتونو د بيا پيلولو هوکړه لاسليک سوه.

۵ مارچ ۱۹۷۷ ء

د امريکا د باندنيو چارو وزارت ته په کابل کي ددې هيواد د سفارت ورليږلئ ټيليګرام–(۱)

کابل، ۵مارچ ۱۹۷۷ء **Z 1045**

۱۵۱۲ موضوع: دسردارمحمدداود سره خبري

آراي ايف (Ref): (A)14045(B)کابل 1186- (۲)

۱ لنډيز: سردار داود د جمي کارټر د باندنۍ تګلاري په اړه. د افغانستان په اړه ، هغه په خپل ملي،غيرمترقبه دريځ ټينګار وکړ

هغه وويل چي د مارچ په پای يا د اپريل په پيل کي ماسکو ته د دوو او دريو ورځو د پاره د يون نيت لري.

۲- د سردارمحمد داود سره مو د پينځم مارچ په سهار وليدل، د باندنيو چارو د وزير مرستيال وحيدعبدالله او د باندنيو چارو په وزارت کي د باندنيو اړيکو د مديريت رئيس عبدالصمد غوث هم ناست وو، ما خبري يو ځل بيا هغه ته د تر سره سوو نوو انتخاباتو او د نوي اساسي قانون پر تصويب د تبريکئ څخه پيل کړې(۳). هغه راته وويل چي هيوادوالو ته څلويښت کلن خدمت ډېر ستومانه کړئ دئ، خو تر

هغو پوري به د هیواد خدمت ته دوام ورکړي تر څو پوري چې په صحت روغ وي.هغه صحتمند او هم ډاډمن(**Vigorous**)ښکاره کیدئ

۳- ما هغه ته د نوي حکومت د باندنۍ تګلاري د لومړیتوبونو په اړوند تشریحات ورکړل. د مخدراتو په اړه ما زیاته کړه چې موږ غواړو یوه بیانیه خرګنده کړو چې د افغانستان حکومت سږکال د کوکنارو ، کوکنارو تولید کنټرول لپاره څه کوي.

۴- په اوږد غبرګون کې ، داود د کارټر اداري لخوا د مینځني ختیځ او سویلي افریقا په څیر ستونزو سوله ایز حلونو ته وده ورکولو او د وسلو کنټرول په اړه نوي موافقتنامې ته د رسیدو لپاره د هڅو په ستاینې سره پیل شو. هغه وویل چې سولې د پرمختګ لپاره د افغانستان د خلکو لپاره لازمي دي. خو هغه په چټکۍ سره زیاته کړه چې "عزت" له سولې څخه ډیراهمیت لري اوداچې افغانستان دخپلې خپلواکۍ لپاره اړین جنګ کوي اوهیڅکله به دهیچا لخوا به نه ومنل سي. ددې وروستۍ ټکي دروښانه کولولپاره،هغه ماته په ډاډسره وویل چې شورویانویووخت هڅه کړې وه چې هندوستان ته د روزنې لپاره د افغانستان د پوځي افسرانو له لیږلو څخه ډډه وکړي ، خو هغه شورویانو ته ویلي وو چې پدې کي ددوی(**شورویانو**)هیڅ کار نسته.

۵-سردارمحمدداود وویل چې هغه د افغان – امریکا تر منځ د اړیکوڅخه ډېر خوښ دئ. هغه زیاته کړه چې د تیرو درې نیمو کلونو په بهیر کې موږ د دوه اخیزي همکارئ په لړ کې د باور لوړې کچې ته رسیدلي یو. هغه د افغانستان او شوروي اتحاد اړیکي ښې وبللې او هغه نیت لري چې ددې هیواد په رسمي بلنه ماسکو ته په درې ورځني یون د

مارچ په پای او یا هم د اپریل په پیل کي ولاړ سي (۴).هغه وویل چي پدې ورخو و شپو کي هغه زښت ډیر مصروف دئ او د ایران سره یې په اړیکو کي نوئ پرمختګ نه دئ راغلئ او نه یې هم د نوو انتخاباتو په پائیله کي د پاکستان سره اړیکو نور پرمختګ کړئ دئ. هغه وویل چي د چین سره یې اړیکي ښې دي او نوري به ښې سي.

٦- دمخدراتوپه اړه سردارمحمدداود وویل فکر کوي چي دا د نړیوالي ټولني د پاره ډیره کوچنئ خبره ده چي پدې ټراو د بدخشان په ولایت کي د پرمختګ په پروژو کي راسره مرسته وکړي. د مخدراتو په ډګر کي ، دامریکا او افغانستان اړیکو ته په کتو هغه وویل د وزیرانو د نوي شورا تر واک اخستلو وروسته به مور ددې څیړنه وکړو چي د افغانستان حکومت د کومو کومو سیمو د پاره د امریکا مرستو ته اړتیا لري.

۷- سردار محمد داود زمور د اقتصادي همکارئ د پروژو په ټراو څه ونه ویل خو ما هغه ته یوه ورقه ورکړه **(copy pouched to NEA)**خو هغه څه نه پر وویل. کله چي ما هغه پدې پوه کړ چي مور د کانګریس څخه د افغانستان د پاره په کال ۱۹۷۸ء کي په نظامي روزنه کي د همکارئ دپاره **(Military Assistant Training program)** د زیاتوب بودجې غوښتنه کړې ده**(Per State44414)** - (5).

ما ورته وویل کچیري کانګریس زمور غوښتنه ومنل او ستاسو حکومت زمور دغه همکاري قبوله کړه نو په راتلونکي کال کي د نظامي روزنې پروګرام دوه چنده کیدلای سي.

۸ - ټولي خبري ډيري د خوشحالئ په فضا کي (Cordial) تر سره سوې. د خبرو په بهير کي هغه څو ځله د افغانستان او امريکا د پياوړو اړيکو د پاره خپلي خوښئ ته اشاره کول.هغه خپله ولوله (Vigor) په تيره بيا هغه مهال راخرګنده کړه چي کله د افغاني ويار او خپلواکئ پر ارزښت ږغيدئ.سردار د تل په څير روغ رمټ ښکاره کيدئ

1- Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770077–0003. Confidential; Limdis.

2- Telegram 41045 to Kabul is dated February 24. Telegram 1186 from Kabul, February 16, rehearsed the message Ambassador Eliot was to deliver to President Daoud. The message stressed the importance the United States attached to the development of Afghanistan and regional stability, and identified the trafficking of opium as the only significant problem in bilateral relations. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770063–0488 and D770055–0765, respectively)

3- Daoud declared himself President following the successful coup of July 17, 1973. See Foreign Relations, 1969–1976, vol. E–8, Documents on South Asia, 1973–1976, Document 4. In telegram 1128 from Kabul, February 14, the Embassy reported Daoud's to a sixth term, and that his government ratified its Constitution the previous day. election to a sixth term, and that his government ratified its Constitution the previous day. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770051–0976)

4- See Document 2.

5- In telegram 44414 to multiple posts, February 28, the Department authorized addressee posts toinform

their respective host governments of the amount of security assistance that was requested by President Carter. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770069–0212) The referenced paper on present and potential projects that was pouched to NEA was not found.
(Foreign Relations of theUnited State,1977-1980,Volume xii,Afghanistan, Editor David Zierler, United States Government Publishing OfficeWashington 2018, page 1-3).

۵ مارچ ۱۹۷۷ء

په افغانستان کې د امریکا له سفارت څخه د دې هیواد باندنیو چارو وزارت ته ټیلیګرام

کابل، د مارچ ۵، ۱۹۷۷، ۱۰۴۵ ز

۱۵۱۲. موضوع: له ولسمشر داود سره خبري.(Ref: (A) ریاست ۴۱۰۴۵، (B) کابل ۱۱۸۶.۲

۱. لنډیز: د مارچ پر پینځمه نیټه زموږ په خبرو کې جمهور رئیس سردار داود د کارټر د اداري باندنی سیاست ګټور وباله. د افغانستان په اړه یې پر خپل ملتپاله او ناپیلي دریځ ټینګار وکړ. هغه وویل چې د مارچ په پای یا د اپریل په پیل کې به د دوُو او دریو ورځو لپاره مسکو ته یون وکړي.

۲. ولسمشر داود د مارچ په پینځمه سهار له ما سره وکتل. د باندنیو چارو مرستیال وزیر عبدالله او د باندنیو چارو وزارت سرپرست جنرال غوث هم په دې ناسته کې ګډون درلود. ما د خبرو پیل یو ځل بیا هغه ته د هغه د وروستیو ټاکنو او د افغانستان د نوي اساسي قانون د

مبارکې په ویلو سره پیل کړ. هغه وویل چې له څلویښت کلن خدمت وروسته سترې سوی دی، خو تر څو پورې چې روغتیا اجازه ورکوي د خپل هیواد خدمت ته به دوام ورکړي.هغه روغ او ځواکمن ښکاري.

۳. بیا ما هغه ته زمونږ د نویادارې د باندنې سیاست د اصلي دریځونو او نوښتونو په اړه معلومات ورکړل.او ورځخه ومو پوښتل چې د کوکنارو د تولید د کنټرول لپاره به د افغانستان حکومت سږ کال څه وکړي.

۴- په اوږده ځواب کې سردار داود د کارټر د اداري لخوا د منځني ختیځ او سویلي افریقا په ځیر د ستونزو د سولئیز حل د هڅولو او د وسلو د کنټرول نوي موافقتنامې ته د رسیدو لپاره د هڅو ستاینه وکړه. هغه وویل چې سوله د افغانستان د پرمختګ لپاره اړینه ده. خو هغه په چټکۍ سره زیاته کړه چې "عزت" د سولې په پرتله خورا مهم دی او دا چې افغانستان به د خپلې خپلواکۍ لپاره د اړتیا په صورت کې جګړه وکړي او هیڅکله به د هیچا امر ونه مني. د وروستي ټکي د روښانه کولو لپاره، هغه ماته په ډاډ سره وویل چې شورویانو یو وخت هڅه کوله چې هغه هند ته د افغان پوځي افسرانو د روزنې لپاره له لیږلو څخه منع کړي، مگر هغه روسانو ته ویلي وو چې دا د دوی کار نه دی.

ایلیوټ

1. **Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770077–0003. Confidential; Limdis.**
2. **Telegram 41045 to Kabul is dated February 24. Telegram 1186 from Kabul, February 16, rehearsed the message Ambassador Eliot was to deliver to President Daoud. The message stressed the importance the United States attached to the development of Afghanistan and regional stability, and identified the trafficking of opium as the only significant problem in bilateral relations. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770063–0488 and D770055–0765, respectively)↩**
3. **Daoud declared himself President following the successful coup of July 17, 1973. See *Foreign Relations*, 1969–1976, vol. E–8, Documents on South Asia, 1973–1976, Document 4. In telegram 1128 from Kabul, February 14, the Embassy reported Daoud's election to a sixth term, and that his government ratified its Constitution the previous day. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770051–0976)↩**
4. **See Document 2.**
5. **In telegram 44414 to multiple posts, February 28, the Department authorized addressee posts to inform their respective host governments of the amount of security assistance that was requested by President Carter. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770069–0212) The referenced paper on present and potential projects that was pouched to NEA was not found.**

۸مارچ ۱۹۷۷ء

صدراعظم بټو مطبوعاتي غونډې ته وويل چې هغه به د افغانستان سره د ښو اړيکو د غزولو تګلارې ته دوام ورکړي

۲۲مارچ۱۹۷۷ء

گرانومنصبدارانو! تاسي په حقيقت کي ددغي خاوري د خپلواکئ،شرافت،همت او ناموس ساتونکي ياست،زه تل د گران هيواد په ميرني او زړه ور اردوباور لرم او د هغه درناوئ او مينې ته مي په زړه کي ځای ورکړئ دئ (د بلخ ولايت په گارنيزيون کي د ولسمشر سردارمحمدداود وينا - د افغانستان کالنی،۱۳۵۴-۴۳،۵۵ گڼه،۹۰-۹۱مخونه)

۱۳اپريل ۱۹۷۷ء



د سوې ټرون سره سم د پاکستان و افغانستان تر منځ هوائي تګ و راتګ چې د ۱۹۷۴ء څخه بند سوی وو، بيا پيل سو.

۱۲اپریل ۱۹۷۷ء /۱۰ سرطان

د افغانستان جمهور رئيس سردارمحمدداود د شوروي اتحاد په رسمي بلنه په ځلورورځني يون له کابله (**سهار**) د کندهار په نامه پخپله ځانګړې الوتکه کي ماسکو ته روان سو، دده سره پدې يون کي لاندي وګړي ګډون لري :- سيد وحيد عبدالله (**د باندنيوچارو د وزارت مرستيال**)، علي احمدخرم(**د پلان وزير**)، محمدخان جلالر(**د سوداګرۍ وزير**)،انجينئر جمعه محمدمحمدي(**د اوبو او بريښنا وزير**)، ډاکټرعلي احمدپوپل(**په ماسکو کي د افغانستان لوی سفير**)،ډاکټره محبوبه رفيق(**د باندنيو چاروزارت د دفتر رئيسه**)،ميرشمس الدين شمس(**د باندنيوچاروزارت د تشريفاتورئيس**)،عبدالفريد رشيد(**دباندنيوچاروزارت د اقتصاد عمومي مدير**)،محمدرفيق شمعريز(**دباندنيوچاروپه وزارت کي د ختيزي اروپا د پاره ددويمي سياسي شعبې مدير**)،عبدالاحدناصرضيائي (**د باندنيوچاروزارت د اطلاعاتومدير**)،عبدلجليل جميلي(**د باندنيوچارو په وزارت کي د اقتصادي اړيکو مدير**)،محمدانورنوروز(**د باندنيوچارو په وزارت کي د تشريفاتو د رياست مرستيال**)،عبدالصمدغوث (**د باندنيو چارو په وزارت کي د باندنيو اړيکو د مديريت رئيس**). د يون موخه د شوروي اتحاد څخه دافغانستان د اووه کلن اقتصادي پلان سره د څو ملياردو ډالرو اوږد مهاله پور لاس ته کول ده (**دعبدالجميل جميلي يادداشت**). ماسکو ته د يون پر مهال سردارمحمدداود په الوتکه کي وحيدعبدالله ته لاړښوونه وکړه چي په ماسکو کي د استوګني په موده کي مو د شوروي اتحاد د ولسمشر ليونيډ بريژنيف سره يوه ځانګړې ليدنه کښيږده (په فروري ۱۹۷۷ء کي د لوی جرګې تر غونډه څو ورځي

وروسته سردارمحمدداود وحيدعبدالله او عبدالصمد غوث ته وويل چې اوس هغه مهال رارسيدلئ دئ چې د شوروي د مشرتابه څخه يې وپوښتو چې په افغانستان کي ورانکاريو ته تاسو اجازه ورکړيده او که تاسي نه ياست په خبر؟. بريژنيف به ارو مرو دا راته سپينوي چې ددې کړنو څخه يې اراده څه ده؟(**د افغانستان سقوط، د عبدالصمد غوث د انګريزي کتاب د پښتو ژباړه د ډاکټرشيرزمان طائزي لخواو ۲۱۲-۲۱۳ مخونه**).

♥ ماسکو ته د تللو پر مهال افغاني پلاوئ د شوروي جمهوريت ازبکستان د تاشکند ښار پر هوايي ډګر تم سو، د ازبکستان،تاجکستان او ترکمنستان ولسمشرانو،صدراعظمانو او د باندنيو چارو وزيرانو يې په ګډه تود هرکلئ وکړ، اود ځانګړوميلمنو په ځانګړې مانۍ کي يې د غرمې ډوډۍ وخوړل چې پينځوسو وګړو ورپکي ګډون درلود، د ميلمستيا غونډې ته د ازبکستان ولسمشرد ښه راغلي او هم سردارمحمدداود د کورودانې ويناوي وکړې .

♥ د سوداګرۍ وزيرمحمدخان جلالرد سردارمحمدداود څخه رخصت واخيست چې ددې ښار پخپل پلارني کور کي د خپل مشر ورور، خاله ، د خاله د زوی او نورو کورنيو سره به د غرمې ډوډۍ وخوري او بيرته به راسي.

♥ کندهارالوتکه ماځيګر د ماسکود شيريميچي (**Sheremetiva**)پر نړيوال هوائي ډګر کوزه سوه په ځانګړي تالار کي يې دشوروي اتحاد ولسمشرليونيډ بريژنيف،د عالي شورا رئيس پودګورني ،صدراعظم اليکسي کوسيګن، د باندنيوچاروزيراندراګروميکو،يو شميروزيرانو او افسرانو تود هرکلئ وکړاو تر رسمي مراسمو وروسته د کريملن مانۍ جنوبي لور ته په درې پوړيزه مانۍ کي ديره سوو.



۱۳اپریل۱۹۷۷ء/۱۱سرطان

په کابل کي د امریکا د سفارت څخه دهغه هیواد د باندنیو چارو وزارت ته ټیلي ګرام- (۱)

کابل ۱۳ اپریل، ۱۹۷۷ء 1100Z

۲۵۴۴. موضوع : د سردارمحمد داود افغانستان او د ماسکو یون

۱. لنډیز:سردار محمدداود د سیاسي کړاو سره نه دئ مخامخ. هغه چي شوروي اتحاد ته تر یون وړاندي کوم هیواد تر شا پرې ایښئ دئ، تر ډیري کچي ودان هیواد نه دئ.تر لوی جرګې وړاندي یې هغه واکمن وو. د روان کال په پیل کي نوئ اساسي قانون جوړ او نوې کابینه وټاکل سوه. ددې پیر په لړ کي مور د افغانانو پر لاریونو تکیه کوو چي دا یوه عادي خبره ده.که څه هم د نړۍ پدې برخه کي د شوروي اتحاد او افغانستان په اړیکو کي خپګان او د سیاسي پیښو په لړ کي د خبرو د پاره به ډیري غوښتني وسي. لکه چي څرګندیږي

چې لویو موضوعاتو ته د جواب ورکولود پاره یواځې په وخت کې یو دوامداره پروګرام جوړ سوئ دئ.

۲- سردارمحمد داود د یو شمیر وزیرانو سره د اپریل پر دوولسمه نیټه ماسکو ته ولاړ

۳- کورنئ منظر. سردار محمد داود چې تر شا کوم کورنئ منظر پرې ایښئ وو، په اړه یې هغه ډېر ډاډه نه وو. هغه چې څومره تجربه درلوده، ډاډ یې د هغه په پرتله لږ وو. د مارچ پر اووه لسمه نېټه یې په ټاکلې کابینه زړه نه وو تړلئ (**وګورئ کابل ۱۹۲۱**).په استبلشمنټ کې انتشار لویدلئ وو او دا هم پر ټیټه کچه. موږ باور لرو چې یوه اغیزمن د کاکا زوی سلطان محمود غازي د خپل ناوړه حرکت د خاموشولو د پاره زحمت ونکړ(**وګورئ کابل ۲۵۳۰**) -(۲)

۴- سربیره پردې سردار داود د صدارت د مرستیال په قانوني توګه د مطلوبه کردار د پوره کولو دپاره د هیڅا د ټاکلو وړتیا نه درلوده او یا هم ورته چمتو نه وو، ځکه چې د ملي انقلابي ګوند څخه د داود خان د پاره دغه عهده دار(**یا دغه عهده دار د صدارت یو شمیر مرستیالان ټاکلای سي**) په قانوني توګه چمتو کول پخپله شکل نه دئ غوره کړئ او اعلان یې سوئ دئ.د باندنیو چارو وزیر وحید عبدالله سفیر ته وویل چې د سردار داود په نه شتون کې د کالیجیم غړي(**Collegium Membersunspecified**) د واک چاري پر مخ بیایي. د تللو پر مهال سردارداود د مطبوعاتي غونډې پر مهال ومنل چې د نوي ګوند په جوړښت کې زښتي ډیري خرابئ رامنځته سویدي. دا چې شیبه په شیبه ګوندیو ډیر شمیر موقع پرستانو پخپل لاس کې اخستئ دئ. یو

شمير وران**(saboteurs)** غړي د خپلي خوښي چاري پر مخ وړي–(۳)، چې په هغه کي په شونيزه (ممکنه) توګه د بدچلن بيلګي هم شتون لري. د څه مودې څخه د ناڅرګند چالخوا د بريکنګ سکينډل دغسي اشارې څرګندي سوي دي چې په هغه سرداراود نه وو خبر(**unbeknownst to Daud Khan**).د غسي ويل کيږي چې دا سياسي بنديان دي (**دا خبري بې باوره او هم د خندا وړ دي. او نه يې افغانانو ته يادونه کيدلای سي. مور يې دلته يادونه د حکومت پر اثر و رسوخ د اغيز د پاره د تورونو په توګه کوو،رشتيا دي او که دروغ**).

۵- شايد دا ټول دلوی جرګې،اساسي قانون او په نوي کال –(۴)کي ترممکنه سترو هيلو وروسته د بيباورئ يوه ناګزيره لمحه ده. خو دا منفي اشارې وروسته هم ثابتيدلای سي چې ډير ژور ارزښت لري.

٦- باندنئ منظر- د شوروري اتحاد په ګډون د ايران(**Kabul 2495**) سره د ناخوښئ په چپه د افغانستان باندنئ اړيکي ښي دي–(۵)

۵- د شوروي اتحاد د سفارتخانې په خبرپاڼه **(News bulletin)** کي ماسکو ته د سردار داود تريون وړاندي د اپريل پر نهمه نيټه سردار ته د شوروي اتحاد يوه ګلدسته را ښکاره سوه، افغانانو ته باور ورکول سوئ دئ چې زمور مفکوره ستاسو څخه بيله ده، خو نه مور ستاسو په کورنيو چارو او نه هم په خپلواکو اقداماتوکي لاسوهنه کوُو، مور د هر هغه رحجان ملاتړ کوُو چې ستاسو د وګړو په وده **(Development)**کي د پرمختګ رول**(progressive Role)** ولوبوي.

۷- دلته چارواکي (**زموږ خواخوږي**) ماسکو ته د سردار محمدداود يون سم بولي. په حقيقت کي سرداردادود نه زموږ خواخوږو او نه بل چاته ددې يون په اړه څه ويلي دي. د لسم اپريل په مطبوعاتي غونډه کي ماسکو ته خپل يون په دسمبر ۱۹۷۵ء کي کابل ته د شوروي ولسمشر پوډګورني ديون لړۍ وباله، اړيکو ته د پراختيا ورکولو د پاره ددوو مشرانو تر منځ يوه بله ليدنه.

کيدای سي چي دا (**اړيکي**) دي پيچلي هم سي خو په بشپړه توګه حقيقت کيدلای هم سي.افغان – شوروي اتحاد تر منځ د مرستي او سوداګرئ د کچي پوره کولو د پاره سردار محمد داود د سوداګرئ، اقتصاد او پلان وزيران د ځان سره مله کړي دي. اوسمهال د جنوبي آسيا په هندوستان کي ټاکني او د پاکستان پر صدراعظم د سياسي کلابندئ و دا په اړه ډير څه سويدي. د پاته مهال په موده کي پر دې موضوعاتو ډيري خبري کيدلای سي.پر نهم اپريل کابل ته د چين د باندنۍ سوداګرۍ د نائب وزير(**Chai Shu Fan, Vice Minister Miniter for Foreign Trade**) يون دافغان- شوروی اتحاد د اړيکو په خبرو کي د مطبوعاتو د پاره توده موضوع ګرځيدلای سي. موږ باور نلرو چي ددې ګرځېدونکو پيښو منصوبه بندي څرنګه کيږي. حال داچي ددې پيښو منځته راتلل په ډاګه د افغانستان او چين د ارادو ممثل دي.

۹-

پرلسم ا پريل دامريکاسفيرپه کابل کي ددې هيواد دباندنيو چارو د وزير وحيدعبدالله سره وليدل اوهغه ته يې په ماسکو کي دامريکا

دباندنيو چارو دوزير د لوري د زروي وسلو د مخنيوي په اړه د امريکا د لوري شوروي سيال ته د وړانديزونو په اړوند لنډ معلومات ورکړل.

1 Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D7700132–0436. Confidential. Sent for information to Islamabad, Moscow, New Delhi, USLO Peking, and Tehran.

2 In telegram 1921 from Kabul, March 20, the Embassy reported on the largely unchanged character of Afghanistan's new Cabinet. In telegram 2530, also from Kabul, April 13, the Embassy characterized Sultan Ghazi's displeasure with some of President Daoud's associates as an apparent "open struggle within the government bureaucracy." (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770095–1080 and D770128– 0570, respectively)

3 In telegram 2555 from Kabul, April 14, the Embassy summarized Daoud's remarks at the April 10 press conference. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770129–0726)

4 In telegram 1188 from Kabul, February 16, the Embassy assessed whether the Loya Jirgah, which ended February 15, was a legitimate effort at constitutional reform or a "cynical" attempt to "legitimize one man rule under constitutional guise." In telegram 1379 from Kabul, February 27, the Embassy emphasized that even with the new Constitution, "power ultimately resides with the President." (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770057–0394 and D770068–0026, respectively)

5 In telegram 2495 from Kabul, April 12, the Embassy noted that the downturn in Afghan-Iranian relations was disappointing in light of gains made between 1973 and 1975, but that the United States was essentially powerless to change the situation. The dispute stemmed largely over water rights to the Helmand River. (National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770126–1058)

♥ سهارد ماسکوسیند پر غاړه د کریملن په مرکزي مانۍ کي د افغانستان او شوروي اتحاد د لوړپوړومشرانو ترمنځ رسمي خبري پیل سوې،د ولسمشرسردارمحمدداوداو شوروي سیال لیونید بریژنیف تر ویناو وروسته د پلان وزیرعلي احمدخرم د حکومت دراتلونکي اووه کلن اقتصادي پلان په اړه تشریحات ورکړل.

♥ کوربه هیواد د کریملن مانۍ په ګیورګي تالار کي دافغاني پلاوي په درناوي کي غرمنۍ میلمستیا وکړه ـ

۱۴اپریل/۱۲سرطان







د کریملن په مرکزي مانۍ کي د افغاني او شوروي مشرانو تر منځ د رسمي خبرو دویم پړاو پیل سواو دشوروي اتحاد ولسمشر لیونید بریژنیف دپاو کم یو ساعت بیانیې په بهیر کي د یوې برخي ژباړه شوروي ژباړن ګاوریلوف (**د شوروي اتحاد د باندنیو چارو د دفتر مامور چې په کابل کي یې په شوروي سفارت کي ډیره موده تیره کړې اودري ژبه یې ښه زده ده، د دواړو لور تر منځ ژباړه کول**)سمه ونکړه .

عبدالجلیل جمیلي وحید عبدالله ته مخ وروارٲوه چې کِنې لورته تر یوه تن وروسته د سردار محمد داود څنګ ته ناست وو، سوکه وویل :- "معاون صاحب! شوروي ژباړن دري ژباړه سمه ونکړه".

سردارمحمد داود په خښم عبدالجلیل جمیلي ته مخ وارٲوه ؛-"څه خبره ده" ؟.

عبدالجلیل جمیلي ؛ -"وروستی خبري شوروي ژباړن سمي ونه ژباړلې".



ليونيډ بريژنيف د افغاني پلاوي خپلمنځيو خبرو ته متوجه سو او له عبدالجليل جميلي څخه يې وپوښتل ؛ -"څه خبره ده " ؟
عبدالجليل جميلي ؛-"جلالتمآب! همدا اوس چې تاسو کومي خبري وکړې ، ژباړن ستاسو د مطلب سره سمي نه بلکي په بل ډول او مفهوم وژباړلې چې ستاسو په نظر هم سمي نه دي "
ليونيډ بريژنيف سمدستي ورته ولاړژباړن ته په خښم او لوړ ږغ :-"زما خبري مه پرې کوه، څه چې مو ويلي دي، هغه وژباړه"

ژباړن په دويم ځل دهغه خبري په سمه توګه د غسي وژباړلې ـــــ
" ښاغلي ولسمشره! تاسو ښه پوهيږئ چې زما هيواد مدام د افغانستان تر ټولو نژدې دوست وو، هر مهال او په هر پړاو کي مو د دوستئ لاس در اوږ کړئ دئ او پر هيڅ ډول مرستو مو دريغ نه دئ کړئ او اوس په خوښي چمتو يم چې د افغانستان د نوي اقتصادي پلان سره

مرسته وکړم ، دغسي خبر سوئ یم زمونږ دښمنان غواړي چي په دي اړیکو کي خنډ واچوي او وراني یې کړي، پدې توګه خپلي کړني دسولي ټولئ یا پیسکارپ(Peace Corps) تر عنوان لاندي او رضاکاران و دا افغانستان ته لیږي ، د مرستو و همکاریو په نامه زمونږ اړیکي ورانوي،په کار داده چي افغان حکومت دغه وګړي له هیواده وشړي".

د غونډي په تالار کي یوه خاموشي خپره سوه او زړونه وتُرهیدل، ځیني روسي برخوال پریشانه ښکاره کیدل خو افغانان هم ډیر خپه سول. عبدالصمد غوث پر مخ زیاتوي چي کله مو سردار محمد داود ته پام واوښت ، د هغه د مخ بڼه ترینګلې او توره سویوه، په ډیره سړه سینه یې دغسي جواب ورکړ (د عبدالصمد غوث کتاب، ۲۱۳مخ) -

سردارمحمدداود:-"جلالتمآب بریژنیف! تاسو او ټول په دې پوهیږئ چي افغانستان یو مخ پر وده هیواد دئ او د خپلو اقتصادي کړاونود له منځه وړلو د پاره د نړۍ د دوستو هیوادونو مرستو ته اړتیا لرو، مونږ تل د شوروي اتحاد په ګډون د ټولودوستو هیوادونود مرستو څخه صمیمانه مننه کوو، پدې لړ کي مدام هیله مندیو، هغه دوست هیوادونه چي زمونږ سره اقتصادي مرستي کوي او کارپوهان رالیږي،ولي کچیري دا مرستي او کارپوهان زمونږ په کورنیو چارو کي د لاسوهني لامل وګرزي ،مونږ به یې تر لاس ونیسو او له افغانستان څخه به یې وباسو،(ښئ لاس یي پورته کړ)که څه هم د جرمني، فرانسې،شوروي اتحاد،امریکا او بلغاریا وداهم وي (سردار بیا ښئ لاس پورته کړ او همدغه خبره یي غبرګه کړه)، البته افغانستان یو مسکین هیواد

دئ خو يو مستقل او خپلواک هيواد دئ، هيڅ هيواد ته به اجازه ورنکړو چي د مرستو په نامه زمونږ په کورنيو چارو کي لاسوهنه وکړي، د افغانستان د سرنوشت ټاکل يواځي دافغان ملت په لاس کي دي او يواځي افغانان ددي حق لري چي په دې اړه تصميم ونيسي ".

صدراعظم اليکسي کوسيگن :-"ښاغلې ولسمشره! داچي تاسو يو مجرب سياستمدار ياست،په تيره بياد منځني ختيزاو سيمئيزو هيوادونو لکه ايران، پاکستان، هندوستان او چين سره د دولتي او سياسي چاروپه اړه له پخوا څخه ټراو او ډيره تجربه لرئ، د يوه سياستمدار او د هيواد د ولسمشر په توګه ستاسو لرليد او نقطه نظر مونږ ته ډير ارزښت لري ، امکان لري چي راته ووايست چي د سيمي،شاوخوا هيوادونو سياسي رَوِش او اوضاع راته تحليل کاندئ او هم په کوم نظر ورته ګورئ، په يقين درته وايم چي په دې اړه ستاسو نظر ډير ارزښتناک دئ " .

سردارمحمدداود:-"واقعاً ستاسو تشريحات، معلومات دومره بډای، د مُحتوا ډک او هن چي مطالب يي بَکر وو، او ما ورڅخه ګټه واخسته او تاسو ته په ډاګه وايم چي په مطالبو دي پوه سوم او دومره معلومات مو ورڅخه واخستل چي وړاندي مو نه وو اخستي او يا مو په بل شکل کي تعبير کړي وو،ستاسو تشريحاتو او سمو معلوماتو زه پر ښه لور روان کړم".

سردار محمدداود د بريژنيف، پودګورني، کوسيگن او ګرومیکو په چپه د غونډي د نورو شوروي برخوالو څخه رخصت وانخيست اود لوی وره پر لور يکړ روان سو(**د عبدالجميل جميلي يادداشتونه**) .

عبدالصمد غوث ليکي چې هغوی هم ورپسې ولاړ سول. په هغه مهال لیونیډ بریژنیف د خپلې کرسۍ څخه په لږ زحمت راپاځید، پودګورني او الیکسي کوسیګن او ژباړن ګاوریلوف ورسره مله سول او په سردار پسې په ګړندیو ګامونو روان سول. وحید عبدالله او ما هغوی ولیدل چې زمونږ پر لور راروان وو.



وحید عبدالله سردار محمدداود ته په غوږ کې وویل چې د سفارتي نزاکتونو په خاطر، مناسب داده چې دکورباڼو څخه سم رخصت واخستل سي، کنه نو دا یون به یو مخ ناکام وګڼل سي. وحید عبدالله خپله خبره څو ځله غرګه کړه، سردار بیرته پر شا غبرګ سو، بریژنیف ته وروړاندي سو او هغه یې تر ورغزیدلي لاس ونیوو.



د يوې خورې مسکا سره بريژنيف وويل :- ″ماته ويل سويدي چې تاسو عزت مآب له ما سره ځانګړې ليدنه غواړئ، زه ستاسو په واک کې يم، مور به سره وينو، هر مهال چې ستاسو د پاره موذون وو″
سردارپه لوړ ږغ:- ″زه غواړم چې تاسو عزت مآت خبر کړم هغه ليدنه ته اوس نوره اړتيا نسته″. تر دې ويلو هغه د کوربانو څخه رخصت واخيست (**د افغانستان سقوط، عبدالصمد غوث، د ډاکټرشيرزمان طائزي پښتو ژباړه او ۲۱۳، ۲۱۴ مخونه**).

کله چې ور پرانستل سو ، هغه وَوُوت،د وحيد عبدالله په پاملرنه د تشريفاتو رئيس وروسته سمدستي د خپل شوروي سيال په ملګري په بيړه په ولسمشر پسې وَوُوت، ولسمشر يې ددوو مانيو تر منځ د مځکني تونل د لاري د مانۍ په دريم پوړ کې خپل اوتاک ته ورساوه.

♥ په ماسکو کي د افغانستان د لوی سفارت لومړي منشي پائنده محمد کوشاني د وحید عبدالله سره یو ځای د روم څخه راغلئ ټیلیکس ولسمشر ته وسپاره چې د هغه د آکا مارشل شاولي خان غازي د مړيني خبر پکي ليکلئ وو



♥ د شوروي اتحادد باندنيو چارو وزارت د تشريفاتورئيس ولسمشر ته د تاجکستان جمهوريت د ولسمشر د ميلمستيا بلنه وسپارل: د تاجکستان ولسمشر ډيره ليوالتيا لري چې سبا دي په دوشنبه کي هرکلئ وکړي او د شپې ميلمستيا ورسره وکړئ.

سردارمحمدداود په منه او قدرداني ورځخه معذرت وغوښت، سردار همدلته د شپې د خوا يواځي چای وچيښلې خو ډوډۍ يې ونه خوړل .

۱۵اپریل - سرطان ۱۳

د افغانستان او شوروي اتحاد په ګډه اعلاميه کي هيله څرګنده سوېده چې د افغانستان او پاکستان تر منځ سياسي ستونزي دي په سولئيزو

توګه او د خبرو د لاري چې ددې دوُو هيوادونو مشرانو پيل کړيدي اواري سي.

♥ سهار د ماسکو پر هوائي ډګر تر رسمي په مخه ښه مراسمو وروسته د سردارمحمد داود د امره سره سم پيلوټ ډګروال ګل پاچاخان ځاځي په کندهار الوتکه (L-18)کي افغاني پلاوئ بې له تمکيدو کابل ته ورساوه (**ددې پلاوي د يوه غړي د باندنيو چارو د وزارت عبدالجليل جميلي لخوا د يون ليکلئ دري متن مو په واشنګټن کي د خواږه ملګري د کونړ د پَښد د درنې روحاني کورنۍ د غړي سيدسليمان شاه پاچا څخه لاسته کړاو هم د پلاوي د بل غړي د باندنيوچارو په وزارت کي د باندنيواړيکو د مديريت د رئيس عبدالصمدغوث د يادداشتونو کتاب د افغانستان سقوط**).د افغاني مجاهدينو د کابينې د پوهنې د پخواني وزير ډاکټرفاروق اعظم د خولې د سردارمحمد داود چې د ليونيډ بريژنيف سره اړيکي وشليدې نو يې ورور سردارمحمدنعيم يوه چاته ويلي وو چې مورږ دا قِمار يا خُمار بائيلاوه او روسيان به مو اوس تباه کوي (**د امريکاړ غ مابامنۍ پښتو خپروني سره مرکه، ۲۵دسمبر۱۹۹۸ء**).

♥ د امريکا ولسمشر جمي کارټر خپل شوروي سيال ليونيډ بريژنيف ته په کال کي د يو ځل ليدنې وړاندیز وکړ(**Garthoff, Page 574**).

۱۸اپريل

د پاکستان ستری محکمې ددې هيواد پخوانۍ صدراعظم او د پيپلز ګوند موسس ذوالفقار علي بټو د خپل سياسي غليم محمود احمد قصوري په وژلوکي د لاس درلودلو په تور په دار محکوم کړ



۱۲۳اپریل ۱۹۷۷ء

د حبشې هیواد(**ایتوپیا**)نظامي واکمن مینګستوهیلي ماریم(**Mengistu Haile Mariam**)له خپل هیواده امریکائي سلاکاران وشړل اود خارګرۍ(**Intelligence Station**) مرکز یې ور وتاړه **(Garthoff,Page 579)**.



۲۵-۲۶اپریل ۱۹۷۷ء

د اردن پاچا شاه حسین د امریکا په دوه ورځني یون واشنګټن ته ورسید



د امریکا کانګرس ته په یوه پیغام کي ولسمشر جمي کارټر بیا د اټومي وسلو د نه خپریدو په اړه خپل دریځ روښانه کړ(**وګورئ 1975-1976**). کارټر ګواښ وکړ چي هغو هیوادونو ته به د امریکا د اټومي تیلو او ټیکنالوژۍ اکمالات بند کړي چي د دوی کارولو نړیوال محافظتونه نه مني. په هرصورت، د ۱۹۷۹ء په وروستیو کي پر افغانستان د شوروي له یرغل وروسته، د کارټر اداري د پاکستان پر اټومي پروګرام سترګي پټي کړیدي **(America and the Islamicn Bomb: The Deadly, ARMSTRONG AND TRENTO,23 OCT 2007, PP. 62, 239)**

۲۸اپریل۱۹۷۷ء

امریکا ایتوپیا ته د خپلو وسلو لیږل وځنډول او د پاته سلو ډالرو په لګښت د وسلو خرڅول یې منسوخ کړل **(Garthoff,Page 632)**

۲۹اپریل ۱۹۷۷

د ولسمشرلیونیډ بریژنیف ویاند :شوروي اتحاد به کله هم د امریکا سره په هغه سرمشریزه غونډه کي ګډون ونکړي تر څو چي لومړئ د زروي وسلو پر محدودولو(SALT)پریکړه سوې نه وي (**Garthoff, Page 575**).

امریکا دخپل ملی دفاع د امنیت مرستندویه ادارې (**DSAA= Defence Securit Assistant Agency**) ته د هوائي ځواک په خواهش خبرداري ورکړ چي پر سوډان دي یو شمیر دفاعي اسناد **(Articals)**و پلورل سي او پدي تړاو دي ورسره همکاري**(Services)** وسي **(IKAR -3)**.

د جمهور رئیس سردارمحمدداود تر یون دوې اوونۍ وروسته نن نورمحمدتره کئ او سلیمان لائق په کابل کي د شوروي اتحاد د سفارت په مرسته په پټه ماسکو ته واستول سول، دوی څو اوونۍ دورې د ځارګري شبکې کې.جي.بي د مامور او د ماسکو د علومو آکاډمۍ د ختیز پیژندني د څانګي د غړي په کور کي تیري کړې، تر دستور ورکولو وروسته بیرته افغانستان ته ورسول سول (**افغانستان در گردابي از توطئه ها، لومړئ ټوک، د محمدامین فروتن کتاب، د المیزان امارات متحده عربي العین موسسې د خوا، ۲۰۰۴ء، ۳۵مخ**).

۷مئي ۱۹۷۷ء

د حبشې یا ایتوپیا واکمن په ماسکو کې د یون پر مهال ددې هیواد سره د اقتصادي او تخنیکي همکارئ تړون لاسلیک کړ **(IKAR-2)**

♥ د چین د سرحدي ساتونکو سره د شخړې پر مهال شوروي سرحدي ساتونکو ددې هیواد د مینچوریا **(Manchuria)**ایالت پر سیمه یرغل وکړ **(Garthoff,P.599)**

۹مئي ۱۹۷۷ء

د امریکا ولسمشرجمي کارټر د شام (سریه) د ولسمشر حفیظ الاسد سره په جنیوا کې ولیدل



۱۱مئي ۱۹۷۷ء

په لندن کې د لیدنې پر مهال د امریکا د باندنیو چارو وزیر خپل اسرائیلي سیال یِګل اَلن **(Yigal Allon)** ته ډاډ ورکړ چې د دواړو هیوادونو تر منځ ځانګړې اړیکي به یې دوام وموميِ **(Sobel, Page**

۱۳مئي۱۹۷۷ء

امریکائي او شوروي چارواکو د زروي وسلو په تړاو پینځه ورځنی خبري په ژنیو(**جنیوا**)کي پیل کړې(**Basic Document Page168**)

۱۷مئي ۱۹۷۷ء

د امریکا په لاس انجلیس ایالت کي د ټیلي ویژني مرکې په ترڅ کي د امریکا ولسمشرجیمي کارټر د جنوبي افریقې حکومت ته خبرداری ورکړچي که یې د نمیبیا هیواد په کورنیو چارو کي د لاسوهنو(**مداخلې**) څخه ډډه ونکړه، د امریکا په ګډون د انګلستان،جرمني،فرانس او کناډا د سخت غبرګون سره به مخامخ سي، هغه زیاته کړه چي د دې هیواد د حکومت ملاتړ ځکه نه کوي چي د نژادي توپیر تګلار یې پلې کړې ده(**The New York Times,May 18,1977**)



۱۸مئي ۱۹۷۷ء

د امريکا د باندنيو چارو وزيرسائيرس وانس د چاپيريالي جګړې(Enviromental Warfare)د مخنيوي تړون لاسليک کړ **(Basic Documents,Page168)**

۱۹مئي ۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټردخپل حکومت د لوري د وسلو د پلور نوې تګلار اعلان کړه**(Basic Documents,Page168)**

♥ په جنوبي کوريا کي د امريکائي ځواکونوقوماندان جنرال جان سينګلياب **(General John Singluab)**د ولسمشرجيمي کارټر د کوريا څخه د ټولو ځواکونو د را ايستلوپر پلان نيوکه وکړه او خبردارئ يې ورکړ چي په دې سره به جګړه ته لار اواره سي**(Washington Post, May 22,1977)**.



۲۱مئي ۱۹۷۷ء

په ژنيوکي د امريکا او شوروي اتحاد د باندنيوچارو وزيرانوسائيرس وانس او اندراګروميکو تر ليدني وروسته يو ټرون اعلان کړچي دنړيوال امنيت او ډاډمني سولي د پاره د منځني ختيز د دوامداره کړکيچ لامل ليري کول به يې لومړنۍ وظيفه وي، پريکړه وسوه چي د روان کال په پای کي به پر دې موضوع په ژنيو کي بيا سره غونډ سي **(JointCommunique Issued By The Secretary Of State and The Soviet Foreihn Miniter , Geneva,5/21/1977)**

♥ جمهور رئيس سردار محمد داود په يوه مرکه کي وويل تر څو چي د پاکستان د حکومت او د ملي عوامي ګوند دنيول سوُو مشرانو تر منځ تفاهم نه وي سوی، د افغانستان و پاکستان تر منځ د کومې عملي ستونزي حل ممکن نه دی.

۲۲مئي ۱۹۷۷ء

"دشوروي اتحاد په وړاندي زمور د باندنۍ تګلاري موخه داده چي د نوو وسلو پر توليد بنديزولګوي،په ستراتيژيکو زروي وسلو کي په دوامداره توګه کمي راولي،پر کيميائي جګړه ، خلائي سپورمکيو **(Satellites)** پر ضد يرغليز صلاحيت يا وړتياو د ټولو زروي وسلو پر ازموينه بنديز ولګوي ،اوهم دي د هند په سمندر کي د وسلو شمير محدود کړي" **(په ناټر ډيم Notre Dame پوهنتون کښې غونډې ته د امريکا د ولسمشرجيمي کارټرويانا)**

د پاکستان د باندنيو چارو وزارت ويانډ وويل چې له افغانستان سره د خبرو اترو پروسه خالصه دوه اړخيزه وه او دا چې هيڅ دريم اړخ نه لري.

۲۳ مئی ۱۹۷۷ء

د پاکستان د باندنيو چارو وزارت ويانډ وويل چې له افغانستان سره د خبرو اترو پروسه خالصه دوه اړخيزه وه او دا چې هيڅ دريم اړخ نه لري.

۲۴مئي ۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټرد بشري حقوقود ستونزو د مطالعې په اړه لارښونه (PRM-28) لاسليک کړه.

مئي ۲٦، ۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټر تشريحات ورکړل چې دجنوبي کوريا څخه ددوی د ځواکونو را ايستل به د ځلورو او پينځو کلونو موده په بر کې ونيسي، امريکا پر دې لانجه د پينځويشتو کلونو د پاره پاملرنه کړي ده ،امريکا دغسي تګلاره نلري چې په دې هيوادکي دي خپل مځکنې ځواکونه په دائمي توګه وساتي،هغه په ټينګار وويل چې مناسب شميرځارګريز ځواکونه،ځارونکي ځواکونه،هوائي و سمندري ځواکونه به يو ګډ سوداګريز مرکز(Firm)**وساتي** ، دا به د کوريا سره د امريکا په ملاتړ کې کمښت رانه ولي

(Reply by the President to a Quistion Asked at a News Conference, Washington,D.C,5/26/1977(

د مئي پای ،۱۹۷۷ ء

امریکائي چارواکو د جنوبي کوریا د چارواکو سره د سیمي څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو په ټړاو یو شمیر لیدني تر سره کړې،د خبرو تمرکز د کوریا پر دې هیله وو چې د امریکا کیمیائي سائیوان(**Chemical Umbrellah**) دي پر ځای پاته سي(**Koreans (Intensify Discussion of Nuclear Option,6/17/1977**

۳جون۱۹۷۷ء

شوروی اتحاد دویم ځل د امریکا حکومت ته وویل - تر هغو سرمشریزه غونډه نه سي جوړیدلای تر څو چی د زروي وسلو د بندیز(**SALT**) په اړه پریکړي ته سره رسیدلي نه یو (**Berzezinski- Page 166**).

♥ د امریکا ولسمشرجیمي کارټر د تراهګرۍ د څېړني حکمنامه (**PRM-30**)لاسلیک کړه (**Richelson**)

۵جون۱۹۷۷ء

ایران و افغانستان د هلمند سیند د اوبو دویش د ټرون توشیح سوئ متن یو بل ته وسپاره.

۷جون۱۹۷۷ء

دامریکائي ورځپاڼي واشنګټن پوسټ په ننني خپور کړي مضمون کي راغلي دي چې دا هیواد په اروپا کي د نیوټران بمانو د ځای پر ځای کولو پلان لري(**Brzezinsky- page 301-307**).

♥ د شوروي اتحاد رسمي اژانس تاس د بشري حقوقو په اړه د امریکا د ولسمشر جیمي کارټر تورونه بیهوده یا له عقله لیري او

وحشي(**Wild Concoction**) وبلل او خبردارئ يې ورکړ چې د امريکا دغه تګلاره به ددواړو هيوادونو اړيکي زيانمني کړي(**Garthoff-Page 573**)

۹جون۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټرخپل شوروی سيال ليونيډ بريژنيف ته د ليک د لاري د دواړو هيوادونو تر منځ خبرو ته د دوام ورکولو په موخه د سرمشريزي غونډي وړاندیزکړئ دئ (**Garthoff-Page 575**)

۱۰جون ۱۹۷۷ء

د امريکا ځارګري اداړې سيا **(CIA)** د ختيزي آسيا په اړه خپل ياداشت خپور کړچې پکي ليکي دي چې په راتلونکو دريو کلونو کي به په دې سيمه کي ناامني پيل سي ،په تيره بيا په پولينډ کي **(Prospect for Eastere Europe,6/10/1977)**

۱۱جون ۱۹۷۷ء

شوروي اتحاد د امريکائي ورځپاڼي لاس انجليس ټائمز(**Los Angeles Times**)خبريال رابرټ ټات **(Robert Toth)** د سِري يا پټو دولتي معلوماتو **(State Secrets)** دلاسته کولو په تور تر نيولو وروسته له هيواده وايست ،يوه حکومت مخالف سائينسدان تاټ ته د پيراسائيکالوجي **(Parapsychology)** ورقي يوه کاپي ورکړې وه **(Garthoff-Page 571**)



١٦جون ١٩٧٧ء



نيکولای پوډګورني

شوروي ولسمشرليونيډبريژنيف ددي هيواد د پريزيډيم رئيس نيکولای پودګورني (Nikolai-podgorny)څکه د خپلي دندي ګوښه کړ چي د زروي وسلو پر غزولو(To Strenghthen Detente) يې نيوکي (اعتراضونه)کولې ---- (Garthoff- Page 586-587)

♥ د امريکا حکومت د سپيني مانۍ څخه د سمندري قانون (Directive-PD/NSC-16) اوکيميايي جګړې (Directive-PD/NSC-15)په اړه د ولسمشر لارښووني خپرې کړې(Rechelson).

۱۷جون ۱۹۷۷ء

دجنوبي کوريا مطبوعاتو د امريکا ددې پريکړې په اړه چي لدې هيواده به خپل ځواکونه وباسي ،تبصرې خپرې کړې دي،د سيمئيزي سرچينې له خولې د ستنيدلو سره به کيميايي وسلې هم يوسي،دي ته ډير ميلان سته چي د ځواکونو د وتلو سره به د جنوبي کوريا خپل د زروي وسلود وړتيا ارزښت نور ډير سي

)Korean IntensifyDiscusion of nuclear Option,6/17/1977(

۲۱جون ۱۹۷۷ء

ميناخيم بيګين (Menachem Begin)د اسرائيلو د صدراعظم په توګه وټاکل سو



۲۲جون ۱۹۷۷ء

کابل ته د خپل يون په ترڅ کي صدراعظم بټو او جمهور رئيس سردار محمد داود د اسلامي هيوادونو ترمنځ د يووالي پر اړتياوخبري وکړې.

۲۳جون ۱۹۷۷ء

د کابل څخه اسلام اباد ته په راستنيدو صدراعظم بټو وويل چې په کابل کي يې د جمهور رئيس سردار محمد داود سره ډيري ښې خبري وکړې

۲۸جون ۱۹۷۷ء

د امريکا د زروي وسلو دائمي کميسيون هندوستان ته د (۱٦۸۰۴) کلوګراموډکو يورانيمو د صادرولو منظوري ورکړه **(CRS3,Page-16)**


۳۰جون۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټر هيله څرګنده کړه چې غواړي د دواړو هيوادونه په خوښه د مهال او ځای ټاکلو وروسته د ليونيډ بريژنيف سره ووينې، هغه په ډاګه کړه چې امريکا د بي- يو ډوله**(B-1)** جنګي

الوتکو د توليد نيت نلري، خو پر مخ يې ټوله پاملرنه د اوږده واټن کروز توغنديو(**Cruise Missile**) ته اړولې ده چې په بي - دوپينځوس ډوله(**B-52**) جنګي الوتکو کې ځای پر ځای کيدلای سي(**Garthoff-Page 575, 791**)

۱جولائي۱۹۷۷ء

په افريقا کې د شوروي اتحاد او کيوبا ترنظامي لاسوهنو(**مداخلو**) وروسته د امريکا د باندنيو چارو وزيرسائيرس وانس وويل چې د خپل حکومت څخه به په دې برخه کې د مرستې لپاره د خواخوږۍ غوښتنه وکړي، د امريکا پر پولواو د افريقا په هره برخه کې باندني نظامي تنصيبات او د سلاکارانو شتون د امريکا لپاره خطر دئ (**Address by the Secretary of State before the Annual Convention of the NAACP,St.Louis,7/1/1977**)



۵جولائي ۱۹۷۷ء

دشوروي اتحاد ولسمشر ليونيډ بريژنيف د ليک د لاري خپل امريکائي سيال جيمي کارټر ته ليکلي دي چې سرمشريزه غونډه د زروي وسلو پر ټرون پوري اړه لري**(Garthoff,Page -575)**

۵جولائي ۱۹۷۷ء



جنرال محمد ضياءالحق په يوې نا خونړۍ کودتا کې له صدراعظم ذوالفقار علی بوټو څخه واک واخيست او د پوځ د لوی درستيز په توګه يې د خپل مقام په ساتلو سره د پوځ لوی درستيز سو. نوموړي د فضل الهي چوهدري له استعفا وروسته د ولسمشرۍ څوکۍ هم پر غاړه واخيسته. جنرال ضياء پر حکومت خپله ولکه ټينګه کړه، سياسي ګوندونه يې وځنډول، د کارګرانو اعتصابونه يې بند کړل او پر مطبوعاتو يې سخت سانسور نافذ کړ.

۱۲جولائي۱۹۷۷ء

د مطبوعاتي غونډي په وړاندي د امريکا ولسمشر جيمي کارټر پر خپل شوروي سيال ليونيډ بريژنيف نيوکي وکړې چي د بشري حقوقوپر تګلار د ټرون نه کولو په اړه له مبالغې کار اخلي او هغه به ددواړو هيوادونو تر منځ د متنازعه ستونزورا پورته کولو ته دوام ورکړي، پر امريکا او هم زما پرضد د شوروي ډاګيزه وينا غلطه او د ناروغ ذهنيت

(Ill-Advised) ځيرنده ده

(Garthoff,P-573;Weekly Presidential NewsConference,PP,Volume2,1977,Page 1235)

۱۵جولائي ۱۹۷۷ء

امريکا،انګلستان او فرانس په پټه د صومالیا حکومت ته حال واستاوه چي چمتو دي، دې هيواد ته دفاعي وسلې ورکړي **(Vance,P-73)**

۱٦جولائي ۱۹۷۷ء

ولسمشر سردار محمد داود د ملي پاڅون (**انقلابِ ملي**) په نامه نوئ ګوند تاسيس کړ.

۲۱جولائي ۱۹۷۷ء

د جنوبي کيرولينا **(South Carolina)** ايالت په چارلستون **(Charleston)** ښار کي د امريکا ولسمشر جيمي کارټرپه يوه اوږده وينا کي وويل چي هيواد يې د بشري حقوقو په اړه پر خپل هوډ کلک ولاړ دئ،هغه په ډاګه کړه چي اوسنۍ اوضاع دشوروي اتحاد د ځينو مشرانو د څرګند او ناسم اند له کبله دې حال ته رارسيدلې ده چي هغوی د بشري حقوقو په ټراوزمور تګلاره په مشخصه توګه خپل

ځان ته راجع کوي او پر حياتي ليوالتيا **(VitalInterest)**باندي يې يرغل ګڼي **(Garthoff,Page 573;Remarks at The 31st Annual Meeting of The Southern Legislative Conference,PPP,Volume2,PP 1309-10)**

۲۹جولائي۱۹۷۷ ء

په امريکا کي افغان سفير عبدالواحد کريمي د واشنګټن په سپينه مانۍ کي ددې هيواد د ولسمشر جمي کارټر سره وليدل ، جمي کارټر د نوي اساسي قانون په تيره بياپدې قانون کي د بشري حقوقودفعات ومنل او هم يې د مخدراتو په مخنيوي کي دنوي ګډ کميسون پر جوړولو د حکومت ستاينه وکړه. کارټر د اقتصادي ودي پر لور د سدارمحمدداود هڅي هم ومنلې او زياته يې کړه چي هغه يې ددې هڅو سره مرسته کولوته چمتو دئ.(**Afghanistan in 1977;An External Assessment,1/30/1978) .**



۱۴ګست ۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشر د باندنيو مرستو په ماده کي بدلون لاسليک کړ چي له مخي به يې هغو هيوادونو ته پر مرستو بنديز ولګيږي چي په زروي سوداګري کي لاس لري**(CRS3,Page 63)**

۱۵ګست ۱۹۷۷ء

په اروپا کښې د امنيت اوهمکارئ **(CSCE)** تر سرليک لاندي د لومړنۍ غونډي په لومړۍ ورځ امريکائي کميسيون يو رپورټ خپور خپور کړچي له مخي يې د بشري حقوقو په اړه د شوروي اتحاد او ختيزي اروپا پر ريکارډ کلکي نيوکي**(Strongly Criticizes)**سوي دي **(Garthoff,page-570)**

۱۶ګست ۱۹۷۷ء

شوروي اتحاد د امريکا ولسمشر جيمي کارټر ته خبر ورکړ چي په سپوږمکۍ انځورونو**(Cosmos Satellite Photograph)**کي يې ليدلي چي جنوبي افريقا په کلاهاړي دښت **(Kalahari Desert)** کي ايټمي ازموينه کوي ، جيمي کارټر د يوې خپلواکي پلټنې امر وکړ، په پلټنه کي د شوروي اتحاد ادعا سمه راوخته ، وروسته امريکا جنوبي کوريا ته خبردارئ ورکړ چي له دې ازموينې دي لاس واخلي**(Washington Post8/23/1977,Specto1,page221)**

۱۸ګست ۱۹۷۷ء

شوروي اتحاد په يوه بيانيه کي خرګند ه کړه چي د جنوبي افريقا د زروي وسلې د توليد د مخنيوي لپاره د هر هيواد سره ګډي همکارئ

ته چمتو دئ ځکه چې دا وسلې نړیوالي سولې او امنیت ته خطر دي(**Washington Post8/28/1977;The New York Times8/9/1977)**

۱۴اګست۱۹۷۷ء

د امریکا ولسمشر جمي کارټر د باندنیو چارو د وزیر سائیرس وانس او د ملي امنیت دسلاکار بریزینسکي سره د جنوبي کوریا د ایټمي ازموینې په ټراو سره وږغیدل ، کارټر امر وکړ چې سبا دي شوروي ولسمشر ته پیغام واستول سي چې امریکا هم د یو شمیر شواهدو پر بنسټ دې پائیلې ته رسیدلې چې جنوبي کوریا د ایټمي ازموینې لپاره چمتووالئ نیسي

(Washington Post8/28/1977)

♥ د امریکا د باندنیو چارو وزیر سائیرس وانس د خپل ولسمشر جیمي کارټر سره ولیدل او هغه ته یې د مصر،لبنان،سوریې ،اردن ،سعودي عرب او اسرائیلوته د خپل یون په اړه معلومات ورکړ،سپیني مانۍ اعلان وکړ چې امریکا د شووروي چارواکو سره نژدې سوي چې په جنیوا کې ددواړو هیوادونو تر منځ سرمشریزه غونډه تر سره سي، په دې اړه به سائیرس وانس په راتلونکې اوونۍ کې سیمي ته د یون پر مهال د شوروي اتحاد د ډوبرینین **(Dubrynin)**سره ووینې**(Statement Issued by White House,8/14/1977)**

۱۷اګست

په کابل کې د امریکا د سفارت څخه ددې هیواد د باندنیو چارو وزارت ته ټیلیګرام(۱)

کابل ۱۷اګست ۱۹۷۷ء 1050Z

۵۷۳۲موضوع: پر سياسي چارو د سردارمحمدداود سره خبري

۱- د اګست پر اووه لسمه نيټه سردارمحمدداود وروغوښتم. زموږ تر منځ يو ساعته خبري په درناوي او د خوشحالئ په فضا کي تر سره سوې. هغه چي په دوبي کي د غاښو لخوا لږ څه ناروغه سوئ وو، اوس په بشپړه توګه روغ رمټ وو.

۲- هغه ته موږه واشنګټن کي د افغانستان د نوي سفير عبدالواحد کريمي يادونه وکړه او ورته ومو ويل چي په راتلونکو اوونيو کي (۲) کليفورنيا ته د باندنيو چارو د وزير وحيد عبدالله راتلو ته سترګي په لاره يو. سردار راته وويل چي ولسمشر جمي کارټر ته مو د افغان سفيرکريمي د تاوده هرکلي له امله مننه او هم زما د لوري ځانګړي نيکي هيلي ورسوئ. د هغه سره پر اقتصادي چارو او د مخدراتو پر موضوع وږغيدم. راته وې ويل چي د کمينوستي خپرونو لخوا د هغه پر ضد په لوړه کچه پروپاګنډ کيږي، دا تبليغات افغانستان ته د ايميلونو او هم د ختيزي اروپا او امريکا څخه په ناقانوني توګه راواردږي. هغه پدې اړه پخپله اندښنه خبر کړم چي دا پروپاګنډ کمينوستان په تای لينډ او ايتوپيا هيوادونو کي جوړوي. هغه وويل چي د ډومينو مفکورې**Domino Theory**(**دا يوه جيوپوليټيکل مفکوره ده چي د ۱۹۵۰ او ۱۹۸۰ء کلونو په لسيزو کي په امريکا کي راڅرګنده سوه، دا يې څرګنده کړه کچيري د سيمي يو هيواد د کمينيزم تر اغيز لاندي راغئ نو به شاوخوا هيوادونه د ډومينو مفکورې تر اغيز لاندي عمل کوي- ويکيپيډيا**). ملاټر کوي او زياته يې کړه چي افغانستان په

نړۍ کي د شوروي اتحاد سره د اوږدې پولي له امله ددې ډول پرمختګ په ټراو په ځانګړې توګه يو حساس هيواد دئ. د کمیونستانو د پروپاګنډ په اړوند مو هغه ته وويل که کومه مشخصه بېلګه راته په ګوته کړې چي مونږ يې وپلټو، غواړم چي دا کار تر سره کړم.هغه راسره ومنل سربيره پر دې چي اغيز نلري خو وګړي يې بيا هم لولي.

۵- ما ورته وويل چي شورويان څه کري، باور نه په لرم چي ددوی د پاره به ګلان راوټوکوي. پدې اړه مو هغه ته د آسيان (ASEAN) هيوادونو په اوسنۍ غونډه کي د جاپان او استرالیا د ملاتړ د ژمنو يادونه وکړه (۳). ما په صومالیه او سري لنکا و هندوستان کي د شوروي پلوُو کمیونستانو د ماتي په اړه د شوروي اتحاد د ستونزو يادونه هم ورته وکړه چي په جنوبي آسيا او منځني ختيز کي به زمونږ سياسي هڅي دغسي حالات را منځ ته کړي چي د سيمي په هيوادونو کي به د شوروي مواقع را محدودي کړي. زما د تبصرې په پای کي سردار داود پخپله تبصره کي وويل پدې کي شک نسته چي شوروي اتحاد د ستونزو سره مخامخ دئ

1 Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770297–0366. Confidential; Limdis. Sent for information to Islamabad, Moscow, New Delhi, and Tehran.

2 Abdullah traveled to New York to participate in the United Nations General Assembly meeting and to California on a cultural exchange mission. On October 1, he met with Vance in New York to discuss a range of bilateral issues; the meeting resulted in

mutual affirmations of improved U.S.-Afghan relations. Vance also extended President Carter's invitation to Daoud to visit the United States. (Telegram 238361 to Kabul, October 3; National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D770360–1051).

3 The ASEAN Summit was held August 4–5 in Kuala Lumpur.

۱۹اګست۱۹۷۷ء

په روغتیائي چارو کي د امریکا د ولسمشرجمي کارټر(۱) د ځانګړي مرستیال یاداشت

واشنګټن، اګست ۱۹۷۷،۱۹ء

موضوع

د افغانستان د پاره ځانګړي سفارښتني

۱ – په افغانستان کي د درې ښاخیزي طلائي(**Golden Triangle**)– (۲)سیمي(د برما، لاوس او تای لینډ هیوادونو هغه سیمي چي کوکنار پکي کرل کیږي) په پرتله زمونږ ځارګریزهوړتیا(**Intelligence Capability**) ډیر لږ ده. په افغانستان کي د مرکزي ځارګري شبکې سیا (**C.I.A**) مدیریت په بنسټیزه توګه یواځي د شوروي اتحاد تر فعالیتونو پوري محدوده دئ(**اووه لیکي نانځکه سوي Disclassified دي**).

۲- په نیویارک کي د ملګرو ملتوپه راتلونکې عمومي غونډه کي د افغانستان د باندنیو چارو وزیروحیدعبدالله برخه اخلي. زمونږ په وړاندیز به د امریکا د باندنیو چارو وزیر سائرس وانس ورسره ووینې او په افغانستان کي د کوکنارو د تولید پر ډیریدلو به یې د امریکا په

ژوره اندېښنه خبر کړي. دا د افغانستان په اړوند د سلسله بندئ بل منطقي ګام دئ چې ورپکې د امريکا او هم د ملګرو ملتونو نوښتونه شامل دي.

۳- په افغانستان کې د امريکا سفير وړاندیز کړئ چې سردارمحمدداود به وغواړي چې امريکا ته يون وکړي او د هغه ليدنې د مخدره موادو پر ضد زمونږ د مبارزې سره مرسته کولای سي. پرته د داود خان د منلو او لارښونو هيڅ هم نه سي کيدلای. د مخدراتو د مخنيوي په برخه کې د هغه د ځانګړي ليوالتيا په چپه مونږ نور پرمختګ او دوامداره ځارنه نه سو کولای. حال دا چې افغانستان د نړيوالو چارو په برخه کې لومړيتوب لرونکئ هيواد نه دئ.د نړۍ د يوه زښت ډېر نيستمن هيواد په توګه د مخدراتو پر ضد زمونږ د اوږدمهاله هڅو په وړاندې يواځئ ستر ګواښ دئ او د سردار داود سره ليدنه هغه دې ته هڅولای سي چې د ناقانوني مخدراتو پر ضد خوځنده رول ولوبوي. مونږ په راتلونکي کال کې د هغه يون امريکا ته وړاندیز کولای سو. ددغسي يون د پاره مهال ډېر ارزښت لري او هم زښت ډېر ګټور کيدلای سي. د پسرلي په پيل او پای کې د کوکنار د ريبلو موسم دئ. د امريکا تر يون وروسته کابل ته په راستنيدو د کوکنارو ډېر کښتونه له منځه وړلای سي. دغه ډول ليدنې به په مني کې د وحيدعبدالله او سائرس وانس د منطق تعقيب هم وي.

۴- داوږد مهال د پاره هغه مهمه پريکړه چې زمونږ د هڅو سره مرسته وکړي په کابل کې زمونږ د نوي سفير غوره کول دي. ددې د پاره چې مونږ وکولای سو خپله تاکلې تګلار تعقيب کړو او په نژدې ممکنه

شبه کي د مخدراتو پر ضد هڅي ګړندۍ کړو، مهمه داده چي د مخدراتو پر ضد هڅي ژر تر ژره په پام کي ونيسو. بله مهمه خبره داده چي د مخدراتو د مخنيوي په برخه کي بايد زمونږ نوئ سفير د افغاني چارواکو سره د وزيرانو تر کچي پوري اړيکي ولري. يو دغسي فرد سته چي دغه ټولي وړتياوي لري. که خه هم هغه د مسلکي باندنيو خدماتو افسر نه دئ. په پائيله کي افغانستان ته سفير دي د سفيرانو د بيا کتني کميسيون (**Ambassadorial Review Commission)** د لاري وټاکل سي چي تر دې دمه يې شتون نه درلود. د کميسيون سره وړاندي لا د افرادو نومونه او د کانګريس سفارښتني هم سته. او په هره ممکنه توګه به دا نوم په هغه نوملړ (**فهرست**) کي شامل سي چي تاسو ته وړاندي کيږي او په ټولو امکاناتو کې به دا نوم په کوم ليست کي تاسو ته وسپارل سي. لدې امله زه دا وړاندیز کوم چي افغانستان دي يو دغسي هيواد وفهمول سي چي د نامسلک توری به ورته مناسب وي. ستاسو په منلو سره دغسي وړاندیز به د باندنيو چارو وزير سائرس وانس ته وړاندي سي .(۳)

1 Source: Carter Library, National Security Affairs, Brzezinski Material, Country File, Box 1, Afghanistan: 1/77–3/79. No classification marking.

2 A reference to the area of Asia, comprising parts of Burma, Laos, and Thailand that produces opium.

3 Carter wrote: "OK" and initialed "J" in the right margin next to this sentence. The Ambassador to Afghanistan, Theodore Eliot, had been in that position since November 1973 and did not leave the post until

June 1978, when he was succeeded by Adolph Dubs, a career Foreign Service officer. The individual referred to by Bourne was Charles O'Keefe, Deputy Director for International Affairs in the White House Office of Drug Abuse Policy.
(Foreign Relations of theUnited State,1977-1980,Volume xii,Afghanistan, Editor David Zierler, United States Government Publishing OfficeWashington 2018, pages 7-8).

۱۲۳ګست ۱۹۷۷ء

د امریکا ولسمشر جیمي کارټر مطبوعاتي غونډې ته وویل چې د جنوبي افریقا واکمن پرائټوریا **(Pritoria)** ورته ډاډ ورکړئ چې نه به اوس زروي ازموینه وکړي او نه یې پر مخ د کولو نیت لري ، جیمي کارټر زیاته کړه چې هغه هڅې کوي چې دا هیواد د زروي وسلو د مخنیوي ټرون ته وهڅوي **(CRS3,Page36)**

۱۲۴ګست ۱۹۷۷ء

جیمي کارټر د شوروي اتحاد سره د ځواک د انډول په اړه اتلسمه ولسمشریزه حکمنامه **(Presidentia Directive= PH-18)** لاسلیک کړه،ددې خبري پخلئ هم سوئ دئ چې په اروپا کې د امریکا ددفاعي پرمختګ د تګلاري په اړه پریکړه سوي ده چې له مخې به یې دلته د چټک غبرګون جګړئیز ځواک**(Rapid Deplyment Force)**ځای پر ځای سي ،په دې حکمنامه کې د سچلیسینګرد مفکورې **(NSDM-242= Schlesinger Doctrine On Selective Nuclear Targeting)**تصدیق سوئ دئ چې ورپکې دامریکا د ستراتیژیک حالت د پاره نوره رهنمائي په نظر

کي نيول سوې ده. که يې په دې مخنيوئ ونه سو نو امريکا د زروي جګړې د مخنيوي لپاره ستراتيژيک ځواکونه په سيمه کي ځای پر ځای کولای سي. دا ځواکونه د بدل اخستلوپه موخه بس دي، په حکمنامه کښې راغلي دي چې د امريکا د پاره زروي جګړه په همدې توګه پای ته رسيدلای سي. جيمي کارټر د چټک غبرګون جګړئيزپلان ومانه

(Garthoff,PP-788,789,974,Brzenzinski,pp-177,178)

۱۲۵ګست ۱۹۷۷ء

د امريکا سپينې مانۍ د استخباراتو د ماهيت او مديريت په اړه ولسمشريزه نولسمه حکمنامه**(PD/NSC19)**وړاندي کړه چې له مخې به يې په باندنۍ نړۍ کي د ځارګرۍ په موخه بريښنائي څارنه**(Electronic Surveillance)** او جسماني لټونونه**(Physical Searches)**تر سره سي

۲۶ - ۲۹ګست ۱۹۷۷ء

د صومالیا د ولسمشر صياد باري سره د خبرو پر مهال د شوروي اتحاد د باندنيو چارو وزير اندراګروميکو پر دې خبره ټينګار وکړ چې هغه دي د ايتوپيا د اوګاډين**(Ogaden)** له سيمې څخه خپل ځواکونه وباسي خو هغه ونه منل **(ICAR4)**



۱۲٦ اګست ۱۹۷۷ء

د عرب او اسرائیلي مشرانو سره تر خبرو وروسته د امریکا د باندنیو چارو وزیرسائیرس وانس ماسکو ته ورسید او د شوروي اتحاد دلوړ پوړي چارواکي ډوبرینین سره یې ولیدل،شوروي لیوالتیا لري چې په ستمبر کي د ملګرو ملتو د امنیت شورا ته د باندنیو چارو د وزیر اندراګرومیکو تر وینا وړاندي دي دواړه هیوادونه په منځني ختیز کي د سولي په موخه ګډه بیانیه خپره کړي، خو سائیرس وانس ددي وړاندیز ملاتړ نه کوي او خواست یې وکړ چې اندرا ګرومیکو دي دبیانیې په اړه خپل نظر وړاندي کړي**(Vanse,PP 191-192)**

اګست ۱۹۷۷ء

د امريکا د ولسمشريزي تګلاري په جائزه(P.R.M) کي د يوه چټک ځواک د جوړولو سپارښتنه سويده چي په خليج فارس کي به د بيړني حالت پر مهال سمدستي غبرګون کوي (**Out of Afghanistan By (Slieg H Harrison,Page 55**

۱سپتمبر ۱۹۷۷ء

د امريکا حکومت ددې سپيناوئ وکړ چي د صومالیا لپاره به وسلې جوړي نکړي او نه به هم سعودي عرب او ايران ته اجازه ورکړي چي دې هيواد ته امريکائي وسلې ورکاندي ، په بيانيه کي زياته سوې ده چي په اوسني وخت کي دې هيواد ته د وسلو ورکول پر اور د تيل شيندلو په معنا ده**(ICAR4,Garthoff,Page 637)**

۹سپتمبر ۱۹۷۷ء

دا مريکا د باندنيو چارو وزير سائيرس وانس په ماسکو کي د يون پر مهال ډوبرينين ته د اوږد واټن توغنديو او د زروي وسلو پر مخنيوي د ټرون په اړه د خپل حکومت د لوري وړاندیزونه وسپارل **(Vanse,Page 59)**

۱۰سپتمبر ۱۹۷۷ء

سائيرس وانس دويم ځل د ليدني پر مهال د ډوبرينين څخه غوښتنه وکړه چي پرونيو وړاندیزونو ته يې ژر جواب ورکړي،هغه اندرا ګرومیکو ته يوه وړاندیز سوې بيانيه وسپارل چي دواړه هيوادونه پر سالټ دوه د خبرو په بهير کي پرسالټ اول د موقتي ټرون کتلو ته دوام ورکولای سي ، دواړو ومنل چي په مياشت کي به سيمي ته د

ګرومیکو د یون پر مهال د سالټ یو په اړه ګډه بیانیه خپره کړي **(Vanse,Page 59)**

۱۳سپتمبر ۱۹۷۷ ء

د جیمي کارټر د لوري یوویشتمه ولسمشریزه حکمنامه(**PD-21 Directive**)خپره سوه چې له مخې یې دنورو سیمئیزو هیوادونو په پرتله د ختیزي اروپا په وړاندي د امریکا تګلاره توپیر لري ځکه چې نور هیوادونه پرانستې کورنۍ تګلاري او یا هم د شوروي اتحاد څخه ډیرخپلواک دي

۱۷سپتمبر ۱۹۷۷ء

چین په فضا کي ایټمي ازموینه وکړه**(FAC,Page 5)** .

♥ ډوبرینین سائیرس وانس ته خبر ورکړ چې حکومت یې د امریکا ددي وړاندیز د منلو څخه ډډه کړې ده چې ددرنو توغندیو د لرولو په بدل کي به امریکا د اې ایل سي ایم (**ALCM- Carrying Bombers**)وړونکو جنګي الوتکو په تولید کي لږوالئ راولي، ماسکو د درنوتوغندیو د لانجې د ټرلو وړاندیز وکړ، ډوبرینین پر مخ زیاته کړه چې ماسکو به د راروانې میاشتې پر دریمه نیټه (**۳اکتوبر**) د سالټ اول موقتي ټرون ته بیاکاته (**نظر ثاني**)وکړي (**Vanse,Page 59)**

۲۱سپتمبر ۱۹۷۷ء

د امریکا د باندنیو چارو وزیرسائیرس وانس د خپل شوروي سیال اندرا ګرومیکو سره لیدلو ته چمتووالئ څرګند کړ چې د جنوبي افریقا د ایټمي ازموینې په اړه یې نظر معلوم کړي، هغه په دې لانجه کي د

شوروي اتحاد څخه د بشپړه همکارئ غوښتنه وکړه (**Your Meeting With The Gromyko,South African (NuclearIssue,9/21/1977**

۲۲سپتمبر ۱۹۷۷ء

د شوروي اتحاد د باندنيو چارو وزيراندراګروميکو په واشنګټن کي د خپل امريکايي سيال سائيرس وانس سره وکتل او د اوږد واټن توغنديو پر کمولو ورسره وږغيد خو پائيلي ته نه سره ورسيدل(**SALT 9/22/1977;Garthoff,PP 812-813;Vanse, (PP 59-60**

۲۷سپتمبر ۱۹۷۷ء

په واشينګټن کي جمي کارټر، سائيرس وانس اواندرا ګروميکو، درې واړه د اوږد واټن توغنديو د شمير پر کمولو سلا سول **(Vanse,Page 61,Garthoff,Page 813-814)**

۱۱اکتوبر ۱۹۷۷ء

دامريکا دباندنيو چارو وزير سائيرس وانس د خپل افغاني سيال وحيد عبدالله سره وليدل او د خپل حکومت د لوري يې ولسمشر سردار محمد داود ته په پسرلي کي واشنګټن ته د ورتلوبلنه ورکړه،وحيد عبدالله ورته څرګنده کړه چي حکومت يې د امريکا د نوي حکومت سره ښې اړيکي غواړي ، په مقابل کي سائيرس وانس وويل چي امريکا د افغانستان د خپلواکئ او مځکنئ بشپړتيا ملاټر کوي اوخپلو اقتصادي مرستو ته به دوام ورکړي(**Raymond Garthoff,p-938;Afghanistan;An External Assessment,1/30/1978)**

♥ د نړیوالي ایټمي انرژۍ او مجارستان(هنګري)هیواد په ګډه همکاري د کابل په علي آباد سیمه کي د کوبالټ تراپۍ مرکز په فعالیت پیل وکړ



♥ پر دغسي مهال چي د باندنیو وزارت معین وحید عبدالله د ملګرو ملتو په عمومي غونډه کي د ګډون د پاره امریکا ته تللئ دئ، ددې هیواد د باندنیو چارو د وزیر سائرس وانس (Cyrus Vance) سره یې ولیدل او د ولسمشر سردارمحمد داود دپاره یې امریکا ته د ورتلو بلنلیک (دعوتنامه) ورکړ چي ومنل سو. سائرس وانس وحیدعبدالله ته وویل چي امریکا د افغانستان خپلواکي او مځکنۍ بشپړتیا ته درناوئ لري او چمتو ده چي د وَدي پروژو او مرستو ته دوام ورکړي او هم هیله من یو چي د افغانستان حکومت به د مخدراتو په تیره بیا د

کوکنارو په له منځه وړلو کي جدي همکاري وکړي (**راپورمحرم سفارت امريکادر کابل، مورخ ۳۱جنوري۱۹۷۸ء،اسناد لانه جاسوسي، دانشجويان مسلمان پيرو،خط امام، شماره ۲۹، افغانستان، جلد اول او سردارمحمد داود، د ډاکټر عاصم اکرم کتاب،۲٦۴مخ**).

۱۴اکتوبر ۱۹۷۷ء

د ملګرو ملتو عمومي غونډې ته پخپله وينا کي د باندنيو چارو وزير وحيد عبدالله هيله څرګنده کړه چي د خپل هيواد او پاکستان ترمنځ د سياسي اختلاف د هواري لپاره هڅې به په بريالیتوب سره پای ته ورسيږي.په راپور کي ويل سوي چي وحيد عبدالله د ملګرو ملتو په مرکز کي د پاکستاني پلاوي د مشر آغاشاهي سره خورا په زړه پوري خبري کړيدي.

۱۰اکتوبر۱۹۷۷ء



د پاکستان نظامي واکمن (**Chief Martial Law Administrator = C.M.L.A**)جنرال محمد ضیاء الحق د اسلام اباد څخه کابل ته ورسید او د ولسمشر سردارمحمد داودسره یې ددواړو هیوادونو پر ښو اړیکو خبري وکړې. جنرال محمدضیالحق په خپلو یاداشتونوکی لیکلي دي چې دافغانستان دجمهوررئیس محمد داود خان سره په لومړۍ کتنه کې پوه سوم چې دنړۍ دیوه ستر شخصیت سره دهیوادونو په سیاسي اونظامي چارو کې خبري کول اسانه کار نه دئ، نو ځکه یې تر تاثیر لاندي راغلم (**د حبیب هوتکی فیسبوک پاڼه (Dec 29,2020) https://web.facebook.com/hashtag/ از یاداشتهایم**).

۱۳اکتوبر۱۹۷۷ء

صومالیا په سپتمبر ۱۹۷۴ ء کي د پاچا هیلي سیلاسي(**Haile Selassie)** تر نسکوریدلو راوروسته په ایتوپیا کي د شوروي اتحاد نظامي جوړښت ته په کتوله خپله هیواده ټول شوروي سلاکاران و ایستل،په ۱۹۷۴ ء کښي یې د شوروي سره د دوستۍ کړۍ ټړون منسوخ کړاو هم یې له کیوبا سره سفارتي اړیکي وشلولې**(McLellan,PP 48-49;Garthoff 579)**



۱۶نومبر ۱۹۷۷ء/۲۴عقرب ۱۳۵۶ه ش



علی احمد خرم



ارواښاد خرم

د لغمان مرجان نومي ښوونکي چې سوسیالستي مفکوره یې خرګنده وه د پلان په وزارت کي د وزیر علی احمد خرم د لیدو غوښتنه وکړه، دا غوښتنه تکراري او د جدي تهدید په ډول وه، د پلان وزیر خرم د جاپاني پلاوي سره خپله غونډه وځنډولاو مرجان ته وروَوُوت، مرجان ورځخه وغوښتل چې د جمهور رئیس سردار محمدداود سره د لیدني د پاره یې ارګ ته بوزي، وزیر ورسره روان سو، مرجان په پسې وو، د وزارت د لوی وره سره یې د توپنکچې برید پر وکړ، سخت ژوبل او په روغتون کي په شهادت ورسید.مرجان خپلي مېنې شاه شهید ته ځان ورساوه او د توپنکچې سره یې ځان پولیسو ته وسپاره. د خرم په جنازه کي سردارمحمدداود، د شوروي اتحاد د سفیر الیګزانډر پوزانوف په ګډون د یو شمیر دوستو هیوادو سفیرانو هم برخه درلوده. سرداردداود پخپله احساساتي وینا کي د امریکا او شوروي اتحاد څخه شکایت وکړ او زیاته یې کړه چې د شوروي

اتحاد مرستي هم د دوی په شخصي غرضونو کي نغښتي دي. د سردار دا وينا په مطبوعاتو کي خپره نسوه. د اطلاعاتو و کلتور وزير ډاکټر عبدالرحيم نوين پخپله راډيو افغانستان ته ولاړ او د هغه ثبت سوې وينا يې پاکه کړه. د نوي اساسي قانون پر بنسټ پلټنه د څارنوالۍ په صلاحيت کي وه مگر څارندويانو چيوکولای سوه چي د څارنوال د مسلکي مرستندويانو په نامه په پلټنه يا تحقيق کي اغيز وکړي او پلټنه پخپل لاس کي واخلي، د پلټني په ډله کي پخوانيو پرچميانو يعقوبي، عبدالباقي، اتمر، همکار، قطره او خير محمد ودا گډون درلود. پر څارنوالانو لا د پخوا څخه د اخوانيانو تور وو ځکه چي د شرعياتود پوهنځي فارغانو هم پکي گډون درلود. کله چي مرجان ځان اخوانۍ او د خرم وژنه د اخوانيانو په امر وبلل نو د څارنوالانو ډار نور هم ډير سو او د څارندوی اغيز ته يې غاړي کښيښووې. مرجان شکنجه نه سو، اقرار يې وکړ چي انجينئر حکمتيارد امريکا د ولسمشر جيمي کارټر په لارښوونه د وکيل محمداعظم خان د محمدافضل خان شينواري د زوی سره د شينوارو په سيمه کي د خرم د وژلو پلان طرحه او ما مرجان ته يې د عملي کولو لارښوونه وسوه. مرجان په بند محکوم سو خو د ثور تر کودتاه وروسته بيا چا ونه ليد. د وکيل د کور نارينه و ښځينه تر دې کودتاه وروسته بنديان سول بيا پاکستان ته کډه سو، په کال ۱۳٦۷ه ش کي د ډاکټر نجيب الله د ملي روغي جوړي د پروسې په رڼا کي هيواد ته ستون او د ننگرهار د والي په دنده مقرر سو (**داود خان د کې.جي بي په لومو کي ، ليکوال ا. هارون، ۸۰-۸۱ مخونه، وړئ ۱۳۸۴ه ش**)

۱۷نومبر ۱۹۷۷ء

د مصر ولسمشر محمدانورالسادات د اسرائیلو د صدراعظم بیګن اسرائیلو ته د ورتګ بلنه ومنل

۱۸نومبر ۱۹۷۷ء

د پرشینګ دویم پروګرام **(Pershing 2 Program)** لومړنۍ توغیزه ازموینه **(First Test Flight)** تر سره سوه ، که چیري د شوروي اهدافو د ویشتلو لپاره په اروپا کي نصب سي ، دا دامریکایي آی سي بي ایم ایس**(I.C.B.M.S)** توغندیو په پرتله (**چې هدف د ۲۵ او ۳۵ دقیقو تر منځ ولي**) د ٦ او ۱۰ دقیقو تر منځ هدف ویشتلای سي **(Garthoff,page799,882)**

۱۸-۲۱ نومبر ۱۹۷۷ء

د مصر ولسمشر محمدانورسادات د رومانیا د ولسمشرچاوشسکوپه منځګړیتوب په لومړي ځل د اسرائیلو پلازمینه تل اابیبتهورسید،هغه وویل کچیري فلسطینیانوته د منلو وړ پریکړه وسي ،مصر چمتو دئ چي د اسرائیلو سره سوله وکړي او حکومت یې په رسمیت وپیژني**(Sobel,pp167-171)**

۲۰نومبر ۱۹۷۷ء

محمدانورالسادات د اسرائیلوپارلمان ته په وینا کي هوډوکړ چي په منځني ختیز کي دائمي سوله غواړي(**Address by the President (of Egypt, Sadat, Before the Israeli Knesset,11/20.1977**

۲٦نومبر ۱۹۷۷ء

شوروي اتحاد ايتوپيا(حبشه) ته ددرنو سمندري او هوائي وسلو ورکول پيل کړل**(ICAR-1)**.

♥ محمدانورالسادات په منځني ختيز کي د سولي په موخه د امريکا او شوروي اتحاد په ګډون ټولو اړونده لورو ته د پلازمېني قاهرې په غونډه کي د ګډون بلنه ورکړه،شوروي اتحاد او لبنان ورځخه نټه (انکار)وکړه، امريکا او اسرائيلو ومنل**(Sobel,pp179,181)**

۵دسمبر ۱۹۷۷ء

د ليبيا په ښار ټرېپولي**(Tripoli)** کي د مصر پر ضد په غونډه کي د ګډون له امله مصر د سوريې (**شام**)،عراق،الجيرياو جنوبي يمن سره سفارتي اړيکي وشلولې**(Sobel,p181)**.

٦دسمبر ۱۹۷۷ء

محمدانورالسادات پر شوروي اتحاد تور ولګاوه چي فلسطينيان او سريه د ده د سولي د هڅو پر ضد د ايجنټانو په توګه کاروي، د امريکا د باندنيو چارو وزير سائيرس وانس هم پر شوروي شپيان(**پړه يا ملامتيا**)واچاوه چي د سادات د سولي د هڅو پر ضد کړنې تر سره کوي **(Sobel,PP-182,183)**.

♥ د امريکا د باندنيو چارو د وزير سائرس وانس په غوښتنه په افغانستان کي د شوروي اتحاد د لاسوهنې په اړه د سيا **(C.I.A)** ياداشت

د سيا دلوري چمتو سوئ څارګريز ياداشت (۱).

ER M 77–10790 Washington, undated

په افغانستان کي د شوروي اتحاد شتون

پیژندنه **(Introduction).**

د شوروي اتحاد اقتصادي ملاتړ او سوداګري د افغاني ځواکونو په وده کي ډیره سویده او هم دغه نظامي ملاتړپه حقیقت کي د شوروي اتحاد د یوه ولایت په څیر دئ. د تیرو درویشتو کلونو په بهیر کي کابل ته د ماسکو د لومړۍ پابندئ **(commitment)** څخه او هم د لږ مخ پر وده هیواد **(LDC, less developed country)** په توګه د لومړیو مرستو له امله د شوروي اتحاد شتون جاذب او د افغانستان په وده کي د شوروي اتحاد رول د اندیښنې وړ وګرځید. د افغان حکومت پر دې هڅو سربیره چي د لویدیز او کمیونستانو د لیوالتیا تر منځ د انډول په راوستلوخپل ناپیلتوب پر ځای وساتي مورږ په لنډه موده کي د شوروي اتحاد د نظامي او اقتصادي مرستو د افغانستان په باور کي ستر بدلون نه وینو. دا خبره په ځانګړې توګه د نظامي تَرَسُدي اړیکو **(militarySupplyRelation)** د پاره سمه ده ځکه د کابل د پاره د ماسکو په څیر په آسانو شرائطو د نوُو وسلو د متبادلي سرچینې لټون به ورته ګران سي.شوروي اتحاد د افغان – شوروي ځانګړو اړیکو د باوري کولو په موخه افغانستان ته په آسانه شرائطو پور ورکړئ دئ، چي په اړه یې ماسکو پدې اند دئ چي دا یې د هیواد د امنیتي ګټو دتامین د پاره اړین دئ. د نورو هیوادونو په پرتله افغانستان ته د ماسکو پور تل ډیر رعایتي دئ. ماسکو افغانستان ته د پور ادا کولو په برخه کي په وار وار وخت ورکړئ دئ او پدې هیواد کي یې د سیمئیزو پروژو لګښت پر غاړه اخستئ دئ. د ډیرو

کمو هيوادونو سره ماسکو دغسي رعايت کړئ دئ. د شوروي اتحاد په نظامي تړونونو کي په عمومي توګه د فهرست په بيو کي د پينځه اويا سلني (۷۵٪) رعايت اجازه سته، او دا رعايت د پينځلسو څخه تر پينځويشتو کلونو په موده کي د دوه سلنه (۲٪) سود ادا کولو په صورت کي ورکول کيږي. د ډير اقتصادي پور موده د دوه او دو نيمي سلني **(2–2.5 percent)** سود په بدل کي پينځويشت کاله ټاکل سوېده. ددې اندول د نظامي تړونونو د پاره د دوه سلنه سود په بدل کي لس کلونه او د اقتصادي مرستو د پاره د دوه نيم سلني **(2.5 percent)** سود په بدل کي دوولس کاله ټاکل سوي دي

نظامي مرسته:- په کال ۱۹۵٦ء کي د پاکستان سره د سرحدي ستونزي په پائيله کي افغانستان د شوروي اتحاد سره د سلو مليونو ډالرو په ارزښت تړون لاسليک کړ. دا دتړون د لړۍ لومړئ پړاو دئ. په تړون کي ماسکو افغانستان ته د نوو وسلو د ورکولو مسئوليت منلئ دئ(۲).د ۱۹۵٦ء څخه بيا تر اوسه شوروي افغانستان ته تر شپږو سوو مليونو ډالرو د ډير ارزښت نظامي تجهيزات ورکړي دي چي د ټولو لاسته کړو نظامي تجهيزاتو پينځه نيوي (۹۵٪) برخه تشکيلوي چي ورپکي سوخوی**(Sukhoi)** او مِګ (Mig)جنګي الوتکي، درميانه ټينکونه **(Medium tanks)**، د مځکي څخه په هوا کي ويشتونکي توغندي**(Surface-to-air missiles)**، چورلکي او زغروال موټران **(Armored vehicles)** شامل دي.که څه هم شوروي اتحاد د کال ۱۹۷۵ء څخه د افغانستان سره دوسلو په برخه کي نوئ تړون نه دئ لاسليک کړئ خو د پينځوسو مليونو ډالرو په ارزښت د وسلو ورکول

دوام لري چې هم پاته ده.پدې توګه تر اوسه تر کال ۱۹۷۷ء پورې افغانستان انتونوف شپږویشت ډوله باري الوتکې(**AN–26 transports**)، سام درې ډوله او سام اووه ډوله توغندي(**SA–3 and SA–7 missiles**)، مځکنې توپونه **(Field artillery)**، رادار**(Radar)** او مځکنې تجهیزات(**Ground equipment**).شوروي اتحاد د افغانستان د وسلو د سستم د ملاتړ او سمون مسئولیت یواځې پر خپله غاړه واخیست. د شوروي اتحاد پر شل کالنه تخنیکي همکاري سربیره لا هم افغانستان د دې هیواد سلاکارانو او روزنه ته اړتیا لري. په افغانستان کې ددوی د تخنیکي پرسونل شمیر د وسلو د ترسیل سره بدلون مومي. په کال ۱۹۶۷ء کې دا شمیر تر ټولو لوړې کچې (۵۲۵) ته ورسید او په کال ۱۹۷۷ء کې درې نیمو سوُو ته راټیټ سو.ددې کال تر پایه به شوروي اتحاد دریو زرو اوو سووافغاني نظامیانو ته په شوروي کې روزنه ورکړې، پدوی کې شپږ نیم سوه لا هم په شوروي کې تر روزنه لاندې دي. موږ ګومان کوو چې په راتلونکي کال کې به د شوروي تخنیکارانو او روزونکو شمیر چې افغاني نظامیانو ته روزنه ورکوي د نوو پر مختللو وسلو په ورکولو سره ډیر سي.

اقتصادي مرسته:- پر نیم ارب ډالرو امریکائي مرسته سربیره د اوپیک (**OPEC, Organization of the Petroleum Exporting Countries**) د نهو سوو ملیونو ډالرو ژمنو ته د هغوی په پاملرنه اړولو کې افغان حکومت بریالئ سو(یواځې ۶۵ ملیونه یې ورکړیدي). شوروي اتحاد د افغانستان داقتصادي مرستو د یوې مهم

ترينيواځئ وسيلې او هم ددې هيواد د اصل سوداګريز شريک په توګه خپله ملګري ته دوام ورکړئ دئ.په کال ۱۹۷۵ء افغانستان ته ورکړئ د څلورو سوو او پينځويشتو ډالرو د پور موده د افغان حکومت د اووه کلن پلان (۲۱ مارچ ۱۹۷٦ء – ۲۰ مارچ ۱۹۸۳ء) دپاره وغزول. دا د هغه ۱.۳بليونو ډالرو دريمه برخه ده چې شوروي اتحاد يې د افغانستان ته ژمنه کړېده

۸ -۱۱ دسمبر ۱۹۷۷ء

د سوريې ولسمشرحافظ الاسدد يون په ترڅ کي د پينځو عربي هيوادونو د مشرانو سره د فلسطين د غميزي د سولئيز خلاسون په اړه د مصر د هڅو پر ضد خبري وکړې **(Sobel,P-183)**.

۹ – ۱۵ دسمبر ۱۹۷۷ء

د امريکا د باندنيو چارو وزيرسائيرس وانس د فلسطيني غميزي د سولئيز خلاسون په موخه د اسرائيلو او مصر په ګډون د منځني ختيز شپږو هيوادونو ته يون وکړ(**Statement by the secretary of State at Andrews Air Force Base,Maryland,12/15/1977**
(

۱۴دسمبر ۱۹۷۷ء

د شوروي اتحاد د جګپوړي چارواکي ډوبرينين سره د ليدني پر مهال د امريکا د ملي امنيت په برخه کي د ولسمشرجيمي کارټر سلاکار برزيزنسکي په ايتوپيا کي د شوروي پر رول پر هغه زور واچاوه چې تر څو پوري شوروي اتحاد او کيوبا پر دې هيواد نظامي سامان آلات نه وي بند کړي امريکا به يې ګاونډيو هيوادونو ته د ځواکونو پر

لیږلوهم بندیز لیري کړي،دوبرینین راسره ژمنې کړې دي چې حبشان به د صومالیې تر سرحد وروانه وړي لکه یوځل چې یې د اوګادان په بیا نیولو پیل کړئ وو، هغه خپله دا ناهیلي په ډاګه کړه چې د زروي وسلو د لږولو (SALT) تړون به ونه منې(Berzezinski,PP-179,180)


١٦ – ١٧ دسمبر ١٩٧٧ء

د اسرائیلو صدراعظم میخانیم بیګن د واشنګټن په سپینه ماڼۍ کې د ولسمشرجیمي کارټر سره په سیمه کې د سولې پر روانو هڅو خبرې وکړې(Statement Issued by the White House,12/16/1977)




٢٨ قوس ١٣٥٦ه ش/ ١٧ دسمبر ١٩٧٧ء

د پښتو ادب ستر شاعر، ادیب، دیني عالم، پیاوړې لیکوال، سیاست پوه، ټولنیز پوهاند، څېړونکي، تاریخ لیکونکي، او تکړه ژورنالیست استاد ګل پاچا الفت په کابل کې د فاني نړۍ څخه د تل د پاره سترګې پټې کړې او د لغمان ولایت په عزیزخان کځ کې پخپله پلارنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارل سو.



راقم د اروابناد استاد الفت پر قبر ددعا پر مهال(۲۰۰۷ء)

اروابناد گل پاچا الفت د میرسید پاچا زوی او د سید فقیر پاچا لمسئ په ۱۲۸۸ لمریز هجری کال کی د لغمان ولایت د عزیز خان د کڅ د منصور کلي په یوه علمي او روحاني کورنۍ کي وځیږید.د نسب شجره یې د شیخ عبدالقادر گیلاني د لاري د حضرت محمد رسول الله سره وصلیږي. الفت اصلاً د قرغیو د ولسوالئ د دره فرنگ هستوگن وو. پلار یې د همدې ولسوالئ بلي سیمي عزیز خان کڅ ته راکډه سو.لومړنئ زده کړی یې په لغمان کی پیل او د عربی ژبی قواعد، صرف، نحو، معانی، بیان، تفسیراو د حدیثو تعلیمات یی په ننگرهار او کابل کی سر ته ورسول



په ۱۳۱۳ه ش کي د "انیس" ورځپانې په اداره کی په دنده و گومارل سو. وروسته د ادبی انجمن د تألیف او ترجمی دځانګي غړی سو. کله چی په ۱۳۱٦ه ش کی پښتو ټولنه جوړه سوه ، الفت یی پر غړیتوت سربیره د دې ټولنی د نشراتی ارګان د "زیری" جریدی د مسئول مدیر، په ۱۳۱۸ه ش کی د پښتو ټولنی د صحافت د څانګی د مدیریت د مرستال او یو کال وروسته د دغی ټولنی د لغاتو او قواعدو د څانګی مدیر،په ۱۳۲۰ه ش کی د "اصلاح" ورځپانې مشاور، مبصر

او د "کابل مجلی" د مسئول مدیر، په ۱۳۲۵ه ش کی د "اتحاد مشرقی" جریدی، چی وروسته یی نوم په "ننگرهار" واړول سو، مسئول مدیر او په ۱۳۲۷ه ش کی د ننگرهار ولایت د قبایلو عمومی مدیر سو.په کال ۱۳۲۸ ه ش کی ښاغلی الفت د ولسی جرگی په اوومه دوره کی د جلال آباد د خلگو د استازی په توگه او همدا راز د ملی شورا د دوهم مرستیال په حیث وټاکل سو.په ۱۳۳۱ ه ش کی د شورا د اتمی دوری په ټاکنو کی یې د لغمان ولایت د قرغیو د خلگو د استازی په توگه شورا ته لار ومونډل



په ۱۳۳۵ه ش کی د پښتو ټولنی رئیس سو اود پوهنی وزارت د عالی شورا غړیتوب یی هم درلود.گل پاچا الفت د کابل پوهنتون د حقوقو

او سیاسی علومو د پوهنځی او د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی د استاد په توګه د ځوان نسل په ښوونه او روزنه کی ستر خدمتونه تر سره کړي دي. په ۱۳۳۸ ه ش کی د "افغان شوروی دوستی ټولنی" رئیس سو.په ۱۳۴۲ه ش کی د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په دوره کی د قبایلو د مستقل ریاست د رئیس دنده وروسپارل سوه.په ۱۳۴۳ ه ش کی یې د افغانستان د لومړنی اساسی قانون د لویی جرګی د غړیتوب ویاړ درلود او په ۱۳۴۸ه ش کی د ولسی جرګی په دیارلسمه دوره کی د ننګرهار ولایت د خلګو د استازی په حیث پارلمان ته لاره وموندله.

د سیاسي مبارزې په ترڅ کي الفت یو مهال د "ویښ ځلمیانو" د ملی غورزنګ لوړ پوړی غړی و، خو د فکري تضاد په پائیله کي یې لار ورځخه بیله کړه او د "ولس" د آزادی او ملی جریدی د چلولو دنده یی پرغاړه واخیسته.

ارواښاد الفت دخپل ادبي خدمت او زیار په بدل کي د خوشحال خان ادبی جائزه او د ابوعلی سینا علمي جائزه لاس ته کړېده او هم دمعارف دویمه او د ستوری دریمه درجه نوښانونو او د دویمی تقدیر نامی په اخستلو کي هم بریالی سوئ دئ



د الفت په آثارو کې هنري ښکلا، ادبي، فرهنگي، اجتماعي، سياسي علمي، اخلاقي او ملي فکرونه او پيغامونه نغښتي دي.هغه ته الله تعالی نثري استعداد ورکړئ وو، دومره خوږ نثر، زما په اند چې په پښتو کې به يې بيلگي ډيري کمي وي، ساده، روان او په ولسي ژبه نثرچې باچا هم پند ورځخه اخستلای سو او شپانه هم. لوړ افکار او پيغامونه يې په سوچه او کليواله پښتو د زرگر په څير لکه هار دغسي سره پيلي دي چې په وئيلو يې ويده فکرونه او مړه زړونه راخوځيږي. غوره نثرونه کتاب يې يو نړيوال شهکار دئ، بايد په نورو ژبو

وژباړل سي. ارواښاد الفت که د پښتو نثرد بابا په لقب ونومول سي، دا به د يوه ستر ادیب د خدمتونو د اعتراف د پاره پر ځای کار سي.سربيره پر نثر د الفت شاعري هم ځان ته بيل اسلوب او انداز لري. د هغه په نثر و نظم دواړو کي انساني خواخوږي نغټې ده او لوړ عالمانه افاقي افکار لري. د ټولنې پر ناخوالو او نيمګړتياو پديره خوږه او پسته ژبه تعميري تنقيد کوي، فاعل يې خپلو کړنو ته متوجه کوي او د اصلاح درس ورکوي.

د هغه د شاعرۍ خو بيلګي

پالیسی

د غنا د تن جامــه که مفلسی ده ◌ٔد تقوا لباس کی پتـــــه ابلیسی ده
دنیا دار که کله اغوندی خمـــتا هم◌ٔد روپیو امیانی هم کرباســـی ده
په ظاهــره که قاتل په مقتـول ویــر کا ◌ٔمـــرثیه نه ده، سنــدره حماسـی ده
څه چی وایی ښه یی واوره باور مکړه ◌ٔته پـــــوه نه یې، دده ژبه سیاسی ده
نن پر سر ځای درکوی، سبا پښو لاندی ◌ٔدغه ټیټ او پاس کیدل، ډیپلوماسی ده
تملق په اخلاقی بڼه کی وینم ◌ٔاوس یی نــوم قـدردانی حقشناسی ده
ډیر کارونه په هغه خوله اجرا کیږی ◌ٔچی یی کار قـــدمبوسی کاسه لیسی ده
چی په ژبه یی څټی،هغه یی خوښ وی ◌ٔپالیسی یی په ریښتیا چـــــی پالیسی ده

داخلی سیاست ډیر دئ را تیټ سوئ ۔زیربنا د لوړ مقام قدمبوسی ده وایی وجه یی وجهه کی ده هرگوره ۔مؤثره علاقه خدایږو، جنسی ده نامردان وایی مردی کی مزه نسته ۔خوندوره غوښه گوره د خَسی ده په آغاز یی مه غولیږه انجام گوره ۔ما لیدلی شهنامه د فردوسی ده له بل ځای څخه راغلی دلته نه ده ۔د څو ورځو میلمنه، دیموکراسی ده حاکمان،ولسوالان لا نور څه غواړی ۔موږ ته بس ډیموکراسی، نیمه سی سی ده

وُلَسواله ستا په خوله به ټول عمل کا ۔وُلسی جرگه بیشکه ولسی ده که "الفت" ولاړ یواځی پر میدان دی ۔بیکسی ده، هسی نه چی ناکسی ده

نه مي د چا مال خوړلئ، نه مي څـوک وژلي دي
نه مـي چاته ورک سه، یا گُـم شَو کـله ویـلی دي
نـوره گناه نلـرم پـــدې گـــناه مې مـــه نیسئ
زړه کې مې چې پټ ظالم ته بدغوندې کتلي دي
وخـــت د اعتـراف دئ، گـــناه خپله درته وایـــمه
نه یـــمه منـــکر پر مظلومانو مې ژړلـــي دي
نه ومـــه خـبر، پرده مې لږ غوندې چې جگه کړه
نه دي د وئیـلو، هـغه څه چې ما لیـدلي دي

ډیر تفاوت ستـه په انسـان کـی د معـــنا په لـحـاظ
واړه مصروف دی، ځینی ځان، ځینی جهان جوړوی

ځینی چاپ سوی آثار یی په لاندی ډول دی:

شعري ټولګي

۱- د الفت خبري

۲- غوره شعرونه

۳- د زړه وینا

۴- د پسرلی نغمی

۵- - د آزادی پیغام

٦- بله ډیوه

۷- شعری کلیات "د الفت مرغلری"

نثر

۱- لغوي څېړنه

۲- عالي نظرونه

۳- پښتو کیلي پینځم ټوک

۴ – د آزادئ پیغام

۵- منطق

٦- سهار مو په خیر

۷ – د بریالیتوب لار(ژباړه)

۸ – غوره نثرونه

۹ – لیکوالي، املا او ترکیب

۱۰ – ټولنيز نظرونه
۱۱- بل څراغ
۱۲- د څه ليکلو په اړه پوهه
۱۳- ادبي بحثونه
۱۴- نوئ طرز او نوئ ادب
۱۵- لوړ فکر او ژور فکر
۱۶- اسلام او د فرد او ټولني په جوړښت کي د اسلام رول
۱۷- د الفت نثري ټولګه
۱۸- نوې لار يا نوې رڼا
۱۹- پښتو سندري
۲۰- د سترو افکارو د سستم ژباړه
۲۱- د ټولني سائينس
۲۲- هغه څه چي زه ګورم اوځه اورم
۲۳- بيلابيلي مقالې
۲۴- ملی قهرمان خوشحال خان ختک

ماخذونه

۱- پر فيسبوک پاڼه د ناصراوريا مضمون، ۱۷ دسمبر ۲۰۱۸ ټيکساس امريکا
2- SNAC ARK ID:
https//snaccooperative.org/ark/99166/w6fr3.mn-subject named as: Gul Pacha Ulfat- 9 October 2017 Reference Date.
3- https://ur.wikipedia.org/wiki/Gul_Pacha_Ulfat
4- https://sporghay.com
5- https://www.wasiweb.com

۲۴دسمبر۱۹۷۷ء

د شوروي اتحاد ولسمشر لیونیډ بریژنیف دیوې مرکې په ترڅ کي پر امریکا تنقید وکړ چې د منځني ختیز د سولې د بهیر څخه یې د هغه هیواد ایستلئ دئ**(Garthoff,p 582)**

۲۵ - ۲۶دسمبر ۱۹۷۷ء

دشوروي اتحاد ولسمشرلیونیډ بریژنیف پخپلو رسمي ورځپاڼو پراودا**(Pravda)** او ازویستیا **(Isvestia)**کي د بیانیو په ترڅ کي د اسرائیلي صدراعظم بیګن او د مصر د صدراعظم محمد انورالسادات لیدنه پر خپل هیواد د یرغل سره تعبیر کړه **(Sobel,P-189)**

۲۸دسمبر۱۹۷۷ء

د امریکا ولسمشر جیمي کارټر هوډ وکړچې په راوان کال کي به د زروي وسلو د مخنیوي**(SALT)** ټرون لاسلیک کړي(**Garthoff, page-584)**

۲۹دسمبر ۱۹۷۷ء

د امریکا ولسمشر جیمي کارټر د پولینډ په ګډون شپږو هیوادونو ته یون پیل کړ،هغه دپولینډ او امریکا د اړیکوپر پراخولو ټینګار او هم یې غوښتنه ورڅخه وکړه چې بشر ي حقوق دي نور په نړیواله سویه ومني

(Replies by the President to Questions Asked at a News Conference,Warsa,12/30/1977;FAC,p2;New York Times 12/30/1977)

۳۰دسمبر ۱۹۷۷ء

د امريکا د ملي امنيت سلاکاربرزيزنسکي اوروسالين **(Rosalynn)**پولش واکمن ويسزينسکي **(Wyszynski)** ته د ولسمشرجيمي کارټر ليک وسپاره

۳۱دسمبر ۱۹۷۷ء

د امريکا ولسمشرجيمي کارټرد تهران پلازميني تهران ته ورسيد،دپاچا محمدرضاشاه په رسمي ماښامنۍ شاهانه ميلمستيا کي جيمي کارټر د پيچلي ګولۍ**(Toast)** په بهير کي وويل چي هغه پياوړئ ايران اوس د نړۍ په ډيره کړاوجنه سيمه اوښتئ دئ(**Toast by the President (at a State Dinner,Tehran;12/31/1977**



د ۱۹۷۷ پای

په ۱۹۷۷ء کي د افغانستان دباندنيو اړيکو په اړه د امريکا د باندنيو چارو وزارت په يوه تجزيه **(Assessment)**کي راغلي دي چي د ايران و پاکستان سره د افغانستان ښو اړيکو په سيمه کي د امريکا د ليوالتيا سره ښه مرسته کړې ده او هم سردار داودپه ډيره هوښياري د

شوروي اتحاد سره د خپل هيواد پيچلي اړيکي پر مخ وړي،شوروي اتحاد افغانستان ته د بل هيڅا لاس نه ورپريږدي، او خپل حيثيت يې افغانستان ته د مرستو ورکولود ستر هيواد په توګه پر ځای ساتلئ دئ ،دې هيواد افغانستان ته لږ څه وسله ورکړي ده لکه ايس- **۳(SA-3)**او ايس اې اووه ډوله توغندي (SA-7 Misile). سردارمحمدداود امريکاته د ورتلو خواهش لري،په ورته يون شوروي اتحاد ته تللئ وو. دغسي ښکاري چې ددې دواړو سترو هيوادونو سره د اړيکو د اندول ساتلو په موخه يوه کړنه ده، په روان کال کي يې د چين سره د يادوني وړ څه نه دي راغلي،د راپورونو له مخي د امريکا سره د افغانستان اړيکي تودي وې، د امريکا د لوري دافغاني افسرانو د روزني د پروګرام بودجه دوه چنده وه، پدې هيله که چيري د افغانستان سره د شوروي اتحادبا ارزښته نظامي مرستي څه لږ سوې(**Afghanistan in 1977:An External Assessment,1/30/1978).**

۱۹۷۷ء

دغه مهال په افغانستان کي ديارلس سوه شوروي تخنيکاران شتون لري (**Afghanistan: Soviet Invasion and U.S. Response, 1/10/80).**

۱۹۷۷ء

د روان کال په وروستيو کي د نړۍ په کچه د سفارت کټګوريو ته د بياکتني د يوې برخي په توګه، امريکا په کابل کي خپل سفارت د ماموريت تر ټولو ټيټي کټګوری، څلورم ټولګي ته کښته کړ. په

ښکاره ډول دباندنیو چارو وزارت احساس کاوه چې افغانستان د امریکا له ګټو سره لږ تړاو لري

(Afghanistan : the first five years of soviet occupation By Amstutz J.Bruce, Page 29)

۱۹۷۷ء

د افغانستان د ملی راډیو تلویزیون په آرشیف کې د ۱۳۵۶ ا کال په وروستیو کې ولسمشر ارواښاد سردار محمد داود له امریکایي ژورنالیست سره یوه دقیقه او څلور ثانیې مرکه کړېده

خبریال: ستاسو له نظره بې طرفی په دې شرایطو کې په څه معنی ده ؟

داود خان : له موږ سره د بې طرفی معنی دا ده، موږ نه غواړو په نړېوالو لانجو، پوځي او نورو بلاکونو کې ګډون وکړو.

خبریال: یعنې د هستوي (ایټمي) نړۍ ترمینځ د یو دودیز هیواد په توګه د افغانستان حائل دریځ؟

داود خان : د حائل کلمه نه افغاني ده او نه یې مفکوره افغاني ده .دا د استعمار او له هغې مخکې مودې ، داسې معنی درلوده چې هغوی غوښتل په لوی لاس یو هیواد کمزوری وساتي.افغانستان غواړي د یو ژوندي ملت په توګه له نړۍ سره په دوستي او صمیمیت کې ژوند وکړي او د هغې په سیاسي سیستم کې مرسته وکړي. دغه مرکه د افغانستان له تلویزیون څخه نده خپره سوې.

(Yusef Hewaddoost , Voice of Afghan Radio Dunmark, 1 April 2024 Facebook.com)

جنوري ۱۹۷۸ء

جنوري ۱، ۱۹۷۸ء/ حمل ۱۲

شوروي اتحاد د اقتصادي ناورين سره مخامخ دئ، تير کال د وَدي کالنۍ کچه(**Grouth Rate**) د يوه او دوُو سلنو (۱- ۲٪) په شا و خوا کي وه، د ۱۹۶۰ء په لسيزه کي دا کچه پينځه سلنه (۵٪) وه، ددې ټيټي اقتصادي ودي لامل نظامي لګښتونه بلل سوي دي ،وګړي په بندو کورونو کي اوسي، په خوی (مزاج)کي توند(**Cynicsm**) او د شرابو چښل ورپکي ډير سوي دي او ډير لږ يې پخپل کار ويارې **(www.proxsa.org/resources/-11/Natrajan-109xx-Afghan20%Timeline.tm)**

۱ – ۳۰ جنوری ۱۹۷۸ء

په ايران کي د ليبرالیزیشن پر د دې د هيواد د باچا محمدشاه پهلوي ګامونو د هغه مخالفين لمخولي دي. د ليکوالانو او خپرونکو يوې ټولنې د فکر د ازادۍ غوښتنه کړې ده. وکيلان يوځای شوي او د پوځي محکمو د لغوه کولو او د څارګړي شبکې ساواک (Sawak) لخوا د خَورَونو يا شکنجو د پای ته رسولو غوښتنه کوي. د ښوونکو په ګډون پوهان د زده کونکو سره يوځای سوي او د علمي خپلواکی(**Academic Freedom**)غوښتنه کوي. په دې مياشت کې څلورو زرو دينې زده کونکو د ازادۍ د بيا رغولو غوښتنه کړېده. پوليس راځي او لاريونوال په نښه کوي. هغوی بريدونو ته سينې سپر کړي او پوليس يې ولي او تر اوسه د لسو او دو اويا تر منځ وژل سويدي. د شاه پرضد دا يو نوی پاڅون پيل سوی دی(**Timeline;1978,www.fsmitha.com/time/1988.html**).

۲جنوري

د امريکا ولسمشر جمي کارټر د هند پلازمېنې نوي ډيلي ته ورسيد، ددې هيواد پارلمان ته هغه د خپلې ژمنې غبرګون وکړ چې دې هيواد ته به د ټيراپور(**Tarapur**) ايټمي بټۍ(**Atomic Reactor**)د پاره د سونګ مواد ورکړي **(CRS3,p-16)**

۴جنوري

د امريکا ولسمشرجمي کارټرد مصرپلازمېنې قاهرې ته ورسيد.

٦جنوري

د ناټو په مرکز برسلز **(Brussels)** کې د ناټو غونډې ته د امريکا ولسمشرجيمي کارټر ژمنه وکړه کچيري د شوروي اتحاد سره د زروي وسلو د مخنيوي(**SALT2**) خبري د ټرون پړاو ته نژدې سوې ، موږ به له تاسو ټولو سره د سلا بهير ته چتکوالئ ورکړو **Address by the President by The NATO Ministerial Meeting) Brussels;1/7/1978)**

۹جنوري

په جنيوا کې د زروي وسلو د مخنيوي پر ټرون د امريکا او شوروي چارواکو تر منځ خبري پيل سوې

۱۰جنوريپه جنيوا کې د امريکا او شوروي اتحاد کاري ډلي(**Working Group**) پر زروي وسلو د بنديز په اړه پرانستي خبري وکړې **(FAC,p-4)**

♥ د نکاراګوا د نامتو ورځپاڼي لا پرینسا **(La Prensa)** څښتن او مدیر پیډرو جاقوئین کامورو**(Joaquin Chamorro)**چې دپاچا اناستاسیو سموزا**(Anastasio Somoza)** پر پاچهي به یې تنقیدونه خپرول، په پلازمینه مناګوا **(Managua)** کي یوه توپکوال په ډزو ووژه، د پیډرو همدا وژنه نولس میاشتي وروسته د پاچا سوموزا د پاچهۍ د ړنګیدلو لامل سوه (**Chamorro Assasination (Development,1/11/1978; Washington Post 1/12/1978**

ډیری په دې باور دي چې حکومت یې د وژلو مسئول دی. د نکاراګوا وګړي واټونو ته راوتلي او د سموزا(**Somoza**) ودانیو ته اورونه اچوي(**Timeline;1978,www.fsmitha.com/time/1988.html**)

۱۱جنوري

د امریکا د ملي امنیت سلاکار برزیزنسکي ولسمشر جیمي کارټر ته یو یاداشت وړاندي کړچي پکي په ایتوپیا کي د شوروي اتحاد پر شتون خپل نظر بیا تکرار کړئ او وړاندیز یې ورکړئ دئ چي امریکا دي دغسي لاري پیدا کړي چي په ایتوپیا کي جګړه جوړه سي او شوروي اتحاد ته په سیاسي او نظامي ډګر کي ګرانه **(Costly)** پریوزي**(Brzezinski,p-181)**

۱۱جنوري



د ايران باچا محمدرضا شاه پهلوي نن د خپل هيواد څخه د تل دپاره ولاړ او د امريکا څخه يې د سياسي پناه غوښتنه وکړه خو هغوی ونه منل.

۱۲جنوري

د امريکا ولسمشر جمي کارټر هيله مندي څرګنده کړه شوروي اتحاد او کيوبا دې ته هڅولای سي چي افريقاته نه وسلې وليږي او نه هم ځواکونه **(Garthoff,P-591)**

۱۷جنوري

امریکا یو ځل بیا د صومالیا د لوري د وسلو غوښتنه رد کړه **(Garthoff,P-641)**

۱۹جنوري

په ماسکو کي د امریکا د سفارت د یوه کارمند د شړلو په غبرګون کي امریکا د شوروي اتحاد دوه افسران وشړل **(FAC,p-6)**

۲۳جنوري

د شوروي اتحاد ولسمشرلیونیډ بریژنیف د نیوټران بم (هر ساکښ وژونکئ) د متعارف کولو پر ضد ناټو ته خبردارئ ورکړ

♥ سویډن هغه لومړئ هیواد دئ چي د ایروسول سپرې **(Aerosol Spray)** پر تولید یې بندیز ولګاوه، فکر کیږي چي ایروسول د مځکي و اسمان تر منځ د اووزون څَپر**(Ozone Layer)**ته زیان رسوي،دا څپر مځکي ته د لمر وړانګې په مناسبه اندازه را پریږدي

۲۴جنوري

د امریکا ولسمشر جمي کارټر فرمان خپور کړ چي له مخي به یې په باندنۍ نړۍ کي ددي هیواد ځارګریزو کړنو ته له سره د قانون په چوکاټ کي نظم ورکړي چي ځارګري شبکي په څه توګه تر قانون لاندي چاري پر مخ وړلای سي**(New York Times;1/25/1978)**

۳۰جنوري

امریکا په روان کال کي بشري حقوقو ته د نه درناوي په تور د نکاراګوا پر حکومت د نظامي مرستو پور(**Military Assistance Loans)** بند کړ **(MH;2/1/197)**

۳ - ۸فروري۱۹۷۸ء

د مصرولسمشرمحمد انورالسادات د واشنګټن په يون


۳فروري

د نکاراګوا حکومت مخالف ګوند سنډينيستا نيشنل لبريشن فرنټ **(Sandinista National Libration Front)**د پاچا اناستاسيو سوموزا**(Anastasio Somoza)**پر ضد د يوې اوونۍ لپاره کاربندیز اعلان کړ**(FAC,Page 23)**

۴ - ۵فروري ۱۹۷۸ء


محمدانورالسادات په کيمپ ډيويډ کي د امريکائي سيال جمي کارټر سره وليدل.

۵فروري۱۹۷۸ء



د افغانستان نامتو مورخ میر غلام محمد غلام غبار(۸۰-۸۱کلن)چې څه موده وړاندې د معدې د تداوئ د پاره جرمني ته تللئ وو نن ددې هیواد په پلازمېنه لویدیز برلن کې له فاني نړۍ د تل د پاره سترګې پټې کړې

https://en.wikipedia.org/wiki/Ghulam_Muhammad_Ghobar)اووروسته پخپله پلارنۍ هدیره شهداء صالحین کابل ښارکې خاورو ته وسپارل سو



د اروښاد غبار د کتاب (افغانستان در مسير تاريخ)په دري متن کي د هغه لنډه پيژندنه دغسي راغلې ده

د غازي امان الله خان د واک په پير کي :

د اوونيزي جريدې(**ستارۀ افغان**)د مدير په توګه: د ۱۲۹۸ه ش د ژمي څخه د ۱۲۹۹ه ش (**1919-1920**)تر دوبي پوري. پدې دومخيزه جريده کي انتقادي او اصلاحي مضامين د جبل السراج د سنګي مطبعې او وروسته د چاريکارځخه خپريدل.

د عمومي امنيه وزارت د يوې شعبې د رئيس په توګه : ۱۲۹۹- ۱۳۰۰ه ش (1920-1921)

د هرات ولايت د تنظيميه هيات غړئ : **۱۳۰۰ه ش (1921)**

د ماسکو په نندارتون کي د سوداګرۍ د تصدئ د نمائندګۍ د امانيه شرکت د تصدئ مرستيال(۱۹۲۴ء).

د فرانس په پلازمېنه پيرس کي د افغانستان د سفارت کاتب (۱۹۲٦ء)

په قطغن او بدخشان ولايت کي د ګمرکاتو مدير (۱۹۲۷ء).

د پغمان په لويه جرګه کي د کابل ښار يانو لخوا انتخابي وکيل: **۱۳۰۷ه ش (1928)**

د محمدنادر شاه د واک په پير کيد جرمني په پلازمېنه برلن کي د افغانستان د سفارت سرکاتب : **۱۳۰۹ه ش (1930)**. هغه له دې دندي مستعفي او هيواد ته ستون سو، د حکومت پر ضد يې مستقيماً په مبارزه لاس پوري کړ.

دانجمن ادبی کابل غړئ:**۱۳۱۰ – ۱۳۱۱ه ش(1931-1932)**

په کابل کي د انګلستان په سفارت کي د يوه افغان محمدعظيم خان لخوا په ترورستي بريدونو کي د سفارت درې تنه ووژل سول، حکومت ددې پېښې په تور غبار دوه کاله بندي کړ :**۱۳۱۲ – ۱۳۱۴ه ش (1933-1935)**وروسته يې پدې تړاو اووه کاله د فراه او کندهار ولايتونو ته تبعيد کړ: **۱۳۱۴ه ش- ۱۳۲۱ه ش (1935-1942)**

د کابل د انجمن تاريخ غړئ : **۱۳۲۲ه ش – ۱۳۲۷ه ش(1943-1948)**.

د ملي شورا په اوومه دوره کي د کابل ښاريانو د استازي په توګه:- **۱۳۳۰ه ش (1949-1951)**.

د حزب وطن ګوند بنسټګر او منشي او هم د دې ګوند د وطن جريدې بنسټګر او د امتياز خاوند:**۱۳۲۹ – ۱۳۳۰ه ش (1951-1952)**.




د اوومي دورې انتخابي وکيلان(م . غبار د لومړي کتار په منځ کي)

خلور مخيزه وطن جريده چي انتقادي مضامين يې درلودل په دولتي مطبعه کي خپره سوه خو په کال (1951)کي حکومت وترل،حزب وطن يې ممنوع وګرزاوه او په کال ۱۳۳۵ه ش (1956) کي يې دا ګوند په رسمي توګه منحل اعلان کړ.

په کابل کي د انتخاباتي لاريون د مخکښئ پر مهال حکومت خلور کاله ۱۳۳۱ – ۱۳۳۵ه ش (1956 - 1952ء) سياسي بندي کړ.

شل کاله ۱۳۳۵ – ۱۳۳۶ه ش (1956 – 1978)نور دې پر خپلواکي مين او وطنپال ژورنالست، مورخ او ليکوال د واکمني کورنۍ د فشارونو له امله دې ته اړايست چي پخپل کور کي سياسي فعاليتونو، مطالعه او تاليف ته دوام ورکړي.په همدې موده کي هغه "افغانستان در مسير تاريخ" کتاب وکيښ. حکومت په هره توګه چي کيده د هغه د ليکنو مخنيوئ کاوه او ددې سياسي تاريخ پر خپرولو يې بنديز ولګاوه، سربيره پر دې حکومت د شورا ملي په دويمه دوره کي د غبار د ټاکلو مخنيوئ وکړ. په نن ورځ۱۶ دلو ۱۳۵۶ه ش (5 فبروری 1978) هغه د نړۍ څخه د تل د پاره سترګي پټي کړې. پر مېنه يې يوه ميرمن صالحه او اووه زامن (ماريا غبار، رونا غبار، دنيا غبار، اسعد حسان غبار، اشرف شهاب غبار، ابراهيم ادهم غبار او حشمت خليل غبار) پاته سول

د ارواښاد غبار پاته سوي کتابونه:



۱- افغانستان در مسير تاريخ، جلد اول : اته سوه څلويښت مخونه،د کبل په مطبعۀ عمومیکي په کال ۱۳۴۶ه ش **(1967)** کي درې زره ټوکه خپور سو خو حکومت يې پر خپرولو بنديز ولګاوه وروسته د افغانستان څخه د باندي په بل هيواد کي په پينځلس نسخو کي خپور سو(**د ا دافغانستان لومړۍ سياسي تاريخ دئچي د تاريخي دورې د پيل څخه د شلمي پيړۍ ددويمي لسيزي پوري وخت په بر کي نيسي**).

د افغانستان در مسير تاريخ لومړۍ چاپ:د مطبعۀ عمومي موسسې سره د رسمي تړون پر بنسټ به دې موسسې دا تاريخ په درې زره ټوکه کي خپراوه او درې سوه ټوکه کتابونه به يې و غبار ته ورکړل (**هغه مهال دې موسسې پر اطلاعاتو وزارت پوري تړاو درلود او وزير يې يو ځل عبدالـــروف خان بينوا و وروسته صدراعظم محمد هاشم ميوندوال وو**). د کتاب تر وروستي مخ تر خپرېدلو وروسته د واکمني کورنۍ لخوا پرته د رسمي اعلانه پر کتاب بنديز ولګيد. وروسته نوي

صدراعظم چې د سردار سلطان محمد خان طلائی د لمسیانو څخه ووپرته د کومې قانونې محکمې له حکمه د شورا په غونډه کې پر کتاب بندیز په رسمي توګه اعلان کړ.د ثور تر کودتاه یوه میاشت وروسته (**جوزای ۱۳۵۷ه ش**) د افغانستان در مسیر تاریخ څخه بندیز لیري او د خرڅلاو د پاره بازار ته راوَوُوت، ولی بعد از سه روز که متوجه روحیهٔ نیرومند ضد استیلاگران خارجی در این کتاب گردید و خواست از توزیع آن جلوگیری کند، تقریباً ټول کتابونه په هماغه څو ورځو کې خلګو رانیول، د بندیز د پاره هیڅ هم نه وو پاته.

2-افغانستان در مسیر تاریخ دویم ټوک: دا کتاب په دوه سوه پینځه اتیا مخونو کې په کال ۱۹۷۳ء کې ولیکل سو او د جون په میاشت کال ۱۹۹۹ء(**سرطان ۱۳۷۸ه ش**)کې د امریکا د ورجینیا ایالت په امریکن سپیدی)مطبعه کې خپور سو. دې تاریخ د شلمې پیړۍ ددویمې لسیزې پیښې په بر کې نیولې دي.

۲ - افغانستان و نگاهی بتاریخ آن: دا کتاب په سل و نیوي مخونو کې د امریکن سپیدې په مطبعه کې په پینځه زره ټوکه کې خپور سوئ دئ. موضوعات یې د افغانستان تاریخ و جغرافیه ده .په کال ۱۳۱۰ ه ش **(1931)**کې دا کتاب کابل مجلې په دولتي مطبعه کې د لومړي کال د دوو څخه تر دوولسو ګڼو کې خپور کړ.

۴- افغانستان در هندوستان : پدې پینځه نیوي مخه کتاب کې په هندوستان کې د افغانستان سیاسي نفوذ څېړل سوئ دئ چې په کال ۱۳۱۱ه ش**(1932)** کې د کابل مجلې د لومړۍ او نهمو ګڼو پورې په دولتي مطبعه کې خپور کړئ دئ.

۵ - تاريخچه مختصر افغانستان : پدې اته شپيته رنګينه مخيز کتاب کې د اويستا د دور څخه نيولې تر شلمي پيړۍ پورې د افغانستان د افغانستان د لرغونوښارونو او و لايتو نوملړ د کابل په مطبعه عمومي کې خپور سوئ دئ.

٦ - تاريخ احمدشاه بابا: دغه درې سوه دوپينځوس مخيز کتاب ارواښاد غبار په کال ۱۳۲۲ه ش(1943)کې د کندهار د تبعيد په کلونو کې وليکئاو د کابل په مطبعه دولتي کې په کال ۱۳۲۲ه ش(1943)رنګينه خپور سو. تر خپرولو وړاندې غبار ددې کتاب قلمي نسخه د کتني د پاره علامه عبدالحی خان حبيبی ته وسپارلچې د غبار سره يې تګ و راتګ درلود. عبدالحی خان حبيبی د کندهار څخه کابل ته ولاړ او د احمدشاه بابا پر ديوان يې مفصله مقدمه وليکل او خپره يې کړه چې ورپکې د هغه عمر، جلوس، تعميرات، نوښان او پر اداري تشکيلاتورنا اچول سوې اوپه کال 1319 ه ش کې په کابل کې خپور سو. علامه حبيبي نه داچې په مقدمه کې د غبار د کتاب هيڅ حواله نه ده ورکړې بلکې د مطبوعاتو د رياست د مرستيال په توګه يې دا کتاب د افغانستان د ملي ګټو پر ضد وباله.غبار چې کله تر تبعيد وروسته له کندهاره کابل ته ولاړ، پخپله يې ددې کتاب په مقدمه کې د علامه ددې خبرو يادونه وکړه.

۷ – رسالۀ خراسان: تحقيقی است در مورد اطلاق اين نام در طی يک و نيم هزار سال به افغانستان کنونی، باستناد به مناشی و مأخذ معتبره تاريخی و جغرافيائی و کتب مسالک و ممالک. اين

رساله در تقریباً صد صفحه در سال ۱۳۲٦ه ش(1947)در مطبعه عمومی کابل مطبع رسیده است.

۸ – رسالۀ امرای محلی افغانستان : در ۵۸ صفحه در شمـاره های 11-12سال اول و و شماره های 3 تا 7 سال دوم مجله آریانا در سال ۱۳۱۲ -۱۳۱۳ ه ش **(1933-1934)** در کابـــل بچاپ رسیده است.

۹ – تاریخ ظهور اسلام و نفوذ عرب در افغانستان: در ۱۱۲ صفحه در جـلد سوم تاریخ افغانستان در سال ۱۳۲٦ه ش**(1947)** در مطبعه عمومی کابل طبع گردیده است.

۱۰ – تاریخ (**قرون اولی**) :(**بغرض تدریس در صنوف دهم مدارس افغانستان**) باتفـاق دوست محمد خان معلم تاریخ، در ۲۲٦ صفحه، چاپ مطبعه عمومی کابل در سال ۱۳۲٦**(1947)**.

۱۱ – کتاب(**افغانستان بیکنظر**): در 284 صفحه، چاپ مطبعۀ عمومی کابل در سال ۱۳۲٦ه ش **(1947)**. خانوادۀ حکمران ورق مربوط دورۀ محمدزائی را در این کتـاب نپسندید و لهذا نـجیب الله خان وزیرمعارف را که رشته قومی با خاندان حـکمران داشت، مؤظف ساخت تا بعد از چاپ این کتـاب، این ورق را حذف کرده و بدون اجازه غبار ورق دیگری را خود نوشته و در این کتاب بگنجاند.

۱۲ –ادبیات دوره محمدزائی:در ۸۱ صفحه، در قسمت پنجم تاریخ ادبیات افغانستان، چاپ مطبعۀ عمومی کابل در سال ۱۳۳۱ ه ش**(1952)**.

۱۳ – یک سلسله مقالات تاریخی و اجتماعی و سیاسی و تراجم حال مشاهیر افغانستان و معرفی یک عده کتب خطی تاریخی افغانستان و

غیره موضوعات، در مجلات و روزنـامه های کـابـل و دایره المعارف طبع و نشر گردید، از آنجمله بود در شماره های مختلفهٔ مجله (**آریانا**) از سـال ۱۳۲۲ – ۱۳۲۸ه ش**(1943-1949)**، همچنین مقالهٔ معروف غبار به عنوان (**اقتصاد ما**) در شمارهٔ۵۱ مؤرخ ۱۶ میزان سال ۱۳۲۵ه ش(**9 اکتوبر1946**)روزنامهٔ اصلاح. در این مقاله بر روش اقتصادی آن عدهٔ سرمایه دار و تجار عمده که در رأس شـان عبدالمجید خان زابلی وزیر اقتصاد وقت قرار داشت و با خانوددهٔ حکمران در معاملات تجارتی شریک بودنـد، اعتـراض شده بود که بـا حصول منـافع سرشـار در افزایش فقر عمومی طبقات نادار و تخریب اقتصادی طبـقات متوسط شهری و روستـائی و سرمایـه دار و تجار متوسط و خرده میپردازد. این مقاله سروصدای زیادی برپا کرد و حکومت در مجلس وزرا غبار را مورد بازخواست و تهدید قرار داد و همچنین مدیر روزنامهٔ اصلاح را مجازات کرد (**محمد اکبر اعتمادی و ابراهیم خان عفیفی، گماشتگان عبدالمجید خان زابلی سعی کردند که طی مقالاتی در نشرات دولتی بضد مقالهٔ غبار، از زابلی دفاع کنند**).

۱۴ – جریدهٔ هفته وار (**ستاره افغان**): با چاپ سنگی در دو صفحه از محل جبل السراج و باز از چاریکار در سال ۱۲۹۸ – ۱۲۹۹ه ش**(1920-1921)** به مدیریت غبـار نشـر میشد. هدف از نشر این جریده زنده نگهداشتن روحیه جهاد ضد استعمار برتانیه در آستانهٔ جنگ استقلال افغانستان بود. در اواخر مقالات غبار در این جریده ماهیت انتقادی بر ادارهٔ حکومت نیز اختیار کرد.

۱۵ – جریدۀ هفته وار (**وطن**): ارگان(**حزب وطن**)، چاپ کستتنر، در سال ۱۳۲۹ – ۱۳۳۰ه ش **(1950-1951)** که در کابل نشر میشد،توسط دولت وقت توقیف شد. غبـار مؤسس و صاحب امتیاز این جریده بوده و مقالات متعدد سیاسی وی در آن چاپ میشد.

۱٦ - تاریخ ادبیات افغانستان:از آغاز دورۀ تاریخی تا قرن بیستم(**نسخه خطی غبار**)

۱۷ - یادداشتهای زندگانی غبار : (**نسخه خطی غبار**)

وتلئ لرغونپوه محمدرسول باوري يې په اړه ليکي:- اروښاد غبارد ژوند په بيلا بيلو پړاونو کي د اداري چارواکی څخه بيا تر سياسي او ټولنيزو هڅو پوري خپل ذکاوت ازمويلئ او په پوره بري سره يې په سياست کي د سياسي ګوند دلارښود تر کچې رسيدلئ او په ټولنيز وهڅو کي يې ملي شوراته د خپل اولس استازيتوب ګټلئ دئ، د دې تر څنګ يې د خپل نوښتګر او ځواکمن قلم په مرسته د هيواد عمومي تاريخ او هم يې د هيواد دتاريخ يوشمير نورپړاونه او دورې څيړلي. هغه د خپل ځانګړي سبک له مخي د تاريخ هغه برخو ته زيات پام درلود چې د خپل نړۍ لپد لپاره يې ګټوري ګڼلي دي. په تاريخ ليکنه کي يې د (سيمه ايزه امکاناتو) دمکتب پيروي کړې او د تاريخي څيړنو بنسټ يې پر (تحليلي) رَوِشونو ولاړ دئ، د هغه نامتو تاريخي اثر(**افغانستان در مسير تاريخ**) د تدوين او تاليف څخه بريښي چې د افغانستان په تاريخ کي د اروښاد غبار د خوښي وړ پير د دې هيواد معاصر او نوي تاريخ پيرونه دي(**د رسول باوري نټپانه، Rasul BawaryFebruary 8,2021**).د غبار تاريخ ته که په ژور نظر وکتل

سي نو یو شمیر تېروتنې ورپکې شتون لري، دلته به دوې بیلګې راوړل بې ګټې نه وي. د افغانستان وتلي څېړونکي او نقاد علامه عبدالشکوررشادد یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې راته وویل چې یوه انګریز پخپل تاریخ کې لیکلي دي چې احمدشاه بابا کله د پاني پت جګړه وګټل نو انګریزانو ته په هندوستان کې د پرمختګ وار په لاس ورغئ، همدا خبره غبار ولیکل. زما سره دغسي سند سته، کله چې احمد شاه بابا انګریزانو ته د هندوستان څخه د وتلو اختیار ورکړ، د شوروي اتحاد د پلازمېنې سینټ پیټر برګ د دربار څخه د بغدان اسلانوف په مخکښې پلاوئ راغئ، غوښتل یې چې د پاني پت د جګړې څخه د احمدشاه بابا پاملرنه د چین لور ته واړوي، ځکه چې چین هغه مهال اوسنئ قزاقستان د روسیانو څخه نیولئ وو او د شوروي فدراسیون په سائیبریا سیمه کې یې ډیر پرمختګ کړئ وو. احمدشاه بابا ورسره ونه منل. د علامه عبدالحی حبیبي، عبدالروف بینوا او ختېګر کندهاري په وړاندي مو غبار ته وویل چې تاریخ مه مسخ کوه، ده ونه منل.غبار په خپل کتاب (افغانستان در مسیر تاریخ) کې نورمحمدخان علي زئ په غلجي لیکلئ دئ، ورته ومو ویل چې دا تیروتنه اصلاح کړه، هغه د کندهار ښار دسنځري په سیمه کې ښخ دئ، محمداسماعیل یې دپلار نوم دئ، ده غوښتل چې د شیرسرخ په جرګه کې ځان پاچا کړي، کله چې احمدشاه بابا هندوستان ته ولاړ، ده یې پر ضد توطئه جوړه کړه، کله چې بابا راستون سو، هغه یې وواژه، غبار جواب راکړ ما په یوه کتاب کې لیدلي وو چې هغه غلجئ دئ. ما ورته وویل د ماسکو څخه مو یو کتاب راوړئ دئ،زه به یې

يوه کاپي تاسي ته درکړم، په هغه کي علي او زئ بيل سره ليکلي دي. جواب يې راکړ چې دا کتاب تر اوسه ماته نه دئ رارسيدلئ (**د علامه رشاد سره د هغه د کابل په کور خيرخانه مېنه کي د راقم ځانګړې ډغيزه يا آډيويي مرکه، ۱۳ اکتوبر ۲۰۰۳ء**).په ټولیزه توګه هغه د افغانستان د سياسي تاريخ په ډګر کي ډير ګټور کتابونه، مقالې او مضامين ليکلي دي چې هر يو يې د مستند ماخذ په توګه کاريدلای سي او د سياسي تاريخ لوستونکي د پرون په هيندارہ کي روښانه راتلونکئ ورځخه ټاکلای سي

۹ فروری ۱۹۷۸ء



د خوړو نړيوال سازمان(**World Food Organization = W.F.O**)د پاکستان د حکومت څخه غوښتنه وکړه چې د هندوستان څخه افغانستان ته د غنمو وړلو ته دي اجازه ورکړي ځکه چې د

ډوکالی يا کاختی له امله د ا هيواد د خوړو د کمښت سره مخامخ دی.

۱۴فروري۱۹۷۸ء

د شوروي اتحاد ډوبرينين د امريکاد باندنيو چارو وزيرسائيرس وانس ته ډاډ ورکړ چې ايتوپيائي (حبشي) ځواکونه به د اوګاډين**(Ogaden)** سيمې تر بيا نيولو وروسته د صومالیې تر پولو ور وانه وړي **(Mc (Lellan,Page-50**

♥ د امريکا ولسمشراعلان وکړ چې پلان لري پر مصر،اسرائيلواو سعودي عرب د څلورخال اتو(۸.۴)بليونوډالرو په لګښت جنګي الوتکي وپلوري **(FAC,Volume-1,Page-333,1978)**

۱۹فروري ۱۹ / ۱۲حمل

سيدعبدالاله د ولسمشرسردارمحمدداود دمرستيال په توګه وټاکل سو



۱۹ فروری ۱۹۷۸ء

کابل راډیو خبر خپور کړ چې جمهور رئیس سردار محمد داود به ډیر ژر د پاکستان ددولت د رئیس فضل الهي چودهري په بلنه اسلام اباد ته ولاړ سي.

۲۱فروري۱۹۷۸ء



ولسمشرسردارمحمد داود د یوگوسلاویا د واکمن مارشل جوزیف بروز ټیټو **(Marshal Josip Broz Tito)** په رسمي سَت ددې هیواد پلازمېنه بلغراد ته ورسید.

۲۴فروري ۱۹۷۸ء

د سوریې**(شام)** د ولسمشر سره په ګډه اعلامیه کي شوروي ولسمشرلیونیډ بریژنیف هوډ وکړ چې ددې هیواد سره به په نظامي مرستو کي ډیروالئ راولي **(Sobel,Page-214)**

♥ د امريکا د باندنيو چارو وزارت د شوروي او شام د ګډې بيانيې په غبرګون کي په ډاګه کړه چې په افريقا کي به د شوروي اتحاد رول د امريکا او شوروي اړيکي د خطر سره مخ کړي**(FAC,Page-6)**

۲۵ فروری ۱۹۷۸ء

د ملی عوامی ګوند د زده کوونکو د څانګې پښتون ستوډنټ فيډريشن ديرش زده کوونکي چې څلور کلونه وړاندي افغانستان ته تللي وو او د پاکستان په تير حکومت کي د ورانکاری په پيښو تورن سوي وو، بيرته خپل هيواد ته ستانه سول.

۲۶فروري۱۹۷۸ء

د نکاراګوا پاچا اناستاسيو سموزا اعلان وکړ چې تر ۱۹۸۱ ء پوري به له واکه لاس واخلي خو مخالفينو يې دا وړاندیز رد کړ او په سبا يې د نوُو لاريونونو ډغ وکړ**(Somoza Rally;2/26/1978)**

۲۷فروري۱۹۷۸ء

په کابل کي د امريکا سفارت د روان کال لپاره په دې هيواد کي د امريکائي اهدافو په اړه د تګلاري تجزياتي رپوټ خپورکړ چې پکي راغلي دي ــ امريکا دي د افغانستان د سياسي خپلواکئ او هم سياسي و اقتصادي پرمختګ ډاډګيرنه وکړي، امريکا د افغانستان د تحفظ مسئوليت نلري او نه يې په هيڅ توګه اخستل په کار دي، په دي برخه کي بايد نړيواله او سيمئيزه ملګري ته وده ورکول سي. په رپوټ کي دليل ورکول سوئ دئ ، د ايران، هندوستان،ترکيې او دخليج فارس دعصري هيوادونو سره دي د افغانستان د اقتصادي، سياسي او نظامي اړيکوپه پلي کولو سره پر شوروي اتحاد د افغانستان

اتکا بايد را کمه سي (**1978 Annual Policy Assessment-Part 2:Approaches to Achieving Our Goals and (Objectives,2/27/1978**

♥ جيمي کارټر د جګپوړي شوروي چارواکي ډوبرينين سر وليدل.

۲۸جنوري۱۹۷۸ء

شوروي ولسمشرليونيډ بريژنيف خپل امريکائي سيال جمي کارټر ته د زروي وسلې د مخنيوي **(SALT)** په اړه ليک واستاوه

۱مارچ

د امريکا د ملي امنيت سلاکاربرزيزنسکي د افريقا په خليج کي د شوروي اتحاد پر فعاليتونو شکايت وکړاو زياته يې کړه چي دا به د زروي وسلو تړون **(SALT)** زښت ډير پيچلئ **(Inevitably Complicate)** کړي

(Garthoff,Page-592;New York Times,3/2/1978)

۲مارچ

دامريکا د باندنيوچارو وزير سائيرس وانس تور ولګاوه چي په افريقا کي د کيوبا د پينځه ديرشو او اووه ديرشو تر منځ ځواکونه شتون لري چي يوُولس زره يې په ايتوپيا کي دي**(FAC,Page-21)**

♥ د يوې ځانګړي همږغي جرګګي(**Special Coordination Committee)**غونډي ته د امريکا د باندیو چارو وزيرسائيرس وانس پر دې ټينګار وکړچي د زروي وسلو پر مخنيوي تړون (SALT) او د افريقائي خليج خبري يو د بله سره تړاو نلري، د ملي امنيت سلاکار برزيزنسکي وويل چي دچاپيريال په زهرجن کولو سره د شوروي اتحاد عمليات دې ته تړاو ورکولای سي ، سائيرس وانس او دفاع

وزیررابرټ براون په دې ناخوښه دئ، دوانس دلیل دا دئ چې مونږ سالټ ټرون له لاسه ورکوُو او که دغسي وسول دا به یوه بدترینه کړنه وي(**Brzezinski,PP-185,186**).

♥ د امریکا ولسمشر جیمي کارټر وویل د افریقا په خلیج کي د شوروي اتحاد لاسوهنه ددې هیواد سره د زروي وسلو د مخنیوي د ټرون کار نور ستونزمن کړئ دئ، لدي امله دا دوې خبري د شوروي د لاسوهنو له امله یو د بل سره ټراو لري ،مونږ ټراو نه ورکوو(**Garthoff,P-592;Reply by the President to a Quistion Asked at a News Conference,3/2/1978**)

♥ پاکستان په رسمي توګه خبر ورکړ چې د مخ پر وَدي نړیوالي ټولني (**Internatonal Development Association=I.D.A**) څخه یې د تربښه ډیم د بیا رغولو دپاره د پینځه دیرشوملیونو ډالرو پور لاسته کړئ دئ

۳مارچ۱۹۷۸ء

د امریکا ولسمشر جیمي کارټر وویل چې د زروي وسلو د مخنیوي پر ټرون ډیرښه او پیاوړئ پرمختګ روان دئ، زما لپاره اوس ددي اړتیا سته چې له لیونیډ بریژنیف سره ووینم،هغه زیاته کړه خپلو هڅو ته به تر هغو پوري دوام ورکړي چې لیونیډ بریژنیف د بشري حقوقو بشپړه درناوي ته اړباسي

(Garthoff,Page-593;White House Statement on Belgrade Review Conference,PPP,Volume1,1978,PP-453,454)

♥ امريکا د هنګري (**مجارستان**) سره د سوداګرۍ تړون لاسليک کړ **(New York Times;3/4/1978)**

♥ جمهور رئيس سردارمحمد داوددهندي حکومت په سَت په درې ورځني يون نوي ډيلي ته ورسيد

۵مارچ ۱۹۷۸ء

ولسمشر سردارمحمد داود په څلورورځني رسمي يون د پاکستان پلازميني اسلام آباد ته ورسيد









سردارمحمدداود د پاکستاني ولسمشر فضل الهي چودهري سره

د یوګوسلاویا نظامي واکمن مارشل جوزف بروز ټیټو(**Marshal Josif Broz Tito**) د امریکا په یون واشنګټن ته ورسید، وروستی ورځ په یوه ګډه اعلامیه کي دواړو مشرانو ومنل چي د تیر کال په بهیر کي یې په دوه اړخیزواړیکو کي پرمختګ راغلئ دئ او ددغسي هڅو پر اړتیا یې ټینګار وکړ چي د وسلو د سیالیو مخنیوئ کوي لکه سالټ (**SALT= Strategic Arms Limitation Talks**)، ددوه اړخیزو اوځواک د انډولیز لږوالي پر سر خبري او هم دناوسلوالئ پر موضوع د ملګرو ملتو راتلونکې ځانګړې عمومي غونډه **(Joint Statement Issuid by the Present and the President of Yugolavia,Washington,D.c,3/9/1978)**

۷مارچ ۱۹۷۸ء

"د پاکستان او افغانستان تر منځ د نوي سره د خبرو په پیل کیدلو سره د دواړو هیوادونوتر منځ د پوهاوي یا مفاهمې نوئ څپرکئ پرانستل

سوئ دئ، پر الله تعالی باور او د واقیعتونوپه منلو سره به دواړه هیوادونه یو بل ته سره نژدې کیږي، دواړه هیوادونه یو د بل سره تاریخي او روحاني اړیکي لري، په کارداده چې غلط فهمئ لیري او د وروڼو په څیر ژوند سره تیر کړو. د پاکستان قوت او سالمیت زموږ قوت او سالمیت دی" (**په راولپنډۍ کي د پاکستان د ولسمشرفضل الهي چودهري په میلمستیا کي د سردارمحمد داود وینا، د پاکستان په اردو ورځپاڼو جنګ او مشرق کي، د مارچ اتمه نیټه**)



۸مارچ ۱۹۷۸ء

سرداردادود وویل چې له جنرال ضیاء سره د خبرو په پایله کې دواړو هیوادونو د خپلو اړیکو د ښه والي پر لور یو بل مهم ګام پورته کړ، دواړو موافقه وکړه چې د خپلو اقتصادي، سوداګریزو او فرهنګي اړیکو د پراختیا لپاره به د ګډ کمیسیون پر جوړولو کار وکړي.

♥ د امريکا ولسمشر جمي کارټر اعلان وکړ صومالیا منلې ده چې له ایتوپیا څخه به خپل ټول ځواکونه راوباسي، شوروي اتحاد او کیوبا هم باید ورته کار تر سره کړي **(Garthoff, Page-591,592,642)**.

۱۰مارچ ۱۹۷۸ء

چین په فضا کي زروي ازموینه وکړه،لومړۍ ازموینه يې تير کال(۱۷سپتمبر۱۹۷۷)تر سره کړې ده

۱۵مارچ۱۹۷۸ء

د جمهور رئیس سردار محمدداود په نامه د امریکا د ولسمشر جمي کارټر لیک

واشنګټن،۱۵ مارچ ۱۹۷۸ء

ګرانه جمهور رئیسه!

ما په ډیره لیوالتیا یوګوسلاویا،لیبیا، هندوستان او پاکستان ته ستاسو اوسني یونونه(**سفرونه**) تعقیبول، په تیره بیا په اسلام اباد او لاهور کي د پاکستان و افغانستان د اړیکو (۲)په اړوند ستاسو د ویناوُو څخه د زړه له کومي ډیر متاثره سوم. زمونږ حکومت په سهیلي آسیا کي د آمن،ثبات او وَدي په اړوند اندیښمن دئ. زه پوهیږم چي زمونږ دواړه هیوادونه د ښو اړیکو د ثبات په هیله کي سره شریک دي چي د وړاندي څخه لا شتون لري. د افغانستان او امریکا تر منځ اړیکي ماته ځاني ارزښت لري او زه ستاسو د ددوستئ ډیر قدر کوم. له همدې امله مو د باندنیو چارو وزیر سائرس وانس ته وویل چي ستاسو د باندنیو چارو د وزیر وحید عبدالله سره په راروان دوبي کي امریکا ته ستاسو د یون په اړوند خبري وکړي(۳).په هر صورت امریکا ته

ستاسي د یون د ځنډولو خبر په ذاتي توګه ډیر خواشینئ کړئ یم او غواړم چي علت یې وپوښتم. زه ډاډه یم، تاسو به پدې پوهیږئ چي زه دا غوښتنه په ډیره لویه لیوالتیا سره کوم. د کانګریس په وړاندي د ۱۹۷۷ء تر پای ته رسیدو وړاندي چي زه کومي مهمي قانون سازئ ته هیله من یم هغه به پلې یا نافذه سي. د انرژۍ او اقتصادي وَدي په خیر د ارزښت وړ ستونزي زما ذاتي پاملرني ته اړتیا لري. د باندنۍ تګلاري په بهیر کي لکه په منځني ختیز کي سوله، د افریقا پر ټاپو وزمه(**Horn**)او پر وسلو د بندیز خبري بې خلاسونه پاته دي. لنډه دا چي امریکا په راروان مني د کانګرس انتخابات ځنډوي. دا به زما د واک په موده کي ډیري درنې غوښتنې را وټوکوي.هیله من یم چي دا ځنډ به ستاسو د پاره نه سي ستونزمن. ستاسو لیدلو ته سترګي په لار او هیله من یم چي موږ به په راتلونکي کي یو بل ته د آسانتیاو په برابرولو کي بریالي سو.

ستاسو مخلص

جمي کارټر

۱۶مارچ ۱۹۷۸ء

♥ د امریکا په کانګریس کي د جنوبي ډیکوټا(**South Dakota**)د ډیموکریټ ګوندغړي جارج مک ګوورن (**George Mc Govern**)حکومت ته سفارښتنه وکړه چي د افریقا په خلیج کي دي د شوروي اتحاد او کیوبا د پرمختګ مخنیوئ وکړي **(ICAR4)**



ښي لور ته جارج مک گوورن

۱۷مارچ ۱۹۷۸ء

د امريکا په وېک فارسټ پوهنتون **(Wake Forest University)** کي غونډي ته د دې هيواد ولسمشر جمي کارټر پخپله وينا کي ټينګار وکړ چي د هيواد نظامي ساختمان يا جوړښت چي و ماسکو ته په ستراتيژيکي ځواکونو کي د امريکا سره فعاله برابري ورکوي، هيڅ شئ د امريکا د نظامي ځواکونو د پرمختګ مخنيوئ نه سي کولای،مور به دهر خطريز ځواک مقابله وکړو،هيڅ قام ته به اجازه ورنکړو چي پر مور نظامي برلاسئ ولري، مور به د شوروي اتحاد زښت ډير نظامي ځواک ته په کتو په اروپا کي خپل اړين دفاعي ځواکونه ځای پر ځای کړو، شوروي غواړي چي په سيمئيزو جګړو کي د تېري د لاري خپل ځواکونه وکاروي، لکه نن چي يې مور په افريقا کي وينو. سالټ(**SALT**)ترون به ځکه لاسليک نکړو چي

سوق الجيشي انډول(**Strategic Balance**)نه سي پکي ساتل کيدلای، دشوروي اتحاد سره دوه اړخيزه همکاري شونې يا ممکنه ده خو د همکارئ سره ملاتړبه هغه مهال پای ته ورسيږي که چيري شوروي اتحاد په نورو هيوادونو کي د نظامي فعاليتونو په مخنيوي کي ناکامه سو **(Address by the President at Wake Forest University,3/17/1978;New York Times,3/18/1978;Garthoff,PP-593,594)**

۲۰مارچ ۱۹۷۸ء

په نکارا ګوا کي د امريکا سفير سالیون **(Solaun)** ددې هيواد د پاچا سوموزا سره د غرمنۍ ميلمستيا وروسته واشنګټن ته په خپل رپورټ کي ليکلي دي چي هغه ډير ستړئ وو او داسي ښکاره کيدئ چي د امريکا څخه څه ملاتړ تر لاسه کړي چي هيوادوالو ته ډاډ ورکړي، هغه د هيواد اقتصادي اوضاع ډير غمجن کړئ وو **(Meeting With Somoza,March-20,1978).**

۲۱ - ۲۲مارچ۱۹۷۸ء

د امريکا ولسمشرجمي کارټر په واشنګټن کي د اسرائيلي صدراعظم بيګن سره وليدل



۲۳مارچ۱۹۷۸ء

د امريکا د ځانګړي همږغي جرګګي **(Special Cooradination Committee)** غونډه ،د ملي امنيت شورا **(National Security Council)** د اريټيريا**(Eritrea)** په وړاندي د امريکا د تګلاري لپاره دري وړانديزونه وکړل، لومړئ داچي امريکا دي د اريټيريا له جګړې ځان را ټول کړي،دويم داچي دغسي لاره دي ولټول سي چي په اريټيريا کي د تفکري هڅو په وسيله دي د شوروي او کيوبا پر پراخ شتون تکيه را لږ سي، دريمه داچي د اريټيريا ډاډګيرنه دي وسي، ترڅوپه دې هيواد کي شوروي اتحاد او کيوبا ته لاسوهنه ګرانه تمامه سي **(SpecialCoordinationCommittee Meeting on the Horn of Africa,3/23/1978)**

۱اپريل ۱۹۷۸ء

د امريکا حکومت وويل چي هغوی به له کانګريسه وغواړي چي د ترکيې پر ضد د وسلوصادرات منسوخ کړي

(New York Times;4/2/1978)

د امريکا ولسمشر جيمي کارټرد نيوټران بم جوړول و ځنډول، دا بم ساکښان وژني خو ودانئ نه ورانوي.

ملګرو ملتو د روغتيا د نړيوال سازمان **(World Health Organization)** په نامه موسسه جوړه کړه.

دغه مهال په ټول هيواد کي د نظامي سلاکارانو شمير درې نيم سوه دی

Bru c e Amstutz, Afghanistan: the F ir s t Five Years o f Soviet Occupation, (Washington, D.C.: National Defense U n ive rsity, 1986), p.299.

۱۲اپریل ۱۹۷۸ء

ولسمشرسردارمحمد داود د سعودي عربستان،کویت او مصر په یون له کابله روان سو



سردار محمد داود د مکې معظمې په حرم کي د طواف پر مهال

۱۷اپریل۱۹۷۸ء

سعودي عربستان ته د یون پر مهال ددې هیواد واکمن شاه خالد په ګډه بیانیه کي د افغانستان و پاکستان د ښو اړیکو ستاینه او هرکلی وکړ.

۱۷اپریل

د امریکا ولسمشر جمي کارټر اعلان وکړ ، پریکړه یې کړې ده چي د نیوټران بم د جوړولو کار ځنډنئ کړي خو د امریکا دا پریکړه به د

شوروي اتحاد د لوري د روايتي **(Convintional)**او زروي وسلو د بنديز سره تړاو ولري **Statement by the (President,WashingtonD.C,4/7/1978;CRS2,Page-42Sz)**

۱۰اپریل۱۹۷۸ء/۲۱حمل



ولسمشر سرداراوداود ته والی محمدایوب عزیزي د کندهار پرهوائي ډګر هرکلی وائي

۱۰اپریل۱۹۷۸ء

په کابل کي د امریکا د سفارت څخه ددې هیواد د باندنیو چارو وزارت ته ټیلیګرام۱

کابل،۱۰ اپریل، **۱۹۷۸ء، ۱۰۲۵Z**

۲۷۱۵موضوع: آیاترسردارمحمدداود وروسته په دا نورو کي په سولئیزه توګه د هغه ځای ناستئ سته؟

۱- دغه لیک**(Cable)** په افغانستان کي د ځای ناستي پر پوښتنه د سفارتخانې مطالعې لنډیز تشکیلوي. وروستئ مطالعه د دویم لیک **(Airgram)** د لاري درلیږله کیږي

سریزه:

سردارمحمد داود د ښې روغتیاځخه برخمن دئ، د اساسي قانون له مخي د هغه د واک موده پینځه کاله نوره پاته ده.بهر صورت هغه اوس نهه شپیته کلن دئ. د هیواد د پاره د هغه په سیاسي برنامو (**پروګرامونه**) په توندي سره کار دوام لري. د افغانستان د کودتاو او وژنو اوږد دود ته په کتو دغسي اټکل کیدلای سي چي د لږ خبردارئ سره سیاسي بدلون راتللای سي. نو بریا یوه هغه ستونزه ده چي ددې خبري سره تړاو لري.

۳- دنامتو سیاسي اشخاصو دکمي له امله چي د سردارمحمد داود تشه په آساني ډکولای سي،

ددې خبري نشاندهي کوي چي افغانستان په دوامداره توګه ددغسي هلو ځلو سره مخامخ کیدلای سي، د فرد پر ځای به د بیلو مفاداتي ډلو ګډه لاسوهنه پر پیښو لاسبر سي.د سردار داود په ځای ناستي کي دوه نومونه راڅرګندي، یو دفاع وزیر جنرال غلام حیدر رسولي او بل د سردار ورور محمدنعیم خان دئ. امکان لري چي پخوانئ جنرال او د سردار محمد داود د آکا زوی سردار عبدالولي چي په محافظه کاره اردو کي ملاتړ لري ځان دي کاندید کړي. د سردار محمد داود د خوښي کاندید د هغه مرستیال سید عبدالاله لږ سیاسي ملاتړ لري، چانس یې په دویم مقام کي راځي۲

۴- نه تنظیم سوي کِنلاسي، نه مذهبپال او نه هم ښیلاسي دغسي کاندید لري چي د سردار محمدداود ځای دي ونیسي. په هر صورت تنظیم سوي کِنلاسي نسبت د خپل ډیر موثریت او تجربې له امله

ممکن د شوروي په ملاتړ او یا بې ملاتړه د بریالیتوب په سیالي کي د پام وړ رول ولوبوي .ښیلاسي د هیواد د ګټو یواځنۍ ډله رامنځته کوي او پدغسي حال کي شاید د کوم ځانګړي کاندید ترشا سره متحد نه سي. د دې ډلې نقش به خورا مهم وي ، ځکه چې په ټولو احتمالاتو کې هیڅ کاندید نسي کولای چي د ښیلاسي اپوزیشن په وړاندي مشرتوب ترلاسه کړي او یا یې وساتي۳.

۵- که سردارمحمدداود د خپلواک په موده کي مړسي، موږد هغه د ورور سردارمحمدنعیم په مخکښي د یوه مختصر څاریز یا نګران حکومت هیله مندي کولای سو.د هغه وقار او د محمدزی قبیلې سره تړاو به هغه ټولو ډلو ته د منلو وړ وګرزوي. هغه اته شپیته کالنی ته نژدې دئ، امکان لري چي دا ځای ناسته به یې تر اوږدې مودې پوري وغزیږي. کیدای سي چي د یوه تر ټولو ځواکمن محمد زي لوی درستیز جنرال غلام حیدر رسولي سره ګډ حکومت جوړ کړي. خو د جنرال ارادې ناڅرګندي دي.کیدای سي چي پدې کي دي د ولسمشر مانی هم شتون ولري.دغسي نه ښکاري چي د سردار محمد نعیم په چپه دي په هیواد کي بل څوک د محمدزئ قبیلې د ګټـــــــو استازیتوب وکړي.بهر صورت د وقار او مسلکي ګټو په پام کي نیولو سره چي دا قبیله ورځخه ګټي اخلي موږ وړاندوینه کوُو چي وروستئ بریالئ شخصیت به ورسره کورنی اړیکي ولري.

٦- ډیرڅرګندسیاسي شخصیت درو دیرش کلن دصدارت مرستیال وحیدعبدالله محمدزئ دئ چي سردار یې په زوی نوموي، ښکاري چي هغه یې د خپل ځای ناستي په توګه غوره کړئ وي. د عبدالله

فرصتونه باید د پام وړ وده وکړي ځکه چې سردار محمد داود په واک کې پاته وي او هغه د خپل ځای ناستي په توګه وټاکي.عبدالله یو څو نورو کلونو ته اړتیا لري چې د مخکښ په توګه ټولنې ته د منلو وړ وګرزي ځکه چې په ټولنه کې عمر ته د درناوي په سترګه کتل کیږي.

۷- ښیلاسي ځواکونه: دغه ځواکونه سمدستي د سردار داود د حکومت په وړاندي ستر خطر دي لکه په تیر پیر کې چې د افغانستان نوښتګرو حکومتونو ته خطر وو. که څه هم مذهبپال او مځکوال دسردار ځای ناستئ نلري خو دوی به په نظریاتي او سیاسي توګه د وګړو د اکثریت د پاره د نه منونکي نوماندي په مخ کې د خنډونو په اچولو سره د ځای ناستي هڅې اغیزمني کړي، کوم چې ډیر محافظه کار دئ.

۸- اوسمهال موږ په ښیلاسو کې د کودتاه د لاري د پخواني پاچا محمد ظاهر خان د بیرته راوستلو د پاره د لږ ملاتړ څرک لګولای سو۴ خو تصور یې ممکن دئ. که څه هم دا د پام وړ ده خو ممکنه نه ده، د هیله مندئ هغه فکر چې سردار عبدالولي د نیم شاهي فوج (**Semi-royalist military**) د خوځښت او پوهاوي یا تفاهم د لاري واک لاسته کولای سي. په هره توګه به داپه ممکن صورت کي د وروستئ حربې د امیدوار په توګه کیږي چې مرکز او یا هم محمدزو دسیاسي کړکیچ او یا هم د کِنډلاسو د خطر د مخنیوي دپاره ویلي دي.

۹- د کِنلاسو خطر:تر هغه حده چي سردار محمدداود په لنډمهاله توګه په کال ۱۹۷۳ء(**د سپيني يا سرطان د کودتاه پر مهال**) کي په اردو کي دننه او دباندي په کِنلاسو تکيه وکړه، وروسته يې د واکه ليري کړل خو هغوی د سردار داود د وروستي پير يو مهم عنصر دي. د داود په خوځښت کي دننه او دباندي زښت ډير فعاله دي او بيا هم تر سردار وروسته څه رول لوبولای سي. پدا اوس کي ددې ډلي څو غړي د وسلوالو ځواکونو په عالي شورا کي مقرر سويدي. ددې څخه دغسي بريښي چي هغوی لا اوس هم د ځواک يو عنصر دئ. سربيره پر دې چي د غړو شمير يې لږ دئ خوبيا منظم سوئ خلق ګوند ممکن چي په هيواد کي ښه منظم او تجربه کار سياسي ځواک وي.

۱۰- مورِ هيڅکله هم په کِنلاسو کي دغسي کاندید نه وينو چي په لنډه او يا هم اوږده موده کي دي د سردار داود ځای ونيسي. پداسي حال کي چي ډير شمير هغه افغاني منصبداران چي په شوروي اتحاد کي يې نظامي روزنه سويده څرګند سوي دي د شوروي اتحاد د نظامي سلاکارانو سره تماس لري. دا نه ده معلومه چي په دوی کي څومره مارکسِستان او څومره نه دي. د حکومت د کمیونستِ ضد دريځ په پام کي نيولو سره امکان نلري چي اوسمهال دي خپله مفکوره څرګنده کړي. په هر صورت په دوی کي يو او يا هم ډير دفترونه په ناموزه سياسي چاپيريال کي په توندي سره را پورته کيدلای سي. لدې امله مورِ پدې اند يو چي د سردار د ځای ناستي ستونزه د نظامي او ملکي مخکښئ له منځه ژر نه حل کيږي. کيدای

سي دغسي وضعيت رامنځته کړي چيري چي کِنلاسي ځواکونه پياوړئ رول لوبولای سي.

۱۱- د امريکا ګټي: د واک د پاره به اوږده يا د تاوتريخوالي سيالي د افغانستان خپلواکي او يووالئ د خطر سره مخامخ او په سيمئيز استحکام کي زمور ليوالتيا په ناوړه توګه اغيزمنه کړي. د سردارمحمدداود پر ځای د هغه د ورور سردارمحمدنعيم او يا هم د دفاع د وزير جنرال غلام حيدر رسولي په ځير د يوه معتدل او متمرکز مشر راتلل چي احتمال يې شتون لري، کيدای سي چي د امريکا ګټو ته ستونزي پيدا نکړي ممکن چي شوروي اتحاد ته هم د منلو وړ وي.

۱۲- پائيله:د اسلامي افغانستان په دوديز او محافظه کاره جوړښت او همدارنګه د سرطان تر کودتاه راوروسته ددې هيواد سياسي حقائقو ته په کتو کيدای سي چي د سردارمحمدداود ځای ناستئ به د مرکزي سياسي ډلو لکه فوج او هم محمدزی قبيله چي ډيرئ نظامي او هم ملکي جګپوړي افسران د همدې قبيلې سره تړاو لري راپورته سي.که څه هم نوري دفشار ډلي کولای سي په کلکه کانديدان ځان ته چمتو کړي، پدې شرط چي يو څه نظامي ملاتړ لاسته کړي. ايا تر سرداردداود وروسته جنرل رسولي د هغه ځای نيولای سي، دا يوه پوښتنه ده، خو په هغه کي دغسي ځانګړتياوي سته چي د واک وړ يې ګرزوي. يو اوږد مهال مشر به زمور په نظر دلته د ډيرو مفاداتي ډلو تر منځ د کش وبګير وروسته مخ ته راسي.

۱۳- تر سردارمحمد داود وروسته د غزيدونکي ممکنه کچي د هغو اقداماتو او انتخاب څخه آسانه اټکل کيدلای سي چي سردار يې د نامعلومي مودې د پاره دوی ته پريږدي. يو منظم بريالیتوب به د سردار پر وړتيا پوري اړه ولري چي سيالي کوُونکو ډلو ته قناعت ورکړي.هغه لار چي د افغانستان د پرمختګ د پاره ټاکل سوېده، د ټولني د ټولو برخو ګټې په پام کي نيسي او د کورني تاوتريخوالي او شخړو څخه بايد په هر قيمت ډډه وسي(**په کابل کي د امريکا سفيرايليټ**)

1- Source: National Archives, RG 59, Central Foreign Policy File, D780154–0796. Confidential. Sent for information to Islamabad, New Delhi, London, Moscow, Tehran, and CINCPAC for POLAD. 2 Not found. https://www.youtube.com/watch?v=qxvO-xaUVD4&list=RDPNJxcPamP-0&index=27

2- The Mohammadzai tribe had dominated Afghan politics since 1826.

3- An intelligence memorandum produced in the Central Intelligence Agency, March 3, also assessed the factors influencing Daoud's eventual succession. The memorandum predicted: "the ability of foreign powers to influence the result" of the succession "will be limited, however, barring a massive and highly unlikely Soviet effort. At most, foreign support might give one candidate or another a slight edge, but given the Afghans' deep suspicions of foreign intentions, indications of foreign backing would do an individual more harm than good." (Central Intelligence Agency, Directorate of Intelligence, Office of Support Services, Job 80T00634A: Production Case Files (1978), Box 2, Document 8)

4- On the ouster of King Zahir Shah in July 1973, see Foreign Relations, 1969–1976, vol. E–8, Documents on South Asia, 1973–1976, Document 4.
Foreign Relations of the(United State,1977-1980,Volume xii,Afghanistan, Editor David Zierler, United States Government Publishing OfficeWashington 2018, page60)

۱۷اپریل۱۹۷۸ء

د جنوبي افريقا دفاع وزير پي. ډبليو.بوتا**(P.W.Botha)** تور ولګاوه چې پر انګولاکله جنوبي افريقا يرغل کاوه نوامريکا په خبره وه او هم يې ډاډګيرنه ورکول خو کله چې جګړه وموښته د جنوبي افريقا څخه يې لاس واخيست، دوې ورځې وروسته د امريکا د باندنيو چارو وزارت دا خبره سپينه کړه چې جنوبي افريقا د خپلې ليوالتيا له مخې پر خپل سر پر انګولا يرغل کړئ دئ

(Defence Minister Attack US,4/18/1978;Press Guidance on South African Defence Minister,s Statement,4/19/1978;Defence Minister Promises Book on Angolan Details,4/20/1978)



دپرچم گوند مخکښ غړئ مير اکبر خيبرحسين خيل ستانکزئ(**په مارکسيزم کي د خپلي پوهي په سبب په استادیادیده - ډاکټرمحمدحسن کاکړ**)دخپل گوندي ملگري عبدالقدوس غوربندي سره ماځيگرپه مکروريان کي له خپله کوره وَوُوت.دواړو په روغتون کي دخدائي خدمتگار غورځنگ پر ناروغ مخکښ خان عبدالغفارخان پوښتنه وکړه،کور ته د راتلو پر مهال د وزيراکبر خان مېنې د گويټې انستيټيوټ تر څنگ غوربندئ ورځخه بيل سو او په تيمني واټ کي چې کله د دولتي مطبعې شمالي خوا څړک ته ورسيد،د شا دخوا روسئ جيپ د څلورو سپرو سره راغئ، پر هغه يې بريدونه وکړل او ځای پر ځای يې وواژه(**دماښام داوو بجو شاوخوا**).

هغه پر يوولسم جنوری ۱۹۲۵ء کي په لوگر ولايت کي وځيږيد، په ۱۹۴۷ء کي د حربي پوهنتون څخه فارغ سو. په ۱۹۵۰ء کي د خپلو انقلابي فعاليتونو له امله زنداني سو. وروسته بيا د پوهنې په وزارت کي په دنده وگمارل سو، تر دې چې په ۱۹۶۵ء کي په يوه بلوا کي د گډون له امله له پکتيا څخه وشړل سو. کابل ته له راستنېدو وروسته د پرچم ورځپاڼې پرچم مدير سو او په افغان پوځ کي يې د پرچم د استخدام د پروگرام څارنه کول-(۱)هغه د پرچم گوند د مشر ببرک کارمل نژدې باوري وو - (۲)د ببرک کارمل او اناهيتا راتبزاد په گډون يو شمير سرچينو ادعا کړې چې حفيظ الله امين ددې وژنې هڅوُونکی وو. خو د خلق ډلې ځينې پخواني وزيران ادعا کوي چې د وژنې امر د شوروي اتحاد او کارمل له خوا سوی وو.1] د سردار داود په پير کي د باندنيو چارو وزارت د باندنيو اړيکو د مديريت

رئیس عبدالصمد غوث لیکي چې د حفیظ الله امین دوو کلکو ملګرو محمد صدیق عالمیار او د هغه ورور چې وروسته یې لومړی یو پیلوټ انعام الحق ګران (**چې په کړه وړه کې ببرک کارمل ته سوی وو**) او وروسته میر اکبر خیبر وواژه. امین د خپل واک په پیر کې یو د پلان وزیر او بل د عمومي ټرانسپورټ رئیس کړ- (۴).د کیرالې په ټولوژنه کې هم دې ورونو شتون درلود. باوري، عبدالصمد غوث، وړاندیز وکړ چې د امین او خیبر تر منځ سخته سیالي شتون لري ځکه چې دوی دواړو هڅه کوله چې د خپلو اړوندو ډلو لپاره په اردو کې نفوذ وکړي. همدارنګه، په پوځ کې د خلق او پرچم حجرو د بیا یوځای کولو لپاره د خیبر هڅې به د کمونیستي سرچینو په وینا، د امین ځواک کمزوری کړي.3] ښاغلی غوث وړاندیز کوي چې د امین مرغان، صدیق عالمیار او د هغه ورور (صدیق عالمیار، چې وروسته به په مستقیم ډول د کیرالا په قتل عام کې ښکیل وي) د حکم سره سم د خیبر او انعام الحق ګران (په غلطۍ سره کارمل ګڼل کیږي) د وژنې مسولیت لري. امین. عالمیار د امین د پلان وزیر او د هغه ورور د عمومي ترانسپورت رییس شو.(۴)

1. *Anthony Arnold (1983). Afghanistan's two-party communism. Hoover Press. p. 182. Retrieved 2009-03-21 – via Internet Archive. Ghulam Dastagir Panjsheri.*, page 180
2. ^ *Tomsen, Peter (10 December 2013). The Wars of Afghanistan: Messianic Terrorism, Tribal Conflicts, and the Failures of Great Powers. ISBN 9781610394123.*
3. ^ Jump up to:[a] [b] [c] *Cordovez, Diego; Harrison, Selig (1995). Out of Afghanistan: The inside story of the Soviet withdrawal. New York: Oxford University Press. p. 23. ISBN 0-19-506294-9.*

4. ^ *Ghaus, Abdul Samad; Ġaut, 'abd-aṣ-Ṣamad (1988). The Fall of Afghanistan: An Insider's Account. p. 194. ISBN 0080347010.*The Above References From Wikipedia.org

د ایډورډ ګیراردیټ له خولې خیبر د خلقیانو لخوا د خوځښت د هڅولو او د نامتو پرچمي څخه د خلاسون په موخه ووژل سو **(Edward Girardet, Afghanistan, The Soviet War (1985),, p. 103.)**



۱۸اپریل۱۹۷۸ء/ ۲۹حمل

تر څو میاشتنیو مباحثو وروسته د امریکا د مشرانو جرګې (سینیټ) د پاناما کانال دفاعي تړون **(Panama Canal Treaty)**ومانه ددې تړون له مخې به امریکا د پاناما حکومت ضد کنټرا یاغیانو ته د ایران د لاري وسلې ورکوي

۱۸-۱۹اپریل ۱۹۷۸ء/ ۲۹ حمل ۱۳۵۷ه ش

د ډنمارک په پلازمینه کوپین هیګن کي د ناټو د زروي پلانګزاری ډلي **(NPG= Nuclear Planning Group)**

پریکړه وکړه چي په اروپا کي به د نیوټران بم (**هر ساکښ وژونکئ**) د تولیدد پیل پر وړاندیز پاملرنه وکړي **(New York Times;4/20/1978)**

۱۹اپریل/ ۳۰حمل

د انګولا د ولسمشراستونیو آګوستینو نیټو **(Astonio Agostinho Neto)** سره د لیدني پر مهال شوروي سیال لیونیډ بریژنیف هغه ته د مرستو و ملاتړ ددوام ډاډ ورکړ.





دپرچم ګوند د مخکښ غړي میر اکبر خیبرجنازه د لسو زرو، د بلي سرچینې له مخې د لسو او دیرشو زرو (Time;1978,www.fsmitha.com/time/1988.html) تر منځ وګړو په بدرګه دمکروریانو څخه د پُلِ خِشتي جامع مسجد ته یوړل سوه، ملااحمدجان نمنګاني(**د خیبر د میرمني د خور خاوند، باجه یا هَمزُلف**) د جنازې لمونځ ورکړاو په شهداء صالحین کي خاورو ته وسپارل سو. کله چي جنازه د امریکا د سفارت مخ ته تیریده، نولار یونوالو مرګ پر توره ارتجاع ، مرګ پر نړیخور امپریالیزم ، مرګ پر سړیو وژونکو شعارونه ورکول. او هم د ایران پر څارګره شبکه او ددې هیواد د پاچا محمد رضاه شاه پهلوي پر ضد شعارونه ورکول ، د ایران د پټو پولیسو د شاه په وړاندې شعارونه ورکول

Urban, ***Mark*** (1990). War in Afghanistan. London: Palgrave MacMillan. p. 7. ***ISBN*** ***0-333-51477-7***.

♥ ″استادمير اکبر خيبر د خلق گوند د پياوړوکدرونو(**Caders**)څخه وو،په ړنا ورځ،پرعمومي څړک څو تنو وسلوالو تراهګرو چې په جيپ کې سپاره وو،په شهادت ورساوه او وتښتيدل،ددې پېښې پړه د حکومت پر غاړه ده،دا يوه سياسي وژنه ده،عاملين يې بايد ډير ژر ونيول سي او د قانون منګولو ته وسپارل سي″(**د جنازې غونډې ته د ګوند د اعلاميې پښتو متن نورمحمد تره کي او دري ډاکټر شا ولي ولوست**).″

د ښې لوري صالح زيرئ، نجيب،تره کئ، پنجشيرئ،ببرک کارمل،سليمان لائق،کريم ميثاق او اناهيتا

♥ ″د خيبرشهادت د اختناق پينځه کلن سکوت مات کړ،ملګري به ډير ژر ستا غچ واخلي″(**د ببرک کارمل وينا**)

♥ سليمان لائق، دستګير پنجشيري او بارق شفيعي ويرني(مرثيې) ولوستې .عبدالکريم ميثاق د غونډې ويانډ او حفيظ الله امين د يوې وَنې سيوري ته ولاړ وُو.





دخیبر د جنازې برخوال

♥ د خیبر تر ښخولو وروسته حکومت پر هر ډول لاریون بندیز ولګاوه. سردار محمد داود د عدلیه وزیر او لوی څارنوال جنرال وفیع الله سمیعي څخه لارښوونه وغوښته چې د خیبر د ښخولو په غونډه کې چې د خلق ګوند کومو مشرانو ویناوي کړیدي، د قانون په چوکاټ کې محکمه کیدلای سي او کنه؟.

۲۰-۲۲اپریل ۱۹۷۸ء

د امریکا د باندنیو چارو وزیرسائیرس وانس په ماسکو کې د شوروي سیال اندراګرومیکو سره د اوږد واټن توغندیو او زروي وسلو پر مخنیوي وږغید، خو کومې پائیلې ته سره ونه رسیدل

)Brzezinski;Page-171;Garthoff,Page-815,816;Vanse.Page-99,100(

۲۱اپریل۱۹۷۸ء

د امریکا ولسمشرجمي کارټر اعلان وکړ چې د جنوبي کوریا څخه د ځواکونو را ایستل به په ورو ورو تر سره سي، امکان سته چې کانګریس به زما د تیر کال (**۲۱اکتوبر۱۹۷۷**) د هغه وړاندیز په اړه کړنه

نکړي تر سره چي له مخي به يې ددې هيوادځخه غټ نظامي سامان آلات راوباسو،ددې پرمختګ په رڼا کي زه په دې اند يم چي بايد د عسکرو د ايستلو په مهال ويش ټاکلو کي د ډير احتياط ځخه کار واخلو**(Statement by the President,4/21/1978)**

۱۲۵اپریل۱۹۷۸ء

د شوروي اتحاد ولسمشر په يوه وينا کي وويل چي د ډيټانټ و شوروي اتحاد او د خپلواکو مستعمرو تر منځ په اړيکو کي اختلاف نسته، شوروي اتحاد د پراختيا تګلاره لري ، هغه د جوړښت **(Fabrication)** تګلاره ده،مور د ډيټانټ او وسلو د مخنيوي په کلکه پلويان يواو دا په ډاګه کوُو چي د اوسني متزلزل يا مخ و شاته **(Oscilation)**حالت په رڼا کي د امريکا سره زمور د اړيکواساس پر ډيټانټ پوري اړه لري**(Garthoff;Page-596)**

۱۲۵اپریل/ ۵ثور



وفيع الله سميعي

تر ژورې څو ورځنۍ پلټنې وروسته لوی څارنوال وفيع الله سميعي ولسمشر سردارمحمدداود ته راپور وړاندي کړ چې د خلقي مشرانو ويناوي د اساسي قانون سره ټکر خوري، دهغوی نيول او محاکمه کيدل روا کار دئ. د لوی څارنوال د سپيناوي او خلقي مشرانو د ثبت سوُو ويناو تر اوريدلو وروسته حکومت د هغوی د محاکمه کولو پريکړه وکړه.

۱۲٦اپريل/ ثور ٦

د مير خيبر د ترور څخه ني،لې بيا تر دې نيټې

شماره‌های مورخ (28 حمل ــ 6ثور 1357) روزنامه انيس که نشريه دولتی و مبلغ سياست رسمی دولت و در چوکات وزارت اطلاعات و کلتور به فعاليت نشراتی می‌پرداخت؛ هيچگونه خبر و تبصرهٔ در مورد ترور استاد ميراکبر خيبر، مراسم جنازه و مارش بزرگ وجود ندارد. در حالی که در هر شماره انيس خبر ساير رويداهای جنايی از قتل تا اختطاف، حتی حوادث ترافيکی مرکز و ولايات به تفصيل بيان شده

است٢٦ اپريل/٦ ثور

دخلق ګوند مشرانو د نيولو د پاره حکومت د پوليسو اته ګروپونه وليږل، ډاکټرشاه ولي،نورمحمدتره کئ،ببرك کارمل ونيول سول خو فقيرمحمدفقير لومړئ تن وو چې ځان يې د امين کور ته ورساوه (**د سهاراووه نيمي بجې**)، امين د کودتاه پلان د کاغذ پر مخ دده په وسيله سيدمحمدګلابزوی ته واستاوه.

چې پکې ليکلي وو:- د زغرورو د څلورمي قواء د لومړي کنډك قوماندان اسلم وطنجار د مځکنيو قواو لوی قوماندان

۲ – د هوائي مدافع درستيزوال عبدالقادر د هوائي ځواك لوی قوماندان .
۳ – د زغرورو د ځلورمي قواء قوماندانان محمداسلم وطنجار،شيرجان مزدوريار،اسدالله پيام .
۴ – د ګارډ دمخابرې آمرآغامحمد بالاکرئ
۵ – د ريشخور د اوومي فرقې قوماندان محمدعلي
٦ – د قرغې د اتمي فرقې قوماندان جګړن علاوالدين
۷ – د درودېرشم غُنډ قوماندان محمد دوست
۸ – د توپچي اته اتيايمي قطعې قوماندان شيخ احمد
۹ – د کوماندو د قطعې قوماندان شهنوازتنئ
۱۰ – د پراشوټ د قطعې قوماندان شرف الدين
۱۱ – د انضباط د قطعې قوماندان نيك محمد
۱۲ – د تخنيکي خدماتو او د څرخي پله د ورکشاپونوقوماندان سردارمحمد
۱۳ – د وزارت د قرارګاه قوماندان انځرګل
۱۴ – دننګرهار د يوولسمي فرقې قوماندان بهرام
۱۵ – د خواجه رواش هوائي ډګر قوماندان نظرمحمد
۱٦ – دبګرام هوائي ډګرقوماندان محمدهاشم
۱۷ – د شينډنډ هوائي ډګر قوماندان بهرام
۱۸ – د کندهار هوائي ډګر قوماندان ميرنجيب الله
۱۹ – د بلخ هوائي ډګرقوماندان محمداعظم
۲۰ – ددافع هوا قوماندان عبد الحق علومي
۲۱- – د راکټ د نهه نيوي يمي(۹۹) لواءقوماندان علی شاه .

د غوايه د شپږمي نيټې په بهير کي دي ټولو خلقي افسرانو ته په ځانګړې توګه خبر ورکول سي چې د غوايه پر اتمه نيټه د سهار پر اتو بجو دي لوړو يادو سوُو منصبدارانو ته ورسي او ورته ودي وائي :- ”زه مو راغوښتئ وم ،څه وايې؟ “.

قوماندان دي جواب ورکړي :- ”انتظار وکړه ترڅو ټول ملګري د قوماندانانو په شاوخوا کي حاضر سي“ .

د همدې نيټې پر نهه بجې د محمداسلم وطنجار د خوا په زغوروقواو کي د ملګرو په غونډه کي پاڅون اعلانيږي .لدې ځايه به دوه ټينکونه د خواجه رواش هوايي ډګرته ځي ،هلته به ددوی سره د سيدمحمد ګلابزوی ټينکونه يو ځای سي،د رارسيدو سره سم به ږغ وسي، ګلابزوی به د ډګر د نيولو امر وکړي، نظرمحمدبه د ډګر واك په لاس کي اخلي، عبدالقادر به د باګرام هوائي ډګر ته ځي، د هاشم سره به ويني، هغه به سخي ته د الوتکو د الوتنو قومانده ورکوي، عبدالقادر به په چورلکه کي د خواجه رواش هوايي ډګر ته ځي او د هوائي ځواك قومانده به پخپل لاس کي اخلي، زغروري قواوي دي لومړئ راډيو ټيليويژن او د کابل ښار ونيسي، بيا دي پر ارګ ډزي پيل کړي، د نورو قطعاتو ملګري دي لاندي وظيفې سرته ورسوي.

۱- د دافع هوا قطعات دي د کابل په دننه او شاوخوا کي د سردارمحمدداود دحکومت ددوُو وفادارو فرقو(**اوومه او اتمه**) مخنيوئ وکړي.

۲- هوائي ځواك دي د حکومت وفادار ځواکونه تر اور لاندي ونيسي

۳- خيال محمدکتوازئ (**د راډيو افغانستان مامور**) دي د راډيو په کار اچولو ته چمتو سي(**د افغانستان کالنۍ -۴۴ګڼه و۷غويې ۱۳۵۷ه ش، ۳۶او ۳۹ مخونه**).

پر اتو بجو انجينئرظريف هم راورسيد،ده چې کله ورته ولاړ ټيکسي ته کرايه ورکول ،څه ګوري چې د امين کور پوليسو کلابنداوه،پوليسو هغه کور ته پرې نښود،د کابل په کالنۍ کې راغلي دي چې انجينئر ظريف د امين د زوی خواځك په وسيله امين په حال خبر کړ او ورته ويې ويل چې د سيلو(**ډډوډۍ پخولوپلانټ**) په رستوران کې ستاسي امر ته حاضر يم، امين د خپل مشر زوی عبدالرحمان په لاس ا .ظريف او هم صالح محمدزيري و خيال محمدکتوازي ته پر کاغذه د ليکلي پلان کاپۍ ورولېږلې- (**همدغه اثر او ۳۹ – ۴۰مخونه**). خوجنرال عمرزئ پخپلو يادداشتونو کې ليکي :-د ډاکټرشاه ولي تر نيولو وروسته چې مو د امين کور (**خوشحال مېنه**) کلابند او د وَرَه ږنګ وواهه، د هغه زوی عبدالرحمان راوَوُوت، د پوليسو سره په خبرو بوخت وُو چې پلار يې ددوو ميلمنو سره راڅرګند سو، په خندا يې د پوليسو سره روغبړ وکړ او وې ويل چې ميلمانه زما د زوی عبدالرحمان همصنفيان دي،زه ستاسي په واك کې يم،دوی پرېږدئ چې د پولي تخنيك ليليې (**هاسټل**) ته ولاړ سي، د څارنوال محمد نعيم دا نه وه خوښه خو ما (**جګړن عبدالغني مستعار نوم يې عمرزئ دئ**) هغوی خوشي کړل، وروسته معلومه سوه چې دوی زده کوونکي نه بلکه يو انجينئر ظريف او بل فقيرمحمد فقير وو، يو د امين په کابينه کې د مخابراتو او دويم د کورنيو چارو وزير وټاکل سو، د امين د ورور عبدالله امين پر نيولو هم سترګي پټې سوې، حفيظ الله امين چې کله د پوليسو په امر لاسي بکس خلاس کړ،يو کاغذ يې په بيړه واخيست،څيرې يې کړ، په خوله کې يې وژوو،تېر يې کړ او وې ويل چې دا زما د يوه دوست ليك وو.



حفيظ الله امين پوليسو ته د تلاشۍ ورکولو پر مهال

لټون (**تلاشي**) د نيمي شپې پر درې نيمو بجو پای ته ورسيد، پوليسو امين د هغه په غوښتنه د سهار تر اوو بجو پوري په کور کي د دمي د پاره پريښوو،هغه ژمنه وکړه چي سهار تر چای چښلو وروسته به ځان پوليسو ته وسپاري، جګړن عبدالغني امين او د هغه کور پوليسو ته ورپريښوو او پخپله د قرارګاه پر لور ولاړ(**د شپې ۳.۴۵بجې**).د نهو تنو سياسي زندانيانو نورمحمدتره کي، ببرک کارمل، دستګيرپنجشيرئ، عبدالحکيم شرعي جوزجاني،ډاکټرشاه ولي،حسن ضميرساپئ،بارق شفيعي،سليمان لائق اوحفيظ الله امين (**وروسته ونيول سو**) په اړه د لوړو مقاماتو د خوا پوليسو ته دغسي امر ورسيد-دغه نهه بنديان دي په بيلو بيلو خونو کي وساتل سي چي يو د بله سره هيڅ ډول تماس ونه ساتي، تشناب(**د حاجت ځای**) ته دي يو يو ځي،د دباندي سره يې پر هر ډول تماس کلك بنديز دئ، خواړه يې پر دولت دي، ددوی د پاره دوه اشپزان،يو سماوارچي (چای پخوونکئ)،يو ډاکټر دسهار او بل د مابنام د خوا وګمارل سو. ددې څارځای (**نظارتخانه**) امر محمدابراهيم او سرپرستي يې جګړن عبدالغني ته وسپارل سوه.

جګړن ليکي :- زه د خلق ګوندپټ غړئ وم، پخپل مسئوليت مو دهغوی سره ښه کول، دوی زه د ګوندي غړي په توګه نه پيژندلم ،ما هم حق نه درلود چي

په هغوی ځان وپیژنم خو تر کومه ځایه چې شونې (ممکنه) وه - د هغوی سره مو مرسته کول، دوی ته فوق العاده خواړه، د پسه غوښه، ښې نرۍ وریجې، سپینه ډوډۍ، دوه ډوله تازه میوه د غرمې او شپې په ډوډۍ کې هغوی ته حواله سوې وو، د سهار د خوا شیدې، چای او کُلچې (**بسکوټونه**) او سګریټ د هغوی د خوښې سره سم ورکول کیدل -(**د کابل شپې ،د جګړې عبدالغني يادداشتونه دعمرزي په مستعار نامه ، ۲۷-۲۸ مخونه**).

بالاحصار:- ۳ درې دماپښین

دکابل دبالاحصارعمومي قوماندان ډګروال محمدهاشم(**لومړئ پرچمي ووخوورسته دسردارداود د ملي غورځنګ ګوندته واوښت**). غونډه راوغوښته چې پکې د پینځلسو په شاوخواکې قوماندانانو ګډون وکړ .

ډګروال محمد هاشم:- "خلقي مشرانوخیانت کړئ دئ،حکومت نیولي دي ،خپلو وظیفوته به ادامه ورکوئ او دهیڅا سره د تماس نیولو حق نه لرئ" .

هغه دکومندوداولي ټولې قوماندان شهنوازتنئ د شپې ترلسو بجو پوري نظربند وساته (**ددفاع وزارت د نظامي کشف د لوري دهغه دګوندي کړنوپه اړه دوه ځله راپورونه راغلي وو**).

د ماښام اته بجې:- خلقي مشران د کابل ولایت د ځارنوالئ دفتر ته یویو بوتلل سول، د عدلیې وزارت او د لوی ځارنوالئ د پلټنې پلاوي د نورمحمدتره کي ،ببرك کارمل او عبدالحکیم شرعي جوزجاني سره یو په یو پوښتنې وکړې.

دشپې لس بجې:- دکومندو د اولي ټولې قوماندان شهنوازتنی چې کله دشپې کورته ورسید(**بي بي مهرومینه**)،ګوندي ملګري عبدالقدیراشناکندهارئ (**په کابل پوهنتون کي مدیر**)ورته راغی، دګوندپه پریکړه اوحال یې خبرکړ.



عبدالقدیر اشناکندهاری، شهنوازتنی اودسلاعات و کلتورځبریال

۲۷اپریل/ ثور ۷

٦ بجې سهار:- لس ملګري چې پر تنې و اشنابرسیره جګړن شمس الدین(**دکونړخلقي**) هم پکې ګډون درلود،په پښتونستان چوک کې سره راغونډسول.

سیدمحمدګلابزوی بیا یو شمیرملګري ژوبل ته نژدې دبریکوټ سینما(**دهمزنګ**) سره د هوایي او هوایي ساتني فرقې د مسئول سید محمد ګلابزوی،د څلورم زغروالي فرقې د مسئول اسدالله پیام، د توغندیو د لوا د مسئول علي شاه پیمان او د کومندو د ۳۲ غونډ د مسئول محمد دوست په ګډون د نظامي کودتاه د سمون د ډلې غونډه جوړه سوه ، پریکړه وسوه چې ټول باید د سهار تر آتو بجو د هوایي او هوایي ساتني فرقې او پلو ځواکونو د کارونو د سمون لپاره په خپلو خپلو ټولیو کې بشپړه چمتووالئ ولري، همدغه (**سیدمحمد**) د ورځې د نوم او (**مګ – ۲۱**) یې د جواب په توګه غوره سول(**د افغانستان میړانه او غمیزه ،تورن جنرال الیکساندراناتولیویچ لیاخوفسکي ، د محب الرحمان پښتو ژباړه،۲۰۰۲ء ،۲٦مخ**) .

♥ د جمعې شپه یا پنجشنبه دسهاراووه بجې

لومړئ خوځښت :- د رشخور د اوومي فرقې تورن محمدعلی تنئ (**خلقی**) راوپاځید، دفرقې رئیس ارکان ډګروال محمدقاسم مزاري یې ژوبل، د فرقې قوماندان تورن جنرال نظیم خان یې بندي اوقوماندانی ونیول .

دپینځه پنځوسم نمبرغونډ قوماندان محمدهاشم کندهارئ دکودتاچیانو پرضد راپورته سو،دمحمدعلي اودویم بریدمن عبدالغفارنورستاني(**خلقی**) تروژلو وروسته یې دا خوځښت شنډکړ، پاته ګوندیانو ځانونه غلي کړل.

♥ درې ساعته وړاندې ولسمشرسردارمحمدداود راپاځیدلئ،په دویم پوړ کې د خپلې کوټې څخه لاندې سالون ته نَنَوُوت او د چا په انتظار کښیناست ۔



سهار۷بجې ۱۵دقیقې :- اماني لیسې ته مخامخ د ولسمشر دکور په وړه کي حکومتي موټر ودرید،د کورنیو چارو څلویښت کلن وزیرعبدالقدیر نورستانئ را کوز سو، دخلقي زندانیانو په اړه یې ولسمشر ته لنډ رپوټ وړاندي کړ او شل دقیقې وروسته په بیړه ولاړ.

۸.۱ سهار:- ولسمشرته په سبا ناري کي څه وچه ډوډی،لږ کوچي وُ مُرَبه راوړل سول.

دسهارنهه بجې:- د څرخي پله د څلورمي زغره والي لوا کنډکمشر جګړن محمد اسلم وطنجار د لوا مشردفتر ته ورغئ (**لوا مشر د سردار محمد داود ډیر باوري او وفادار ملګرئ وو**) دهغه څخه یې د کنډک هرو لسو ټینکونو ته د شپږو مرمیود ورکولو د اجازې هیله وکړه او پلمه یې داوه که اړتیا رامنځته سي نو کنډک به یې سمدستي د سردار محمدداود مرستي ته ځان ورسوي، کله چي جنرال اجازه ورکړه نو وطنجار د مرمیو په استعلام کي د شپږو سره یو صفر له ځانه وکیښ او له زیرمتون څخه یې شپږ سوه (٦٠٠) مرمي لاس ته کړې(**د افغانستان میړانه او غمیزه ،تورن جنرال الیکساندړاناتولیویچ لیاخوفسکي ، د محب الرحمان پښتو ژباړه،۲۰۰۲ء،۲۷مخ**)

دسهارنهه بجې

دبالاحصارخوځښت:-خلقیانودګډوډی،راوستلودپارهدکابل د بالاحصار د البسې(**دعسکروبسترې اوجامې ودا**) زیرمتون ته اورواچاوه. ددفاع وزیر ډګرجنرال غلام حیدررسولي ځان ورورساوه . ډګروال محمدهاشم او ددرودیرشم غُنډ قوماندان ولی محمدخان ځدرانِ یې په حال خبرکړل چي دښمنانودا کارترسره کړئ دئ، هغه دوی ته

لارښوونه وکړه چې د ځلورمي او پينځلسمي قوې د ځپلو د پاره دي کماندويې ځواکونه په عملياتو لاس پوري کړي، جنرال رسولي د سرحدي کماندوديوه قوماندان تورن محمدرسول جبارخيل(**پرچمی**)په مشري يوه ټولۍ عسکردځان سره بوته او وزارت دفاع ته ولاړ .

ډګروال هاشم او ډګروال ځدران د مخابرې په اوتاك کي ناست،خپلو قوماندانانو ته د عملياتو امر ورکړ. دخلقي مشرانو د نيولوپه ويار دلته هم ملي اتن شروع وو، د راقم سره په ځانګړې مرکه کي شهنوازتنی وويل چې داتن پر ځای د وسلوزيرمتون ته ولاړم، ملګرې مي مسلح کړل، د خپلو مشرانو څخه ميسر واخيست او د ښار پر لور وخوځيدو.کله چې تنئ او وطنجار مکرويانو ته نژدې د مسلخ (**دځارويوحلالولوځای**) په سيمه کي سره يو ځای کيدل،وطنجارپر تنې په تيروتنه درې بريدونه وکړل خو ونه لګيد. دوی دلې سر سره خلاس کړ، تنئ ارګ، وطنجار وزارت دفاع ته ولاړ او جګتورن توفيق احمدعزيزي(**دځلورمي قوې ديوه کنډك قوماندان او د کابل خلقي**) يې د کورنيوچارو وزارت ته واستاوه.

۱۰ـ۹ سهار: - ولسمشر په آبي دريشي کي د تل په څير کوچنئ بکس په لاس د ارګ لور ته د کور له کوچني وره وَ ووت،د ګارډ قوماندان صاحب جان او ياور تورن عبدالمجيد باز يې هر کلئ وکړ.



ښي لور ته صاحب جان او ورپسې عبدالمجید باز

۹.۳۰:-ولسمشر د مانۍ په لومړي پوړ کې د کابینې د غونډو تالار ته ننوُوت،وزیرانو یې درناوی وکړ،دوه وزیران نسته، د فوائدعامې وزیر غوث الدین فائق پکتیا ته تللئ اودفاع وزیر ډګرجنرال غلام حیدر رسولي په پوځي قطعاتو کې د خلقي مشرانو د نیولوپه ویاړ د جوړو سوُو میلو په کتنو بوخت دئ،د کابینې غونډه په هره سه شنبه جوړیږي ،په تیره غونډه کې ټول مسائل ونه څیړل سول، ستره موضوع د کاراو کارګرقانون دئ چې نن به خبري پر وسي،لومړئ د کورنیو چارو وزیرعبدالقدیر د خلقیانو لخوا د لاریون، د خلقي مشرانو د نیوني او د ښار پر امنیتي حالت معلومات وړاندي کړل



۱۰ سهار:-د کار او کارګر پر نوي قانون خبري پيل سوې چې کارګر په کومو شرايطو کې د اعتصاب حق لري،وزيران خپل نظرونه وايي.

دځلورمي او پينځلسمي فرقې خوځښت؛- دفاع وزيرجنرال غلام حيدررسولې د هيواد ټولو فرقو او نظامي قطعو ته امر کړئوو چې د خلقي افسرانو د نيولو په خوشحالي کې دي د غوايه پر اوومه نيټه(۲۷اپريل) جشن ولمانځي. پدې اړه د ځلورمي اوپينځلسمي زرهداري قوې افسرانو د کابل په ملي لوبغولي(نيشنل سټيډيم)کې اتڼونه کول،خوخلقي افسرانوددې موقعې څخه ګټه واخسته،د وسلتونونو قلفان يې مات، ټينکونه يې د حرکت د پاره مجهز اوچمتو کړل، ددوی په حرکت چې د پينځلسمي قوا ډګروال محمديوسف خبرسو،مقابله يې ورسره وکړه، خود خپل مرستيال جګړن محمدرفيع (**پرچمي**) په مشري کودتاچيانو وواژه، دده تر وژلو وروسته ځلورمه و

پینځلسمه قوه د جګړن محمداسلم وطنجارپه مخکښي سره یوځای سوې اودښار پر لوروخوځیدل،د حربي پوهنتون او پُلِ چرخي په لاره کي د حکومتي ځواك سره جګړه وموښته، دکابل د انضباط د قوماندان تر وژلووروسته یې غاو(**بغاوت**) شنډ او دښار پر لور خپل حرکت ته دوام ورکړ.

۱۰.۳۰سهار:-د دود خلاف د ارګ قوماندان صاحب جان خان په بیړه را نَنَوُوت،ولسمشر ته یې په غوږ کي د څرخي پله څخه د څو ټینکونو د وتلو خبر ورکړ، هغه د نور معلومات لارښوونه ورته وکړه،غونډه دوام لري.

۱۰.۴۵ سهار:- د ګارډ دوه نور افسران په بیړه راغلل او ولسمشر ته یې په غوږ کي وویل چي ټینکونه بې له دې چي لارښوونو ته ځواب ووایي ،په بیړه د ښار لور ته پرمختګ کوي،ولسمشر په دویم پوړ کي خپل دفتر ته نَنَوُوت،غونډه په انتظار کښینسته.

♥ سردار محمد داود دفاع وزیر جنرال غلام حیدر رسولي او د جمهوري ریاست د ساتندویه ټولګي قوماندان جګړن ضیاء ته امر وکړچي حالت روښانه کړي.

♥ قوماندان جګړن ضیاء پر مخابره جګتورن محمد عمر(خلقئ) ته : - " ټینکونه مو ولي دلته راوستلي دي " ؟.

جګتورن محمد عمر: - " لواء مشر د جمهوري ریاست مانې ته د ساتني لپاره رالیږلي یو".

په همدې ترڅ کي محمد عمر ته امر وسو چي بیرته لواء ته ستون سي خو هغه ټینکونه ور څیرمه کوڅې ته ورتاو او همالته تم کړل (د

افغانستان میړانه او غمیزه ،تورن جنرال الیکساندړاناتولیویچ لیاخوفسکي ، د محب الرحمان پښتو ژباړه،۲۰۰۲ء،۲۸مخ)

♥ تورن شاه محمود(**د ارګ د څلورمیله ماشیندار د بلوك قوماندان**) وایي چې یو ماشیندار مو لومړئ قصر او بل د دِلګُشا چمن ته وروړل،د سردارمحمد داود موټر د مخه او د ارګ د قوماندان صاحب جان دا په پسې وو، موږ ورته تم سوُو، سلام مو ورته وکړ، سردار په اشاره پوه کړو چې ځانونه ځای ته ورسوئ، ما عسکر ځای پر ځای کړل او پخپله هم په لومړي قصر کي ودریدلم (**دلته باندې لوړ رتبه مېلمانه اوسېدل**)، پدې حال کي د څلورمي زغروري او د پینځلسمي قوې ټینکونه ارګ ته رارسیدلي وو.

۴۵-۱۱غرمه؛- د څلورمي فرقې نورځواک ور ورسید او ارګ یې کلابند کړ، محمد اسلم وطنجار، سیدمحمد داود تړون، انجینئر نظرمحمد، شیرجان مزدوریار او احمد جان یې مخکښې کول. جګړن محمد اسلم وطنجارپه ۸۱۵ نمبر ټینك ددفاع وزارت پرمانې.بریدوکړ.په همدې برید کودتاه پېل سوه، ددفاع وزارت جنرالانوددفاع وزیرجنرال رسولي ته سلاورکړه چې اوومي اواتمي فرقې ته ولاړسه چې کودتاه شنډه کړي، ده ته جیپ موټر اماده سو، دوزارت ترشا دقرغې پر لور ولاړ او د قرغې قوې ته یې امر وکړ چې د ښار پر لور روانه سي. دا قوه چې د پولي تخنیك سیمې ته ورسیده، دپیربلند د غره څخه د راکټ قطعې بریدونه پر وکړل،خو قوماندان علاوالدین بیرته قرغې ته پرشاغبرګه کړه- (**سرداردداود،ډاکټرعاصم اکرم،۲۷۴**). پخپله پدې قطعه کي ګوندیانو شتون او هم د خپلو مشرانو سره تماس درلود،لکه تورن کریم سرباز،جګتورن علی شاه خوستئ،تورن ولیشاه خوستئ او شرف الدین ودا.جنرال رسولي لدې

ځایه د دارالامان د تاج بیګ په سیمه کي د مرکزي قول اردو د قوماندان او د ارکان حرب د رئیس ډګروال عبدالعلی وردګ سره یوځای سواوپه مقاومت یې لاس پوري کړ(**مابنام**)-(**همدغه اثر او مخ**). د څلورمي قوې د لومړي بریدمن مومندکتوازي(**خلقی**) په مخکښي یاغي عسکر پر وجنګیدل او دا ځای یې ونیوو. کله چې د کودتاچیانو لاس بَرسونوډګرجنرال رسولي، لوی درستیزجنرال عبدالعزیز اوډګروال عبدالعلي ودا دآبشاردسیمي د کلي یوه کورته پناه وروړه، دا کور د تاج بیګ مانې د باغبان باشي وو چې د دوی سره یې له نژدو پیژندل،هغه خلقیان په خبر کړل، خبره تر مشرانوورسیده چې په کابل رادیو کي یې د قومندې مرکزوو، ددوی په امر د جګتورن محمدجعفرسرتیر(**دخوست دنادرشاه کوټ د ولسوالی ځدران ،خلقی**) په مشري دکمانډو پینځوس کسیزځواك هلته ولاړ،کور یې کلابند او جنرالان د ملګرو سره ژوندي ونیول (**مابنام**)، ارګ ته مخامخ دفاع وزارت ته یې وروستل،پاڅوني شورابې له محکمې په اعدام محکوم او په څلورویشتوساعتونو کي ووژل (**دجنرال شهنوازتنې سره د راقم مرکه،۱۴مئي۲۰۰۸ء دده په کرایه کور راولپنډۍ کي**).

۱۱.۴۵ غرمه:- د ارګ د سیمو ددروازې (**ختیزه دروازه**) څخه د ارګ پر لوی دیوال دجګتورن محمد عمر محمدزي دلوري د ټینك برید وسو، دیوال څه ونړید، په مقابل کي د ارګ د لوري د پیادوو لومړي بریدمن حفیظ الله خان (**دجلال اباد محمدزې**) برید پر وکړ او د محمدعمر ټینك یې وویشت، میل یې ارګ ته مخامخ د کارتوګرافۍ پر بام وموښت، پاته ټینك د محمدعمر او دده د اتوملګرو سره ریزمریز سو،پدې دوامداره جګړه کي د ارګ عسکرو د

څلورمي او پينځلسمي فرقو دري ټينکونه وويشتل، د ويشتلو ټينکونو تر منځ دکودتاچيانوپينځلس نور ټينکونه بند پاته سول، نيوي تنه ياغي عسکر د ارګ عسکرو ژوندي ونيول او په ارګ کي يې زندانيان کړل (**د ارګ د څلور ميله ماشيندار د بلوک قوماندان تورن شاه محمودسره د راقم مرکه، ۳۰ جولائي ۲۰۰۱ء، ګلستان**).





♥ دوه ټینکونه د راډیو افغانستان و مخ ته ورسیدل او عسکرو یې د خپرونو واک په لاس کې واخیست

۱۲بجې غرمه :- وزیرانو ارګ ته نژدې د چاودنې درونده ږغ واوریدل، د غونډې مشري چې اوس د باندنیو چارو وزارت مرستیال او د وزیرانو د شورا منشي وحید عبدالله کول،وزیران له حالاتو خبر کړل.

۱۲-۱۵غرمه :- د راډیو رئیس ارګ ته فون وکړ او د لارښوونې غوښتنه یې وکړه،ورته وویل سوه چې په یکه توت کې د راډیو پر خپرونکو دستګاوډ بریښنا مزي غوڅ کړی.

♥ ولسمشر را ستون نه سو،غونډه پر خپل سروځنډیده،وزیران په دهلیز او خونه کې ډلې ډلې او ورو سره ږغیږي.

۱ بجه ماپښین:- د وزیرانو د ډوډۍ وخت دئ، خو څه نسته،د ارګ په شاوخوا کې سخت بریدونه دوام لري، د ګارډ سرتیروڅو ټینکونه وسوځل، یو شمیر یرغلګر یې دننه ارګ ته بوتلل .


۱-۱۰ ماپښین :- د څرخي پله د څلورمې زغروالي لوا کنډکمشر محمداسلم وطنجارپه بیړه خپل ټینک له ارګه د کودتاه مرکز راډیو افغانستان ته بوت،مشران یې په حال خبر کړل او وړاندوینه یې وکړه که چیرې الوتکې د سردار داود په پلوي راوالوزي،نو بیا ورته دریدل ناشونئ دئ.

۱-۳۰ ماپښین:-د ولسمشر په غوښتنه د هغه کورنۍ د ګلخانې مانۍ ته وروستل سول.

۲ ماڼښين:- ولسمشر د کابل د نورو قطعاتو څخه مرسته غواړي، پر فون هغوی ته لارښووني کوي.

۳ ماڼښين:-د کابل ښار په پښتونستان واټ کي د مخابراتو مرکز له ارګ سره ږغيږي او په شاوخوا کي د سختو ډزو خبر ورکوي، د خبرو په بهير کي کودتاچيانو د مرکز ور په برېد والوزاوه او د ارګ سره يې اړيکي وشليدې.

۳ ماڼښين:- پر کابل راډيو د سردارمحمدداود په ګټه خپروني غوڅي او ملي نغمې خپرې سوې.



کودتاچيانو د راډيو نامتو ويانډ ظفر مهدي وواژه

داوومي فرقې خوځښت :- اوومي فرقې هم د کودتاچیانو پر ضد په مقاومت لاس پورې کړئ وو. قوماندان تورن جنرال نظیم خان دا فرقه د دارالامان د لاري د ښار پر لور روانه کړه، د جنرال رسولي سره یې تماس ونیوو، کله چې یې ددریمې کارتې پر لور پرمختګ کاوه،دوو الوتکو بمبار پر پیل کړ، ددې فرقې دافع هواقوې یوه الوتکه را ایله کړه خو په هماغه مهال د مهتاب کلا د توپچي اته اتیایمې لُوا د خپل رئیسِ ارکان خلیل (پرچمي) په قوماندہ پر اوومه فرقه بریدونه وکړل، د څلورمي او پینځلسمي قُوې ټینکونه ددوُو لورو راغلل او د الوتکو بمبار پر اوومه فرقه دویم ځل پیل سو او فرقه یې پر شاتګ ته اړ ایسته- (همدغه اثر او ۳۷۴مخ) . داوومې فرقې اته دیرشم نمبرپلئ غُنډ دډګروال باباجي په مخکې دارګ ددفاع په نیت راوخوځیدخود ارګ په شاوخواکې یې له کوم مقاومته کودتاچیانو ته تسلیم سو، هغوی وسلې ورځخه واخستې او دوی یې د عسکري کلوب په څارنځای(**نظارتخانه**)کې بندیان کړل.

۱۰-۳ ماپښین:- د ولسمشر وفادار شل زرهپوښان په یوه قطار کې د رادیو افغانستان پر لور ورځي،کودتاچیانو هغوی وغولول چې مورِ هم د ولسمشر وفاداران یو،پدې توګه یې هغوی ونیول

۳۰-۴ ماپښین:-



د افغانستان د وسلوال پوځ د پاڅوني شورا لومړۍ راډیویي اعلامیه:
ګرانو هیوادوالو! د افغانستان په تاریخ کې لومړۍ ځل د محمد نادر خان د سفاکې کورنۍ د سلطنت،ظلم،استبداداو قدرت وروستۍ بقایاوي له منځه یووړل سوې او ددولت ټول قدرت د افغانستان د خلګو په لاس کې دئ، ددولت قدرت په عام و تام ډول دعسکري پاڅوني شورا په لاس کې دئ (پښتو متن اسلم وطنجار او دري ډګروال عبدالقادرولوست).

هوایي ځواک

سردار داود اغامحمد (**د کندهار د بالاکرز**) ته امر وکړ چې د هوائي ځواك قوماندان جنرال محمدموسا ته ووایه چې زموږ مرستې ته الوتکې راوله، خو هغه دا غوښتنه سر چپه ورته وکړه چې پر ارګ بمبار وکړه، د کرنې د هغه مهال وزیر عزیزالله واصفي وایي چې زه آغامحمد ته نژدې ولاړوم، ورته ومو ویل :- "مولا دي کور خراب کړه، دغسي مه کوه خو ده نه منل"- (**د پیرسیداحمدګیلاني په دفتر کوټه کې د راقم سره مرکه، ۹ستمبر۱۹۸۸ء**)

د ماپښین ۴-۴.۳۰بجې :- یوه مِګ الوتکه د مخه درې نورې په پسې وې، تورن شاه محمود وایي چې د مخابرې د آمِر آغامحمدبالاکرزي څخه مو پوښتنه وکړه،هغه جواب راکړ چې دا دحکومت وفاداره الوتکي دي، تورن زیاتوي چې د تیریدلو پر مهال الوتکو د سرداردواد کور او دِلګُشا مانۍ بمبارکړه، پدې بمبار کې دویم بریدمن سلطان محمدخان (**دبغلان محمدزئ**)،ددویم کنډك د لومړۍ ټولۍ دوه عسکر مړه او د همدې کنډك د لومړۍ ټولۍ

قوماندان لالاجان او د څلور ميلې دري عسکر ژوبل سول. زمونږ د جوابي بريدونو په مقابل کې دوې الوتکې ولګيدې،يوه د کابل په خيرخانه مېنه کې راولويده او بلې ځان د کابل خواجه رواش هوائي ډګر ته ورساوه، ماښام د کابل غمجن او ويرجن آ سمان تورو او اوبَوسو وريځو ونيوو،تونډ اورښت پيل سو، دې اورښت د الوتکو بمبار ودراوه



دري پيلوټان ووژل سول

۱۵.۵ ماځيګر: - ولسمشر د ګلخانې د دويم پوړ څخه را کوز يا څوړ سو، وزيران پر راټول سول،وزيران غلي او د هغه پر شونډو مړاوې مسکا وه، وزيرانو ته يې وويل چې هيڅ تصور يې نه کاوه چې دغسې يو حالت به راځي، اوس چې څه وسول ، پوه يې پر خپله غاړه اخلي.

۵ بجې ۵۵ دقیقې:- ولسمشر د وزیرانو سره په خبرو بوخت دئ، د پَخلَنځي کارکوُونکو په ډوډۍ کي نغښتي څو ګولې پنیر (**سانډویچ**) راوړ،یوه ټوټه ده واخسته او وزیرانو ته یې د نورو سَت وکړ.

٦ بجې ماځیګر:- مرستیال ولسمشر سید عبدالاله کوچنۍ راډیو په لاس را نَنَوُوت، ولسمشر او وزیرانود جګړن محمد اسلم وطنجار او د هوایي ځواکونو د درستیزوال ډګروال عبدالقادر په ډرغونو د کودتاه پښتو او دري اعلامیې واوریدې.



د خلقي مشرانو خوشي کول :- د کورنیو چارو په وزارت دوه ځینځیري ټینکونه،یوه عراده مخابره لرونکئ جیپ او یو عراده بیردم ننوُوت، د ودانۍ څلورم پوړ یې تر بریدونو لاندي راوُوست ، د جیپ څخه دَنګ ځوان جګتورن توفیق احمد کلاشنکوف په لاس را شوه سو او په لوډسپیکر کې یې وویل :- ″د کورنیو چارو د وزارت درنوافسرانو، وړو ظابطانو،مامورینو او کارکوونکو! پاځون دئ، پاځون، دفاع وزارت، رادیو ټیلي ویژن او ټول وزارتونه د پاځونیزو ځواکونو په لاس کي دي، څوك چې مقاومت ونکړي،مور کار نه په لرو، خپلي وسلې پر مځکه کښیږدئ او د وزارت په انګړ کي سره راټول سئ، بې ځایه او بې ګټې مقاومت مه کوئ، کنه نو وبه وژل سئ، په چټکي سره د راټولیدلو ځای ته راسئ.

د وزارت ټولو وګړو ځانونه او وسلې وسپار لې، د را غونډیدوپه ځای کي دوُو وسلوالو سرتیرو تر څارنه لاندي ونیول او د پولیسو عمومي قوماندان برید جنرال محمد طاهر یې وواژه.جګتورن توفیق احمد،جګړن عبدالغني د عمومي قوماندان په ټیوټا موټر کي ددوو لومړیو بریدمنانو محمدیوسف، رحیم او ددوُو سرتیرو سره لومړئ قوه مرکز ته ولاړل،د هغه ځایه څخه یې دوې عرادې ټینکونه د کابل ولایت ته د ځان سره روان کړل، جګتورن توفیق احمد د کورنیو چارو وزارت په وره کي شوه سو، د جګړن عبدالغني په مشري یې ټولې ته لارښوونه وکړه چې خلقي مشران په بیړه خوشي او رادیو افغانستان ته ورسوئ، جګړن پډیر مهارت د سالنګ واټ د لاري د کابل ولایت څارنځای ته ځان او ملګري ورسول، د کابل امنیه قومندان میرګل د

کورنيو چارو وزير عبدالقدير نورستاني همصنفي او د حکومت د کلکو پلويانو څخه وُو،ده د جنوبي لوري ور ډير پياوړئ کړئ او پر وداني شاوخوا عسکر درولي وو. جګړن عبدالغني (د حوزې د پوليسو امر) د موټره را کښته سو او ټولو ته يې د ځان سپارلو امر وکړ، چا و چا ځانونه وروسپارل، پر پاته عسکرو کودتاچيانو بريدونه وکړل، کابل والي، امنيه قوماندان او د امنيت امر ځانونه د ولايته وايستل، پاته وګړو ځانونه وسپارل.

جګړن عبدالغني ته د ځارنځای مسئول محمد ابراهيم ورونه پرانستل او لاندي راپور يې ورکړ.

نهه سياسي بنديان پخپلو خپلو کوټو کي حاضر، د لومړۍ او دويمي ټولې اتلس ساتونکي او افسران حاضر، د دريمي ټولې افسران چې وظيفه يې د نيمي شپې څخه پيل کيږي غير حاضر، ناروغ نلرو.

جګړن د يوسف سحر،سيدرحيم اومحمدابراهيم سره لومړۍ کوټې ته ورغئ ،نورمحمد تره کي ته يې سلام وکړ،تر دې دمه هغه په کودتاه نه وو خبر.

جګړن :- ″د پاڅون مو مبارك سه،تاسي ازاد ياست″.

تره کئ:- ″دا څه اورم – پاڅون ؟،کوم پاڅون ؟،دا ډزي د پاڅون دي؟،ښايې بله توطئه به وي″.

جګړن :- ″هو، دا ډزي د پاڅون دي″ .

تره کئ :- ″پاڅون د چا د خوا او له کومه ځايه پيل سوئ دئ؟″.

جګړن :- "پاڅون د خلق ګوند د خوا د څلورم نمبرقواو او د زرهدار د پینځلسم نمبر قواو په وسیله پیل سوئ دئ، د دفاع او کورنیو چارو وزارتونه نیول سوي او سردارداود دکابینې سره په ارګ کي کلابند دئ" .

تره کئ :- "ما چیري بیایې"؟ .

جګړن :- "د افغانستان رادیو ستیشن ته".

ټول نهه تنه زندانیان خوشي، د څارنځای په انګړ کي یو ځای سول، روغبړ یې سره وکړ او یو بل یې ښکل کړل.

حفیظ الله امین تره کي ته د پا څو ن مبارکي ورکړه.

تره کئ :- " تاسو له پاڅونه خبر یاست" ؟.

امین :- "هو! کله چي دولت زمونږ او ستاسو په نیولولاس پوري کړ،ما هم د اردو ملګرو ته د وسلوال پاڅون قومنده ورکړه، د نېکه مرغه زما د نیولو د پاره زما د ورور یو دوست او اشنا پولیس افسر(جګړن عبدالغني) راغلئ وو،زه یې ترلټون وروسته په هماغه شپه په خپل کور کي تر څارنه لاندي پرېښووم، ما په هماغه شپه اردو ته د پاڅون قوماندہ صادره کړه چي پائیله یې د سر په سترګو وینو".


دستګیرپنجشېرئ :- "بیشکه چي د وطن بچئ او د ډګر ځوان یې" .

د سلیمان لائق تر سترګو اوښکي څڅیدې .

جګړن :- "ولي اوښکي تویوې" ؟ .

لائق :- "دا دخوښئ اوښکي دي،ما ددې حالت هیڅ تصور نه کاوه،اوس نه پوهیږم چي خوب وینم او که په ویښه یم ؟"-(شبهای کابل - عمرزئ،۵۳مخ)

ماځيګر شپږبجې:- ګوندي مشران د زرهپوښونوقوماندان مصطفی په زرهپوښ کي راډيو افغانستان ته ورسول چې د کودتاه مرکز وو. ډګروال عبدالقادر او جګړن محمداسلم وطنجار د کودتاه قومانده حفيظ الله امين ته وسپارل او يوه دستګاه يې ورته راوړل. ډګروال عبدالقادرخواجه رواش هوائي ډګر ته ولاړ، د راډيو واك خيال محمدکټوازي په لا س کي اخستئ وو



اپريل ۱۹۷۸ء- د راډيو افغانستان هغه اوتاک چې د خلق ګوند مشرانو ورپکي ديره وو

د مابنام اووه بجې:- پر کابل راډيو د بريالیتوب تر اعلاميه وروسته د توپچي د اته اتيايمي قطعې قوماندان خليل چې د کودتاچيانو پر ضد په جګړه بوخت وو،د حکومت پر ضد يې په جګړه لاس پورې کړ **(د افغانستان کالنی،۴۴ګڼه،۴۷مخ) .**



نورمحمدتره کئ او نور ملګري دَدَمي(آرام) د پاره د خواجه رواش هوائي ډګر ته ولاړل، حفیظ الله امین د غوایه د اتمي نیټې ترماښامه په راډیو کي پاته وو، د بې سیم مخابرې د لارې یې د کودتاه قوماندې ورکول.

د کابل راډیو پر څپواعلامیې:- وطنپرستو افسرانو او سربازانو! په هره قطعه کي چي یاست، خپل پاځونیز نظم او ډسپلین وساتئ او هر څوک چي د ملي ډیموکراتیک او د افغانستان د وګړو د ګټو پر ضد ودریږي،سمدلاسه یې بې وسلې او فلج کړی.

♥ ستاسو ولسي دولت چې د پاڅوني شورا په لاس کې دئ،تاسو ته خبر درکوي،دپاڅون ضد هر وګړئ چې وغواړي د پاڅوني شورا له مقرراتو څخه سرغړونه وکړي،ډير ژر به د پاڅون نظامي مرکزونو ته وسپارل سي.

♥ د افغانستان د ملي وسلوال پوځ د پاڅوني نظامي شوراکورنئ سياست د اسلام د مقدس دين د اساساتو پر ساتلو، د ډيموکراسئ،ازادئ،فردي مصؤنيت پر تامين،زمور د ګران افغانستان د پرمختګ او ترقئ پر تحقق ولاړ دئ.

♥ د افغانستان د وسلوال پوځ دپاڅوني نظامي شورا باندنئ سياست د نا پېيلتوب د مثبت او فعال سياست تعقيب،د سيمې او نړۍ د سولې سره ملاتړ، له ګاونډيو او د نړۍ له نورو هيوادونو سره د دوستئ، روغې جوړې او ښه ګاونډيتوب ژوند او د ملګرو ملتو منشور ته په احترام ولاړ دئ(**دکابل راډيوپرځپو**).

ابلاغيه! د سردارمحمد داود د مهال اساسي قانون او د هغه د مستبد دولت سقوط رسماً اعلانيږي او وروسته دې د هيواد ټولې چارې د پاڅوني نظامي شورا د فرمانونو او دستورالعملونو له لارې د اجرا وړ دي .

۲- پاڅوني نظامي شورا په غوڅه توګه پر حالاتو تسلط لري،د هيواد د وسلوال پوځ ټولو قطعاتود پاڅوني شورا له ټولو آوامرو سره خپله وفاداري اعلان کړې او خپلې وطنپرستانه دندې سرته رسوي .

ابلاغيه! د سردارمحمد داود د راپرزول سوي رژيم هغه جنرالان اوبرحال وزيران چې تر اوسه يې پا

څوني شورا ته مراجعه نه ده کړې ،ډېر ژر دي د ملي دفاع وزارت ته حاضر سي،کنه نود نظامي مقرراتو لهمخي به چلند ورسره وسي.

۲:- له نظامي مقرراتو سره سم تر دويم تصميم پوري د هر ډول غونډو او ټولنو جوړول منع دي .

۸ بجې، ۴۵ دقيقې ماخستن :- دانګلستان بي بي سي راډيو د کودتاه خبر خپور کړ چې د ولسمشر برخليک لا روښانه نه دئ . يوه وزير د ليري پر ولسمشر ږغ وکړ :- "بي بي سي څه وايي ؟ ،هغه جواب ورکړ،هيڅ، کومه نوې خبره يې نه درلوده .

۹ بجې ماخستن:- له ارګه راډيوته د حالاتو د جاج اخستلو لارښوونه وسوه، نا اشنا سړي د سم حالت ډاډ ورکړ،ارګ پوه سو چې پخواني مامورين نه دي پاته .


۹بجې،۳۰ دقيقې:-د کورنيو چارو وزير عبدالقدير وزيرانو ته لنډ رپوټ ورکړچې د قرغې ديرشمه فرقه د لاسه وتلې،د ريشخور اوومه فرقه بحراني ده،حکومت پلوي مشران يېکودتاچيانو وژلي،پښتونستان واټ، د دفاع وزارت په شاوخوا، د ارګ ختيزواو شمالي برخو ته کودتاچيان رسيدلي او درنې ډزي کوي.

۹ بجې،۴۰ دقيقې:- د باندنيو چارو وزير وحيد عبدالله ولسمشر ته وړانديز کوي چې پلازمينه په موقت ډول کندهار ته و ليږدوي او پخپله ډيرژر د باندنيو چارو وزارت د لاري کندهار ته روان سي،ولسمشراو د هغه زوی محمد عمرداود يې مخالفت وکړخو سردارمحمدنعيم وويل دا کار بايد دمخه لا سوئ واى.د ولسمشر

کندهارته د رسولود پاره یو موټر د ګلخانې وره ته راورسید،دئ چې کله وروخوت،د ارګ د جومات څخه مخامخ یو برید پر وسو،هغه په بیړه بیرته ګلخانې ته وګرځید.

۱۰بجې،۱۰ دقیقې:- د جومات څخه پر ګلخانه مانۍ پر له پسې بریدونه وسول،د دهلیز قندیل مات او توره تیاره جوړه سوه، د مانۍ د لوئ وره پیره دار ولګیداو مړ سو،بریدونو تر پینځودقیقو دوام وموند.

۱۰ بجې ،۱۵ دقیقې:-په ګلخانه مانۍ کې ژوبل وګړي چیغې وهې،کله چې یې رڼا ته سره راوځکول،ولسمشر خپل مشر زوی محمد عمرداود مړ ولید،لور زرلښته،وروسردارمحمد نعیم،د کورنیوچارو وزیرعبدالقدیرژوبل او په وینو کې لت پت پراته دي، زرلښتي د بابا و مخ ته ساه ورکړه،بریدونه دوام لري،ولسمشرپرچوکۍ ناست د بچیانو مړو ته ګوري ، د ګلخانې دهلیزونه د کوچنیانو بغارو پر سر اخستي دي



۱۱ بجې ماخستن :- نورمحمدتره کئ د کابل راډيو په يوه خونه کي پر کوچ (سوپه سيټ) غزيدلئ او په فکر کي ډوب دئ،يوه افسر په بيړه خبر ورکړچي د څرخي پله د پينځلسمي لوا څخه څوتينکونه د ښار پر لورراروان دي،ويره داده چي د سرداردداود پلويان به وي، دنورمحمد او ببرک کارمل په ګډون څو مشران د خواجه رواش هوايي ډګر ته ورسول سول چي بشپړه ددوی په لاس کي وو،حفيظ الله امين اومحمداسلم وطنجار همدلته په راډيو کابل کي پاته سول. راډيود ماخستن تر يوولسو بجو پورې موزيك او شعارونه خپرول(**د افغانستان کالنی،۴۴ګڼه،،۴۹مخ**).په ښار اوځينو سيمو کي د سهار ترپينځوبجو پوري مقاومت وو.

۱۲ بجې نيمه شپه:- د مرکز د ټولو چاوڼيو واک کودتاچيانو لاس ته کړ، د ننګرهار د فرقې خوځښت شنډسو،د ملي ګارډ په شپاړسو سوُو سرتيروکي ډير مړه و ژوبل او مرمۍ يې مخ پر خلاسيدو سوې، مقاومت ته يې دوام ورکړئ دئ،خو کله چي اورښت تم سو،ياغيانو د مرنجان او شيرپور پر ټپو جنراتورونه چالان او رڼا يې پر ارګ برابره کړه ، پر اسمان جنګي چورلکي راپورته سوې،ارګ يې بيا تر خونړي بمبار لاندي ونيوو او حرم سراى يې وويشت،يوه برج اور واخيست.

په ارګ کي لاندي خلقيانو وظيفې درلودې :-

عبدالحق علومې ـــ د کشف آمر (دکندهار بارکزی،خلقي)

سعيدجان څاځئ ـــ دپوهني و روزني امر،خلقي

ګل آغاخان ـــ دسياسي چارورئيس (دکابل د شپوه کی، خلقي)

آغامحمدبا لاکرزی ـــ د مخابرې آمر (دکندهار د بالاکرز خلقي)

خواجه عبدالمجيد ـــــ د اتفاعيې د بلوك قومندان
ببرك ـــ د اتفاعيې د بلوك ضابط (دگردېزطوطاخيل خلقي)
عزيزاحساس ـــــ د تشريفاتود لومړۍ ټولۍ قومندان
کودتاچيانو ددوی سره تماس ونيوو چې کودتاه پر ناکامه کيدو ده، په مقاومت لاس پوري کړی. دننه د ارگ خلقيانو ددوی څخه د وګړو مرسته و غوښته.

شهنوازتنئ وايي په راډيوکابل کي حفيظ الله امين ما او تورن امام الدين(**د لوګر هستوګن**) ته قومنده راکړه چې ارگ ته ننوزو، دوی د ارگ پر جنوبي وره ننوتل، د وره د امنيت واك د خواجه عبدالمجيد په لاس کي وو، سرداردادود،کورنۍ او د کابينې وزيران چې په ګلخانه کي ځای پر ځای وو،ددې ځای د امنيت چاري هم د خواجه عبدالمجيد پر غاړه وې .

۲۸اپريل/ ۸ثور

نيمه شپه شل بالا يوه بجه:- دګارډ قوماندان جګړن صاحب جان په ملکي دريشي کي راغئ، ولسمشر ته يې خبر ورکړ چې په ملي ګارډ کي دننه خيانت پيل سوئ دئ او د ګلخانې په لوی وره کي څوک نسته، کابينې پريکړه وکړه چې سرداردادود به د کورنۍ سره کندهار او يا هم پکتيا ته ځي، ارگ ته د سودا راوړلو لارۍ يې ورته اماده کړه.

د سهار شپږ نيمي بجې :- پداسي حال کي چې سردار محمد داود له ارګه وُوت، د ارگ په مسجد کي عبدالحق علومي،امام الدين اونوروخلقي ياغيانو کمين ورته نيولئ وو، د سرداردادود زوی

محمدخالد پیاده روان او په غیږ کي یې کوچنی زوی اخستئ وو چې د مسجد د لوري په بریدونو کي شهید او د لومړي کنډك قوماندان سرورخان ژوبل سو،سردارچې کله د زوی مرګ ولید،بیرته ګلخانې مانۍ ته غبرګ سو،جګړه ته یې د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پوریدوام ورکړ، ده د وزیرانو او ریاستي لیکتون غړو ته وویل چې خپل ځانونه بې ځایه مه وژنئ، یاغیانو ته یې وسپارئ ، دسید عبدالاله اوقدیر نورستاني په چپه نورو یاغیانو ته ځانونه وسپارل -(**غوث ،۲۳۴مخ**).

شهنوازتنئ وائي :-"کله چې موږ او د ارګ ګوندي ملګرو لاس سره یو کړ، د سخت مقاومت په بهیر کي مودارګ قوماندانې ونیوه،دلته مو درې ډلي جوړې کړې.

۱:- دا ډله مودتورن فاروق خان(**د کابل د چارده خلقی**) په مشري د ارګ عمومي وره ته واستول.

۲:- د جګتورن محمدخان(د کونړخلقي) په مشري ډله حرام سرای ته ولاړه.

کونړي چې حرمسرای وپلاټه،هیڅ شئ یې ونه موند، یواځي یوه پیغله چې د څو میاشتو کوچنئ یې په غیږ کي اخستئ او له ډاره د کوټې په کونج کي غلې وه،ونیوه او په کابل راډیوکي یې خپلو مشرانو ته ولیږله.

۳:- ماوامام الدین مسجد ته مخامخ د ګلخانې مانۍ ته ځانونه ورسول، د مانۍ ددهلیز په لومړي پوړ کي سرداراود،د هغه کورباني، د کورنیوچارو وزیر عبدالقدیرنورستانئ،د صدارت مرستیال

سيدعبدالاله ودا ناست وو، زه د چيښې په وره کي ورته تم سوم خو يو شمير ملګري مو ورننوتل.



امام الدين

پر پينځه متره واټن د سلام ورته کولو وروسته امام الدين پر سردارمحمدداود ناره کړه :-"واك خلق گوند لاس ته کړئ دئ ، ځان راوسپاره".

سردارمحمدداود:- "زه به هيڅکله هم دالله تعالی په چپه د روسيانو کميونستي نوکرانو ته تسليم نه سم".

دده او عبدالقديرنورستاني سره د جرمني کت کونداغ ماشيندار ورسره وو، پر اما م الدين يې برید وکړ، د هغه د ښۍ وړې پر هډ(مفسل) دوې مرمۍ ولګيدې،کلاشنکوف ورځخه ولويد، دمحمدعلی په نامه عسکر پر ګډه وويشت سو،د باندي وَوُوت خو هلته ښسده سو، د عسکرو په جوابي ډزو کي د عبدالقديرنورستاني او سيدعبدالاله په ګډون لاندي وګړي ژوبل او ووژل سول

۱- ولسمشر سردارمحمدداود د سردارعبدالعزیز شهید زوی



۲- میرمن زینب (د ولسمشرمیرمن او دپخواني پاچامحمد ظاهرخان خور)



میرمن زینب (د ولسمشر میرمن، د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه خور)، د وژل کېدو پر مهال یې عمر ٦١ کاله وو.

۳- سردارمحمد نعیم د ولسمشرورور




محمد نعیم خان (د ولسمشر ورور) چې د وزل کېدو پر مهال ٦٧ کلن و.

۴- میرمن عائشه (د ولسمشرپه پښو شوټه ستی خور)



مېرمن عایشه (د ولسمشر خور)، د وزل کېدو پر مهال یې عمر ٥٤ کاله وو.

۵- محمدعمرداود (**دولسمشر مشر زوی**)



سردار عمر (د ولسمشر مشر زوی) چې د وزل کېدو پر مهال ٤٣ کلن و.

٦- هیله عمر د محمدعمرلور



هیله (د ولسمشر لمسۍ د سردار عمر لور) د وزل کېدو پر مهال عمر ١٦ کاله (هیوني یې لا نه دي موندل شوي)

۷- غزال عمر د محمدعمرلور




غزال (د ولسمشر لمسی، د سردار عمر لور)، د وژل کېدو پر مهال عمر ۱۳ کاله وو.

۸- ویس داود د ولسمشر زوی



سردار ویس (د ولسمشر زوی چې له خالد سره غېرکونی و).
عمر یې د وژل کېدو پر مهال ۳۱ کاله وو

۹- میرمن شیما د ویس داود میرمن




شیما (د ولسمشر نږور، د سردار ویس میرمن له خپل زوی حارث سره). د شیما عمر د وژل کېدو پر مهال عمر ۳۱ کاله، د حارث عمر د وژل کېدو پر مهال ۵ کاله وو.

۱۰- حارث د ویس داود زوی




۱۱- ویګل د ویس داود زوی





وایکل (د خپل نیکه ولسمشر محمد داود په غېږ کې). وایکل د سردار ویس زوی و چې د وژل کېدو پرمهال یې ایله درې کاله عمر درلود.

۱۳- محمدخالدداود د ولسمشر زوی




سردار خالد (د ولسمشر زوی چې له وچس سره غېرګونی و). عمر یې د وزل کېدو پر مهال ۳۱ کاله وو.

۱۴- میرمن شینکی داود د ولسمشرلوراو د زلمي محمود غازي میرمن



شینکۍ (د ولسمشر لور)، د وزل کېدو پرمهال یې عمر ۲۸ کاله وو.

۱۵- میرمن زرلښته داود د ولسمشرلور



زرلښته (د ولسمشر لور) د وژل کېدو پر مهال يې عمر ۲۳ کاله وو.

۱۶- میرمن صفورا غازي د عبدالعظیم غازي لور او د ولسمشر مرور



صفورا (د ولسمشر ورېره، د سردار محمد نعیم لور)، د وژل کېدو پر مهال عمر ۴۱ کاله وو.

۱۷- میرمن بلقیس د سردارتیمورشاه آصفي میرمن، د محمدظاهرشاه خور او د ولسمشر خوښینه



بلقیس (د ولسمشر خښینه، د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه خور)، د وژل کېدو پر مهال عمر ۵۶ کاله (هډونه یې لا نه دي پېژندل شوي).

۱۸- میرمن زرمینه نعیم د عبدالعظیم محمود غازي میرمن او د ولسمشر د وروسردارمحمد نعیم لور.

مړه وژوبل مو د ډګرمن نوراحمدتره خیل پرچمی (وروسته د پنجشیر په جګړوکي ووژل سو) په لاس څلورسوه بستریز روغتون ته ولیږل - (**دافغانستان د پخواني دفاع وزیرجنرال محمدشهنوازتنې سره د راقم مرکه،۱۴مئي۲۰۰۸ء، ددې په اووه زره روپۍ کرایه کورراولپنډۍ پاکستان کي**).

د ولسمشرژوندي پاته سوي کورنۍ

۱- میرمن تورپیکی د شهید نظام الدین غازي میرمن او د ولسمشر لور(**په سپتمبر ۲۰۰۰ء د سویډزرلینډ ښار کي مړه سوه**)

۲؛ میرمن درخانی د ولسمشر لور د ډاکټر توریالي میرمن (**په لوزان کي**)

۳؛ محمد طارق خالدداود د ولسمشر لمسئ (**په سویډزرلینډ کي**)



خوعاصم بيا ليکي :-امام الدين چي کله په زور خوني ته نَنَوُوت، سردارمحمدداود د کلاشنکوف په برچه وواهه، هغه پر وړه څه ژوبل سو، ده ددوُو ملګرو په وسيله د سردارمحمدداود په ګډون د هغه کورنۍ شهيدان او ژوبل کړل، شل کورنۍ او ددوو او دريو زړو ترمنځ وګړي له منځه ولاړل. د سردار ژوبل کورنۍ وروسته جمهوريت روغتون ته يوړل سول، پاته يې په پُلِ چرخي زندان کي واچول.سربيره پر ډيروغوښتنو حکومت و کورنۍ ته د سردارمحمدداود او نورو خپلوانو د ښخولو ځای ور ونښود - **(سرداردادود،ددڈاکټرعاصم اکرم کتاب،۳۲۳-۳۲۶مخونه)**.

د جمهور رئيس مرستيال ډاکټر محمدحسن شرق د خپل کتاب **(تاسيس و تخريب اولين جمهوری افغانستان)** په دوه سوه نولسم مخ کي ليکي چي کله د بنګله ديش د ولسمشر شيخ مجيب الرحمان او د هغه د کورنۍ د وژلو خبر د اطلاعاتو و کلتور وزير ډاکټر عبدالرحيم نوين سردار محمد داود ته ورساوه، مور ټول وزيران ورسره ناست وو چي ده وويل ماته دي الله تعالي هم دغسي د شهادت مرګ راکړي.

ابلاغيه ! وګړي دي په بشړه ډاډ د خپل ژوندکارونو ته په عادي توګه دوام ورکړي.

۲- د افغانستان مسلمانو او زحمتکښو وګړو ته په رسمي توګه خبر ورکول کيږي چي دوه وروڼه سردارمحمدداود او سردار محمد نعيم دغه ملي خا ئينين ډپاځوني نظامي شورا له بيا بيا غوښتنو سره سره چي بايد ځانونه تسليم کړي، د ځان غوښتني ليوني مقاومت له امله ووژل سول.

۲۷ اپریل ۱۹۷۸ء



د جلال آباد د فرقې قوماندان تورنجنرال ارکانحرب محمد یونس خان د یوشمیر ځواکونو سره یې د سردار محمد داود په پلوي د جلال آباد څخه د کابل پر لور حرکت وکړ، پر لاري کودتاچیانو یې حرکت شنډ او هغه ونیوو او په هم نن شپه یې شهید کړ.



جنرال محمد يونس خان په ۱۳۰۷ ه ش کي د غزني ښار په پسِ حصار سيمه کي وځيږيد. منځنۍ او لوړي زده کړي يې د کابل په حربي ښوونځي او حربي پوهنتون کي تر سره کړې. د مسلکي زده کړي د پاره هندوستان ته ولاړ. د لوړو، مسلکي زده کړي د بشپړه کولو او د ارکان حرب لپاره دوه ځله ترکيې ته ولاړ. کله چې راستون سو د کندهار د قولِ اردو د پينځلسمي فرقې د رئيس ارکان دنده وروسپارل سوه. همدلته د برید جنرالی رتبې به پورته سو او د کابل د رشخور د اوومي فرقې قوماندان وټاکل سو. د شاهي پېر په وروستي پړاو کي د ختيز لور د يوولسمي فرقې قوماندانې وروسپارل سوه. د شاهي حکومت په ړنګيدو او د جمهوري پيړ په راتلو سره د پاکستان و افغانستان تر منځ اړيکي ستونزمني سوې. ده د پاکستان سره د تللو پولو کلکه ځارنه کول، په ننګرهار، لغمان،کونړ او

نورستان کي يې د پاکستان په لمسون د اسلامي ګوند او جمعيت اسلامي د لوړي يو شمير غاوُنه(بغاوتونه) شنډ کړل. د جلال اباد د شينوارو په ولسوالي او هم په کونړ ولايت کي دوه ځله د هغه د وژلو ناکامه هڅي وسوې. نوي جمهوري حکومت د تورن جنرالی رُتبې ته لوړ کړ. دې ملي شخصيت د ختيزو پولو د لوري يو شمير دسيسې شنډې خو د هيواد د شمال د لوري په لومه کي راشکيل سو. پاکستاني راډيو په هماغه ورځ او شپه د جنرال محمد يونس خان د نيولو او وژلو خبر خپور کړ

http://sokhandel.blogspot.com/2011/11/blog-post_9118.html

د سهار اته بجې:- د ټينکونو،توپونو، الوتکواو د کابل د ټولو نظامي قشلو سره تر شل ساعته خونړي مقاومت وروسته د سردار محمد داود پينځه کلن نوئ جمهوري نظام او حکومت سقوط وکړ.



۲۸ اپريل ۱۹۷۸ء- خيبر رسټورانټ ته مخامخ د پښتونستان پر څلور لاره د کودتاچيانو ټينک



28 اپریل ۱۹۷۸ء- د ارګ ورونه سیلانیانو ته پرانستل سول



د نژدي ختيز او جنوبي آسيا په چارو کي د امريکا د باندنيو چارو د وزيرسائيرس وانس مرستيال هيرالډ سهونډرز(**Harold Saunders**) و سائيرس وانس ته په يادداشت کي ليکلي دي: د خورو ورو شواهدو پر آساس دغسي اټکل کيږي چي د ثور کودتاه مخکښان کِنلاسي **(Leftists)** او يا هم کلک اسلامي قومپرستان دي، که چيري دغسي ښکاره سوه چي افغان کميونسټ ګوند ورپکي بنسټيز رول لري نو ددې امکان سته چي شوروي اتحاد دي له وړاندي لا په خبر وي، تر اوسه يې نه ملاتړ کړئ دئ او نه يي غندلې ده، امريکا ددې اړتيا لري چي نوې مخکښي د ملتپالني او کميونيزم په ګډ نظر کي ونيسي او هڅه دي وکړي چي نوئ رژيم د شوروي اتحاد د غيږي څخه راوګرزوي، د حکومت مخالفين زمور رول په ډيره پاملرنه څاري چي مور نوئ رژيم په رسميت پيژنو او که يې يو کميونستي اوښتون بولو(**New York Times;4/29/1978;The Afghan (Coup;4/28/1978**